ټپې

دَ پښتون ثقافت ترجمانی

مؤلف

پروفیسر ډاکټر میر حاتم

ټپې

دَ پښتون ثقافت ترجماني

پروفیسر ډاکټر میر حاتم

بسم اللہ الرحمن الرحیم

ټول حقوق د ليکوال په حق کښې خوندي دي

کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم:	**ټپې دَ پښتون ثقافت ترجماني**
د ليکوال نوم:	پروفېسر ډاکټر مير حاتم
کمپوزنګ:	حبيب اماني
چاپ کال:	**2024ء**
چاپ شمېر:	500 ټوکه
اشاعت:	اول
پرېس:	الاحمد انټرپرائزز پېښور 0345-9292470
بيعه:	**400** روپے
رابطه:	**0313-9253606**

مونډلو دركونه:

- **#34** پروفېسر کالوني نزد زرعي يونيورسټي پېښور **0313-9253606**

پرنٹر الاحمد انٹرپرائزز خیبر بازار محلہ جنگی پشاور پاکستان۔

پروپرائٹر عبدالمجید

0345-9292470 / 0315-9292470

انتساب

د هغه ګمنامو پښتنو زلمو او پېغلو په نوم چې چا يې پلو ليدلی نه وو، خو د خپل ژوند نچوړ د تجرباتو، علم و دانش، فهم او فراست ډکې کڅوړې يې د ټپو په شکل کښې مونږ ته پرېښودې دي.

فهرست

مخ	عنوان	شماره
13	تعارف	1
15	عرض مؤلف	2
19	**تقریظات**	3
19	فروفیسر ډاکټر محمد سراج سواتي	4
22	ډاکټر احمد علي عاجز	5
26	ډاکټر شیر زمان سیماب	6
28	پروفیسر نورالامین یوسفزے	7
32	حبیب الله خان خټک	8
43	نګینه عاقب	9
45	سید راج جهان هلال	10
53	حرف اول	11
57	**اوله حصه**	12
58	**باب۱ : ټپه د پښتون ثقافت مور**	13
58	هره مصرعه یې په وینو سره ده ځکه رسیږي پرې هر زړه ته ټکورونه	14
63	**باب۲ : پښتو او پښتانه**	15
63	غوټې دګل ګل د بوستان شه چې رنګ و بوئ د پښتونخوا رنګینه کړینه	16
64	زه د وطن په ننګ ولاړ یم پښتون زلمی یم ورنه سر قربانومه	17
65	پښتون په توره کښې پیدا دی په توره لوې دی هم به مړ په توره شینه	18

19	نوم پرې د ټول پښتون درنيږي زه پښتنه يم مرګ له غاړه ورکومه	66
20	د آزادی په مرګ خوشحال يم د غلامۍ ژوندون که ډير وي ورك دِ شينه	67
21	چې کوم انسان په عقل پوخ شي کچه کارونه ترينه پاتې شه مئينه	68
22	پښتانه د نورو په نظر کښې	72
23	پښتانه د انګريزانو په نظر کښې	73
24	**باب ۳: زما وطنه د ګلالو د ننګيالو وطنه**	77
25	اے زما وطن د لعلونو خزانې زما ستا هره مورچه کښې دي د تورو نښانې زما	77
26	د توريالو وطنه ګله خدائ دې آباد لره چې تل خوشحاله يونه	77
27	زه د وطن وطن زما دی دښمن به څنګه په وطن باندې پريږدمه	79
28	زه د وطن د باغ مالیار يم په خپلو سرو وينو به يې تل اوبه کومه	80
29	که تور اوربل مې ميراتيږي په وطن جنګ دی جانان نه منع کومه	81
30	خالق د خپل وطن ته بوځه پردی وطن د سړي قدر کموينه	82
31	قطر ته مه ځه ځان ايسارکه په کار مې نه دي بې ديدنه دولتونه	83
32	مسافر مه وژنئ خاونده په ځنکدن کښې خپل وطن رايادوينه	85
33	غرونه به ولې نه غمیږي چې پښتانه په کښې د ننګ چغې وهينه	86

34	په لوړو غرو به شمه پورته که راښکاره شي د اشنا د کور برجونه	88
35	د چا په مرګ مه خوشحالېږه مرګي شمال دی هره ونه شوروينه	90
36	ښار د لندن ورته لوګی شه د وطن شاړه په يورپ نه ورکومه	92
37	**باب ۴: جهاد او مجاهد**	94
38	توري ته لاس کړی ولاړ يې مدام به نه وي د حضرت په دين جنګونه	94
39	غزا له لاړ شه چې غازي شې د نغري په غاړه نشته جنتونه	96
40	خدايه په زړه مې ډير ارمان دی چې جهاد جوړ شي زه شهيد ورباندې شمه	97
41	ته په سنګر کښې خان شهيد که زه به خپل شال ستا په زيارت وغوړومه	100
42	لاس مې هله اوربل له راوړه چې د دشمن په وينو سره راوړې لاسونه	101
43	بنګړي د لاسو به ټول کوز کړم زه د بنګړو په ځای به توره شرنګومه	102
44	اشنا يا غبرګ ټوپک راواخله چې ته ګذار کړې زه ګولۍ دراچومه	104
45	توره به کړې برې به راوړې که برې نه وي ځوانان تل په توره مرينه	106
46	ټکرې ټکرې په کټ کښې راشې د بې ننګی آواز دِ رامه شه مئينه	110
47	د پښتنو غير قامونو سره جنګونه	113

48	پښتون په سر د دنیا شته دی هندو به ځنک په کشمیر نور وکړي ظلمونه	115
49	پښتنې پېغلې خوشحالېږي چې زلمیان کاندي د انګریز سره جنګونه	116
50	د پښتنو او د انګریز د جنګونو واقعات	117
51	د انګریز د خپلې ناکامۍ ژړا او توجیه	118
52	پښتونخوا د انګریز جهنم	120
53	پېښور د شهیدانو په وینو سمسور دی	121
54	**دویمه حصه: همزولي - پېغلې - زلمي**	123
55	د پېغلو زړونو ته سلام دی چې د جانان دپاره مور او پلار پرېږدینه	124
56	**باب ۱: همزولي او همزولتیا**	127
57	خدایه تا ته خپل همزولي راکړې که نیستي راغله په خندا به یې تیرومه	127
58	**باب ۲: زلمي او زلمیتوب**	140
59	د ځوانۍ لعل راځنې ورک دے په ټیټه ملا ور پسې ګرځم نه یې مومه	140
60	**باب ۳: پېغلې او پېغلتوب**	150
61	پېغلتوب نیمه بادشاهي ده ورک ناوې توب شه چې دوه نیمې ورځې وینه	150
62	افسوس افسوس ارمان ارمان دی په پاکه مینه چې غلط ګمان کوینه	154
63	پېغلتوب ورځې د روژې دي د ناوې توب اختر ته شپې سبا کوینه	157
64	فرق د اصیل کم اصل اوکړه چې یار اصیل وي ترې قربان کړه دولتونه	158

65	په غم کښې تانه کمه نه يم کم عقله نه يم چې به کلي خبرومه	159
66	دا ستا دَ دوه سترګو دپاره دکور خبرې ورم دکلي تهمتونه	160
67	مئينه يم منکره نه يم که شينکي خال مې د چړو په څوکو څينه	162
68	جانانه دومره ظلم اوکړه چې پښيماني کښې په ما اوکړې ارمانونه	162
69	**باب ۴ : سپين ږيري او سپين سري**	166
70	زړې زړې کونډې شوې ناوې زاړه قبرونه لټوي ګوري مړونه	166
71	چې پېغلتوب وو بادشاهي وه چې اوس بوډۍ شوم د اولس د خندا شومه	168
72	زما د بنو جنګ يادېږي ستا دِ قسم وي ياره دوه اوکه ودونه	168
73	په سپينه ږيره لېونئ شوې چې شين خالي رايادوي مړې لاسونه	170
74	خدايه! موذيانو کښې مرګ ګډ کړې چې د غيرت ليونۍ جونه خلاصې شينه	171
75	د بکيانړې څومره پانړې دومره ګيلې مې ياره تانه شوي دينه	173
76	نورې ښيرې به درته نه کړم غم د مېلمه شه چې ځواني دِ خاورې شينه	177

77	**باب ۵: هلکان او جونه**	181
78	هلك مئين شي وطن پرېږدي جينۍ مئينه شي مخ پټ کړي اوژاړينه	181
79	د هلك دوه څيزه مزه کا سپينه خولګۍ بل د ټوپك کاره غورېونه	183
80	د جينۍ درې شينه مزه کا تنګې پاينڅې زرې پنړې وارهګامونه	186
81	ځله مې توره توره بولې زه توره نه يم مور په ناز بللې يمه	192
82	زه چې وړه ووم ناپوهي وه د سپينې خُلې له قدر څه خبره وومه	193
83	شال د شړې مساوي نه دی جانان زما مساوي نه دی مړه دِ شمه	194
84	يار مې ټپوس ناسته د بلځ کړي خبر ترې نه ووم په ټپوس مئينه شومه	195
85	له ورايه ګوره ديدن اوکه خواله مې مه راځه اشنا بدنام به شينه	196
86	**باب ۶: ابۍ، دادا او مينه**	198
87	قربان قربان دَ دادا کوره دَ ډکه شکوره به چاپېره ګرځيدمه	198
88	و ماتۍ، مه قهرېږه مورې په تا تير شوي په ما اوس راغله وارونه	198
89	مخې له دواړه خويندې راغلې مشره ويشتل کړي کشره غشي ورکوينه	199
90	نور به دِ هره سو به يوسم يو دِ په مينه کښې شريك نه قبلومه	200

91	که ته نیستمند یې زما یار یې دَ د ولتمند په سر به خاورې وارومه	201
92	چاکره کونتره چې هم ښځه وي هم یاره چاته لکه سروې د خندا ډکه ولاړه	202
93	**باب ۷: پښتون او اغوستن**	204
94	د مور او خور چې عزت نه کړي هغه پښتون دِ پټکی نه پسروینه	204
95	پګړی د ول په ول مزه که لکه چې زلفې ول په ول مزه کوینه	205
96	زما جانان طوطي رنګ آسماني رنګه دِ لونګی چنار دِ ونه	206
97	د تا د جګې شملې جار شم ټومبلې تاده مسته زه پرې باندې یمه	207
98	پښتنو بیا خولئ کړې کړي په دښمنانو به بیا جوړ کړي ناتارونه	208
99	سالو په سر منګی په ترخ کښې د ګودر غاړې له راځي رنځور یې کړمه	209
100	په سر مې سپینه لوپټه ده ورستو اوږده ده د یاری ترې بندونه	211
101	چا یې پلو لیدلی نه وو اوس د کابل په لورې ځي سر تور سرونه	212
102	دلاله فکر په کښې وکړه چې شال شړی سره یوځای نه کړي مئینه	213
103	که چا وئیل چې جانان راغی د سر څادر به د بابا شکرانه کړمه	215

104	صورت د سپين قميص د شين دی لکه رامبېل شنې يې پاڼې سپين ګلونه	216
105	ګرېوان به څيرې تر لمن کړم چې لېونی دَ يار دَ غم مشهور شمه	218
106	**دريمه حصه: راځئ چې اوژاړو**	221
107	خدای ژړولې يمه ژاړم پر پرده مخلوقه چې ځان مړ په ژړا کړمه	222
108	**باب ۱: ارمان ارمان دی**	225
109	غم کښې پيدا په غم کښې لوئ شوم غم کښې به مړ شم غم به يوسم په پنډونه	225
110	د خياله کوږ په لاره مه ځه ستا په شان ډير د تورو خاورو لاندې شونه	227
111	ارمان په هله زما درشي چې کټ مې واخلي تورو خاورو له مې وړينه	229
112	ارمان به وکړې وخت به تير وي تير شوی وخت به بيرته بيا کله راځينه	232
113	د تسلی تسکين مې نشته خدايه! په چغو چغو چاته اوژاړمه	232
114	نن په شپو شپو وريږي ګل مې ياديږي چې به کوم وطن کښې وينه	234
115	**باب ۲: د مرګ سلګی د لحد تيارې**	236
116	مرګيه څو شېبې صبر اوکړه يو مې ځواني ده بل مې ډير دي ارمانونه	236
117	په ځنکدن مې ځان حضور که چې زه سلګی کړم سترګې تاته واړومه	239

118	کفن مې ښه اوګنډه مورې د ځوانۍ ټول عمر به دې کښې تیرومه	240
119	په جنازه مې تادي وکړی زه به نا اشنا وطن ته ځم ناوخته شونه	241
120	په خاورو ډک شي ګورستانه تاته راځي کړېږ پګړی تور اور بلونه	242
121	په تور لحد کښې بندیوان شوم اوس خو دعا راپسې کړه چې خوشحال یمه	243
122	چې مې دَ قبر خواله راشې دیدن به نه وي راته پورته کړه لاسونه	246
123	قبر پرې ناست خازې پرې ماتې زما زړګی یې د راتلو طمع کوینه	248
124	**باب ۳: مامونۍ مړه شوه**	250
125	د شېرعالم پښتو پوره شوه مامونۍ سرو وینو کښې لتې ټکوینه	250
126	مأخذونه	258

تعارف

پروفیسر ډاکټر میرحاتم په 10 مې 1942ء کښې په پلوسه (موجوده باچاخان یونیورسټي) کښې د سیدجمال ابن معزالله خان په کورکښې پیدا شو. په قام شاهي کور اتمرخېل بایزی مهمند دی. ابتدایي تعلیم یې په پرائمري سکول ابراهیم زي مډل سکول شکر ډنډ او هائی سکول چارسده کښې حاصل که.
په اسلامیه کالج پېښور کښې په کال 1958ء کښې په ایګریکلچر کښې داخل شو. د زرعي کالج پېښور یونیورسټي نه 1965 کښې ایم ایس سي انرز ډګري واخسته. د یونیورسټي آف ګلف کنیډا نه یې په 1972ء کښې د زرعي سائنس ډګري راوړه او په 1988ء کښې یې د سنده ایګریکلچر یونیورسټي ټنډو جام نه د پي ایچ ډي ډګرۍ تر لاسه کړه. ددې نه علاوه یې په پرائیویټ توګه د پېښور یونیورسټی نه په 1967ء کښې د ایم اے پښتو ډګري او په 1981ء کښې د عربي ډپلومه حاصله کړ. په ایم ایس سي انرز کښې ګولډ مډل ایم اے پښتو کښې صدارتي ایوارډ او عربي ډپلومه کښې فسټ کلاس فسټ ایوارډ ورته ملاؤ شو او په ۲۰۰۲ء کښې په زرعي سائنس کښې د تمغه امتیاز خاوند شو.
د زرعي کالج پېښور په اګرانومي ډیپارټمنټ کښې یې په 1965ء کښې بطور ډیمانسټریټر نوکري شروع کړه او په کال 2002ء کښې بطور میري ټورلیس پروفېسر په ګریډ 21 کښې ریټائر شو. نهه کاله د ډیپارټمنت چیرمېن او درې کاله د فیکلټي آف کراپ پراډکشن ډین پاتې شو.
ددین ابتدایي زده کړه او علم تر خلاصه او مُنیه پورې یې د خپل کلي د پیش امام نه وکړو. په 61- 1960ء کښې د حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني نه بیعت شو.

د ډېرشوکالونه سېوا دخپل شېخ سره په حضر او سفر دواړوکښې په صحبت کښې پاتې شو.

د حجونو عمرو او ديوبند، ندوي او تهانه بهون د سفرونو سعادت ورته د شېخ په صحبت کښې حاصل شو. د شېخ نه ورته خلافت ملاؤ شو او د سلسلې خليفه مجاز بيعت شو. د خپل انګريزي- سائنس د تصنيفاتو او مقالاتو نه علاوه د اردو او پښتو د لسوکتابونو مصنف دی.34- پروفېسرکالوني نزد زرعي يونيورستي پېښور يې د سر سوری دی.

عرض مؤلف

ټپې د زمانو راسې د پښتون قوم د زلمو، پېغلو، ښاغلو او مېرمنو د جذباتو او احساساتو ذخيره ده. دا جذبات او احساسات د پښتون قوم د ثقافت د جزئياتو باره کښې په خپلو ساده سوچه او بېباکه الفاظوکښې هغه اظهار دی چې د تصنع نه پاك نه دَ مشهور شاعرانوکلام دی او نه د لويو دانشورانو فلسفه ده. بلکې د وړوګمنامو زلمو او پرده پوشو پېغلو او مېرمنو د زړه دَ کومې نه آواز دی. ټپې عوامي سندرې دي چې نه پرې څوك شاعر خپله دعوىٰ کولی شي او نه دا د ډمانو پيدوار دی. د مؤلف د ټپې په ښه والي يا بدوالي کښې هېڅ دسترسي نشته. د هغه کار صرف د ثقافت د يو جزء باره کښې د يو شان ټپو راجمع کول دي. هغې له ترتيب ورکول او دا څرګندول دي چې ټپې څنګه د پښتون ثقافت ترجماني کوي.

دکتاب اصل اډانړه ټپې دي، چې د پښتو ثقافت ترجماني کوي. د نورو شاعرانو شعرونه او د دانشورانوکلام د ټپې د تائيد دپاره دي چې د ټپې د دليل مضبوطيا اوشي او مطلب ښه واضح شي. نيز دا هم ثابت شي چې د پښتون اولس او د پښتنو شاعرانو او دانشورانو جذبات يو بل سره هم آهنګ دي.

دا کتاب په درې حصو مشتمل دی. اوله حصه کښې د پښتنو د هغوی د وطن او د جذبه جهاد ذکر دی. دويمه حصه د همزولو زلمو او پېغلو باره کښې ده. دريمه حصه دَه «راځئ چې اوژاړو».

د اولې حصې په اول باب کښې د ټپې باره کښې تعارف دی او ټپې دي. دويم باب وايي چې پښتو څه ته وايي او پښتانه پخپله ځان ته په کوم نظر ګوري. او نور خلق ورته په کوم نظر ګوري. په دريم باب کښې د پښتنو د توريالي او ننګيالي وطن سره دَ مينې ذکر دی. د وطن د دشتونو، غرونو او بادونو سندرې دي او د مسافرۍ چغې دي. په څلورم باب کښې د جهاد د جذبې او شهادت ارمان دی. د پښتنو پېغلو او مېرمنو د جهاد شوق د زلمو مرسته او ډاډګيرنه ده. آخر کښې د نورو قامونو سره د جنګونو خاصکر د انګريزانو سره د جنګ منظر نامې دي او د پېښور د پرېړې ګراوند د شهيدانو

د شهادت "آنکهوں دیکها حال" دی.

دکتاب دویمه حصه د پښتنو همزولو، زلمو او پېغلو دپاره مختص ده. په اول باب کښې د همزولو زلمو او د همزولو جونو خپل مېنځ کښې د تعلق محبت او یاد ذکر دی. همزولتیا څومره لوئ نعمت دی او په همزولو پسې ارمان دی. دویم باب کښې د زلمیتوب خوبیانې، د یارانو مجلسونه د زلمیتوب نازنخرې، لېونتوب دی. په زلمیتوب پسې ژړا او د زلمیتوب د وخت یادونه او ارمانونه د باب حصه ده. دریم باب کښې د پېغلو او پېغلتوب بیان دی. د پېغلتوب د بادشاهي او د پاکې مئینې صفت دی. د مینې د پاللو پتمه ساتلو، د معاشرې د جبر زیاتی او کور محلت د تور او تهمتونو ژړا ده. په مئینتوب باندې د سختو زغملو او په مینه دکلك اودریدو اقرار دی. د جانان د ظلم زیاتي ګیله ده او پښیماني یادګیرنه ده.

څلورم باب د سپین ږیرو او سپین سرو دی، چې د ځواني او پېغلتوب وار یې تیر وي اوس په هغې ژړا او ارمان کوي. پېغلې د موذیانو نه سر ټکوي او کونډې د مړونو په تکل کښې دي او څوك د بنو دِ لاسه ژاړي. ګیډې ګیډې ګیلې دي او د ماښامي تورې ښېرې دي. پنځم باب د هلکانو او جینکو د نازنخرو، ډولونو او خالونو او د اوچتو پروازونو دی د خپل ځان صفتونه دی. د خپل ځان د برتري او د بل دکمتری طعنې او پېغورونه دي. هم ویره ده او هم ناپوهي ده. شپږم باب د ابی دادا دکور او د خویندو رونړو ارمان دی. د نیستمند جانان سره پت پالي خو په مینه کښې شریك نه قبلوي. د باب په آخر کښې د غني خان بابا د ښځو د قسمونو او خویونو منظومه منظرنامه ده چې د باب خوند سېوا کوي.

په اووم باب کښې د پښتنو دکړو شملو، کړو پټکو او کړو خولیو ذکر دی چې د ډیر ناز او فخرنه یې په وریځو کړې ایښې وي. دا شمله یا پټکی نه دی بلکې د پښتنو د بهادری بې باکی او فخر نشان دی. ورسره د پېغلو د سالو څادر لو پټې او پلو د پاکدامنی او پاکیزګی بیان دی. د پېښور د تور قمیص او د مامونړ د شین ګیډی پرتوګ ذکر پکښې هم راغلی. خیرې ګرېوان په ګرمو او ښکو لوند او عاشقی سره لازم ملزوم دی.

د کتاب دریمه حصه "راځئ چې وژاړو" کښې د ژړا ټول سامان موجود دی. صرف ژړا والا پکار دی.
یو بزرګ به د صاحب حثیت کسانو نه قرض اغستلو او په غریبانو به یې تقسیمولو. سلسله روانه وه. د بزرګ آخري وخت نزدې شو. قرضدارو ته هم پته اولګیده چې د مرګ په بستره پروت دی. قرض خواه راغلل او د قرض د ادائیګی مطالبه یې وکړه. خو پیسې چرته وې. بزرګ دعا اوکړه چې خدایه د دوئ د قرض بندوبست اوکړې. الهام ورته اوشو چې ستا په محفل کښې یو هم ژړا والا نشته. په دې کښې بهر د یو هلك د حلوا خرڅولو آواز راغے. بزرګ حلوا والا را اوغستو او د قیمت مقرر کولو نه پس یې حلوا په ناستو کسانو اوخوړه. هلك خپل سامان غونډ کړو او د پیسو مطالبه یې اوکړه. بزرګ وې چې پیسې خو نشته دا قرض خواه ناست دي ته هم کینه. هلك په ژړا شو چې زه به مور ته څه وایم. کیناست ژاړي. دې کښې یو کس تال په سر راغی او بزرګ ته یې تال حواله کړو چې فلاني رالیږلی دی. چې وې کتل د قرضدارو پیسې بیلې او د حلوا پیسې بیلې وې. بزرګ هرچاته خپله حصه ورکړه. هلك خوشحاله روان شو.
مرتب وایي چې ما خو د خپلې حصې کار کړی. ستاسو د حصې کار پاتې دی اوس ستاسو خوښه ده چې ژاړی یا نه ژاړی.
بهر حال دا حصه په درې بابونو مشتمل ده. په اول باب کښې د ژړا او د غمونو او د ارمانونو ذکر دی. د تیرو ساعتونو، تیرو یادونو تذکره ده. د هر هغه څیز ذکر دی چې یوځل تیر شو بیا نه راځي.
په دویم باب کښې د هغه مرحلو بیان دی کومې چې په هر انسان را روانې دي. دی ورته بې بس او بې وسه دی چې نه خو هغه مرحله د ځان نه دفع کولی شي او نه ترې ځان بچ کولی شي. د هغه مرحلې د مرګ ځنکدن، غسل، کفن، جنازې مرحلې دي. د قبر د لحد او د قبر د خازو خبرې دي. د مرګ سلګۍ دي او د لحد تیارې دي. د بې دیدن تلو کیلې او ارمانونه دي. په دریم باب کښې د شهرعالم ماموني د افسوسناکې اندوهناکې قیصې تذکره ده. د ماموني د بې ګناه بې قصوره مرګ دلخراشه واقعه ده چې د حسین ابن منصور حلاج یاد تازه کوي.

زه د هغه ټولو فاضلانو، دانشورانو ډېر مشکور یم، څوک چې پخپله د قلم خاوندان او بادشاهان دي او په دې کتاب یې د خپلو تبصرو او تقریظونو په شکل کښې د قلم زور ښکاره کړو. زما رهنمایي یې وکړه او زما په شان دکودك نادان حوصله افزایي اوکړه.
د پروفېسر ډاکټر محمد سراج سواتي صاحب خصوصي شکریه ادا کوم چې همېشه یې زما مشکل آسان کړی. او ما دپاره یې د انساکلو پیډیا او امرت داري کردار ادا کړی د خپلو ټولو یارانو دوستانو خیرخواهانو، متعلقینو او معاونینو شکرګذار یم چې د کتاب په لیکلو کمپوز کولو چاپ کولو جلد بندي او خورولو کښې یې مدد کړی او منډه یې وهلې ده. الله پاك دې دا کتاب د لوستونکو دپاره د فهم و فراست د زیاتیدو ذریعه وګرځوي او زمونږ دپاره د ثواب او نجات ذریعه.

پروفېسر ډاکټر میرحاتم
۵، جنوري ۲۰۲۴ء
۲۲، جمادي الثاني ۱۴۴۵ھ

ټپې: د پښتون ثقافت ترجماني

د میر حاتم صاحب کتاب
دے د علم یو دریاب
د ټپو په بهانه
ده پیش کړے خزانه
د اسلام چې تعلیمات دي
ده ښودلي په کښې زیات دي
کله ذکر د آیت کړي
په حدیث کله حجت کړي
د رحمان بابا کلام
ځائ په ځائ نیسي مقام
د حافظ الپورئ
اشعار هم دي په خپل ځائ
تواریخ د انګریزانو
ده جوړ کړي شاهدان
پښتانه په بهادرئ
خپلے داؤ کړي کېرئ
په وطن پښتون مئن دے
خپله خاوره کښې ښاد من دئ
په میدان د کار زار
دے ډیر سخت کوي ګزار
زنانه ورسره مل وي
مسئله ئې د کور حل وي

که بهر کوي روز ګار
زړۀ ئې نۀ وي بے قرار
د میلمه نه دوي زاریګي
دوي په ورکړه خوشحالیګي
پښتو نوم دے د غیرت
د عزت او شرافت
که ئې مینه وي صفا وي
دهوکه نه کړي په رښتیا وي
دوي په دوست ورکوي سر
که دا ښځے وي که نر
زنانه وي وفاداره
هرے سختے ته تیاره
خاوند هم ورسره ښۀ وي
کور محلت ئې په مزه وي
مګر ځنے روایات
دوي ته جوړ کړي مشکلات
ده قیصه د میمونئ
د باجوړ د یوے جنیئ
په دهوکه د بنے مړه شوه
ادیره کښې ئې میشته شوه
دلته وړاندې شو غیرت
لاګو نۀ شو شریعت
داسې ډیرې مسئلې دي
چې لا مونږه ته پرتے دي

اوس دعا د ربه غواړو
په هر وخت به ورته ژاړو
چې توفيق د نيکئ راکړي
دے مو عفو هر خطا کړي
سراج ډير کوي تحسين
چې حاتم کړے تلقين

فروفيسر ډاکټر محمد سراج سواتي
مورخه 5فروري 2024
مطابق 24 رجب 1445 بروز پير

بسم الله الرحمن الرحيم

زما نظر

شکر دې چې مير حاتم صاحب د رحمان بابا دَ هر اړخيز اپريشن نه اوزګار شو. او مخه ئې دپښتو فولکلور طرف ته شوه ښاغلې ليکوال دنيا په دې تجربه ګاه کښې ډيرې تجربې کړې او له خيره لګيا دې کوي.

دَ حجرې جماعت پاس دې. رنګ رنګ تهذيبونه او دودونه دستورونه او ثقافتونه ئې ليدلې دي د کلي باندو نه ئې مزې اخستلې دي ځکه خو ئې خپل فولکلور په زړهٔ راوريدلې دې چې د ټپې په شکل کښې ئې راڅرګند کړې دے ټپه لنډۍ مصرئ ځومره زړهٔ ده د دې حتمي فيصله لا په صحي توګه چا سمه نهٔ دې کړې. اګر چې په دې ډيرُو خلقو کار کړې دے او لګيا دي کوي دوه درې پي ايچ ډي ګانې هم پرې شوي دي يو ځوان چې عثمان اولس يار پرې Phd کړې هغه دټپې د قدامت په حقله ليکي.

ټپه ده:

رام دې سيتا له ننګ تير کړه
د کرشنا په ماڼو ناسته ډوبه شومهٔ
يم سهاګه ستا نه نه يم
ښېړې مې اوکړې ژني ويني غور زوينه

دې وائي چې کرشنا په 3223 قبل مسح کښې زيږدلې ؤو ددې ټپې عمر تر پنڅه زرکلونه رسي.

دویمه خبره وائي چې سهاک اسطوره د ایران بادشاه فریدون د وخت سره تعلق لري بل خوا یو پادري Jens Enveld son د پښتو فولکلور تاریخ 1500 قبل مسیح ښائي او بنیاد دغه ټپه ښائي:

سپوږمۍ کرنګ وهه راخیژه
یار مې د ګلو لوکوي ګوتې رېبینه

دې وائي چې دغه ټپه د آریاؤں سره تعلق لري ځکه چې په دې کښې د سوما یو مذهبي بوټې ذکر دے چې لوبه ئې دَ ټپې کولو بهر حال ټپه چې هر څومره زړه دد خو دا خو معلومه ده چې دَ پښتنو فولکلوري یو اهم صنف دے دا بیله خبره ده چې د ټپې په مفهوم اوسني ځوانان نه پوهېږي ځکه چې هغوي د پښتو دغه دودونو رسمونو د ستورونو رواجونو نه نا خبره دي ځکه خو د دې نه خوند نه شي اغستے. البته چې هغه ځوانان چا د حجرې جماعت تقدس لیدلے او پیژندلے دے هغوي به ترې لږ ډیر واقف وي په دې وړوکې شان ټپه کښې د ټول پښتون تاریخ پټ دے ځکه مولانا عبدالقادر مرحوم دا وئیلي وؤ چې که چرې د پښتنو ټولې ټپې راغونډې کړې شي نو د پښتنو تاریخ به د تیارو نه رڼا ته راوځي.

په دې صنف کښې دومره زور دې چې هر قسمه شاعر متحرک کوي. لکه ښاغلي اجمل خټک بابا د غیرت چغه یو داسې نظم د ټپې تاثر لاندې لیکلې دے چې د ټولې پښتونخواه په غاصبانو او غټانو باندې زلزلې راوستې وي هغه ټپه داوه.

کۀ په میوند کښې شهید نۀ شوې
خپله لالیه بې ننګۍ له دې ساتینه

او د هغه نظم یو بند داسې دے

منم چې دا د ټول اکانو دنیا
د خپل واکې ګونګوسې بدې ګڼې
منم چې دا د څو غټانو ډلے
د آزادۍ ولولې بدې ګڼې

ولې په دې غیرت خاوره کښې
په دې همهٔ جرات خاوره کښې
چرته تاوده وینه به نه ئې چې واوري
چرته کښې سره وینه به نهٔ ئې چې واوري
زهٔ د وطن د شهیدانو وینه
یو ارماني غوندې فریاد کومه

دا ټول نظم د پت غیرت، ناموس یو شاهکار نظم دې داسې نور ډېر شاعرانو د ټپې نه تاثرات اخستې دې.

ښاغلي لیکوال په دې مسوده کښې د پښتون ثقافت باندې په خپلو خبرو کښې ډېر مفصله تبصره کړې ده که زه په دې څه لیکم نو کیدې شي چې تکرار شي.

په دې کښې کومه خبره چې د غور وړ ده هغه دا ده چې لیکوال د ټپې سره د پښتو پښتونوالی سره سره اسلامي ټچ هم ورکړې دے.

یعني د لوستونکو په علم کښې اضافے دَپاره هغه اسلامي واقعات حادثات په ډېر ښکلي انداز کښې بیان کړي دي چې د ستائنې وړ دي بله خبره په دې کښې دا هم ده چې د کلاسیکي شاعرانو شعرونه ئې د ټپې مماثلت سره بیان کړي دي.

اګر چې په دې موضوع نور محمد دانش ډاکټر جان عالم پښتو اکیډمي عثمان اولس یار د ټپې په بیلو بیلو اړخونه کارکړے دے خو دا کار ترې جدا دے. د پښتو فولکلور میدان دومره وسیع دے چې په د کښې حرف آخر نهٔ وي څکه چې هر لیکلوال ورته په خپل خپل نظر ګوري.

د ټپې وسیع میدان پورې راته د میا صاحب هغه قیصه رایاده شوه. وئېل چې دي یوې ښځې خاوند د شلوکالو نه بهر وؤ هیڅ پته لګته نه وه هغه ښځه مونږ کره راغله او راته وئېل چې زما خاوند ته یو خط اولیکه هغه وئېل زهٔ لاړم او پنډ کاغذونه مې راواغسته ما وئېل د شلو کالو ګیلې دې څهٔ که وائي هغه ښځې راته اووئېل په دې دومره ډېرو کاغزونو څه کوې یو وړکے کاغذ راواخله او ورته اولیکه:

څوک چې د چا ذ باغچې ګل شي
مناسب نه دي چې څوکرې پرې تېروينه

په دې ټپه کښې څه پراته دي د پوهې خاوندان په دې پوهېږي.

زهٔ نورې خبرې نه کوم خو دومره به اوائم الله تعالی دې مير حاتم صاحب له لوے ژوند ورکړي چې دپښتو ادب جولی سمسوره وي.

وسلام

ډاکټر احمد علي عاجز

پښتو څانګه پېښور پوهنتون

25-04-2024

پشتو ټپه دَ پښتون کلتور هنداره

د پښتو تهذیب، تمدن، غم ښادي، کلتور، تاریخ، مذهب او رومانس غرض دا چې دَ پښتون اولس ټول ژوند ژواک دَ پښتو ټپې په لمن کښې خوندي دے. یا به داسې اووایو چې که دَ پښتو دَ ژوند ژواک او خوی بوی مطالعه کول وي نو د پښتو ټپې نه ښه استفاده کېدے شي.

دَ اولسي شاعرۍ د یوې نیمې مصرعې دا صنف دومره زور لري چې زما په خیال د اظهار دا قوت لا په بل کوم صنف سخن کښې مخې ته نۀ دے راغلے او هغه په دې چې یو خو په فني توګه دا یوه نیمه مصرعه (نهه سیلابه او د یار لس سېلابه) دومره کوټلې مندلې وي چې د ګوتې کېښودو ځاے پکښې نۀ وي او بل کمال دا لري چې کوم مضمون بیانوي نو هغه په پوره جامعیت سره بیانوي نه په مضمون کښې او نه ئې په اظهار کښې څۀ خلا پاتې کوي او نه ئې په ابلاغ کښې څۀ کسر پرېږدي.

جنګ خو د کلي منځله راغے
نا مړده پورته شه چې ملادې اوتړمه
په ما دې وارد ځوانۍ تېر کړو
ستا دې را نۀ شي د دکنه مورانونه

د ټپې متعلق د پوهانو یوه عامه رائې دا ده چې دا د زنانو تخلیق دے یا اکثر ټپې دَ زنانو د خلې نه وتې دي او دَ هغې وجه دا ده چې دا د زنانو دپاره د کیتار سز یوه ذریعه وه په دې چې د پښتنو په چا پیر چل کښې زنانه ډېر پابند ژوند تېروي نو دا خبره هم دقیاس نه لرې نۀ ده او حقیقت ته نزدې ښکاري. او د ځنو ټپو د داخلیت او په هغې د موجود اظهار نه خو بیخي د زنانو د هغه کیفیتونو څرګندونه کېږي چې هغه واقعې هم د ټپې په کینوس تصویر کېدې شي.

تا چې دیوال ته را نه مخ کړو
زۀ دې د پلار د کوره څۀ له راوستمه

ټپې ته ټپه، مصرعه او لنډۍ وئيلې شي. د دې وجه تسميه دا بيانېږي چې څوک ئې وائي نو په غوږ ورسره لاس ږدي غوږ ورسره ټپوي نو ټپه ورته وائي ځنې خلق وائي چې لاس ورسره ټپوي او ځنې وائي چې ټپه دومره جامعيت لري چې کوم مضمون راوړي نو لکه ټاپه يعني مُهر پرې او لګوي د مصرعې متعلق وئيلې شي چې مصرئ توره تيره وي او ټپه هم په زړه ډېر تېزګذارکوي او ځنې خلق مصري چينو (شوګر) يا خوږو ته وائي نو وئيلي شي چې دا مصرعې هم لکه د چينو خوږې وي. د لنډۍ متعلق دا وئيلې شي چې د دې يوه مصرعه اوږده او بله لنډۀ وي نو په دې وجه ورته لنډۍ وئيلې شي او ځې دا خيال لري چې ټپه په اورېدونکي داسې اثرکوي لکه د لنډۍ ډګذار چې سم د ټکه انسان وژني. بهر حال دا خو د پوهانو ويناګانې دي خو په دې درې نومونو عمومي شهرت لري.

د محترم پروفيسر ډاکټر امير حاتم صاحب دا ځل ټپې پله مخه کېدل ډېره نوې خبره ده په دې چې دوي په تسلسل سره دا څوکتابونه د رحمان بابا د تعليماتو په حواله شائع کړل. نو دا د ټپې په حقله ښه اوګټور معلومات راغونډول يقيناً لوے کار دے. اګر چې د ټپې په حقله ډېرکار شوے هم دے ولې د ټپې لمن دومره فراخه ده چې په هره زمانه کښې پرې کار کېدے شي. او د لا ډېرکار ګنجائش پۀ کښې شته دے.

دَ ټپې موضوعات ډير خوارۀ وارۀ دي او د پښتنو د ژوند داسې اړخ نشته چې په ټپه کښې به ځاے شوے نۀ وي. د محترم ډاکټر صاحب دا موضوع چې په خپل ځان بلا وسعت لري په دې چې ثقافت هم دَ يو قام پوره ژوند احاطه کوي نو په دې دا کارد ډير ستائنې وړ دے او چې د موصوف غوندې علمي شخصيات دې پله پام او ګرځوي نو د پښتو ژبې خوش قسمتي ده چې د ټپې غوندې وسيع اولسي ادبي صنف او د ثقافت غوندې وسيع موضوع د پښتو ادب د مئينانو او لوستونکو دپاره به ګټور ګام ثابت شي.

په درناوي ډاکټر شير زمان سيماب
پښتو اکيډمي پېښور پوهنتون
۲۵ اپريل ۲۰۲۴

داکتاب زما په نظر کښې

پروفيسر ډاکټر مير حاتم يو زرعي ساينس دان او ماهر تعليم دے خوداد موصوف خوش بختي او دقام خوش نصيبي ده چې دخپلې وظيفې سره سره هغه دخپلې ژبې او ادب خدمت ته هم هر وخت چمتو وي په رحمانياتو دهغه ډېر بنيادي او منظم کار دچانه پټ نه دےدې سره سره ئې دخوندناکې لطيفې او عبرتناکې قيصې دسرخط لاندې يو بل ډېر خوږ او جانانه کار ته هم لاس وراچولے دے چې دغه کار هم دهرچاد وس خبره نه ده.او دادے اوس ئې دپښتو ډېر نيازبين نمانينده سوچه او لرغوني توکي..ټپې..ته هم متې اووهلې..ټپې دپښتون ثقافت ترجمانې..دښاغلي ډاکټر يو بل ډېر ګټور تحقيقي اثر دے چې دپښتو ددغه زوړ او سوچه فولکلوري توکي په موضوعاتي ويش دډېرو ناوياته ټپو سره زمونږه په وړاندې دے.تراوسه چې په پښتو ټپه کوم کار شوے دے دمير حاتم صيب داتحقيقي زيار په دغه کار کښې ډېره ګټوره او ځانګړې اضافه ده.

زماپه خيال په پښتو فولکلور او بيا په ټپه باقاعده کار دمستشرقينو..لکه جنز انوالډسن،ډار مسټيټر،او پادري هيوز نه پس په افغانستان کښې پېل شوے دے چې په دغه اداراتي کار کښې ګڼو کانديدانو برخه اخستې ده خو دلتهپهکوزه پښتونخوا کښې هم دپښتو اکيډمۍ دسيوري لاندې په تېرو پنځوسو کالو کښې ښه موړ کار شوے دے په پښتو فولکور او په تېره تېره په ټپه دمحمدنواز طائر ټپهاو ژوند دمېرمن سلمي شاهين روهي ټپې پکښې pashtoon culture in pashto tappa داداور خان داور پښتو ټپه او دډاکټر حنيف خليل .. نمانينده کتابونه دي او ددې فولکلوري توکي په لړ کښې اوس بېلګې حيثيت لري.

ددغه پورته نمانينده کتابونو نه پرته چې په پښتو ټپه کوم خور وور کار شوے دے په دغه کارکښې دهغه سندي کار ځانته يو خپل ځانګړے مقام دے په ټپه چې کوم سندي کار شوے دے په هغې کښې دډاکټر نور محمد دانش دپي ايچ ډي

مقاله..دپښتو ټپې عمراني مطالعه..دډاکټر جهان عالم دایم فل مقاله..پښتو ټپه او تلمیحات..دملاکنډ پوهنتون نه دښاغلي مصباح په ټپه کښې دفصلونو او غذائ اجناسو تجزیه..او اوس اوس دډاکټر عثمان علي اولس یار دپښتو ټپې سیاسي اړخونه په خصوصي توګه دیادونې وړدي.

په دغه ټولو لیکونو کښې دټپې دزړګونو کلونو دلرغنتوب فوالکوري ارزښت او کلتوري اهمیت ډېراووړده او زړه پورې بحثونه شوي دي ځکه نو زه دغه ټول بحثونه بیا تکرارول نه غواړم خو دښاغلي میر حاتم په دې تحقیقي زیار دځو خبرو نه اګاهو دښاغلي عثمان اولس یار دذکر شوې پې ایچ ډي مقالې نه یو وړوکے غونده عبارت دیو دوه ټپو سره ستاسو په وړاندې ړدم نو بیا دحاتم صیب کتاب له راځم ښاغلے عثمان اولس یاردخپلې مقالې په صفحات..65 تا 80 دځنو لرغنو ټپو په حواله لیکي چې..سیتا دخپل محبوب مېړه رام په بېلتانه کښې کړېږي او راوڼ ته وائ چې ستاټوله باچائ به درام یوه وېښته سره برابره نه کړم،رام ځلانده نمر دے او ته تش یو اور اورکے چینجے.راوڼ په دې خبره غصه کېږي او غواړي چې سیتا اووژني خو په دې وخت کښې دهغه بله مېرمن..مدود ري..دهغه مخه نیسي.راوڼ دوه میاشتې سیتا ته وخت ورکوي او ورته وائ چې ترهغه وروسته به یا له هغه سره واده کوي او یا به ئې ښځینه دېوانو ته اچوي.دسیتا دغه کیفیت په دې ټپه کښې داسې بیان شوے دے

رام دې سیتا له نهنګ تېر کړه
دخرشینا په ماهو ناسته ډوبه شومه

یو بله ټپه ده

یم سهاکه ستانه نه یم
ښېرې مې وکړې ژني وینې غورزوینه

داټپه څومره قدامت لري او داهم ډاګیزه کوي چې سهاکه پیغله د ستانه داری،برلاسی دهغه ټولنیز پاړکیز طبقاتي او غېر منصفانه نظام په ضد ځان

د ژبلې، کمزورې او کارګرې طبقې پلوې ګرځندوي او دښېرو په شکل ددغه پاړکيز وېش دخپل فکر ګرځندونه کوي چې مزاحمتي رنګ هم لري.
پروفيسر حاتم ددغه ټول لرغوني تاريخ نه هم خبر دے او په دې حقيقت هم رسېدلے دے چې په پښتو ټپه کښې لکه دپښتو چاربيتې دپښتون بزميه او رزميه تاريخ ټول رنګونه خوندي دي او هم داتوګے دپښتون کلتور يوه بشپړه هېنداره ده چې پښتنو مېرمېرمنو..په کثرت سره..او زلمو هم خال خال دخپلو دردونو غمونو جذبو او تکليفونو داظهار يوه موثره او جانانه لاره ګڼلې ده.پروفيسر صيب په دې حقيقت هم اګاه دے چې پښتنو مېرمنو،پېغلو او زلميو په ټپو انګو او غاړو کښې دخپلو جذبو، جذباتو، احساساتو، کيفياتو او خواهشاتو يو داسې شاعرانه اظهار کړے دے چې سم لکه چې سمندر ئې په کوزه کښې رابند کړے دے لکه چې ما مخکښې هم اووې ښاغلے مير حاتم صيب دپښتو ټپې په کلتوري ارزښت هم پوهه دے ددې په جمالياتي جادو او پښتون جلال ئې هم سرخلاص دے او دپښتون قام په ټولنيز ژوند راخور ددې نيازبين توکي په عمراني او سماجي اهميت هم اګاه دے هم دغه سبب دے چې هغه ټپه دپښتون کلتور ترجمانه او آئينه داره ګڼي اود خپلې دغه دعوې په ثبوت کښې دټپو دلوے خروار نه ګڼ شمېر داسې ناوياته ټپې هم وړاندې کوي چې دهغه احساس جمال اوقوت ادراک پکښې سرغړنې کوي.
دټپې دغه موضوعاتي وېش دډاکټر صيب نه اګاهو نورو پوهانو هم کړے دے خو ډاکټر صيب دغه صحت مند روايت نور هم په جانانه انداز کښې مخ په وړاندې بوتلے دے او دخپل تحقيقي او تجزياتي مزاج په برکت ئې دټپې دغه موضوعاتي وېش نور هم غزولے دے او هم ئې ورله داسې سرخطونه ورکړي دي چې دخپل موضوع سره سم او عمراني بنه لري په خپل دې تحقيقي زيار کښې ډاکټر صيب ځنې ډېرې ناوياته ټپې هم خوندي کړې دي.او داپه خپل ځائے يوه بنيادي کار دے ځکه چې ټپې او متلونه زمونږه دمشرانو زنانو او نارينو په سينو کښې محفوظ دي او چې مونږه خپل دغه مشران خاورو ته سپارو نو خپله دغه قيمتي فوالکلوري سرمايه هم ورسره دفن کوو.

ددې کتاب په اوله برخه کښې..ټپه دپښتون ثقافت مور. په دوېمه کښې..پښتو او پښتانه..دي او بیاور پسې دپښتون اولس،پښتنې تولنې دبیلابیلو کیفیاتو ،جذباتو ،احساساتو ،واقعاتو او حادثاتو په حواله دخپلو خپلو سرخطونو لاندې ډېرې ناویاته او مناسبې ټپې راوړلې شوې دي.

چې پکښې درشتو ناطو سره سره دپښتنو دلباس کالو پټرو ددوي دمزاج رویو اداګانو ،مینې محبت،هجر او وصال دپېغلو اوزلمیو احساسات مرګ او ژوند مبارزو لنډه داچې دګرد ملي ژوند هرارخ دټپو په تارپېړلے ښکاري او داسې زمونږه ډاکټر صیب په خپله دې دعوی کښې چې..ټپې دپښتون ثقافت ترجمانې..کښې سل په سل بریالے شوے او سرخرو شوے دے.

زه د ډاکټر حاتم دازیار په پښتو فوالکوري ادب کښې یوه ډېره ګټوره اضافه ګنم او د هغه دنور علمي، تحقیقي توان لپاره دعاګو یم.

پروفیسر نورالامین یوسفزے

شاه منصور صوابی

9 فروري کال 2024

د ریدي ګل

حبیب الله خان خټک

تیر کال په لاهور کښې وؤم په پښتو ژبه زما لیکچر و و حاضرین هغه پښتانه هلکان او جینکئی و وچا چې د CSS امتحان کښې پښتو " اختیاری مضمون په طور اخستی وه. ما چې په "مازیګر" پرله پسی درے څلور ټپے اووے نو یو کس را نه تپوس اوکړو. سر ! تاسو په ټپوکښې څۀ خاص کورس کړے دے؟ما ورته ووئېل، هو، ما په هلکوالی دا کورس د خپل کلی په حجره کښې کړے دے. چې ماسخوتن به خوانان او سپین ږیري راغونډ شو اود لالټین په رنړا کښې به ئې د ټپو په جامه کښې د خپل زړه حالونه وئیل.

زما د زړه ناکاره رنځه
نه دې علاج شته نه د حال وئیلے شمه

ما دا سبق د هغه پیغلو نه زده کړے دے چې منګي به ئې په سر کړي وؤ چې ګودر ته څو اوبه به هم راوړو او د خپلو همزولو سره به د راز او نیاز خبرې هم اوکړو.

ګودر ته ځم را پسے راشه
زه به منګے په لپو رو رو ډکومه

دا ټپې ما ته هغه شپونکي ښودلي دي چې کله به ئې بیزې غر ته اور سیدے نو دې به په غمه ګټه کیناستو . لاس به ئې غوږ ته نزدې کړو او د نالیدلې جانان دَ ښائست ټپې به ئې د پلوسې بوټو او د سرګړي وښو ته اوورولے.

خبرې کړي شونډې دي ریږدي
لکه سور ګل چې د سحر شمال و هینه

دا اور هغه ترور ماته امانت راکړے چې په واده کښې به ئې تمبل پورته کړو او د خپلو کشرانو ستائینې به ئې په داسې ورکولے چې د اینړور په غیږ کښې ناست نسې به د احمد شاه ابدالی دوئم زیړون وؤ.

دا هره مور به ځامن راوړي
د نعمت شاه په شان به لږ لږ پيدا شينه

نوټ: د احمد شاه ابدالی نوم به ئې په نعمت شاه بدل کړو۔

دا کتابونه ما ته هغه تورسری خلاص کړي دي چې لالے ئې د روزئ په تلاش کښې دکن ته تلې وؤ دا به په نيمه شپه کښې راپاسيده ځان سره به ئې ټپې کولې او وښکې به ئې تويولې۔

په نيمه شپه له خوبه پاسم
ستا د فراق ژړا کوم، سلګئ و همه

دا ماته هغه طالب ښودلي دي چې خپله چنغله ئې په کنړ کښې پريښې وه او د علم په تلاش کښې پردي وطن کښې د جمات په ګوټ کښې حيران دريان ناست وو چې د خپل سبق ګردان اوکړم لوکه د اشنا زنځيرئی او شمارم.

طالبه خدا ے ګو که ملا شے
په کتاب پروت ئې يادوے شينکی خالونه

څه کتابونه لوستل غواړي او څنې کتابونو کښې ډوبيدل غواری. د پروفيسر ډاکټر مير حاتم صيب دا کتاب ټپی، د پښتون ثقافت ترجماني د دويم قسم نه دے۔

په ټپوما ډير کتابونه لوستي دي او په خپله لائبريری کښې هم راسره ډير موجود دي. پروفيسر مير حاتم صيب په حرف اول کښې د ډاکټر سلمیٰ شاهين کتاب روهی سندرې اود پروفيسر نور الامين يوسفزئی کتاب فولکلور اود پښتو فولکلور ذکرکړے دے۔ ډاکټر سلطان روم په خپل کتاب ټپې کښې خواؤ شادرې زره ټپې د الف، ب، پ په ترتيب راجمع کړې دي.د استاد عبد الرؤف بې نوا کتاب پښتو لنډئ وړوکے کتاب دے خو ښه خبره دا ده چې د هرې يوې ټپې اردو، فارسي او انګريزی ترجمه ئې ورسره کړې ده په انګريزئی ژبه کښې سپوږميه کړنګ و هه را خيژه د Jens Enevoldsenتاليف دے۔ په اول ځل 1969 کښې چاپ شوې وؤ. د پښتو ټپو سره سره انګريزئ ترجمه ئې هم ورکړې ده ټپې لږې خو معياري دي.د

ډاکټر حنیف خلیل مقاله / کتاب Pashtoon Culture in Pashto Tappa په انګریزۍ ژبه کښې د پښتون ثقافت او د ټپې په تړون یو جامع لیک دے. په راتلونکی وختونوکښې یو ادیب یا ریسرچ سکالر چې په پښتو ادب لیکل غواړي، د محترم محمد نواز طائر صیب کتاب ټپه او ژوند نه مخ نۀ شي اړولې. په دې دومره ښکلي کتابونوکښې دَ ډاکټر میر حاتم صیب کتاب کوم مقام لري؟ آیا د کتابونو په صف کښې یو بل کتاب زیات شو لوکه نه د پښتو ادب کښې یو داسی میلمه راغلو چې ټوله حجره ورته را پاسیده.

مانه کشر زوے فرید الله خان تپوس اوکړو بابا په با زارکښې دومره قسما قسم منړې دي . د چترال په منړه کښې څه خوبی ده چې خلق وائي د هغی مثال نشته؟"ماورته اووے ډیر په وخت دې دا سوال اوکړو انورخان کاکا نن چترال نه راغلے دے. ورشه د موټر په ډګئی کښې یو کریټ پروت دې، هغه راوړه . فرید الله خان چې ده بونی (چترال) منړه او خوړه، نو حیران شو. دا خو څه جنتي میوه ښکاري خوړه خونده وره ،ښائسته اوبو نه ډکه رنګ ئې دشین زمرد غوندی، او د خالي کریټ نه ئې هم خوشبوئی راځي. ډاکټر صیب کتاب د بونی د منړې نه کم نه دے. چې څومره ئې لولې دومره دِ تلوسه زیاتېږي چې زر زرئې سر ته اور سوم. ټپې په زرګونو دي. انتخاب ئې ګران کار دې. ډاکټر صیب ډیره خوارۍ کړې ده. ښه معیاري شاعري ئې راغونډه کړې په بیلو بیلو عنواناتو کښې تقسیم ئې ډیر خونده ور دے. په ټول کتاب کښې بې مقصده او بې مطلبه ټپه نشته .

د عنواناتو ترتیب ئې داسې ورکړې دي لکه یو ماهر زرګر چې پینزیب جوړوي. هره کړۍ د بلې نه جدا او هره کړۍ د بل سره تړلې کړۍ نه دومره لویه چې پوندو ته ووُرسي او نه دومره وړه چې په پینځه کښۀ پټه شی.اول ئې د ټپې تاریخ بیان کړې دې، بیا ئې د پښتنو سره تړون، ورپسې د وطن مینه، په قام ننګ – هم دغه شان په دویمه برخه کښې همزولي پیغلې او سپین سرې ستائیلې شوي دي. په کتاب کښې د پښتو دَ ډیرو نوموړو شاعرانو ذکر شوې دې او په ښه طور شوې دي. زمونږ د مشرانو هم دغه روایت دې چې د کومې خبرې ښه تاویل کیدې شي، هم هغه

تاویل پکار دے.د رحمان بابا اؤ حافظ الپور ئي د تعلیماتو ذکر دومره په تفصیل ئې کړې دې چې دا ځان ته خپل یو حیثیت لري.

د پښتو په لیک او وئیلو ژبه کښې ډیر فرق دې پاکستان د جوړیدو نه پس په پښتو د اردو اثرات ډیر واضح دي بل اړخ ته د افغانستان پښتو د دروغژن خبره چې نیمه فارسي ده. ټیلی وژن او د فلمی دور نه پس په ادبی ژبه بازاري رنګ اوخته ډاکټر صیب په خپل کتاب کښې د دې خبرې خیال ساتلې دې چې ژبه آسانه وي او علمی دروند والے قائم . دا هم د ښه لیکوال صفت وي چې هغه کتاب او قاري په خبروکړي او بیا خپله منځ نه پاسي - اوس د قاري اوکتاب ځانته مئیلس وي. د مؤلف او مصنف ورکښې څه کار چې رقیب یا غماز جوړ شي.

په هر مد کښې لنډ تعارف لرې ټپې، د څوکرښو تشریح..کتاب نهٔ دې، تهری ډي D3 فلم دے. څه ساعت پس داسې ښکاري چې ته خپله د دې فلم کردار ئې. دا تاثر په څلورم باب جهاد او مجاهدا کښ دومره غالب دے چې قاری خپل ځان د نحقئی په کنډاؤکښې انګریزانو سره په غزا کښې شریک وینی . ډاکټر میر حاتم صیب په قوم مهمند او د چارسدې ضلع سره تعلق لری . د پښتونخوا ستر مجاهد حاجي صیب ترنګزنی او د موجوده صدی لوے مصلح او سیاستدان باچاخان دواړه د چارسدې وو. د دې دوو مشرانو د قربانو دا نتیجه ده چې د دې سیمی خلق په پښتو مره دي او په اسلام سر ورکوي د پروفیسر میر حاتم صیب نه به بل کوم داسې دانشور وي چې د اسلام او د پښتون دا تړون د ثقافت په رڼا کښې نړی ته ښکاره کړي .

اولسی شاعري:

د هرې ژبې د ادب ابتداء د اولسي شاعری نه شوې ده اولسي ادب د سماج کوتلي حقیقتونه وي- که توهمات وي نو هغه هم د سماج یوحقیقت وي. اولسي ادب کښې معصومیت وي تصنع نه وي - خلوص او جذبات وي خلق مسحور کړي اولسي ادب کلونه تیر شي خو په بنیادي خبروکښې ئې څهٔ ترمیم او تبدیلي نه راځي د دې له کبله دا زمونږ د تاریخ یو امین وی .

جیمز ډیمسټریټر (1894-1849) د فرانس مشهور مستشرق ماهر لسانیات او تاریخ دان پاتې شوې دې - بې شمېره کتابونه ئې لیکلې دي-په 1886 د فرانس حکومت هندوستان ته راواستوؤ چې دافغانستان او برطانوي حکومتونود تعلقاتو جاج واخلي - په دې سفرکښې ئې څه موده پس د پښتو اولسي ادب ته پام شو او ډیر زر په دې اورسیدو چې خوشحال خان خټک، رحمان بابا بایزید انصاري او د اخون درویزه د شاعرئ او د لیک د اهمیت نه څه انکار نشته خو دا هم حقیقت دې چې د هغوئ په نثر او شاعرئ دواړو د فارسئ او عربئ اثر شته.

عوامئ نالیکلي شاعرئ ته ګر چې کتابئ خلق څه اهمیت نه ورکوي خو دا عجبه رنګ ادب دې. دا د بې تعلیمه شاعرانو تخلیق دې. دا د هغو د احساساتو نمائنده شاعري ده - په دې کښې ژوند ځلیګي. د عام اولس د ژوند دا تخلیقات ساده او هر قسم هیڅ پیچ نه پاک وي – دا فطرئ شاعري وي، نه چا روغن ورکړې وي او نه د چا خوشحالولو دپاره ئې پردي کالي وراغوستی وي – دا اولسي شاعري خو ځکه د زوراورو جذباتو او ښائسته احساساتو میرمن وي.

دافغانانود ثقافت نه په ښهٔ شان خبرولو د پاره دا ضروری ده چې د دوي په اولسي سندرو ځان پوهه کړي. د جیمز ډیمسټریټر پښتو اولسي ادب ته څنګه پام شو؟ دا خبره هغه ډیر په خوند خوند لیکي.

د چارشنبې ورځ 7 اپریل 1886 د شپې زه د پېښور بنګله کښې ناست ووم – سپوږمئ راختې وه– ما د خپل څوکیدار غږ واورېدو ځان سره ئې اولسي سندره وئیله – هغه په ما ډیره ښه او لګیده – ما را او غوختو ما ورته اووې. دا تا څه وئیل؟ هغه او شر میدو، انکار ئې اوکړو چې ما مجبور کړو نو یو څو بیتونه ئې راته اووئیل -

یوه ښځه خپله ژړا کوی چې آشنا مې دکن ته لاړلو او زهٔ ئې یوازې پرېښودم. ما دګریوانه اونیوؤ چې که ته هلته بادشاه شې، زما په څه.ډیمسټریټر د دې نه پس د پښتو اولسي سندرې راجمع کول شروع کړل. د هغه کتاب Chants Populaires Des Afghans کښې د سلو نه زیاتې سندرے موجود دي.

د ټپې پېژندګلو

پروفيسر مير حاتم صيب په دې کتاب کښې دا واضحه کوي چې ټپې د پښتون ثقافت ترجماني څنګه کوي - پس دا خبره ضروري شی چې اول موږ ټپه او پېژنو ثقافت څه ته وائی او د پستون ثقافت څه شې دے؟ دې سره به ډيره آسانه شي چې موږ د ډاکټر صيب دَ کتاب جاج واخلو چې دا مقصد ئې ترکومه حده پوره کړے او په څه شان ئې سر ته رسولے دے.

ټپه د پښتو اولسي شاعرۍ هغه صنف دې چې په ټولوکښې پخوانی هم ده او مقبوله هم . د پښتنو د مزاج، فکر او جذبې چې څومره صحيح ښودنه ټپې کړې ده دومره د ادب بل يو صنف نه دا کړې په نن زمانه کی ډيرو شاعرانو ورته پام شوې دې- څنو پوره پوره کتابونه ليکلي دي او څۀ شاعرانو په خپل کلام کښې ورته بيله برخه ورکړې ده. دَ پشتو اکيډمی صاحبزاده محمد ادريس ټپې او د شعور رود چاپ کړې په دې مقصد وو چې د نن زمانې دَ شاعرانو دې صنف ته خيال شي - عجيبه خبره دا چې نوي کلام د اولسی ټپوځاے وانغستو.

د پښتنود ژوند داسې اړخ به نۀ وي چې د هغې متعلق څه نه څه ټپې نۀ دي وئيلې شوې- اوچې کومې وئيلې شوي دي هغه دومره مؤثره دي چې پښتانه ئې د مثل په توګه وائي- ټپې پريشانه خيالات نه دي بلکې د دې دَ فصاحت او بلاغت مثال نشته په يوه نيمه مصرعه کښې لوئے نه لوئے موضوع په ښه شان راغونډه کړې شي چې کومه موضوع پۀ کښې بيان شي نو نيغه په زړه ورننه اوزي. ټپې ته دا انفراديت حاصل دې چې د نورو ژبو په ادب کښې د ټپې مثال نشته - ځينې محققين د پنجابی "ماهيا" او د هندي دوهے مثال ورکوي خو په جامعيت او عوامي مقبوليت کښې دا ټپې ته نه رسي-

دا د انګريزۍ يو متل دے Humour does not travel يعنی مزاح په يوه ژبه يا ثقافت کښې دومره اغېزلې شوي وي چې بلې ژبې ته د هغې منتقل کول ناممکنه وي - د لفظ په بدل کښې لفظ خو به او مندلې شي خو خوند او ورمه به ئې پاتې نۀ شي - د ټپو دپاره دا خبره دومره رښتيا ده چې لوړ لوړ اديبان د دوۀ مصرعو پورا پورا

پیراګراف کښې وضاحت نه شی کولې۔

د اجنتا او ایلورا غارونه د آرتس نمونې دي اوکه د اهرام مصر په شان عالی شان مقبرې، د عربو د بدوانو حدي وي لوکه د وسطې یورپ دغرئیزو قبیلو اولسي سندرې د دوي تخلیق کار معلوم نه وي خود فن خراج د هر چانه وصوله وي. هم دا حال د ټپو دې۔ دټپې شاعر معلوم نه وي او د هر حساس پښتون او پښتنی د احساساتو بنداره بللې شی- دا زمونږ د تهذیب، رسم و رواج، عقائد او د رشتو جامع انسائکلو پیډیا ده – پښتو ټپه شریک میراث دې – ټپه د هر چا ده او د هیچا نه ده ، دا دواړه خبرې رښتیا دي۔

ټپه د عروض د پابندو نه آزاده وي خو وزن لري دا هم یو غټه وجه ده چې کله دا د سندرې په شکل کښې وئېلې کېږي نو یو عام کلي وال پښتون هم ورته د ساز او آهنګ ترتیب ورکولې شي. د ټپو روایتي موسیقی منګې او رباب دې . په ډیرو مجلسونو کښې رباب هم نه وي د ریډیو د راتلو او د مغربی دنیا سره د تړون نه پس پښتو سندرې هم پوره آرکسټرا سره وئیلې شي- البته د حجری او دکلي مجلسونه د موسیقۍ د دے نوي آلاتو نه بې نیازه دې۔

پښتون ولی

پښتو یوازې ژبه نه ده، دا خو د ژوند تېرولو یو عمراني تړون دې دکوم کردار به قدر ګېږي، کوم عادت ته به سپک کتلے شي سړي به څه کوي د ښځو څه ذمه داري ده. پښتانه په یو داسې جغرافیائي علاقه کښې د سلګونو کالو راسې پراته دي چرته چې د معاش ذرائع محدود دي – غرئیز وطن ډیر او هوارې زمکې لږې۔ لوئے ښارونه لږ او په وړو، وړوکلو کښې خواره واره، هره یوه قبیله په خپل انا کښې ګیره او د ګاونډي سره په جنګ د ټولو نه غټه خبره دا ده چې هر لوے باچا چې د هندوستان تکل به ئې کولو چې دا د سرو مرغۍ په لاس کړي نو د پښتونخوا نه به تېریدو پښتانه همېش دپاره په دې کشمکش کښې وو چې د بهرني دشمن نه څنګه ځان اوساتی او په خپل وطن کښې د یو بل سره څنګه په امن وخت تیرکړي . د دې حالاتو منطقی نتیجه پښتون ولي وه – دا یو داسے نا لیکلې قانون وو چې هر پښتون تسلیم کړې

وو میلمستیا ،اشر ،ننواتې، بدل پناه تیګه چغه دا ټول د پښتون ولۍ تعارفي اصطلاحات دي.ددې مثال په بلقان کښې میشت د البانوي قوم قانون "The Kanun دے. دا دواړه یوبل سره ډیر ملاویږي-اخپل ملا خپلې تراویح، خپله زمکه، خپل اختیار او خپلې شخړې، خپلې فیصلې، دا د پښتون ولۍ هغه بنیادي ځلنده منارې دي چې د پښتنو جغرافیائي او فکري آزادۍ ئې قائمه دائمه ساتلې ده.

خپله ژبه، ګله ژبه

په قرآن پاک کښې راځي چې هر قوم ته په خپله ژبه کښې پیغمبر راغلې دې. دهرې ژبې هر لفظ یو خپل تاریخ لري- یو سیاق و سباق لری- همه ګیریت لري- کله چې هغه لفظ اوئېلې شی نو د اورېدونکو مخې ته د هغه لفظ ټوله دنیا پرانستلې شي- تاؤ ده او ساړه ئې محسوس کړے شي. د مکې کفار په دې خبر وؤ چې لااِله د عربۍ دوه ټکي نۀ دي بلکې یو نوې ژوند او شریعت دې چې په هغې کښې نه لات او منات شته او نۀ د خپلې انا او ضد څه ځاے بلکې دیو خالق او مالک منل او هغه ته سرټیټول دي.

شته مند خلق خو خپل بچي انګلش میډیم سکولونو ته استوي خو زمونږ سرکاري تعلیمی نصاب هم په داسې ډګر جوړ شوې دې چې ماشومانو ته خپله مورنۍ ژبه نه ښائي. دا یو اټل حقیقت دې چې کوم ماشوم خپل ثقافت سره څومره زیات تړلې وي دومره د هغه تخلیقي صلاحیتونه په وړاندې تګ کوي د خپل ثقافت نه لرې والې سطحیت پیدا کوي. په پردۍ ژبه د تخلیق رګونه اوچ شي- په مورنۍ ژبه کښې د سبق حق ملي ملتونو ادارو هم تسلیم کړې دې. څنګه چې ګلوبل اقتصادیات نیو کالونیزم (Neo Colonism)پیدا کوي هم دغسې د خپل ثقافت نه لرې والې ذهني غلامي پیدا کوي. د کنزیومرزم (Consumerism)د پاره میدان تیار وي چې انسان ورکښې بس د اخور غوائې پاتې شي. د یوقوم ثقافت د خپلې ژبې په وزرو د یو نسل نه بل نسل ته منتقل کېږي. د یو دور نه بل دور ته ځی. پښتون هله پښتون دې چې پښتو وائي چې کله ئې خپله ژبه پرېښوده نو د پښتون ولۍ نه میراث شي او د یو ژوندي قوم په حیثیت د خپل شناخت نه محرومه کړې شي.د بې نومو دشتونو مسافر شي.

غم چې زما د زړهٔ نه ځي نو غم به پاتې نهٔ شي
شبنم چې د ګله بیله وي شبنم به پاتې نهٔ شي

یو سروپ تور:

روس د اشتراکي انقلاب نه پس د انډین کانګریس د اثر لاندې او د پاکستان اسلامی تشخص خلاف د سیاسي حربې په طور په پښتونخوا کښې ځنې ادیبانو دانشورانو او سیاسي مشرانو په ځرګنده دا مشق شروع کړو چې اسلام او پښتو یو بل سره په مقابل دي . د سردار داؤد مرګ او د روس مداخلت نه پس دا شور نور هم ډیر زیات شو او د یو فکری تحریک رنګ ورکړې شو.دا خبره بېخي غلطه او سروپ ناروا ده پښتون دومره غیرتی با تور اؤ ضدي قوم دې چې په زور سوال نه پیدا کېږي چې دوي به څوک د خپلې خبرې نه واړوي افغانستان پنځوس کاله جنګ اوکړو خو نهٔ ئې د روس اشتراکیت او منلو او نه د امریکې بے ډنګه آزادي. انګریزان دوه سوه کاله په هندوستان کښې پاتې شو او په پښتونخوا کښې ئې تر 1947 ډغرې خوړې. روزانه به ئې د یو افسر مرګ خبر راتلو یا په پکټ د شبخون.

دا خو د اسلام پاکه لاره وه. د اصحابو غونډې سپین سپیځلي خلق ، چې پښتنو ورته سر ټیټ کړو او په مینه او اخلاص ئې ورته آمنا و صدقنا اووې. اسلام د مساوات درس ورکوي شخصي آزادي تسلیمه وي. د خیر ښېګړې کار ترغیب ورکوي او د انصاف د پاره اودریږي مړانه خوښوي او نرتوب ستائي. د تور او د سپین فرق ورکښې نشته خو مشر لوکشر مني او د قبائلیت شناخت نه انکار نهٔ کوي.

یو مستشرق وائی چې د اسلام تعلیماتو او پښتون ولی په اقداروکښې دومره اشتراک وؤ چې پښتنو ته د اسلام په قبلېدوکښې هیڅ عذر نه ښکارېدو پښتنو ثقافت د اسلام په رنګ کښې رنګ شو په دې ضمن کښې څوک چې د پښتنو ستر مشر عبد الغفار خان (باچاخان) ته سیکولر وائي یا خدائی خد متګار تحریک د لا مذهبو تحریک شمېري نودا سراسر دروغ وائی او بهتان لګوي. د باچا خان خپل کتاب زما ژوند او جدوجهد ګواهي د دې دَ پاره کافی ده. زمونږ د چارسدې مردان، صوابی ملاکنډ او د پښتونخوا نورو مشرانو ژوند خو د پخوانی زمانې د بزرګانو په

شان وؤ په اخلاقو درانه خلق، د مونځ اودس پابند، سپينې سپينې ږيرې، پټکي او ټوپۍ او په لاسونو کښې تسبيح. دا خو ټول زما د يادو خبرې دي.

ټپې او د تصوف خبرې:

په شاعرۍ کښې اشارې وي تشبيهات وي، استعارې وي په مهملو الفاظو کښې د مطلب خبرې وي لو کله خو نه وئيلې شوي ټکو کښې دريابونه بند وي. غالب خو دا هم وئيلی دي

بنتی نهيں هے باده و ساغر کهے بغير

د سلوک سفر او د شاعرۍ يوه دنيا ده مينې او د عشق خبرې، وصال او د بېلتون وختونه، رقيب او د جانان لوبې هم د اظهار علامات دي او هم د اخفا پردې- کله چې په ټپو کښې بيان شي نو دعاشق نه په سپينه ورځ زړه يو سي- يو عالم د تهجد فضائل بيانول- خلق خاموشه ناست وو آخره کښې ئې يوه ټپه اووې.

چې خوب کوې خاورې به يوسې
ليلی د هغوچې شوګېرې ورته کوينه

يو کس ناساپی چغه کړه. لاړو، هغه څه ساعت لره به مې سترګې پټولې، اوس هغه هم پاتې شو .

ډاکټر صيب د ټپو ترون په داسې ښکلې طريقې سره کړې دې چې ما ته اخون درويزه بابا ياد شي هغوي به وئيل که په شريعت کې اجازت وؤ نو ما به د رحمان بابا کلام پا مانځه کښېوئېلو.

د پروفيسر صيب د ټپو انتخاب او تشريح داسې ده چې که څوک د احسان او سلوک منزل ته رسيدل غواړي نو دا ورته کافي دي.

د ټپو په ساده ساده ژبه کښې ملغلرې پټې وي ډاکټر صيب ډېر په تفصيل سره د ټپو په بنياد د پښتو ثقافت بيان کړې دې. د قرآن پاک آياتونه، حديث شريف، د اصحابو قيصو او د اسلامي رواياتو سره ئې دا ملغلرې رابرسيره کړي دي. د ډاکټر صيب ټول کتاب د ايمان وحدانيت د اسلام سره مينه او د شهادت ارمان ورمې خوروي او دا هر څه د پښتون په وينه کښې ګډ دي هر پښتون ته دا مينه خپلې مور په کوټنی

کښې ورکړې د پښتونخوا هر کانړې بوټې غر او سمه د دې ګواهان او امين دي.

د پروفيسر صيب د کتاب أخري حصه "راځئ چې اوژاړو" د دې کتاب د اوربل ګل دې. که دا ټپې څوک د کړه مار، مها بنړ، ايلم يا د اينګاؤ په غرونو کښې اووائي، هغه به هم په ژړا شي. د دنيا نېمګړتيا او د آخرت فکرد قاري ټول بدن په لرزان کړي- دنيا ورته د اوچ خوړ اود شګو پنډ پشان ښکاره شي.خبرې خو ډيرې دي خو دلته به ئې بس کړم د ډاکټر صيب دا خواري دې الله پاک قبوله کړي.

مطلب په لږ بيان کښې ګوره
په ډير بيان د سړي زړه ستومانه شينه

حبيب الله خان خټک

حيات آباد، پيشور

17 فروري ، 2024ء

تقريظ

پښتو ادب کښې د فوکلور په اړه عموماً او د پښتو ټپې په حقله خصوصاً په وافر مقدار کښې کار شوی د ټپو د راټولولو په مد کښې د ډاکټر سلمی شاهين کتاب روهي سندرې د يادونې وړ دے هم دا رنګ د نواز طائر صيب ټپه او ژوند اؤ د داور خان د اور صيب ټپه نومي کتابونه ټپه کښې د پښتني ژوند ژواک او دود دستور په حقله د يادونې وړ دي هسې خوکه د ټپې په حقله د ليکلو شوو کتابونو او مقالو فهرست جوړول وي نو هغه به ډېر اوږد شي ځکه چې د پښتو ليکوالانو نه علاوه مستشرقينو هم دې لړ کښې کارونه کړي دي چې د ستاينې او يادونې جوګه دي.

د دے مختصر پس منظر په رڼا کښې اوس دا سوال پېدا کېږي چې د دے کتاب ضرورت او اهميت به څه وي؟ نو دې لړ کښې څو ځوابونه کېدې شي ورومبی خو دا چې کوم څيز بار بار تکرارېږي نو هغه د انسان د شعور نه د لا شعور برخې ته کوز شي نن په داسې ماحول کښې چې د سن ۱۹۴۷ نه پس خو انګريز زمونږ د سيمې نه تللی خو د هغهٔ باقيات لا اوس هم شته هغه په قانوني حواله وي اوکه په نفسياتي حواله خصوصاً د ادب په مد کښې زمونږ د خلقو نفسيات داسې جوړ دي چې د مغرب اصناف مونږ ته درانه ښکاري او خپل مو سپک کړي حالانکې زمونږ په فوکلوري ادب کښې او خصوصاً په ټپه کښې د ژوند ټول کړه وړه او زمونږ د اولس جذبات او احساسات په سوچه شکل کښې موجود دي غرض دا چې په داسې قسمه موضوع څومره ډېر کار مخې ته راځي نو زمونږ د نوي کهول لا شعور ته به دا خبره کوزېږي چې زمونږ خپل اصناف څومره درانه او څومره د قدر وړ دي.

دويمه خبره دا چې دا کتاب په يو وخت تحقيق هم دے تنقيد هم او کوليکشن هم دی دلته محض ټپې را ټولې کړې شوې نه دي بلکې د هغې دپاره عنوانات ټاکلي شوي او د هغو عنواناتو مطابق ټپې را جمع کړې شوي چې دا د وړاندې محقق دپاره د اسانتيا سبب جوړېږي.

دريمه دا چې د ورکړو شوو عنواناتو سره سم د ټپو په حقله مجموعي تنقيدي نظر هم وړاندې شوې چې پښتو کښې د تنقيد په مېدان کښې يوه نوې اضافه ده دلته

تنقيدي بحث کښې د خپلې خبرې د وضاحت دپاره د فوکلور نه هم استفاده شوې او مذهبي مثالونه او واقعات هم د خپلې خبرې د ثبوت په طور راوړلي شوي زما په خيال د پښتو او اسلام د ترون کومه خبره چې مشرانو کوله هغه دلته ډېر په تفصيل سره واضحه کړې شوې دلته دا يوه خبره هم ياد ساتل پکار دي چې ټپې چونکې زمونږ د اجتماعي دانش او جمالياتو عکاسي کوي خو تعلق ئې د اوسنی زمانی په نسبت د تېر وخت سره زيات وي که نن د پښتون ژوند هغسې نه وي نو بې شکه د هغې عکس به د نن وخت ليکلي کېدونکي ادب کښې راځي خو ټپه کښې چې د پښتون او پښتونولی کوم عکس دی هغه مونږ ته د خپلې ماضي عکس وړاندې کوي.

دا کتاب د نصاب ضرورت هم پوره کوي ځکه چې طالب علمان خور وور بحث په يو منظم او جامع کتاب کښې ترلاسه کړي نو د هغوي وخت هم بچت شي او مطالعه کښې د تنګېد و ويره هم نه وي هم دا رنګ که يو څوک په هم دغه قسمه عنوانا تو مزيد تحقيق او تنقيد کوي نو هغوي دپاره به دا کتاب رهنما هم وي او يو حد ئي هم ورته قائم کړی نو بل محقق يا نقاد به د دی نه د وړاندې تللو کوشش وکړي.

پروفېسر ډاکټر مير حاتم صېب د څه تعارف محتاجه نه دی ادبي دنيا کښې هغوي دومره څه کړي چې نوم به ئې هميشه هميشه دپاره ژوندی وي اګر چې د هغه خپل فيلډ ايګری کلچر دے خو کار ئې پښتو ژبې او ادب ته کړی او هم دا وجه ده چې د داسې خلقو په کار او زيار پښتو ژبه ژوندی اوګرندی ده کتاب آغاز کښې د ډاکټر صېب بنيادي پېژند ګلو هم شامله ده او د کتاب د بابونو خلاصه هم شامله ده ځکه هغه دلته نه ذکر کوم دا کتاب زه پښتو کښې د فوکلوري ادب او خصوصي طور د ټپې په مطالعه کښې يوه در نه نوې اضافه ګنم الله دې ډاکټر صېب ته روغ او ډېر ژوند ورکړي چې آئنده هم داسې په درنو ډاليو خپله مورنۍ ژبه و نازوي.

نګينه عاقب

لکچرر ،پښتو څانګه عبد الولی خان

پوهنتون، مردان

۱۵ فروری ۲۰۲۴

د ډاکټر میر حاتم صیب زیار په ټپه کښې

د پروفیسر ډاکټر میر حاتم صاحب ژوند او فن داسې وسیع مضمون دے چې په څو کتابونوکښې به هم راټول نۀ کړے شي خو زۀ به ئې د دې کتاب په مدد سره مختصره پېژندګلو پیش کړم. ډاکټر صاحب 10 مئي 1942 کښې په پلوسه (موجوده باچاخان یونیورسټي چارسده) کښې د محترم سیدجمال بابا کور کښې سترګے غړولے دي. په قام شاهي کور اتمر خیل بایزي مهمند دي. ابتدائي تعلیم ئې په ابراهیم زئي پرائمري سکول کښې مډل تعلیم شکر ډنډ کښې او لسم هائي سکول چارسده نه حاصل که. دولسم ئې د اسلامیه کالج پېښور نه او ایم ایس سي (MSc) انرز ډګری ئې 1965 کښې د زرعی کالج پېښور یونیورسټۍ نه واخسته. په 1972 کښې ئې دګلف یونیورسټۍ کنیډا نه د زرعي سائنس ډګری حاصله کړه. 1988 کښې ئې د سندھ ایګري کلچرل یونیورسټۍ ټنډو جام نه پي ایچ ډي (PhD) اوکړه په ایم ایس سي انرز کښې ګول میډیلسټ او پښتو کښې صدارتي ایوارډ یافته دے. په 2002 کښې ئې په زرعي سائنس کښې تمغه امتیاز تر لاسه کړه. په ایګریکلچرل یونیورسټۍ کښې لکه د نمر څرګنده پروفیسر نهه کاله د ډیپارټمنټ چرمین په حیثیت پاتے دے دري کاله د فیکلټي اف کراپس پراډکشن ډین په یوکسی ښکاره نامور شخصیت وؤ په 2002 کښې بطور میري ټوریس پروفیسر په ګریډ 21 کښې ریټائر شوے دے د ډاکټر صاحب دا ژوند په کتابونو کښې هم نه خلاصېږي خو ما مختصر په څو کرښو کښې متعارف که.

د ډاکټر صاحب ړومبې اړخ د تصوف اخلم. ډاکټر صاحب د درس و تدریس سره سره د مولانا محمداشرف صاحب نه بیعت دے. مولانا اشرف صاحب ما په 1977 کښې لیدلے وو ډېر بزرګ او دکرامت خاوند وؤ. او ډاکټر صاحب د داسې هستۍ په صحبت کښې شامل وؤ. مولانا روم وائي

یک زمانه صحبت با اولیاء
بهتر از صد ساله طاعت بے ریاء

او پښتانه شاعران داسې وائي:

بدن مې تول سونا سونا شه
سنګ پارس جانان په غیږ کښې اونیومه

نو ډاکټر صاحب به زر ولے نه جوړیږي چې په داسې صحبت کښې د هغهٔ ژوند تیر شوے دے نو زهٔ څکه دعوے سره وایم چې څومره ډاکټر صاحب د تصوف د سمندر لامبوزن دے داسې به ډېر کم خلق ئې بلکې په موجوده وخت کښې به په اوړو کښې لکه د مالګې برابر وي. او د هغې ثبوت دا دے چې ډاکټر صاحب په صوفي شاعر رحمان بابا څلور کتابونه لیکلي دي. (۱) رحمان باب دخپل کلام په رڼا کښې. (۲) زهٔ عبدالرحمن یم (۳) دکلام رحمان پټې خزانے پټ ارخونه. (۴) ملفوظاتِ رحمان بابا

رحمان بابا ته رسیدل د هر سړي کار نهٔ دے. هغه څوک پرې هله څهٔ لیکلے شي. چې هغه د تصوف د علم نه خبر ئې او هغه ډاکټر میر حتم صاحب دے چې د تصوف په علم خبر دار دے. بل که د ډاکټر صاحب په ادبي زیارکه زهٔ خبره کوم نو دا خو داسې وونه ده چې بې شمیره څانګې لري. او هر څانګه ئې ځانله جدا کتاب دے او هره څانګه باندے د پښتو طالب علم د پي ایچ ډي ډګري اخستلو کوشش کوے شي زهٔ خو صرف د ډاکټر صاحب په دے چاپ کیدونکي کتاب (ټپې د پښتون ثقافت ترجماني) باندے مختصره جائزه پیش کوم.

هسې خو ډاکټر صاحب د پښتو ادب دپاره ډیرې سیرڼې کړې دي. ډېر فائده مند سود مند نفع مند او زړه پورې تحقیقات ئې قلم بند کړي دي خو زما زیر نظر کتاب (ټپې د پښتون ثقافت ترجماني) نو مې دا کتاب دے. دا د ډاکټر صاحب ډیر د زیار او ستائینې لوې کاوش دے. دا په دریو برخو کښې دے. او هر برخه کښې ئې خپل خپل بابونه دي. لکه په ړومبی برخه کښې پښتانه د ننګیالو وطنه د جهاد جذبه. ړومبی برخه کښې ړومبي باب (ټپه) د پښتون د ثقافت مور) او ړومبی ټپه ئې ورکړے ده.

هره مصرعه ئې په وينوسره ده
څکه رسيږي پرې هر زړۀ ته ټکوروته

بيا ډاکټر صاحب په دې باب کښې د ټپې تعريف لوازمات، پيژند ګلو. او د ټپې د قديميت ذکر کړے دے بلکې دا د ټولو نه قديم اول د پښتو منفرد صنف دے چې بله ژبه کښې دا صنف نشته. او په دے حواله ئې مصرعے راغونډے کړې دي.

دويم باب(پښتو او پښتانۀ او سرکښې مصرعه ده.

غوټۍ د ګل ګل د بوستان شه
چې رنګ او بوی د پښتونخوا رنګينه کړينه

بيا په دې باب کښې ډاکټر صاحب پښتو بحيثيت ژبې نه علاوه د پښتو د يوے بلې معنې چې هغه ننګ غيرت، وعده، پت دے په هغې ئې زړۀ پورے بحث کړے دے او د دې مطابق ټپې انتخاب کړے دے زۀ به ورسره دوه مصرعې د خپل کتاب د حسن د رښا نه سيوا کړم.

پښتونه لره پښتو اوکه
چې پښتانه دے په دعا کې يادوينه
خدايه پښتون له اقبال ورکړے
بې اقبالي قومونه ښکته غورزوينه

په دے باب کښې آخر کښې ډاکټر صاحب د پښتنے پيغلې تعريف کړے دے او په سرکښې د پښتنې پيغلې پيژندګلو داسې په ګوته کوي:

نوم پرې د ټول پښتون درنيږي
زۀ پښتنه يم مرګ له غاړه ورکومه

او څو مصرعو کښې ئې د پښتنې پيغلې خويونه، خاصيتونه، غيرت او پښتو، پت ستائيلے دے. خو زۀ ورسره د خپل کتاب (پښتنې پيغلې) څو ټپې داسې اضافي کوم:

سرې د دغه پيغلو زار شه
چې ننګ او پت ئې خپل مئين سره پالنه

ما د هغې پيغلو نه زار کړے
چې خپل مئين په تورو زلفو ځانګوينه
سرې د هغۀ پيغلې زار شه
چې د حيا عمر په کور کښې تيروينه
خدايه هغه پښتنې څۀ شوے
چې ئې په خپل مئين داو کړي دي سرونه

هم په دے باب کښې ئې دَ آزاد ژوند په باره کښې ښکلې مصرعې لوستونکو ته ډالۍ کړي دي. دې کښې متفرق مصرعې هم دي. لکه د مکمل انسان تعارف د انسانيت پژندګلي او د حيوانيت او د وحشيت د خويونو انسان نه ئې د بچ کيدو تاکيد کړے دے. او په دې ئې ډيرے خوندورے او د ستائنے وړي ټپے ترتيب کړي دي. بيا ئې پښتانه د نورو په نظر کښې او پښتانه د انګريزانو په نظر کښې داسې تاريخي تحقيقي پيښې سيرلې دي چې قاري له ډيره مزه ورکوي. ټپه هسې هم خوږ صنف دے او پښتانه ئې د زړۀ په غوږو اوري. او چې بيا داسې خوږې خوندورې ټپې وي نو لوستونکې به پۀ کښې لکه د ټال په جوټو ځانګې.

په ړومبې برخه کښې دريم باب د وطن سره د پښتون د مينې محبت جذبه مړانه او خپلې خاورې له د قربانۍ ورکولو مصرعې په وينو سرې دي. چې پښتون له د لوستو دپاره او په هغې ژوند تيرول اصلي پښتو ده دے سره سره په مسافرۍ او د مسافرۍ ژوند په مصرعو کښې عکاسي شوے ده او د مسافرۍ هغه تراخۀ حقيقتونه دي لکه.

هيڅوک په چار د ملکه نه ځي
يا ډير غريب شي يا د يار د ټسه ځينه

خو ډاکټر صاحب د پښتون حوصله او سخت والے د دنګ او لوے غر سره تشبيح کړے دے. چې د پښتون حوصله او ژوند لکه د مظبوط غر دے چې قامونه ورته ګوته په خله حيرانه پاتې شي. او د پښتون د خپل وطن او خاورې سره د محبت هغه انتها رقم شوے ده چې اکثر پښتون پۀ کښې د 1965 په جنګ کښې ځان پورې

ېموبه ترل، او د انډيا ټينګونو ته به سملاستل او دا د قرباني او ايثار او وطن سره دمينې محبت يو مثال دې دُ رومبې برخې په څلورم باب کښې د دين او جهاد مثال دے. چې پښتو او دين يو بل سره تړلي لازم ملزوم دي او په دې حواله دومره خوندورې ټپې دي چې سړې کښې وجدان او داسې جذبه راولي وائي.

غزاله لاړشه چې غازي شے
دا نغري په غاړه نشته جنتونه

د ډاکټر صاحب دا کتاب هسې په ظاهره د ټپوکتاب دے خو لکه د سمندر چې ورته ورکوز شے. نو ډاکټر صاحب پوره د پښتون د ژوند تاريخ اوکلچر، رقم کړے دے چې په دې علاقه پښتنو سيکهانو سره. هندوانو سره او انګريزانو سره کوم جهادونه کړي دي. هغه ټول د يوسف زو او د پښتنو د نورو شاخونو د مړانے او تورې هغه ژوندي حقيقتونه دي چې پښتون هميشه ژوندے ساتي . او د رسول الله صلی الله عليه واله وسلم د وخت د غزاګانو نه راواخلې ترسيدو باباحضرت سيد احمد شهيد او مولانا اسماعيل شهيد بالا کوټ پورې د جنګونو او جهادونو واقعات دي او د 1965 او د 1971 د جنګونو حالات د ټپو په ژبه ډاکټر صاحب ډير په ښکلې انداز پښتنو ته وړاندې کړي دي او د قلندر صاحب د ښکلي شعر حواله ئې ورکړے ده او زۀ به ورسره د قلندر مومند دا شعر سيوا کړم.

که ګلشن څما په وينو تازه کيږي
هر ازغې دے هم زما په زړه کښې مات شي

د ډاکټر صاحب دکتاب دويمې برخې رومبي باب کښې همزولي همزولتيا. باندے سيرنه ده چې دا ئې په ملګرتيا. اشنائي يارانه عاشقي او په مينه محبت اډانهٔ کوي. په دې ملګرتيا کښې ئې د رسول الله صلی الله عليه واله وسلم او د ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه دغار ثور هغه ملګرتيا هم بيان کړے ده او په همزولتيا ئې ډيرې د مطلب اوکار مصرعې انتخاب کړي دي. چې لوستونکو له به ډير خوند مزه او فائده ورکړي.

دویم باب ځلمي او ځلمیتوب دریم باب پېغلې او پېغلتوب څلورم باب سپین ګیرې او سپین سر ئې. په دې څلورو بابونو ډاکټر صاحب کمال کړے دے یعني د پښتون او پښتنې د عمر هغه درې ستیجونه حصې ئې ډېر په عجیبه انداز کښې خپل قاري ته ښودلي دي.

زلمیتوب د عمر هغه دیواني، لیوني هغه خوند رنګ درمیانه عمر هغه غمونه او بیا د پیر ئې د عمر هغه ارمان چې انسان له په ځواني پسې ورځي. پنځم باب کښې هغه هلکان او جونه په دې کښې ئې د جنې هغه مجبوري او بې وسي په ګوته کړې دی چې هلک خو وطن پرېږدي غم ئې غلط شي او جنې د کوره بهر نه شي تلې خپل غم په پنجره دننه د مرغۍ په شان په چغار تیروي. پشړم باب کښې ابی دادا او مینه دا باب حاص کر د جنیې دپاره ډېر د ناز او بې غمه ژوند ئي. او دا ژوند د قسم قسم مرحلو نه تیرېږي. د دویمې برخې اوم باب پښتون او اغوستن دے.

چې دې کښې دپښتون لباس کلچر دے لکه ټوپی، پګړۍ لونګی وغیره ډېر په حکمتپه ټپوکامیاب طبعه ازمائي ده.

د ډاکټر صاحب د ټپو دې کتاب کښې دریمه یعني آخري حصه ده (راځي چې وژاړو) په دې کښې څهٔ ډېر عجیبه واقعات قلم بند دي او د مئین د ژړا حقیقت ئې په ګوته کړې دے چې دنیا د مومن دپاره جیلخانه ده، هجران ژړا ده، غمونه دي ، لمبې دي عاشقانو همیشه په دنیا دکړاو ، غم او ژړا ژوند تیر کړے دے په دې حصه کښې ډاکټر صاحب د پیغمبرانو اولیاء کرامو د ژړا او د رومان د عاشقانو هر اړخ باندے سیړنه کړے ده او داسې مصرعې ئې پیش کړې دي چې زهٔ هم جوش کښې راغلم او څو مصرعې مې اولیکلې لکه .

په ژړا هغه خلق ژاړي
چې د محفل یاران ئې تورې خاورې شینه
په ژړا هغه خلق ژاړي
چې د پنجرو نه ئې ساتلي طوطیان ځینه
او د خاطر افریدي شعر دے

یو غم نه دے چې ئې اوکړے اے خاطره
ډیر غمونه دي کوه ئې په ساړۀ زړۀ

ډاکټر صاحب په دې حصه کښې هغه غمژنې مصرعې راغونډې کړې دي. او د کتاب آخر ئې د شکسپیر د دې مقولې په مصداق راوستے دے (Love is cegret which starts from flame and end to an ash) محبت یو سیگریټ دے چې د شغلې نه شروع شي او په ایرو ختم شي.

ډاکټر صاحب هم د کتاب آخري حصه دومره درد ناکه نصیحت امیزه او د انسان د غفلت د خوبه د ویښېدو د مرگ حال د قبر منظر د لحد بندیوانیده دا ټول کیفیتونه ډاکټر صاحب په ټپو کښې خوندې کړي دي اوکه زۀ د ډاکټر صاحب د فن هر څومره ستائېنه اوکړم نو پوره به ئې نه کړے شم.

د ډاکټر صاحب د ټپه ایزکتاب اخر د شیر عالم او مامونئ روماني او درد ناک غمژنه مصرعو باندې ختم شوے دے. د ډاکټر صاحب د فن لوړوالې دلته همښکاري. چې د پوره فوک روماني داستان کتاب ئې په دوه درې پاڼړو کښې متعارف کړے دے. د شیر عالم او مامونې پوره پیژندگلو او پوره حقیقت ئې په ډاگه کړے دے چې د دې کردارونو ماته هم پته نۀ وه. او زما علم کښې هم اضافه اوشوه نو که عام پښتون یا د ادب طالب علم دا کتاب اوگوري. نو ډیر معلوماتي تحقیقي ، ادبي علمي او دیني معلومات به حاصل کړي. ما محککښې هم لیکلي دي او اوس هم بیا عرض وکم چې د ډاکټر پروفیسر میر حاتم صاحب دا ټپه ایزکتاب د یوې لوړې دنگې گورې اونې په مثال دې چې هره څانگه ئې بیل بیل کتاب جوړوي او دا کاوش په دومره لږو څو پاڼو کښې نۀ راغونډېږي او نه راټولېږي.

بس یو سمندر دے او دې ته به لامبوزن قاري پخپله ورکوزېږي او په لامبو به ځان سترې کوي نو څۀ به اوومومي او ډیرې فائدې به حاصلې کړي اخرکښې ډاکټر صاحب ته دعا کوم چې الله دې روغ صحت او ډیر عمر ورکړي او دَ زورور قلم زور دې نور هم سیوا شي چې پښتو ادب له نور هم ډیر څۀ ورکړي او د خپل لیک وئنه اپ به په دې خپلو ټپو اوکړم ولې چې کتاب د ټپو دے او په ټپو ئې راټولوم.

خدائے دې ژوند درکړي ژوندے اوسې
چې د ادب ګلشن سمسور دربانديې وينه
خدائے دے صحت او عمر درکړي
چې دومره نور د پښتو اوکړې خدمتونه

چې د ټپو کتاب دے ګوري
هريو پښتون به دې دعا کښې يادوينه
ميرحاتم خانه مبارک شه
په دې کتاب به پښتانه فخر کوينه

سيد راج جهان هلال

3-4-2024

حرف اول

د ښاغلي پروفېسر نورالامين يوسفزيي صاحب کتاب "فولکلور او د پښتنو فولکلور" مې اولوستو. زړه مې خوشحاله شو هغوی چې په کوم انداز او ښائست سره د فولکلور مطلب، حقيقت، اهميت او اجزا بيان کړې- د استاد دَ استاذي حق يې ادا کړی دی. په عوامي ادب خاصکر عوامي سندروکښې يې چې کومه مرتبه او مقام ټپې ته ورکړی، چې ټپه قديم ترينه، د قام روح، دَ ژبې ذخيره او دَ سوچه پښتنو د جذباتو او احساساتو د زړه د تل نه بې تصنع او بې باکه اٰواز دی چې د پښتنو د ثقافت هر اړخ پکښې شته. دا وينا يې په حقيقت مبني ده چې په ټپه کښې تاته د پښتنو د هر دور او زمانې د هر اړخ حال معلومېدی شي، چې ته تر نن هم رهنمايي اغستی شې. پروفېسر صاحب وايي چې د چم ګاونډ ماشومان ماته بابا وايي بلکې پروفېسرانو هم بابا اومنو. زه خو به ورته د پښتو فولکلور بابا اووايم.

د پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهين دکتاب "روهي سندرې" ټپې سره چاپ شوی دَ پروفېسر محمد نواز طائر صاحب خصوصي مقاله مې له اول نه تر اٰخر اولوسته د طائر صاحب د مفصلِ، عالمانه، محققانه او ماهرانه مقالې د لوستو نه پس ددې خبرې قائل شوم چې په اولسي ادب کښې ټپه ډېر لوئ اهميت او افاديت لري.

که څوک ددې مطالعه په دې غرض وکړي چې د پخوانه واخلې تر اوسه پورې د پښتنو د ژوند حالات معلوم کړي، نو دا به ورته د ټپې نه علاوه په بل څه کښې په ښه شان ملاو نه شي. يوه ټپه ده چې د پېړو د پښتنو د ثقافت د هر اړخ محافظه او مالداره خزانه ده.

ددې مشرانو او ماهرانو د وينانه متأثره ما اراده وکړه چې د عوامي سندرو ټپونه د څو اجتماعي امورو معلومات وکړم لکه پښتو او پښتانه د وطن مينه او د هغې سره تړلي امور د پښتنو د جنګ او جهاد جذبه- د پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهين کتاب "روهي سندرې" ټپې زما سره وو. بس دا ګز او دا ميدان والا معامله وه، رکاوټ هېڅ نه وو.

په دې دوران کښې مې دا خيال هم راغی چې ته د دوه اتيا کالو بوډا او په ټپو

باندې کار دا څه نسبت لري. نو د پروفېسر ډاکټر محمد سراج صاحب نه مې پوښتنه وکړه. سراج صاحب زه خپل مشر او استاد ګڼړم چې عالم با عمل د انتهايي درجې محقق چې د معاملې تل ته ځان رسوي او مخلص صائب لرائے دوست او غمخوار هم دی. هغه ته مې وې چې مولانا رومؒ په خپل مثنوي کښې د "کیر را دیدی کدو رانه دیدی" او مخنث غوندې بربنډو قيصو ذکر په ډېر تفصيل سره کړی دی. حالانکه مولانا رومؒ د تصوف او صوفيانو سرخيل دی. مولانا جامي مثنوي ته وايي: "هست قرآن در زبان پهلوی" او حضرت حاجي امداد الله غوندې بنيادم چې د هندو پاك د موجوده بزرګانو دادا پير او مشر وو. هغه به د مثنوي با قاعده درس ورکولو. نو دا څنګه کېدی شي. سراج صاحب جواب راکړو چې دا خو الله پاك هم په کلام پاك کښې وئيلي چې زه نه شرمېږم چې د ماشي يا د هغې نه کم څه مثال ورکړم او د هغه حال د مولانا رومؒ دی چې د خلقو پرواه نه لري خو په مثال سره خپله خبره واضح کول غواړي او مخاطب پوهه کول غواړي نو ماته هم جواز ملاؤ شو او حوصله او اراده مې مضبوطه شوه.

د کتاب شروع مې د ټپې نه وکړه چې ټپه څه شی دی، د هغې حقيقت، مطلب او اهميت څه دی- او د پښتنو د ټبر شوي ژوند راڅرګندولو کښې ددې څومره کار او افاديت دی. اول مو د پښتو پښتون او پښتانه د عنوان لاندې هغه ټولې ټپې راجمع کړي چې دا معلوم کړو چې د زمانو راسې پښتانه پخپله د پښتو او پښتنو په باره کښې څه نظريه لري په کوم نظر ورته ګوري. په دې باب کښې د پښتنونه علاوه د نورو خلقو او قومونو څه تبصرې او خيالات هم شامل دي کوم چې د پښتنو باره کښې هغوی ښکاره کړي دي.

دوېم عنوان د پښتنو د وطن، د وطن مينه، د وطن حفاظت، د وطن پرېښودو غم او درد او د پردي وطن د مسافري د ناکرديو، ناقدريو او مشکلاتو په باب له دي.

درېم باب د پښتون د جنګ او جهاد په جذبه، سربازي د شهادت ارمان، د وسلې ساتل استعمال او محبت لکه د خپلو بچو او د نامردي، بې ننګي، تېښتې او په شاکېدو نه سخت نفرت او ناخوښي کښې دي او ورسره د نورو قامونو خاصکر د

انګرېزانو د طرفه د پښتنو د مړانې، زړورتیا، بهادرې او جنګي صلاحیتونو ذکر هم دی.
ددې کتاب دپاره د مطالعې په دوران کښې مې په بعضو ټپو باندې سترګې د اوښکو ډکې شوې او ژړا راغله. ګورې چې دا د سوچه پښتنو زلمو او پېغلو د زړه د تل نه هغه خالصه جذبه، درد او آواز وو او که د پښتون د عظمت رفته یاد وو چې زه یې وژړولم.
مونږ دا کوشش کړی چې د پښتنو جذبات او احساسات خاصکر په جهاد کښې د صحابه کرامو د جذباتو او احساساتو سره اوګورو دلته د مقابلې او موازنې خو هیڅ سوال نه پیدا کېږي، خو د هغې نه بغېر دا یوه ګرانه او باریکه معامله ده.
"اِتَّقُوْ مِنْ فِرَاسَتِ المؤمن اِنَّهُ یَنْظُرُ بی نُورِ الله و یَنْطِقُ بی توفیق الله"
دَ مؤمن د فراست نه ویرېږه- دی د خدای په نور سره ګوري او د خدای په توفیق سره خبره کوي.
دا خو د یو مؤمن مرتبه او درجه ده نو د مؤمن صحابي به څه مرتبه او درجه وي چې د دنیا تمام اولیاء او بزرګان د یو ادنٰی صحابي برابر نه شي کېدی. د هغه هر عمل، وینا او جذبه د الله تعالیٰ د طرف نه وي او په هر حالت او په هر وخت کښې وي. او بل طرف ته د یو بې علم، کم عقل، ساده باده پښتون یا پښتنې عمل، وینا او جذبه وي. نو د دوی دواړو نسبت راوستل او په هغې باندې څه وئیل ګران کار دی. هر وخت دا یره وي چې د یو صحابي ښځې یا سړي په عظمت او ادب کښې رانه څه کوتاهي ونه شي او یا د هغوی په وینا نقل کولو کښې رانه څه کمی زیاتی ونه شي.
دې نه علاوه د صحابي عمل او وینا خو د پیغمبر د محبت او اثراتو لاندې او د الله تعالیٰ د حاضری او ناظری د مقدس تصور لاندې کېږي او د پښتون عمل او وینا د ټپې په صورت کښې د پښتنو ماحول او د پښتون معاشرت زیر اثر شوی ده، چې رومانس هم پکښې دي او د پښتنو د کلچر جز لالي جانان او یار هم په کښې دی.
مونږ الفاظ ته نه دي کتلي بلکې مونږ جذباتو او احساساتو ته کتلي د صحابه

کرامو او پښتنو په جذباتو او احساساتو کښې عجیبه زبردست مماثلت او یکسانیت دی او سوز دی د پښتنو دپاره دا نسبت د ډېر لوی فخر او افتخار سبب دی. الله تعالیٰ دې د پښتنو زلمو او پېغلو دا جذبات دغسې تازه، قائم او دایم ساتي.

اوله حصه

پښتانه
د ننګیالو وطنه
د جهاد جذبه

باب : ۱

ټپه د پښتون دَ ثقافت مور

هره مصرعه يې په وينو سره ده
ځکه رسيږي پرې هر زړه ته ټکورنه

د ژبو ماهرين وايي چې ددنيا د هېر شوي ادب ابتدا د سندرونه شوی ده. ټپه د پښتو عوامي ادب ړومبے قديم او مقبول ترين صنف دی چې د پښتو ژبې خپل تخليق دی. دا په ټولو دورونو او زمانو کښې په يو انداز ژوندی او مقبول پاتې شوی دی او اوس هم دی، په بله يوه ژبه کښې هم ددې په شان رنګ موجود نشته. ټپه هر څوك هر چرې او په هر رنګ وئيلی شي. يو تن يا شاعر ددی د تخليق دعوې نه شي کولی د هرځای د ټپې قدر مشترك او له مصرعه نهه او دوېم مصرعه ديارلس سېلابونه دي.

ټپه د عام اولس د افکارو او جذباتو ترجماني کوي د تېرو دورونو يادګار دی دا د قوم د روح عکس دی. د پښتون د روح د حقيقي عکس آئينه ده. د امير غريب د زړه آواز دی د هرچا زړه ته سکون او آرام بخښي. د ټپې محرکات د تصنع نه بيخي آزاد دی پښتون ددې په بحر او بهير مست دی.

ټپه د رزم او بزم، غم ښادي هر موقع د پښتون اولس د جذباتو او احساساتو ترجماني کوي. د شپونکي، ګډبه، ساربان او غوبه ځله ده. دکلي د زميندار چاري ګنبں سره ده دکرکر وندې او لو لور په موقع د ژوند زيری دی.

ټپه دګرمي احساس کمولو او يخو، واورو د بادونو مدافعت دی. د روانو قافلو ملګری، د غر په تنګو اوګاګړوکښې د ونو رودونکي د زړه تسلي ده. د لالي او ليلی د صفتونو د عاشق معشوق د زړونو خبرې راز داره ده. د غماز د ريبار او موذی مذکوره هم ده دا په ميدان جنګ د ټوپکو او توپونو د تورو خلو حوصله، د غازيتوب او شهادت دَ ارمانونو ډك جامونه دی. د ننګيالې پښتنې تورسرې د زړه آواز دی او د مجاهد ډاډګيرنه ده.

ټپه دومره پخواني او قديمه ده څومره چې د پښتو اولسي ادب دی. دا عالمګيره ده او

په تمامي پښتونخوا کښې يوشان مقبوله ده.

اکثر ټپې پښتنو مېرمنو ويلې دي. يو خوا د مور پلار ادب د رونړو خويندو محبت د قام عزت او ناموس، او بلخوا د مينې محبت اور د پېغلتوب شور او بيا د معاشرې ناترسه څېپېړې- په داسې حالت کښې د مينې د اور بخرې په پنبوکښې پټ ساتل او د خپل ناموس عزت او آبرو د شيشې منګې د ډرې وړې کېدو نه بچ کول د زړه وينې څښل دي. په داسې وخت کښې د پښتنې پېغلې د خُلې نه د احساساتو او جذباتو نه ډک ساده باده ټکې ټپه ده چې د صداقت زور او نزاکت تېزوالي ته يې نه تور غرونه ودرېږي نه سمندرونه.

د پښتون تمدن د هر اړخ عکس په ټپه کښې شته. د پښتون ثقافت ټول رنګونه او دودونه پکښې خوندي دي. ټپې په خپله وړه لمنه کښې د پښتون ثقافت او ژوند دريابونه او سمندرونه خوندي کړي دي. د هرې سيمې او هرې علاقې خپلې خپلې ټپې دي.

ټپه د زړه د تل نه د احساساتو آواز دی، د پښتون فطرت ساده دی- خو جذبات يې بې انتها تند او تېز دي. په دغه جذباتو باندې د حوادثو او حالاتوګذار چې د الفاظو په شکل کښې راڅرګند شي نو ټپه ترې جوړه شي چې د ساده او سوچه خيالاتو ترجماني ده.

ټپه صرف مادي او روحاني اقدار نه لري بلکې د مردانه او نسواني خصوصياتو فطري ترجماني هم کوي. د ټپې مزاج عوامي دی هره ټپه کښې عوامي مزاج غزونې کوي.

څنګه چې د پښتون جذبات د تورې په شرنګ غورزنګونه کوي دغسې دګل په ليدو د هغه د مينې احساسات غزونې کوي. ددې غزونې اظهار په ټپه کښې د هر صنف نه زيات دی.

مونږ مخکې وئيلي چې ټپه د هر چا زړه ته سکون او آرام رسوي. بهتره به وي چې دلته ديو واقعې ذکر وشي. پروفېسر ډاکټر اباسين يوسفزيي په يو محفل کښې وې چې په انګلينډ کښې يو کس د يو زوړ انګرېز سره ملاؤ شو او لکه د پښتنو يې ورته وې ښه

چارې. هغه وې بخير راغلې او ډېر خوشحال شو. د نورو خبرو اترونه پس تر ده ټپوس وکړو چې وخت دې څنګه تېر ېږي. هغه وې چې کله مې زړه تنګ شي نو دې خوا کښې ډېرې ته وځېژم درې څلور ټپې په اوچت آواز اووايم زړه مې ښه شي بيا راشم. هغه دا هم اووې چې کله په پښتونخوا کښې ووم او په اوږد سفر کښې به ستړې شوم نو دا س په شابه سملاستم او ټپې به مې وئيلې. وخت به مې ښه تېر شو.

ټپه د پښتون د ثقافت مور ده. مور په دې معنٰی کښې چې د پښتون د ثقافت ټول بچي د ټپې د وزرو لاندې ددې په لمنه کښې موجود دي. يعنې ټپه د پښتون دَ ثقافت د هر اړخ نه خيرازه ده. د پښتون د ثقافت کوم يو اړخ چې کتل غواړي تاته به په ټپه کښې ملاؤ شي. ټپه په دې لحاظ مالداره او خودکفيله ده د مشت نمونه خروار په طور به مونږ د څو اړخونو ذکر وکړو.

که کورکلی دی چم ګاونډ دی، حجره جمات دی، بټ دی که ارهټ دی تنور دی که ګودر دی په ټپه کښې يې ذکر شوی دی. اوکه د کلي غم ښادي ده، مړی ژوندی دی، راشه درشه ده، د کوژدنې دعاېې خير اوکه پښې ارتې دي د ماشوم سرکلی که عقيقه ده، که نايي او ډم دی، که تربور او تربګني ده، په ټپه کښې به درته ملاؤ شي.

که کرکرونده ده، کرل رېبل دي، لور او لو دی، اعشر غوبل دی، يوې جغ دی، که لوهار ترکان دی، اوکه جوك ګانړې ده ټپې يې ذکرکړی دی. دغه شان که د خلقو جامه پيزار دی، لونګی شمله ده، اوکه د پېغلو سالو، پلو او شال، لوپټه ده که سور پالنګ دی اوکه سره ډولی ده، که پېغلتوب دی که ناوې توب دی، که ښن ده اوکه کنډه ده، ټپه ترې خالي نه ده.

دا شانِ د ښځې خاوند مينه محبت، د خاوند په پت او عزت خپل ژوند خاورې کول او د ښځې په ناموس ځان وژل، د مېلمه مېلمستيا، پناه خوا له پناه ورکول، د جرګې او ننواتې منل، دا هرڅه په ټپه کښې موجود دي.

د وسلې مينه، د جهاد شوق، د شهادت ارمان، په جنګ کښې د تېښتې او شاکېدونه نفرت، په سينه په ګذارونو او شهيد کېدو باندې فخر، سر نه ښکته کول د ظالم مقابله کول، د ټپو موضوعات دي. د وطن د شاړو، ميدانونو، غرونو او سيندونو او بادونو

سره مینه په دین او مذهب کلك ودرېدل د پښتون پښتو ده او ټپه د پښتو ترجمانه ده.

خلقَ مصرعې مې مصرعې نه دي / د لوغړن زړګي وتلي دي دودونه
عالم به وايي چې مصرعې دي / په وينو سرې دي د زړګي سود پرې کومه
يو څو مصرعې په وينو سرې دي / چې غمزده وربانديې غم غلطوينه
مصرعې به ستا په وينو سرې شي / څوك چې كچه ګل شوکوي اغزي پرې ځينه
مينه د نمر په شان ځلېږي / زه په ټپوکښې د پاك عشق صفت کومه
چې اندېښنې دربانديې زور شي / زما زېبا ټپه دريادكړه مئينه
ګُله دا خپل غم دِ خوندي كه / دا ستا ټپو په مخلوق اور اولګونه
د نيمې شپې سندرې خوندكا / څوك به مئين څوك به په تن مسافرينه
يو څو مصرعې سرې له بس دي / ډېرې مصرعې د سرې غم سېوا کوينه
مصرعې مې ډېرې درته وکړې / ورستی مې داده چې مئين دربانديې يمه
دا آخري مصرعه مې واوره / په زړه سوری شي چې مې نه مني سوالونه
دا آخري مصرعه به وكړم / رب د حاصل كړي د هرچا د زړه مرادونه
دا آخري مصرعه مې واورئ / آخري كال دِی ځوانان ځي له محفلونه
د غم رباب د غم شهباز دی / د غم يې ساز د غم ټپې په كښې کومه
ماله قلم مشوانړی راوړئ / يو څو مصرعې په وينو سرې يارته ليکمه
قلم په لاس وخت مازيګر دی / په خاورو ناست يم د جانان مصرعې ليکمه
د زړه د دردَ ټپې وايم / خلق دا مه وايئ چې زه خوشحاله يمه
زړګی زما زخمي زخمي دی / ځکه مصرعې په وينو سرې خولې له راځينه
د معشوقو غم لېونی کړم / ولې به نه وايم د عشق سوي بيتونه
د عاشقۍ نشې ته ګوره / قلم په لاس كښې تل د غم ټپې ليکمه
د عاشقۍ قلم په لاس كښې / سوې مصرعې ليكم جانان له يې لېږمه

قلـم زمـا د لاســه واخلـئ — پـه زړه خفـه یـم دیـار بـد بـه اولیکمـه
راځـي راځـي چـې لنـډۍ وایـو — لنـډۍ لا نشـي دي دیـار غـم غلطوینـه
لنـډۍ بـه لنـډۍ لنـډۍ وایـو — چـې خـوږې وایـم د زړه غـم لا زیاتوینـه
جونـو راځـي چـې لنـډۍ پرېږدو — لنـډۍ د زهـرو ډکـې زړه خرابوینـه

❖❖❖

باب: ۲

پښتو او پښتانه

غوټۍ د ګل ګل د بوستان شه
چې رنګ و بوئ د پښتونخوا رنګینه کړینه

هسې خو پښتانه چې کومه ژبه وايي هغې ته پښتو وايي. لکه نورې ژبې اردو فارسي، انګرېزي وغېره. خو د پښتنو په رواج کښې د پښتو یو بل ډېر وسیع مطلب هم دی، چې دا په بله یوه ژبه کښې نشته. پښتانه وايي چې پښتو دې ونه کړه پښتو درکښې نشته په پښتو کلك ولاړ یم. سر مې دې لاړ شي خو پښتو نه شم پرېښودی. ددې پښتو مطلب ډېر وسیع او ددې ګېډه ډېره لویه ده، چې د پښتنو هغه ټول اقدار، روایات، رواجونه او کردار پکښې شامل دي، کوم چې د پښتنو په معاشره کښې مسلم منلے شوی حېثیت لري او د هغه ټول اقدار و روایات د اسلام د اقدارو روایاتو مطابق دي که د مېلمه مېلمستیا او قدر دې ونه کړو پښتو د ونه کړه. که د سر دښمن د ننواتې کور ته راغی او معاف د نه کړو پښتو د ونه کړه. که د خپل ټبر یا خاندان د بې عزتۍ بدل د وانه غست پښتو د ونه کړه. که بن لادن ستا په کور کښې پناه واخسته او تا دښمن ته حواله کړو پښتو د ونه کړه. علي هذا القیاس چې پښتو دِ ونه کړه، نو بې پت، بې ننګه، بې غېرت شوې او د پښتو په لغت کښې ددې نه زیات ناکاره لفظ نشته.

پښتو د پښتون په ضمیر کښې داسې اغږلی شوی ده چې یو پښتون یې په دې طرز اظهار کوي:

خلـــق خـــو وایـــي د دوزخ ژبـــه ده
زۀ بـــه جنـــت تـــه د پښـــتو ســـره ځـــم

انکیـــر منکیـــر چـــې جـــواب غـــواړي
زه ســـوال جـــواب بـــه پـــه پښـــتوکـــې ورکومـــه

پښـــتوکـــوه کـــه تـــه پښـــتون یـــې مـــا پـــه پښـــتو بانـــدې تېـــرکـــړي دي غمونـــه

پښتون د پښتو دپاره هر غم مصيبت او بلا ته تيار وي، ځکه خو وايي پښتو اسانه نه ده پښتې ماتوي د اوسپنو نتې چيچل دي- اوکه چرته ترې پښتو ونه شي نو بيا د شرمه کډه واخلي بل وطن ته ځي. مسافرياني ټپروي خداى دِ څوك بې پښتو نه کړي خلق د برطانيې صفت کوي چې ليکلی ائين يې نشته او عمل پرې کېږي. آيا د پښتو ليکلی ائين چرته شته، خو د زورنه يې هغه څوك خبر دی چې په چا باندې راغلی وي.

ثوك چې پښتو کړي پښتې ماتې ګرځوينه | پښتو اسانه نه ده خلقَ
زما نګار فولادي جوړ کا غاښونه | پښتو د اوسپنې نتې دي
کار د پښتون چې بې همت نه شي مينه | پښتو غېرت د پښتون کار دی
بې پښتو نه مني پښتون مېړه پښتونه | په پښتو ټينګ پښتون ولاړ دی
ژبه ترې پرې کړئ چې پښتو پرې نه واينه | چې پښتو وايي پښتو نه کړي
ما د پښتو کتاب کښې ډېر کتلي دينه | د پرښو دلو حق د نشته
ځکه ټکي د پښتنو په سر وهمه | د پښتو قدر په ما ګران دی
چې د پښتو کتاب کښې ټکي نه ورځينه | دنيا په هغو ده آباده
چې بې پښتو شو بيا به کډه ترې کومه | زما وطن د پښتو ډك دی
چې د پښتون کتاب ګواه راباندې وينه | ما د غېرت په چړو مړه که
يو مې رهبار دی يو دلبر پکښې لرمه | يو مې ايمان يو مې پښتو ده
څوك چې پښتون وی ټپروي هغه جيلونه | يار مې پښتو باندې قيدي دی

زه د وطن په ننګ ولاړ يم
پښتون زلمی يم ورنه سر قربانومه

پښتون زلمی وايي چې د هغه پښتون بچی يم چې ميدانونه يې په وينو سره کړي ځان به قربان کړم خو بې ننګي نه قبلوم سر و مال مې د وطن نه لوګی شه.

پښتون زلمی يم ورنه سر قربانومه | زه د وطن په ننګ ولاړ يم
چا چې لړلي په سرو وينو ميدانونه | زه د هغه پښتون فرزند يم

زه یم پښتون آزادي غواړم
په آزادي به سر و مال تالا کومه
ښه ده چې یو پښتون یادېږو
ورک دې پردې شي په وطن مو شرمونه
که زه مېړه وم خان به زار کړم
پښتون پېغور د بې ننګي نه قبلوینه

پښتون په توره کښې پیدا دی
په توره لوئ دی هم به مړ په توره شینه

د پښتنو پېغلو غېرتي ننګيالي زلمي خوښ دي. وايي چې پښتون د نسل نه بهادر، زمري او زړور دی. پښتنو بیا د جنګ دپاره خولې کړې پر تندي کېښودي ته هم پټکی کوز په وریځو کېده زه د همزولو جینکو په قطارکښې ناسته یم. د تهمت نه مه پرېږه پښتنو زلمو پسې خلق تهمتونه وايي. په خپله خاوره باندې توریالي مړونه مري- که د جنګ په ډګر مړ شوې پښتنې جونه به دې په وینو باندې خالونه ږدي.

پښتون په توره کښې پیدا دی
په توره لوی دی هم به مړ په توره شینه
پښتانه واړه یو ټبر دی
چې وخت د جنګ شي په سیالی سر ورکوینه
پښانه واړه شنه زمري دي
چې وخت پرې راشي په سیالی توري وهینه
پښتنو بیا خولې کړې کړې
په دښمنانو به بیا جوړ کړي ناتارونه
پښتنو خدای ته سر سر تور کړی
چې خپل کرم د ننګیالو ملګري کړینه
پښتنو سرو مال قربان کړئ
چې خپله مینه مو پردی نه شي مینه
پښتون په پت باندې پښتون دی
د پت نشان به تل اوچت په جهان وینه
پښتون د جنګ په ډګر مړ شو
پښتنې جونه یې په وینو ږدي خالونه
بهادري به د ښکاره شي
سبا به وخت د ریښتني راشي مینه
پټکی دې کوز په ورځو کېږده
زه د همزولو په قطارکښې ناسته یمه
پښتون له نسله بهادر دی
له کارنامونه یې ډک شوي کتابونه
پښتون پورته په غېرت شه
په دې عادت شه د ملك وکړه خدمتونه
پښتونه ویښ شه غفلت پرېږده
په خویندو رونړو د راغلي تکلیفونه

پــه تهمــت مــه شــرمېږه يــاره
پــه ښــو ځوانــانو پســې تــل وي تهمتونــه

ځرخــه خــو ښــه ده پښــتنه ده
بــده مــېچن ده نــري ګــوتې ســولوينه

څــوك بــه بــري رابانــدې اوكــه
مونږ پښتانه يو د پښتو پـه مينـه مرونـه

څوك چې غېرت په دنيا خوښ كړي
هغــه پــه جيګــو ســترګو عمــر تېرونــه

خاونـده بيـا پښـتون ژونـدی كـړې
چې انګرېزي تعليم تـه دركـړو رخصتونه

خلــق يــاري د پښــتنوكــړي
مــا د بــې ننګــه يــاري كــړ اوشــرميدمه

د پښــــتنو زلمــــي زړور دي
د ســر تېــر دي بــې ننګــي نــه قبلوينــه

د پښــــتنو زلميــــو وار دی
پـه خپلـه خـاوره توريـالي مرونـه مرينـه

د تيــرا ځوكــوكښــې غــږ اوشــو
پښتنې ځـه شوې چې پښتون زوی لويوينه

د غېرتيــانو دوســتان كــم دي
د بې غېرتـو دوسـتان هـركلي كښـې وينـه

زمانــه داســې رنــګ لــه راغلــه
كــه تــه زاړه پښــتانه ګــورې خــاورې شــونه

نوم پرې د ټول پښتون درنېږي
زه پښتنه يم مرګ له غاړه وركومه

پښتنې جونه د زلمونه زياتې پښتنې دي. زه اصيله پښتنه يم د مرګ نه نه وېرېږم غاړه وركوم. پښتنې پېغلې همېشه په وفا مري. د پت ساتلو دپاره چرې ته غاړه ږدي. كه جانان يې جنګ له ځي كه په سفر، پښتنه يې په ننګ ولاړه او په پت كښې ناسته وي كه جانان مړ شي نو د تش نوم دپاره يې ځان خاورې ايرې كړي.

مينــه دې پټــه ســاتم زړه كښــې
زه پښــتنه يــم مينــه نــه رسـوا كوومــه

پــه ســفر ځــه مــه خفــه كېــږه
زه پښــتنه يم ستا پـه پت كښې ناسته يمه

جانــان ځــه پــه مخــه دِ ښــه شــه
زه پښــتنه يــم ستا پــه پت بــه ناسـته يمـه

ســـر دِ راپورتـــه كـــه جانانـــه
زه پښــتنه يــم ســتا پــه ننــګ ولاړه يمــه

بــې وفــايي مــې عــادت نــه دی
پښــتنې پېغلــې همېشــه پــه وفــا مرينــه

پــه ســپين ميــدان بــه درســره ځــم
زه پښــتنه لــه تورونــه تــرې پلــم ځينــه

يـو وار پـه سـترګو راتـه اوکـړه
که زه اصيله پښتنه ووم در بـه شـمه

پـه هندوسـتانړ خوشـحاله اوسـه
ترلـه دِ خپلـه پـه نامـه دِ ناسـته يمـه

تېـغ مـې پـه دنګـه غـړې کېـږده
چې نشانه د پښتون هسکه پاتې شينه

که جانان مړ شو نوم يې شته دی
زه د جانـان پـه نامـه ځـان خـاورې کومـه

پښتون د جنګ پـه ډګـر مړ شو
پښتنې جونـه يې پـه وينـو ږدي خالونـه

ځـان د وطـن پـه ننګ شـهيد کـړه
چې پښتنې جونـه دِ هـر وخت يادوينـه

تـه پـه سـفرکښې خفـه مـه شې
وعده مې داده ستا پـه پت بـه ناسته يمه

ګـورې چې وار دِ خطـا نـه شـي
زه در پسې يم تـورې زلفې شنه خالونـه

د آزادۍ په مرګ خوشحال يم
د غلامۍ ژوندون که ډېر وي ورک دِ شينه

پښتون وايي چې ازاد پيدا يم په آزاد وطن کښې به آزاد وخت تېروم. د آزادۍ په مرګ خوشحاله يم د غلامانو په شان سلامونه نه شم کولی. که د آزادۍ په لار کښې مړ شوم د آسمان فرشتې به مې جنازه کوي. په چارسده کښې د آزادي جلوس روان وو. انقلابي چغې يې وهلې. د جلوس آخري سري نه انګرېز آفسر تپوس وکړو چې انقلاب څه ته وايي. هغه ورته اووې: انقلاب دې ته وايي چې په تا باندې دا کرسي وارو او د وطن يو سپی پرې کېنوؤ. دا اصلي پښتون وو. د وطن په آزادۍ کښې د پښتون لويه حصه ده.

آزاد پيـدا يـم آزاد خـوبښ يـم
آزاد وطــن دی آزاد وخـت بـه تېرومـه

آزاد ژونـدون تېرکـه پښتـونَ
د غلامـانو پـه شـان مـه کـړه سلامونه

د آزادۍ پـه مـرګ خوشـحال يـم
د غلامي ژوندون که ډېر وي ورك دشينه

د آزادۍ پـه نـاوې جنـګ دی
زلمي پـه مينـه کښـې سرونه ورکوينـه

د آزادۍ نــاوې جــوړېږي
هـر يـو زلمـي نـارې وهـي چې زما شينه

د آزادۍ معشــوقه وايــي
د غلامــۍ يارتــه خـولګۍ نـه ورکومـه

د آزادۍ پـه لارکښـې مـړ شـه
چې جنـازه دې د آسـمان فرشتې وړينـه

چې کوم انسان په عقل پوخ شي
کچه کاروونه ترېنه پاتې شي مئينه

پښتون په څه نه څه شکل کښې د ټپې استعمال کوي. کله خو چې په موډ او ډېر ترنک کښې وي او یا ډېر خفه دلګیر او غمګین وي، کله خو د ډېرکار د ستړيوالي ستوماني په ټپه وباسي اوکله دکاروان او سفر سختې د ټپې په وينا کموي، کله د څه نااشنا واقع يې په ليدو د ټپې په شکل کښې مثال ورکوي. اوکله خپل ځان سره ګنړګنړ يې کوي خو عام طور په معاشره کښې مجلسيان يا ډمان ټپې وايي او عوام هم ټپې او ډمان لازم ملزوم ګنړي. ډمان د پښتون معاشرې يوکمزورې طبقه ده، اګر چې نن سبا ورته فنکار وئيلی شي او په دولت او شهرت کښې د هرچانه مخکښې دي خو د سنجيده او پوهه طبقې په نزد يې هغه عزت او قدر نشته، چونکه خلق ټپې د ډمانو پيدوارګنړي، په دې وجه ټپې ته د قدر په نګاه نه ګوري، حالانکې داسې قطعاً نه ده.

ټپې د زمانې او پېړو راسې د پښتنو نارينه ؤ او مېرمنو زلمو او پېغلو د عقل تجربو، احساساتو او جذباتو ذخيره ده. که ټپې د پښتنو پوهه مشرانو او جذباتي زلمو وئيلي دي نو ورسره د هغه پښتنو مېرمنو او پېغلو هم برابر حصه ده، چې چا يې په عمر کښې پلو نه دی ليدلی په کوم کورکښې چې يې ډولی داخل شوې نو د جنازې کټ يې ترې بهر وتی دی. په دې وجه د ټپې جذبات او احساسات دومره سوچه او پاکيزه دي. بل دا چې ټپه د لويو مشاهيرو، فلاسفرانو، دانشورانو او شاعرانوکلام نه دی. بلکې دا د داسې ګمنامو ورکو خلقو د زړه دکومې نه آواز او فرياد دی، چې وړې وړې ساده باده خبرې دي، خو دومره سوچه او پاکيزه دي، چې د هغه بدوګمان پرې راځي. باندېخې بدو په کعبه شريف کې دعا کوله وې "اللهم اغفر" خدای ما او بخښې. "فَإِن لَمْ تَغْفِر فَاغْفِر" که ته مې نه بخښې بيا مې او بخښې.

پښتانه په خوئ درانه، هوښيار معامله فهم، زيرك او دور انديش دي. د دوی بعضې ټپې د عالمګيرکلام حثيت لري، ځکه چې هغه د دوی د فهم و فراست مجموعه او د

زماني د تجرباتو نچوړ دی. اوس ستا خوښه ده که ملفوظات ورته وايي او که د حکمت ډك جامونه يا د علم و دانش کڅوړې ورته وايي.

ټپې يواځې دې دپاره نه دي چې څوك يې اووايي او خپل زړه پرې خوشحال کړي او يا يې مجلسيان او ډمان په مجلسونوکښې اووايي، بلکې بعضې ټپې د داسې هوښيارو درنو سپين روبو پښتنو د خُلې گفت او لفظونه دي چې د زمانې او پېړو راسې د هغوی د عقل او تجربو نچوړ دی. مثال يې د بزرگانو د ملفوظاتو په شان دي، چې خبره وړه خو مطلب يې ډېر لوئ وي لکه درياب په کوزه کښې بندول. داسې ټپې د حکمت ډکې کڅوړې دي چې مونږ ته د ژوند حقيقتونه په گوته کوي او زمونږ دپاره د عبرت نصيحت او رهنمايي سامان جوړېږي. لکه مثال په طور دا ټپه:

چې په اخور کښې د چا لوئ شي
د هغې سخې غاښونه نه گوري مئينه

مطلب دا چې غاښونه خلق د نا اشنا سخي گوري چې عمر يې معلوم کړي چې دوه غاښې، څلور غاښې يا په غاښو پوره دی. او يا دومره وړوکی دی چې لا غاښ يې نه دی کړی. دهغسې چې کوم بنيادم ستا په مخکښې تاسره لوئ شي د هغه خوئ خصلت، درون بيرون ټول تاته معلوم وي د هغې دکتلو ضرورت نه وي.

دلته مونږ هغه ټپې راجمع کړې چې عالمگير حثيت لري يعنې هغه يو داسې ښکاره حقيقت دی چې د هر مذهب نسل او علاقې بنيادمانو ته ترې فائده رسېږي. هغوی ترې عبرت اخستی شي او د خپلې فائدې دپاره يې استعمالولی شي. داسې ټپې د بنيادم د خپل ذات خوئ خصلت، عمل او د ژوند په هر اړخ کښې شته دی.

په رنگ سړی نه سړی کېږي
سړی هغه دی چې يې خوئ د سړي وينه

په دنيا ټول د سړو نشته
ټول د پېسو دی کاريگر خانان کوينه

دانا په غم باندې خاموش وی
بې عقله نه يم چې به کلې خبرومه

هوښيار په مخ ځي په شا گوري
د عاشقانو شاومخ نشته مئينه

د بې وفا نه وفا غواړې
سرو په کوم باغ کښې ثمر نيولي دينه

بې وفا يار د حمام لنگ دی
په مياشت کښې يې سل او شل دځانه تاووينه

چې کوم انسان په عقل پوخ شي
کچه کارونه ترېنه پاتې شي منينه

چې د لښکر مېر دې زمرى وي
که څومره ګرانه چاره وي آسانه شينه

اصل نسب که پکار نه وي
زاغ په پيسه باز به په زر نه خرڅېدنه

چې په اخور کښې د چا لوئ شي
د هغه سخي غاښونه نه ګوري منينه

په درنو دروند لکه د غر يم
په سپکو سپک د ډېران د خس يمه

بار مې د ولو په مېنځ کېږدئ
څوک چې کم اصل يار لري بار به يې وړينه

انجام د هغه خلقو بد وي
چې په ورځ ګيدړه څروي د شپې خوبونه

آخر به تک په جګر ورکړي
څوک چې د مار بچي په غېږ کښې ګرځوينه

څنګه چې ته يې داسې زه ووم
داسې به ته شې لکه زه چې خاورې شومه

يو خو مې دا نصيحت واوره
چې د پخلا دښمن خان ساته منينه

دښمن ته خانده خوشحالېږه
دوست ته په پټه خُله اووايه چې ډوب شومه

چې عاشق نه وي انسان نه دى
بې عشق ژوند د خرټمو په شان وينه

څوک چې په چا باندې شيدا شي
هغه رسوا شي د هرچا د خندا شينه

د عاشقانو يو مذهب دى
دلته ملت وطن هېڅوک هم نه لرينه

صبر په هرڅه کښې پکار دى
په عاشقي کښې بې صبري مزه کوينه

صبر د عشق مکتب کښې نشته
ما د مهابت او ستا د نه ښه وکړه پښتنه

چې يارې کړي تهمت به اخلي
د مخلوق خُلې به توري خاورې بندوينه

دا ډېر خُلې ډېرې خبرې
د چا چا خُلې له به برغولې جوړومه

د تورې داغ به دې خداى روغ کړي
د تهمت داغ به دې تر مرګ پورې وينه

ديدن د بادو پيمانه ده
نه پر مړېږم نه ترې پند ترلى شمه

سترګې د شرم د حيا ځاى دى
چې مينه راشي حيا واخلي رخصتونه

حسن شجر مينه ثمر دى
بېلتون اکثر دى وصل کله کله وينه

سيند په جامونو نه کمېږي
په خيراتونو حسن څه کمى کوينه

چې اوره نه خوري بوئ ترې نه ځي
چې مئين نه وي ځوك پرې نه وايي تهمتونه

دا شاهي تخت مې پكار نه دى
پكار مې بخت دى چې همېش راسره وينه

مينه په زور او دولت نه شي
د خداى عطا ده بختور له يې وركوينه

ځوك د تقدير نه خبر دى
په زړه يوه بنده ته بله پښه شينه

خلقه تقدير ته تدبير نشته
كه فولادي زغرې د عقل واغوندينه

بخت دې د هيچا كوته نه شي
بخت چې كوته شي بادشاهان ټكرې خورينه

د خداى كرم چې په چا وشي
هغه كار وشي چې په خيال كښې نه راځينه

علم درياب عمل كشتۍ ده
ځوك چې عمل علم لري پورې به شينه

كه زحمت وړې رحمت به مومي
بې له زحمته رحمت كله وي مئينه

ګل مې كرل ازغي مې لوى كړل
بيا به په بده زمكه نه كرم ګلونه

ضرر د بل مسلمان مه كړه
هېڅوك به ستا د ضرر ځاى نه لټوينه

ځوك چې ژړا په لوى سحر كړي
خداى به يې پوره كړي د خوږمن زړګي سوالونه

په خوږه خُله ژوندون جنت دى
په بده خُله د سړي كور جهنم شينه

تاثير په هغه خُله كښې نه وي
چې په دولت يې هر سړي ته چينګوينه

عقل د سر فكر د زړه دى
ديدار د سترګو د خُلې ښې خبرې وينه

د تېغ ګذار د رغېدو دى
د خُلې ګزار په زړه تنراكې جوړوينه

مطلب په لږ بيان كښې ګوره
په ډېر بيان د سړي زړه ستومانه شينه

سترګې د سترګو نه شرمېږي
د پناه شوو سترګو ځوك خاطر كوينه

دا مازيګر دى ښېرې مه كړه
ته به د ناز ښېرې كوې رښتيا به شينه

څه چې كړې هغه به ريبې
ستا په اختيار كښې دى جنت او دوزخونه

خوب چې كوې خاورې به يوسي
شاه د هغو چې شوګيري ورته كوينه

ګذران د برغو بنو نه شي
كه ور پسر كړي بادشاهي زرين شالونه

پردي راوړي نه خپلېږي
كه زړه قيمه كړې ورته ډك كړي پليټونه

ټپوس د باز په نرخ خرڅېږي خدای دِ په داسې بازار اور اولګوينه

ټټو د اس په بيعه نه خي دلاله سر باندې يې مه خوره قسمونه

خبره کړوم چې دليل وي څوك چې ذليل وي بل ښه نه ګڼري مئينه

د سر دښمن مې هوښيار ښه دی زه د بې عقله په دوستي پښېمانه يمه

د صورت ونه د زړه شوه د حرص ونه د اوس نيسي ګلونه

زړه په پردو دننه پټ دی حيران په دې يم چې دی څنګه مئين شينه

زړه ته په دې کښې ګناه نشته ګناه د سترګو ده چې دی مئينه وينه

علم عمل چې سره مل شي له اوچو کانړو را اوباسي سره لعلونه

مئينه خو يو په کتو نه ده مئينه د زړه ده چې ټول عمر ژوندی وينه

نادان ګيله کړي له تقديره عمل چې بد شي انسان تل ټکرې خورينه

هرڅه په بخت کېږي جانانه بخت چې ګوته شي عقل هم کډه کوينه

اور چې بلېږي آخر مړ شي زړهٔ چې مئين شي همېشه لمبې وهينه

پښتانه د نورو په نظر کښې:

پښتنو همېشه د دين او د آزادی هر تحريك ته لبيك وئيلی دی. ځان مال حال او هرڅه يې قربان کړي دي، ځکه خو د هر داسې تحريك همېشه مرکزګرز پدلی دی. که د 1857ء د آزادۍ جنګ وو- پښتنو پکښې لوئ قربانئ ورکړي د پېښور.په پريډی ګراوند کښې چې څومره پښتانه پانسي شوي، په ګولو چاند ماري شوي او په توپو الوزولې شوي دي. دا يې مضبوط ثبوت دی. د سيداحمد شهيد تحريك که په رائے بريلی هندوستان کښې شروع شو خو مرکز او ميدان جنګ يې پښتونخوا او پښتانه وو. هغه مجاهدين تر آخره پورې پښتونخوا ځای کړل د هغوی مرسته او مدد يې وکړو چې آخر په بالا کوټ هزاره کښې حضرت سيد احمد شهيد او مولانا اسماعيل دواړه شهيدان شو. خو مجاهدينو ته بيا هم پښتنو پناه ورکړې وه چې د پښتنو په مرسته او مدد يې انګريز ساه اخستو ته نه پرېښودو- د هغې نه پس که د شيخ الهند

محمود الحسن ریشمي رومال تحریك وو نو په مهمندوکښې حاجي آباد یې مرکز وو چې نن هم شته او حاجي صاحب ترنګزي او حضرت مولانا عزیزګل کاکاخېل او ماسل خان خوئزئ مهمند یې سرکرده کارکنان وو. مطلب دا چې په تمام هندو پاك کښې پښتونخوا او پښتانه یو داسې ځای او خلق وو چې د هغوی بهادري، جان نثاري او بې چون چرا شرکت منلے شوی وو، ځکه هر تحریك به د پښتنو طرف ته مخه کوله- او د پښتنو د بهادرۍ او زړورتیا تعریف به یې کولو.

اسعد مدني وايي: چې شیخ الاسلام حضرت حسین احمد مدنیؒ وی چې په پښتنو زلموکښې فوجي صلاحیتونه وو د جهاد جذبه وه، د خود داري او خود اعتمادي جوهر وو- د مقابلې او مقاتلې عادت وو د وطن مینه وه چې د انګریز په مقابله کښې صف بسته ولاړ وو. هم دا جذبه وه چې دوئ د انګریز غلامي ته د سر ټیټولو په ځای سر ورکولو ته تیار وو.

هم دا خوبیانې او جذبه وه چې کله د شیخ الهند په تحریك کښې انګریزانو د دوئ په علاقه کښې قدم کېښود نو دوی داسې سخته مقابله وکړه چې د انګریزانو د فوج پلټنې یې تباه کړې او داسې یې په شا کړل چې په چھاونی ور داخل کړه.

د کابل بادشاه شجاع وايي چې پښتانه د آزادۍ پتنګان، د دوستانو وفادار په خپل عیال مهربان، مهمان نواز، جری، جفا کش، سخت کوش دور اندیش اوکفایت شعار دی انتقام، حسد، لالچ، لوټ مار او ضد پکښې هم شته خو د خواوشاه د قومونو په شان دروغژن، سازشي او دغه باز نه دي.

پښتانه د انګریزانو په نظر کښې:

اولف کیرو وايي چې جارج لارنس، میکسن، ایډورډز، نکلسن، ایبټ او رابرټس پخپله د نیم نه زیات پښتانه وو. د هغوی د عظمت وجه دا وه چې د هغوی د هغه خلقو سره واسطه وه او د هغوی حاکمان وو، چې د مردانګي، ذهانت، وفاداري، رفاقت پیکر وو. په دوئ کښې دا عظمت د هغه خلقو د کارنامو او شخصیت عکس وو او دغه خلق د پښتونخوا پښتانه وو.

د شاه شجاع په فوج کښې یو انګریز افسر د یو پښتنې ښځې د دوست محمد خان خورزې سره واده کړی وو. د هغه زوی وار برټن نسلي طور نیم پښتون وو او په دې به یې ډېر فخرکولو.

انګریز مصنف وایي چې: مطلبي خبره دا وه چې د انګریز او پښتون مزاج یو شان وو او دوی ته اندازه وشوه چې د یو انسان د بل انسان سره واسطه راغلې ده.

رابرټ لیکي: چې په نکلسن کښې د یو سپاهي او شریف انسان ټول خصوصیات موجود وو او دا پکښې د وحشي او آزاد منش قبائیلو سره د اوسیدونه راغلی وو هغه دا هم وایي: چې د پښتنو قبائیلو د مسلسل سیاسي آزادي وجه د سکندر اعظم نه واخلې تر نن ورځې پورې داده چې دوئ د آزادي مجنونان دي سر ورکولو ته تیار دي او په وطن خپل ځان قربانولو چل هم ورځي.

اولف کیرو د پښتونخوا ګورنر او دکتاب The Pathan مصنف دی. څومره په فخر سره وایي چې فلانی فلانی انګریزان د نیم نه زیات پښتانه وو. او دا خویونه پکښې د پښتنونه راغلي وو. د وار برټن مور څه پښتنه وه چې هغه خو ځان ته پښتون وئیلو باندې فخرکوي. انګریزانو خو هندوستانیان په انسانانوکښې نه شمارل، خو چې کله یې د پښتون سره واسطه راغله نو هله پوه شو چې د یو انسان د بل انسان سره واسطه راغله چې هغه سره به د ځان په شان سلوك کوي او دا زه نه وایم دا انګریز پخپله وایي. او بیا پخپله وایي چې پښتانه د سکندراعظم نه واخلې تر نن ورځې چا غلامان کړي نه دي. پښتانه د آزادي مجنونان دي سرومال پرې ږدي او د سرومال قربانول چل ورځي.

انګریز مصنف لیکي: چې د انډیانه پېښور ته ورشي نو تاته به پته ولګي چې مختلفو خلقو ته راغلم. لوړ دنګ شپږ فټه اوچت لکه د ونې تنه د ډېرو پښتانه د پېښور په ریلوے پلیټ فارم ښکته بره داسې شان سره ګرځي ته به وایې چې د ملك حاکمان دوئ دي. انګریزان نه دي پېښور صدرکښې قبائیل د فوج د وسلې په ګوذامونو حملې کوي پېښور سرکولر روډ باندې د شپې ډزې عام معمول دی.

انګریز مصنفه وایي: چې د خاوند مې پېښور ته تبدیلي اوشوه چې د اټك نه

راپوریوتو- نو یو پوخ عمر سړي د اوښ مهار نیولی مخې له راغی اوښ پسې یو ځوان زلمی ټوپك په غاړه روان وو، نه خو دوئ سلام وکړو نه لکه د هندوستانیانو تیټ شول نه یې څه پرواه وکړه، بلکې هغه زلمي ماته داسې په برندو سترګو وکتل چې ما محسوس کړه چې پېښور انډیا نه ده.

په هندوستان کښې خو انګریزانو خپل حکومت د رعب داب په ذریعه قائم ساتلی وو او هندوستانیان به یې د څاروو په درجه کښې ساتل. د هندوستاني دپاره انګریز ته تیټېدل او فرشي سلام کول لازم وو او هغوی په ډېره خوشحالي دا هرڅه کول اوکله چې هغه انګریز پښتونخوا ته راغی چې نه فرشي سلام شته نه تیټېدل شته، نه ستا بې ځای رعب داب کنځلې او بدرد وړي او ستانه هم د هغسې د عزت طمع کوي څنګه چې هغه ستا کوي، نو ځکه د انګریز د خولې دا الفاظ راوځي چې Peshawar is not India پښتون خپله بې عزتي او خاصکر د خپل دکور والوؤ بې عزتي نه شي برداشت کولی. په دې بې عزتی پښتنو ډېر فوځیان او انګریزان افسران کمشنران مړه کړل چې نومونه یې مونږ په دې کتاب کښې ورکړي دي چې خبره د بې عزتي شي نو پښتون د نتیجې نه بې پروا شي.

کپتان نیول وایي: چې وزیر قبائیل د نورو پښتنو په شان انتهایي زړور غله دی او د وینې تږی دی. یو بل ځای کښې لیکي: چې د وزیر او محسود په جامه او انداز کښې څه خاص فرق نشته. صرف دا چې محسود لېوه دی او وزیر شرمخ. شرمخ زیات مکار او چالاك وی، خو د لېوګانو جتھ زیاته متحد خطرناکه او مضبوطه وي. محسود د جنګ په شان په بحث کښې هم ډېر تېز دی د محسود د دلائلو معقول جواب ګران کار دی. تاسره به هروخت دا وېره وي چې یو محسود د غصې نه لېونی شي او څه هم اوکړي هغه د نتیجې پرواه نه کوي.

اولف کیرو د ایډوردز په واسطه سره لیکي: چې د وزیرو ملك سوان خان زما په دعوت زما کېمپ ته راغی. هغه لوړدنګ د یو هیکل بنیادم وو چې مخ یې لکه د زمري او لاسونه یې د برفانی لېوه پشان وو. غټ درانه بوټان اغوستې په داسې شان سره داخل شو چې زما هندوستاني نوکران د ویرې نه راغونډ شو چې زمکه اونه

شلېږي. ما په خپل ژوند کښې بغير د تصنع په دې حالت کښې داسې شاندار سړی کله نه ووکتلی. سلام يې واچوه اوکېناستو د هندوستانيانو پشان تعظيم نه فرشي سلام او چې کله د بنوڅو د جگړې باره کښې راضي شو نو لاس يې راوړاندې کړو زما لاس يې اونيو او داسې جهټکايې ورکړه ما وې چې لاس مې د اوږې نه اووتو او په زوره يې وی راضي راضي- د هغه سره زمونږ تعلق جوړ شو او چې کله بههغه زمونږ په کېمپ کښې موجود وو، نو مونږ به څان داسې محفوظ محسوس کاوه لکه چې د لاهور په قلعه کښې ناست يو.

فوجي افسر ايدورډز وايي: چې ملك سوان خان وزير دومره لوړ دنگ او مضبوط سړی وو چې زما هندوستاني نوکرانو ترې ويرېدل. زه به دا اووايم چې دی پخپله هم ويرېدو څکه بيا خپله وايي: چې ملك سوان به مونږ سره په کېمپ کښې موجود وو نو مونږ به څان داسې محفوظ محسوس کاوه لکه چې د لاهور په قلعه کښې ناست يو څکه چې د ملك سوان خان په موجودگي کښې دوی ته چا نقصان نه شو رسولی او نه چا په کېمپ باندې ډزې کولی شوې اوکه کپتان نيول محسود ته لېوه او وزير ته شرمخ وايي، نو دا هم د هغه اندروني ويره ده چې دوئ ورته لېوه او شرمخ ښکاري او ښکاره ده چې لېوه او شرمخ خو د ويرې استعاره ده.

❖❖❖

باب: ۳

زما وطنه د ګلالو دَ ننګيالو وطنه

اې زما وطن د لعلونو خزانې زما
ستا هره مورچه کښې دي د تورو نښانې زما

د پښتنو د وطن زياته علاقه غريزه، تور لوړغرونه ګړنګونه او خوړونه دي. زمکه يې خشکه للمه بې آب وګيا دشتونه دی ډېره کمه علاقه يې آبي و نهري ده، چې سر سبز و شاداب او شنه باغونه او فصلونه دي. د خلقو معاشي ذرائع ډېر محدود دي د وطن د جغرافيايي ساخت او محدود معاشي ذرائعو د پښتون نه يو جفاکش، محنتي، درد آشنا او د ناخوشګوار حالاتو مقابله کونکے زړور قوم جوړ کړی دی، چې د خپل معاش دپاره کله په دکن او هندوستان پروت وی او کله په عربستان او عرب امارات باندې، بلکې زه به دا اووايم چې نن سبا د دنيا په سر به يو ملك داسې نه وي چې پښتون به هلته نه وي رسيدلی.

پښتون که هر چرته دی او هرڅومره په مزوکښې وي خو ده ته خپل وطن د وطن تور غرونه، دشت ليلیٰ او بادونه يادېږي او ارمان دا وی چې خپل وطن ته لاړشي. وصيتونه کوي چې که مړ شوم نو لاش مې خپل وطن کښې خښ کړئ.

د توريالو وطن ګله
خدای دې آباد لره چې تل خوشحاله يونه

خپل وطن د هرچا خوښ دی خو د پښتنو بل شان خوښ دی. بنوڅی، بنوں ته بنوں نه وايي بلکې د ډېر شوق او مينې نه ورته "بنی ګل" وايي. دا زلمی پښتون هم د ډېر شوق نه د توريالو وطنه ګله وايي. وطن مې ګل زه يې بلبل يم. وطن مې شمع زه يې پتنګ يم. وطن مې باغ زه يې ماليار يم. وطن د مور پلارنه ګران دی. زه يې خاورې خکلومه. د وطن شاړې به په باغ عدن بدلې نه کړم.

وطنه ته زما د تن جامه يې- ته زما عزت يې، وطنه مه خفه کېږه. پښتانه او د پښتنو

میاندو خامن به د ساتي او خدمتونه به دې کوي. په تا به سر قربانوي- وطنه ستا خاورو ته سلام دی. که چنارونه دې د لونګو بوی کوي خو هائی چې زمانه پاتې کېږي څه اوکړم په چغو چغو وژاړم- پښتون ته خپل وطن پر ښنودل ډېرګران دي خو په نصیب یې مسافري لیکلې ده خکه سوې سوې ټپې وایي. او ټبر یې دده نه زیات ژاړي او د فراق د لاسه د خپل خوږمن او لوغړن زړګي تسلي په ټپوکوي.

تـن پـه وطـن کښـې خیراخېـږي
چې وطـن نـه وي تـن بـه ځنګـه خیراځ شینه

تـن مـې وطـن مـخ مـې غېـرت دی
سـترګې مـې تـورې د دښـمن سـینه وهینـه

تــه پــه وطــن خوشــحاله اوســه
کـه پـه مـا ټـول عمـر د غـم وي ټبـر بـه شینه

چاتــه پــه خپــل وطــن را رســي
څـوك پـه نصیب پسـې پـردي وطـن تـه ځینـه

څوك چې د خپل وطن دښمن وي
تـل شـرمنده بـه پـه دنیـا آخـرت وینـه

خبـر مـې واخلـه خپلـه یـاره
پـه مـا وطـن بـې لـه تـا تنـګ لـه قبـره شونه

خپل خوږ وطن راته سور اور شو
دلتـه رسـوا شـوم اوس پـردي وطـن تـه ځمـه

دا سـتا عـزت زمـا عـزت دی
وطــن ځکــه دی ایــری زه ښــکله وومــه

د تــن وطــن مــې معلــوم نــه دی
چې بـه مې تـن دکوم وطن خـاورو لـره ځینه

د توریــــالو وطـــن کلـــه
رب دِ آبـاد لـره چـې تـل خوشـحاله یونـه

زمانـــه پـــاتې شـــوی وطـــن
لکـه مرغـی پـه بوټـو شـپې درتـه کومـه

د وطــن جــاړې بــه ورنــه کــړم
کـه د عـدن بـاغ یـې بـدل کښـې راکوینـه

زمـا مرګـی پـه خپـل وطـن کـړې
چې د لالـي لـونګی کفـن پـه غـاړه وړمـه

زه د وطـــن وطـــن زمـــا دی
د شـــهادت پـــه مرتبـــه فخـــر کومـــه

سـړی پـه جـار لـه ملـك نـه ځـي
یـا ډېـر ناچـار شـي یـا د یـار لـه غمـه ځینـه

کاغــذ ورشــه بېرتــه راشــه
د وطـن خـاورو تـه مـې وایـه سـلامونه

کـه مـې څـوك بـد وطـن تـه ګـوري
زه بـه یـې سـترګې پـه انبـور وشـوکومه

وطــن دې شــمع تــه پتنــګ یــې
جانـان زرشـه پـه وطـن اوکـړه ننګونـه

وطــن د مــور او پــلاره ګـران دی
ژونـدی د پـلار مـړی بـه زمکـې لـه ورځمـه

وطـــن زمـــا د تـــن جامــــه ده
د تـن جامـه بـه لکـه ګـل غونـدې سـاتمه

وطـــن زمـــا زه د وطـــن يـــم
چې څو ژوندی يم خدمتونـه بـه يـې کومـه

وطـن مـې ګـل زه يـې بلبـل يـم
د بلبلانــو چغــار تــل پــه ګلــو وينــه

وطنــه زيـرى مـې دربانــدې
تــول پښــتانه دِ دَ ســاتنې زيــار کوينــه

وطنـــه ګــل ګلــزار اوســـې
چـې تماشـې لـه دې را دروميـ عالمونـه

وطنـــه ولـــې خفـــه کېـــږې
د پښـــتنو ميانـــدو ځـــامن بـــه د ســـاتينه

آخــر بـــه پـــاتې شـــي وطنـــه
کـه چنارونـه دې لونـګ شـي بـوی ترځينـه

زه د وطن وطن زما دی

دښمن به څنګ په خپل وطن باندې پرېږدمه

صحابه کرامو د مسلمانانو د حفاظت او د ملك د سرحداتو د حفاظت دپاره څوکيداري او پيره داري کړی دی، تکليفونه او سختياني يې برداشت کړي دي، خو دښمن يې په خپله خاورې باندې نه دی پريښی. تردې حده چې تمام کفار او مشرکين يې د جزيرة العرب نه اوخکل او د کفارو داخله يې په حرمينو شريفينو باندې بنده کړه. د صحابه کرامو د شروع زمانې څه واقعات دلته نقل کوو.

حضرت سهلؓ بن حنظله وايي چې جنګ حنين کښې رسول الله ﷺ سره وو. د رسول الله ﷺ په وينا باندې حضرت انس بن مرثد غنویؓ د شپې د څوکيدارۍ دپاره ځان پېش کړو. رسول الله ﷺ ورته وې په آس سور شه او هدايات يې ورکړل. سحر يې د پيره دار تپوس اوکړو او پيره دار را اورسيدو او رسول الله ﷺ ته يې وې، چې ستاسو د هدايت مطابق مې څوکيداري وکړه سحر مې اوکتل هېڅوك په نظر رانه غلل. رسول الله ﷺ ورتـه وې چې د شپې د آس نه کوز شوی وې. عرض يې وکړو چې صرف د مونځ او قضايي حاجت دپاره. رسول الله ﷺ ورتـه اووې: تا جنت واجب که، که نور عمل هم نه کړې.

حضرت ابوريحانهؓ وايي چې رسول الله ﷺ وې نن شپه به زمونږ حفاظت څوك کوي؟ يو انصاري پاسېدو رسول الله ﷺ ورتـه ډېرې دعاګانې وکړې ما هم ځان څوکيداري

دپاره پېش کړو. رسول الله ﷺ ماته هم دعاګانې اوکړې او وې فرمائيل: په هغه سترګه اور حرام وي چې د خدائ په لارکښې څوکيداري وکړي.

حضرت عمرؓ د خپلو کسانو نه تپوس وکړو، چې ثواب دکوم سړي زيات دی؟ هر چا خپله رائې ورکړه. حضرت عمرؓ وې، زه درته اووايم. هغوی وې ضرور. حضرت عمرؓ وې- هغه وړوکی غوندې سړی چې په شام کښې (د ملك سرحد) د اَس واګې نيولې د مسلمانانو د لښکر حفاظت کوي هغه ته دا پته نشته چې ځناور به مې مات کړي که مار لړم به مې وخوري اوکه دښمن به راباندې چهاپه اووهي. دا سړی په ثواب کښې د ټولو نه زيات دی. د امير المؤمنين نه هم زيات دی.

حضرت خالد بن وليدؓ وايي، چې د نوې ناوې منکوحې سره د شپې تېرولو نه راته هغه شپه زياته خوښه ده چې د اَس واګې نيولې د وطن په سرحد يې د مسلمانانو د حفاظت دپاره تېروم.

زه د وطن د باغ ماليار يم

په خپلو سرو وينو به يې تل اوبه کومه

پښتون زلمی وايي چې زه د وطن د باغ ماليار يم په خپلو سرو وينو به يې اوبه کوم چې باغ سمسور وي. د وطن په مينه مست يم همېشه مې پرې ننګ کړی که سر مې ځي فخر پرې کوم. ما د وطن د حفاظت وعده کړې ده.

د وطن باغ به پرې سمسور کړم — د بدن وينه له وطن ځارومه

زه د وطن د باغ ماليار يم — په خپلو سرو وينو به يې تل اوبه کومه

زه د وطن وطن زما دی — دښمن به څنګه خپل وطن باندې پرېدمه

سر د وطن په ننګ قربان کا — چې پتنګان دې زيارتونو له راځينه

وطن زما زه د وطن يم — ما د وطن په ننګ همېش کړې جنګونه

وطنه تا سره وعده کړم — که په تا جنګ شو زه به مخکښې ورله ځمه

وطنه ستا په مينه مست يم — که ستا په مينه مې سر ځي فخر پرې کړمه

که تور اوربل مې میراتېږي
په وطن جنګ دی جانان نه منع کومه

پښتنې پېغلې د ظلمو نه زیاتې په وطن مئینې دي. وایي چې که زه میراتېږم بربادېږم خیر دی خو د وطن د جنګ نه جانان نه منع کوم. بلکې جانان ته وایي چې ځان تیارکه توره راواخله، ملا بسته کړه د وطن په ننګ سر قربان که. لکه پتنګ د وطن په شمع ځان اوسېزه، زرکه خلق وتلي ته پاتې نه شې. زلمي وطن دپاره سر قربانوي. که په وطن شهید شوې، ملالې جونه به دې زیارت له راځي، کفن به د په خپلو زلفوګندم او په همزولوکښې به هسکه غړې ځمه. ځه په خدائ مې سپارلی یې.

که تور اوربل مې میراتېږي — په وطن جنګ دی جانان نه منع کومه
اشنا مې سر په وطن کښېږد — په تار د زلفو به کفن ورله ګندمه
په وطن جنګ دی ځان تیارکا — یا به سر بائیلې یا به لاندې کړې برجونه
ځان د وطن په شمع اوسوه — چې پتنګان دې زیارتونو له راځینه
توره د هغه زلموکار دی — چې د بابا وطن کښې نور ناسته کوینه
توره را واخله ملا بسته کړه — په وطن مه پرېږده د غیرو قدمونه
جانانه پاسه توري برېښي — په وطن جنګ دی ځوانان ډلې ډلې ځینه
جانانه ځه په خدائ دِ سپارم — په وطن جنګ دی بریالی راشې مئینه
غازي په لوړه ډېرې کېږدئ — چې یې زیارت کړي د وطن ملالې جونه
که د وطن په ننګ کښې مړ شوې — په تورو زلفو به کفن درله ګندمه
لالیه سر په وطن کېږده — چې د همزولو د پېغوره خلاصه شمه
ته د وطن یې وطن ستا دی — زلمي د قوم دپاره سر قربانوینه

خالق دې خپل وطن ته بوځه
پردی وطن د سړي قدر کموينه

پرديسي يعنې پردی وطن ډېر لوئ ازمائش دی. خپل کور او خپل وطن ډېر لوئ نعمت دی، خو ددې نعمت قدر تر هغې پته نه لګي ځوچې پرديسي شوی نه يې، لکه څنګه چې لامبو بغير د اوبونه نۀ شي کېدی، همداسې د مسافرۍ د ژوند اندازه نه شي کېدی.

رحمان بابا وايي:

چې لـه خپـل کـور اوځـي مسـافر شـي
ځـوك يـې پېژنـي سـاهو دی کـه مـری دی
کـه هـزار قسـم وخـوري پـه يـوکـارکښـې
نــه کــه ځــوك پــه مســافرو اعتبــار

پرديسي غريب فريادکوي چې په خپل وطن نيمه ډوډۍ د پردي وطن د غوښې پلاونه ښه ده. د وطن ترخې د پرديس دګلونونه ښې دي او آخر ځومره په بې بسې بې وسي او د غمه ډوب آوازکښې وايي:

تــه پــه وطــن خوشــحاله اوســه
پــه مــا دِ ځــاځي د دکــن زاړه ځېرونــه

او دې ټپې ته خو يې چې رښتيا خبره وي زه هم خپلې اوښکې قابوکولی نه شم.

چـــې د وطـــن يـــاران خبرېـــږي
زمـا بـه يـې زنـه پـه ملمـل ترلـي وينـه

يوه خوږه خبره راته اوکه چې په پردي وطن کښې يې يادوم او وخت پرې تېروم. او چې ځوك په خپل وطن کښې دي هغه ور پسي ځومره خفه دي وايي چې په پردي وطن مې پيرزو نه يې که رسالے در پسي وي. خپل وطن ته ولې نه راځې. ستا د غم خوب نه راځي تربوران مې په اوربل دعوې کوي، که خلق ډېر دي نو خپل کورونه پرې آباد دي زما خو وران دی ستا نه بغير په پردي وطن ګلونه مه کره پاتې به وي.

په بل وطن مې پيرزو نه يې — که د سپينو رسالې در پسې ځينه
پردی وطن دی زړه مې تنګ دی — ماله رخصت راکه چې خپل وطن ته ځمه
پردی وطن په هر چا غم دی — ما په پردي وطن کړلي دې ګلونه
پټکی په مېنځ د ورځو کېده — پردی وطن دی چې ډاډه درسره ځمه
په وطن نيمه ډوډۍ ښه ده — نه په پردي وطن کښې غوښې پلاونه
په هر چا خپل وطن کشمير دی — په ما کشمير دی د جانان د وطن غرونه
جانانه خپل وطن ته راشه — که خلق ډېر دي پرې آباد دي خپل کورونه
جانانه خپل وطن ته راشه — په تور اوربل مې تربوران دعوې کوينه
دکوم هېواد په هوا ګرځې — ستا له فراقه ماله نه راځي خوبونه
د وطن ترخې مې خوراك وي — پکار مې نه دي د پردي وطن ګلونه
ستا ددې دوه سترګو د پاره — وطن مې پرېښود همسايه د نورو شومه
سر د سادين په لوټه کېده — پردی وطن دی پکښې نشته بالښتونه
ګلاب په خپل وطن کړل شي — څوك چې په بل وطن كري پاتې به شينه
ګل مې په لاس کښې مړاوی کېږي — پردی وطن دی زه يې چاته ونيسمه
ماته يوه خبره وکړه — چې په پردي وطن كښې وخت پرې تېرومه

قطرته مه ځه ځان حصار که
پکار مې نه دي بې ديدنه دولتونه

د پښتنو چې څومره وطن خوښ دی هغه هومره يې خدائ پاك په نصيب كښې مسافري ليكلې ده. دی د خپل معاش دپاره کله په دکن او هندوستان پروت وي اوکله په عربستان او عرب امارات پروت وي. مسافري نه دده خوښه ده او نه يې د ښځې او بال بچ خوښه ده، ځکه دواړه ژاړي او د غم سندرې وايي او مجبوري او نصيب روان کړی وي.

چاته په خپل وطن را رسي
څوك په نصيب پسې پردي وطن ته ځينه

ژاړي او روان وي او خان سره لګیا وي.

د بېلتانه له لاسه خدایه نري نري فریادکومه له ملکه ځمه

وطن کشمیر زه یې امیر ووم نیستي فقیر کړم په ژړا د ملکه ځمه

په مخکښې ځم په روستو ګورم وطن وران شي د زړه سر مې پاتې شونه

بیا یې خان له ژاړي او په ژړا کښې دا فریادکوي:

قطر ته مه ځه خان حصارکه

پکار مې نه دي بې دیدنه دولتونه

او کله چې لا د قطر مسافري نه وه، نو دا ژړا به یې کوله:

په ښکته ځې رضا مې نه ده

سود به رانه وړي زیان دِ زه نه قبلومه

او په ذهن کښې به یې عجیبه عجیبه اندیښنې او وسوسې راتلې لکه:

په ښکته ځې په ښکته مړ شې

چې کمپنی ویرکړي ګورګان دِ لمبوینه

په دماموځیېړې کېږده په ځان را کېږده یار دِ بل وطن ته ځینه

تا چې رفتن د بل وطن که ماته کفن د بېلتانه جوړکه مئینه

جانان چې لرې له وطن ځي که مې خبر له حاله شي راستون به شینه

دا ته چې لاړې مسافر شوې زما د ګلو باغ په چا سپارې مئینه

داسې وخت مه راولې خدایه! چې زه دلې جانان مې بل وطن ته ځینه

د بېلتانه له لاسه خدایه! نري نري فریادکوم له ملکه ځمه

د ګاډي سر د ماتېدو دی زما آشنا یې په لندن اولګاونه

زړګیه چوې که پاتې کېږې آشنا مقام اونیو په لرې هېوادونه

زړګیه چوې که پاتې کېږې آشنا په بل وطن میشته دی نه راځینه

مسافر مه وژنئ خاونده
په ځنکدن کښې خپل وطن را یادوینه

مسافري یو ګران کار او ازمائش دی، چې رسول الله ﷺ ورته "السفر من السقر" وئیلي چې سفر د جهنم یو ټوټه ده، نو په ګران والي کښې یې بیا څه شک دی- او اکثر پښتانه عموماً ددې ازمائش نه تېرېږي یو سفر د ورځو اوګهېنټو دی او یو سفر او مسافري د کلونو وي. پښتانه اکثر په لویه مسافرۍ کښې ګېر دي، چې د هغې نه بې حده مسائل پیدا شوي دي.

هلك ځوان وي زلمی وي د کارکولو قابل وي نو په مسافري کښې وي او ښځه یې په وطن کښې وي، چې دواړه بوډاګان شي نو دی راشي دواړه په کورکښې یو ځای اوسېږي. دی په مسافري کښې وي او ښځه یې په وطن کښې د هرکار دپاره د سړي محتاجه وي. د پلار دولت یې بسیاره وي او د پلار نګراني او څېرېړه نه وي، بچي یې بې ادب سر ایله لوئ شي. دی د چا رشته دار په نوم پیسې رالېږي. اکثر په هغه قابض شي یا په خپل نوم پر جائیداد جوړکړي اوکه دانه وي نو د پیسو په حساب کتاب خو جګړه خامخا وي. د ښځې د بچو یې داسې معاشرتي مسائل پیدا شي چې کله دی ځان مړکړي اوکله ښځه بچي مړه کړي، خدائ پاك دې په پښتنو باندې رحم وکړي.

دی مسافر وي او تور سرې فریادکوي، چې په کوم هېواد په کوم حال کښې به یې. زما دګلو باغ دې چاته اوسپاره- زړګي ته وایي: چې که چوې که پاټې کېږې، آشنا به بل وطن مېشته دی نه راځي. بیا ورته دعاګانې کوي چې د هندوستان په میرو ورکه نازکه یاره خدائ د مل شه. د ډاکي د لاسو جارشم چې خط راوړي زه سلګی ورته وهم دیدن د باد سره شامله وه چې راځي. ګني سپوږمۍ ته سلام وایه زه به هم خپل پېغام د سپوږمۍ په ذریعه درلېږم. وایي چې مسافرکله مري او ځنکدن یې وي نو الله پاك د رشته دارو په شکل کښې فرښتې راواستوي چې د مسافر دلجویي اوشي- زړه یې ډاډه او سوړ شي.

مسافر مه وژنې خاوندهٔ | په خنکدن کښې خپل وطن رایادوینه
ستا د وطن لاروته ګورم | جانانه ستا د ملك هېڅوك نه راځینه
کاغذه ورشه ورته ژاړه | آشنا به تل مسافر نه وي رابه شینه
مسافري د ډېره وکړه | رب دِ سبب د خپل وطن اوکه مئینه
خلق تر قطر پوري لاړ شي | زه د آشنا کوځې ته خم خالي راځمه
ګو مسافر آشنا کاغذ | ملك د لولې زه سلګی ورته وهمه
د مسافرو وطن کوم دی | چې چرته کښې هلته عمر تېروینه
د هندوستان په میرو ورکه | د ګل نازکه یاره خدائ به دې ساتینه
د هندوستان مسافر راغې | د تورو خاورو مسافرکله راځینه
دیدن په ډاك کښې را پارسل کا | د نشه دار په شان نشه ورپسې یمه
ډاکیه لاسونه د جار شم | د مسافر آشنا د راوړ کاغذونه
زړګیه چوې که پاتې کېږې | آشنا په بل وطن میشته دی نه راځینه
زما د لرې وطن یاره | دیدن د باد سره شامل کا چې راځینه
زما د لرې وطن یاره | رب د سپوږمی که چې رڼا د اووینمه
سپوږمی پیغام درسره یوسه | زما په ښکلي جانان وایه سلامونه
چې زخمي زړه په ټکور ېږي | وایه هغه آشنا به کوم وطن کښې وینه

غرونه به ولې نه غتېږي

چې پښتانه په کښې د ننګ چغې وهینه

پښتون په غرکښې پیدا شي په غرکښې لوئ شي- غر دده د لوبو میدان دی. دده مینه د غرو سره فطرتي ده، خو دا مینه یې دومره فطرتي او طبعي ده چې دی وایي چې خدائ پاك هم په تورو غرو مئین دی او په چیګو غرونو خپل رحمت کوي.

په تورو غرونو خدائ مئین دی
په سر یې واورې وروي یخ کښې ګلونه

پـه چیګـو غـرو د خـدائ رحمـت دی
پـه سـر یـې واورې تـر چـاپیره زیـر ګلونـه

پښتون د ساده مزاج خاوند دی او د خپل مزاج مطابق یې د غرونو ظاهري حالت ښودلی دی، خو خبره یې د کمال نه ډکه ده او سل فیصده حقیقت دی. که الله تعالیٰ په غرونو مئین نه وی نو کوه طور به کوه طور نه وی او وادي طویٰ به د طور په لمن کښې وادي طوی نه وی، چې الله پاك یې په قرآن کریم کښې ذکر کوي:﴿ فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى ﴿١١﴾ اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۚ اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٢﴾ ﴾ (سورة طٰهٰ: ١١ ١٢) "پس هرکله چې آواز راغی چې یا موسیٰ زه ستا رب یم خپل پیزار اوباسه ته په مقدس وادی طوی کښې یې" ﴿ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ جَعَلَهٗ دَكًّا وَّ خَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا ۚ ﴾ (اعراف: ١٤٣) او چې کله الله تعالیٰ په کوه طور باندې خپله تجلیٰ وغورځوله نو کوه طور مست شو رانجه شو او موسیٰ علیه السلام بې هوشه شو.

جسم خاك از عشق بر افلاك شد — کـوه در رقـص آمـد و چـالاك شـد
عشـق جـان طـور آمـد عاشـقا — طـور مست و خر موسٰـی صـاعقا

کـه خدائ پـه غرونـو مئـین نـه وی نـو جبـل اُحد بـه جبـل احد نـه وی. رسـول الله ﷺ فرمایي: چې جبـل احد زمونږ سره محبت کوي او مونږ د جبـل احد سره، بې شـماره احادیثوکښې د جبل احد ذکر او مثالونه موجود دي. ورنه مدینه خو د غرونونه ډکه ده که الله تعالیٰ پرې مئین نه وی نو جبل نور، جبل ثور، جبل کعبه او جبل ابوقبیس به د مسلمانانو د زړه آواز او د سترګو تورنه وی. که خدائ په غرونو مئین نه وی نو جبل رحمت به عرفات نه وی او صفا مروه به د حج عمرې جز نه وی.

خو پښتون خوکم علمـه، ناخبره سـاده بـاده د یـوې لارې بنیـادم دی. دی د الله تعـالیٰ د حکمتونـو او باریکاتونـه څـه خبـر دی او د پېغمبرانـو پـه راز و نیـاز و اسـتدلال څـه پوهېږي. دی خو د خپلو غرونو سره د خپل مینې اظهار پـه خپـل ساده انداز او الفاظو کښې کوي او وایي چې سبا بـه تـورو غـرو تـه خېژم چې لکـه قـیس پـه لېونـوکښې حساب شم، تور بامو ته به خېژم چې د یار احوال معلوم کړم. پـه لوړو غرو بـه د ختو

مقابله وي ګلونو به په زنګونونو ماتوم لکه نښتر د غر په سرکښې لوی شوم غم مې نه دی لیدلی او مرګ یې هم د غرونو خوښ دی ځکه وايي:

قبر مې جوړ په لوړو غروکړئ
چې د وطن شمال یې شناختې خوزوینه

د تورو غرو ښائست مې خوښ دی	نور په سرخي پوډر ډېر وغلېدمه
د لېونوکانې را وشوې	په غرونو سر شوم آبادي نه پېژنمه
زړه مې د بره غر چینه ده	د هر وطن طوطیان راځي او به ترې څښینه
سحر به تورو غروته خېژم	لکه د قیس چې لېونوکښې حساب شمه
صبا د تورو غرو بهیر دی	د زلفو تار راکړه چې ملا پرې اوتړمه
غرونوکښې پړانګ او شېر وسېږي	ځکه د غره پښتانه واړه شېران دینه
غرونه به ولې نه غڅېږي	چې پښتانه پکښې د ننګ چغې وهینه
قبر مې جوړ په لوړو غروکه	چې د وطن شمال یې شناختې خوزوینه
ما چرته غم لیدلی نه وو	لکه نښتر د غره په سرکښې لوئیدمه
د لوړو غرونو سیل مې وکړو	اوس مې یادېږي د شنکي وطن باغونه
په لوړو غرو به سره خېژو	په زنګنو به زیر ګلونه ماتونه
د غر په سر د ګلو ویش دی	نه مې آشنا شته نه د ګل په طمع یمه
زما زړګی د تیراه غر دی	همېش پرې اوري د غمونو بارانونه
صبا به تور بامو ته خېژم	که د جانان احوال مې باد راوړي وینه
کور دې د هسکو غرو پناه دی	وریځه خو نه یم چې په غره درخوره شمه

په لوړو غرونو به شم پورته
که رابنکاره شي د آشنا د کور برجونه

پښتون په لوړو غروکښې پیدا دی په تورو غروکښې لوئېږي او لوړ تور غرونه یې د ماشوموالي د لوبو میدانونه دي. کور یې په غرکښې استوګنه یې په غرکښې- ماښام

د غر په خواه کښې اوده کېږي او سحر يې اول نظر په غر لګي. غر دده ملګرى دى غر دده يار دى، ځکه خو وايي چې د تورو غرو پناه کېږې مخ راواړوه- د غرونو پناه شوى زه دې هيره شوم. په لوړو غرو درتلى نه شم. سپوږمى ته سلام کړه سلام به کړم. د غمه د داسې ژاړم لکه په لوړو غرونو چې باران وي. د غر په سر دې دزې وکړې کوژدن دې اوکړه زه دې پرېښودم. د تور غر ښامار د اُخوره چې سر تور پښې ابله پښې ځيرې ګرېوان دى په خپل غېږکښې دمه ووم اوکه مړ شې جنازه دې د غره په سروګلونو باندې ترم. زه خو داسې برباده شوم لکه د غر په سر چې د ونې مېوه برباده توى شي.

د تورو غرونو پناه کېږې   ديدن ثواب دى مخ را واړه وه مئينه
د تورو غرونو پناه ياره   چرته په خيال کښې د راځم که هيره يمه
د تورو غرونو پناه ياره   سپينې سپوږمى ته سلام کړه سلام به کړمه
د تورو غرونو پناه ياره   مولا د خپل وطن ته راوله مئينه
د غره په سر رنړا بلېږي   راته ښکارېږي مسافر وطن ته ځينه
د غره د سر مې سهي کړې   په چلم پروت وى سره خولئ سره تعويزونه
زما د غرنو پناه ياره   سپوږمى ته ګوره زه به کور ولاړه يمه
په کنډاو سور سالو ښکاره شو   چا وې په تورو غرونو اور اولګېدنه
په لوړو غرونو به شم پورته   که راښکاره شي د اشنا دکور برجونه
کور دِ دَ غره په سرکښې جوړکړو   نه درختى شم نه مې زړه صبرکوينه
له مسافري دې داسې ژاړم   لکه په لوړو غرو چې اوري بارانونه
يار مې ټوپك زه يې ګولى يم   د لويو غرو مې اړوي ورکه به شمه
عمر برباد را باندې تېر شو   لکه برباده مېوه شي په لويو غرونه
د غره په سر دِ دزې وکړې   په زړه سورى شى ياره اودې کړه کوژدنه
خداى به پخپله مازيکرکړي   د لوړو غرو سروته مه ګوره مئينه
خداى دې په لوړو غروکښې مړکه   چې جنازه دې په سروګلو اوتړمه

د تورو غرو ښامار د اوخوره چې زانګه بانګه دې په غېږکښې دومه
ته په پلسته پالنګ کښې خوب کړې زه په دې چیګو غروکښې شپې سبا کومه

د چاپه مرګ مه خوشحالیږه
مرګی شمال دی هره ونه شوروینه

پښتنو ته یوازې خپل غرونه او دشتونه ګران نه دي بلکې د وطن بادونه ورته هم ګران دي او اکثر په خپلو سندروکښې د باد خاصکر د شمال د باد ذکرکوي. وجه يې داده چې د پښتنو په وطن کښې اکثر د شمال د طرف نه هواګانې او بادونه راالوزي، ځکه دهغه یاد نوم هم شمال شو. کله ورته د کېږدو یخ شمالونه رایادېږي، کله مورته وايي چې د مازیګر تری شمال یم ورك به شم. کله وايي چې په لوړو غرو مې قبر جوړکړې چې شمال يې شناختې خوزوي. يعنې په مرګ هم د وطن شمال غواړي.
لکه د لېونو د باد سره خبرې کوي ورته وايي، چې ښکلی آشنا ته مې سلام وايه اوکله وايي د يار خبرونه راله راوړه. کله وايي، چې پالنګ مې په لوړه کېدی که باد دَ جانان خبر راوړي اوکله جانان ته وايي چې ديدن باد له ورکړه چې ماله يې راوړي.
د پښتنو عظیم شاعر خوشحال خان خټك هم د باد مدد غوښتی دی. دا هغه وخت دی چې د رنتهمبور په قلعه کښې د مغلو په قید کښې وو.

پښتنې جونـه د زلفـې بادتـه نیسـي
چـې نسـیم یـې بـوئ راوړي ورتهمبورتـه

او بل شاعر خو با قاعده بادته درخواست کوي او وايي:

د ایـرو خلـے مـې وران نـه کـړې ورو تېـر شـه
بـاد زه هـم د آشـنا د مـخ يادګـار یـم

پښتون ته که په پردي وطن کښې هرڅومره نعمتونه ورکړي نو خوشحالېدی نه شي ځکه چې د وطن تور غرونه، بادونه او شمالونه به د کومې راوړي.

موري کوچیانو لـه مـې ورکـړه چې تور اوربل مې د سپین غر شمال وهینه
سپینه کوتـۀ د کتـډوالئ شـه زمـا یـادېږي د کېـږدو یـخ شـمالونه

قبر مې جوړ په لوړو غروکئ — چې د وطن شمال یې شناختې خوزوینه
دا ماته مه قارېږه مورې — نرے شمال د مازیگر یم ورك به شمه
د چا په مرگ مه خوشحالېږه — مرگی شمال دی هرونه شوروینه
د دنیا وار داسې تېرېږي — لکه د تورو غرونو باد په شنړا ځینه
د ناکامی شمال موذی دی — زما د خنړو بوی له تانه لرې وړینه
چې دې دَ زلفو شمال راشي — زړه مې دگل په شان پانړې پانړې شینه
د اشنا کور به غلط نه کړم — ماته ترې بوئ د محبت شمال راوړینه
غم دِ په ما نه دی چې ژاړم — غم د شمال دی هره پانړه خوځوینه
تبه مې نه ده چې به روغ شم — زه د کاره اوربل شمال وهلی یمه
که دې د زلفو شمال راشي — دا زیړی رنگ به مې تازه له گلو شینه
مخ دِ شمال خال د نجوم دی — ظالم بېلتون دی چې د یاره جدا یمه
جینئ جوړه منگی په سر کړل — د سینې مېنځ یې دکابل شمال وهینه
یا به مې دا یاري یاري شي — یا به مې سر د غر غرې شمال وهینه

❖❖❖

پالنگ مې پاس په لوړه کېږدئ — که چرته باد دَ جانان راوړي دیدنونه
زما اشنا چرته ولاړ دی — ساړه ساړه اسویلي کړي باد یې راوړینه
باد د بلغار چې پکښې لگي — د غرمې خوب به د اشنا بورجل ته وړمه
باد دکشمیر پکښې لگېږي — د هاړ غرمه به د لیلیٰ غېږې له وړمه
باد سبا د خدائ دپاره — زما په ښکلي آشنا وایه سلامونه
باده د یار خبرونه راوړه — ظالمان شته دي ما خپل یار ته نه پرېږدینه
د تورو غرونو پناه یاره — دیدن د باد سره شامل که چې راځینه
د سحر باده خوشحالېږه — تا د هېواد د یار راوړه دیدنونه
زړه مې جوش وکړو اوښکې راغلې — د اسویلو په بادئ رو رو وچومه
مینې د اوسوم غم ایرې کړم — که مې د اوښکو اوبه نه وی باد مې وړینه

په ما لا باد د دنيا لګي — په جانان پرېواته د خاورو تور ګردونه
رنګ به مې ولې نه زيړېږي — د خزان باد مې په بدن اولګيدنه
زما پينځه وخته دعا ده — رب دِ دَ غم د باده اوساته مئينه
د ما ازيګرګودر دې ګل وي — بوئ د زلفانو مې هوا جانان له ځينه
يو ځل بيا په دې لار راشه — د سحر باده غرمو مړاوي کړل ګلونه
ديدن د بادو پيمانه ده — څومره ساده يم زه ځولۍ ترې ډکومه
کله قلاره قلاري وي — کله را والوځي د غم تاوده بادونه
لکه د باد په مخ کښې پاڼه — هسې نيستي زه په هوا اخستے يمه
زما د زړه ذرې ذرې کړو — داسې ذرې شي چې د باد ورپسې وړينه
سپك چې د سپکو په دوستي شي — خس چې دباد سره هم څنګ شي باديې وړينه

ښار د لندن ورته لوګی شه

د وطن شاړه په يورپ نه ورکومه

پښتنو ته يواځې وطن نه دی ګران د وطن ښارونه ورته هم ګران دي، څومره ګران دي ورته د لندن ښار ورته لوګی کوي او شاړه يې د يورپ په بدل کښې نه ورکوي. دې وخت کښې ماته د حافظ شيرازي يو شعر ياد شو. وايي:

اگر آں ترک شیرازی بدست ارد دل مارا
به خال هندوش بخشم سمرقند و بخارا را

ترجمه: که هغه شيرازي يار زما په لاس راشي، نو په يو خال باندې به يې سمرقند او بخارا ورکړم. تيمور بادشاه چې دا شعر واورېدو نو حافظ شيرازي يې وغستو او ورته يې وې چې د سمرقند او بخارا په فتح کولو خو زما زړه شين شو او بيخ بنياد مې اوختو او ته يې په يو خال باندې ورکوې. د حافظ شيرازي جواب د اورېدو قابل دی. وې که دا فضول خرچيانې مې نه کولې نه ولې به داسې ملنګ فقير ګرځېدلی. بهر حال ددې پښتون جذبات د تعريف وړ دي. ګوره په څومره ساده الفاظو کښې وايي:

د پېښور وطن جنت دی
د کابل ژمی زمهریر دی خود ترې ځمه

خو ددې دا مطلب نه دی چې کابل يې خوښ نه دی، بلکه وايي:

کابل ته مه وايه چې وران شې
پکښې پراته دي ښه ځوانان کاره بريتونه

کله د قندهار شنه باغونه يادوي، کله سوات ته باغ ارم وايي، د ملاکنډ په سر د ښخيدو ارمان کوي، که بره کابل اوکوز هندوستان دی خو په مېنځ کښې زما وطن کوټه ګلستان دی.

ښار د لندن ورته لوګی شه — د وطن ښاره په يورپ نه بدلومه
د پېښور وطن جنت دی — دکابل ژمی زمهرير دی خود ترې ځمه
کابل ته مه وايه چې وران شې — کابل د ښو ځوانانو ځائ دی وران به شينه
کابل دګلو ډک دی خدايه! — زما يادېږي د قندهار شنګي باغونه
سوات په شان باغ ارم دی — د لرې لرې شهزدګان ورله راځينه
د ملاکند په سر مې ښخ کړئ — چې دَ د رګئ جونه دعا راته کوينه
سپينه کوټه دکنډوالئ شه — زما يادېږي دکېږدو ښه شمالونه
يار مې د خوست زه د تيراه يم — خدايه خوست وران کړې چې جوړه تېراه ته ځونه
بره کابل کوز هندوستان دی — ګلستان کوئټه پکښې عمر تيرومه
اتمان خېل تول په جامه خړ دي — د مېلمنو کوي خدمت ډېر مددونه
خان غازي عمراخان — په تا ورېږي له آسمانه رحمتونه
د خدائ رحمت په باباجي شه — چې يې فرنګ په کلکته اولګاونه
په پېښور کښې وليان ډېر دي — کړې جنډې په ميان عمر ولاړې دينه
سترګې دې سرې لکه د زرکې — په پېښور کښې دې ثاني نشته مئينه

❖❖❖

باب: ۴

جهاد او مجاهد

توري ته لاس کړي ولاړيږي
مدام به نه وي د حضرت په دين جنګونه

د حضرت سيد سليمان ندويؒ د سيرت النبي مطابق د جهاد لغوي معنیٰ محنت او کوشش دی- او اصطلاحي معنیٰ يې ده د حق د سر بلندی، اشاعت او حفاظت دپاره هر قسم جدوجهدو قرباني او جان نثاري برداشت کول. او خپل تمام جسماني مالي دماغي قوتونه ترديې حده چې خپل ځان اهل عيال عزيز اقارب قربانول او د حق د مخالفينو او دښمنانو کوششونه ماتول، تدبيرونه بربادول، حملې بندول او په ميدان جنګ کښې د دښمن سره د جنګ دپاره تيار اوسېدل- دا جهاد دی. د اسلام رکن او لوئ عبادت دی، چې د حج نه هم لوئ دی. جهاد بالعلم او جهاد بالمال ددې قسمونه دي د خپل نفس خلاف جهاد، جهاد اکبر او دائمي دی.

په ظاهره د پښتنو او صحابه کرامو د جهاد شوق او جذبه يو شان ده خو ددې دا مطلب نه دی چې پښتانه د صحابؤ برابر دي، د صحابي خو هغه درجه او مرتبه ده چې ددنيا تمام اولياء او بزرګان راجمع شي نو د يو ادنیٰ صحابي درجې ته نه شي رسېدی، چې الله تعالیٰ ورله دا سند ورکړی چې رضی الله عنهم و ارضوعنه.

د يوشان نه زما مطلب دادی چې صحابوؤکوم کار عملي طورکړی دی او يا يې د هغې باره کښې د خپل جذباتو اظهارکړی- پښتنو په خپل اولسي ادب ټپوکښې په خپله ژبه خپل بهير او خپل شان کښې د هغې اظهارکړی. د پښتنو د احساساتو او جذباتو دا اظهار دومره ښکلی ساده او رنګين دی، چې ته به وايې دا هغه صحابي لګيادی- اول به د صحابوؤ د جهاد د ذوق او جذبې تذکره اوکړو او بيا به د پښتنو د احساساتو او جذباتو اظهار د ټپو په شکل کښې ښکاره کړو. د پښتنو عملي جدو جهد هم د تعريف لائق دی او ښکاره دی.

حضرت عبدالله بن مغفلؓ او حضرت ابوليلیٰؓ دواړو ژړل. تپوس ترې اوشو. وې چې

رسول الله ﷺ ته راغلي وو، چې مونږ ته د جهاد دپاره سورلی راکړي. سورلی نشته او زمونږ طاقت نشته چې خپله واخلو، ځکه ژاړو چې د جهاد نه پاتې شو. حضرت عبدالله بن عمرؓ وايي: چې د بدر غزا ته زه هم راغلم خو رسول الله ﷺ دکم عمر په وجه واپس کړم. ما ټوله شپه د غم په ویښه تېره کړه او ژړل مې.

حارث بن هشامؓ دکلي نه اوتو ټوله مکه دده په غم را اوته او ژړل یې چې ته چرته ځې هغه وې زه نه مکه پرېدم نه بل شهر ته ځم، بلکې جهاد ته ځم. قسم په خدائ که د کلي غرونه د سرو شي او مونږ یې د خدائ په لارکښې ورکړو خو د جهاد د یوې ورځې د ثواب برابر نه دی او روان شو.

حضرت خالد بن ولیدؓ د مرګ په وخت کښې وې، چې د زمکې په سر راته بل هیڅ شئ زیات محبوب نه دی د هغې شپې نه چې سخته یخني کښې ما ډال په سر په ولاړه تېره کړه او باران وریده او سحر جنګ اوشو.

ابو ایوب انصاريؓ د 90 کالو په عمرکښې په جهاد کښې شامل وو. بیمار شو وصیت یې اوکړو چې ټول عمر مې جهاد کړی د مرګ نه پس مې لاش د دښمن په زمکه کښې وړاندې ښخ کړئ د هغه مزار په استنبول کښې د شهر د دیوال نه بهر دی.

حضرت عمیر ابن ابي وقاصؓ د بدر په جنګ کښې رسول الله ﷺ واپس کړو نو په ژړا شو اجازت ورکړی شو او شهید شو.

پښتانه هم د جهاد پتنګان دي چې چرته جهاد وی دوی به ځان رسوي. ګاډي ته بې ټکته خېژي خو حصاریدی نه شي. هغه جهاد که په مصرکښې وي که بصره یا فلسطین وي اوکه کشمیر وي. سر یې قلم خوښ دی خو دکور مرګ یې خوښ نه دی.

خلقه دکفر اسلام جنګ دی	مسلم پتنګ دی په هوا به ورله ځینه
دا د اسلام دکفر جنګ دی	د اسلام ننګ دی پښتانه به ورله ځینه
بابو ټکټ په تلوار راکه	په مصر جنګ دی مجاهد به ورله ځمه
توره راواخلئ ورګډېږئ	مدام به نه وي د حضرت په دین جنګونه
توري ته لاس کړئ ولاړېږئ	د آزادی نعرې وهئ چې آزاد شونه

کـه مـې پـه تـوره سـر قـلـم وی دا رالـه ښـه ده نـه چـې کـور سـاه ورکومـه
ګـادی تـه بـې ټکتـه خېژم ظلم چې کېږي په مسلم زړګی مې چوینه
ګـادی د سـروګلونـو ډک دی چې تر بصرې پورې ورځي مړاوې به وینه
مسـلمه پاسـه ځـان بیـدارکـا پـه فلسـطین بانـدې یهـود نعـرې وهینـه
نـن د اسلام نـازبینې خوینـدې پـه چغـو سـر دي المـدد نعـرې وهینـه
یـا بـه مظلـوم کشـمیر آزادکـړم یـا بـه دا لـوره ځـواني خـاورې ایـرې کړمـه

غزاله لاړه شه چې غازي شې

د نغري په غاړه نشته جنتونه

د صحابه کرامو د بیبیانو د جهاد جذبه څه کمه نه وه. په جنګ اُحد کښې چې کله رسول الله ﷺ د کفارو په مېنځ کښې ګېر شو نو ام عمارهؓ نصیبه بنت کعب راغله او د کفارو سره یې جنګ شروع کړو او زخمي شوه. حضرت عمرؓ وایي چې رسول الله ﷺ فرمایل: چې په دغه وخت کښې ما اخوا دیخواه اوکتل نو ام عمارهؓ زما د طرف نه کفارو سره په جنګ کښې مشغوله وه. کله چې غزوه احد کښې مسلمانان تتر بتر شو حضرت صفیهؓ راغله نیزه ورسره وه په کفارو یې شروع اوکړه. رسول الله ﷺ حضرت زبیرؓ ته وې: ښځه ده ښځه او ځومره بهادره ده.

جنګ خندق کښې مسلمانان ماشومان او زنانه د حسان بن ثابتؓ په قلعه کښې وو. د قلعه په سر حضرت حسانؓ او صفیهؓ بن عبدالمطلب اوکتل چې یو یهودي د قلعه نه چاپېره چکر وهي. حضرت صفیهؓ حسانؓ ته وې چې ورشه او دا یهودي ګېر کـه. مسلمانان په جنګ کښې اخته دي. دلته صرف ښځې او ماشومان دي. یهودي به خپل خلق خبر کړي حمله به اوکړي او مونږ سره څه د حفاظت بندوبست نشته. حسانؓ معذرت اوکړو نو صفیهؓ پخپله لرګی واخست او یهودي یې مړ کړو او واپس راغله.

جنګ حنین کښې ابوطلحهؓ رسول الله ﷺ ته په خندا راغی چې ام سلیم سره خنجر دی چې رسول الله ﷺ ترې تپوس اوکړو هغې وې چې کوم کافر زما خواه له راځي هغه به پرې وهم. اسما بن یزید بن سکن د معاذ بن جبل ترله په جنګ یرموک کښې

نهه روميان د خيمې په بانرس باندې مرکړي وو.

پښتنې مېرمنې خپلو سرو ته وايي چې توره توپك راواخله څه چې غزا له خو چې د دښمن کپرى درې ورې کړو. د غزا او جنګ وختونه ياد وى او خپلو زلمو ته وايي چې غزا له څه د نغرې په غاړه جنتونه نشته. خلق لاړل ته پاتې نه شې زرکه ملا تړه غېرت اوکه او د چا مياندې په زيارتونو نذرونه نيسي او خپل زلمى ته وايي مه حصار ېږه زه پښتنه ناوې دې په شا ولاړه يمه. دا خو د جهاد دپاره ترغيب دى. په جهاد کښې شموليت به ورستو راخي.

توره په لاس توپك په غاړه	راځه چې دواړه دکفارو جنګ له خونه
خدايه! دکفر سره جنګ کړي	سپينې سينې به ځوانان ړدي په کندا غونه
زما هغه ساعت يادېږي	چې چغه کده شي زلمي وهي ډولونه
ته په مخ ځه مه حصار ېږه	تر شا دِ ناوې پښتنه ولاړه يمه
صبا په سپين ميدان غزا ده	تر خدائ مې زارکړې پښتانه غزا له ځينه
صبا خو بيا د جنګ وعده ده	د زلمو مياندې به بيا نيسي زيارتونه
غزا له لاړ شه چې غازي شې	د نغرې په غاړه نشته جنتونه
لاليه پاڅه روانېږه	غازيان تېرېږي ته به پاتې شې مئينه
لاليه څه چې ځو غزا له	چې د دښمن کپرى درې ورې کړونه
لاليه ملا تړه غېرت کا	په کوروکلي دښمنان را اوخاتنه

خدايه! په زړه مې ډېر ارمان دى

چې جهاد جوړ شي زه شهيد ورباندې شمه

صحابه کرامؓ ټول د شهادت په ارمان وو. او ولې به نه وو چې حضور رسول کريم ﷺ پخپله دا ارمان کړى دى. حضرت ابوهريرةؓ وايي چې ما د رسول کريم ﷺ نه اوريدلي. هغه وې چې زما دا خبره ډېر خوښه ده چې د الله تعالىٰ په لاره کښې شهيد کړى شم بيا ژوندى شم بيا شهيد شم، بيا ژوندى شم بيا شهيد شم، بيا ژوندى شم. حضرت عمرؓ د

شهادت فضائل او په جنت کښې د شهيد د درجاتو ذکر اوکړو او بيا يې افسوس سره اووې: اې عمرَ! تا دپاره شهادت چرته. حضرت اسلمؓ وايي: حضرت عمرؓ دعا اوکړه "اللهم ارزقني شهادة في سبيلك و اجعل موتي في بلد رسولك" اې الله ستا په لاره کښې مې شهادت نصيب کړې او د رسول الله ﷺ په ښهر کښې مې مرګ نصيب کړې. بعضې صحابه وايي، چې مونږ حېران وو چې دا څنګه کېدی شي جهاد خو د روم او شام په سرحداتو باندې شروع دی او دی يې د نبي په ښهر کښې غواړي، خو د حضرت عمرؓ دعا قبوله شوه او په مدينه کښې د ابولولو د لاسه شهيد شو.

حضرت سعد بن ابي وقاصؓ او حضرت عبدالله بن جحشؓ دا اُحد په جنګ کښې دواړو دعا وغوښته. حضرت سعد دعا وکړه چې خدايه! صبا په جنګ کښې يو سخت حمله آور جنګجو کافر سره زما جنګ اوشي او زه شکست ورکړم قتل يې کړم. او سامان يې واخلم. حضرت عبدالله بن جحش پرې امين وې. بيا حضرت عبدالله بن جحشؓ دعا اوکړه چې خدايه! زما داسې کافر سره مقابله راولې چې سخت حمله آور جنګجو او مړنی وي. ما راګېر کړي او قابو مې کړي، غوږونه او پوزه رانه کټ کړي او چې تا سره ملاؤ شم نو ته فرمايې چې پوزه غوږونه د څه شو. زه وايم چې ستا او ستا د رسول په لاره کښې پرې کړی شوي دي. حضرت سعد خپل ځوی ته وې، زمانه د عبدالله بن جحشؓ دعا ښه وه. ما اوليدل چې د هغه پوزه او غوږونه په تار کښې پيللي زړوند وو.

حضرت انسؓ وايي: چې رسول الله ﷺ اووې چې بعضې د دوه زړو څادرو خاوندان داسې دي که په خدائ باندې قسم اوخوري نو الله تعالیٰ به د هغوی قسم پوره کړي. او براء بن مالکؓ د هغوی نه دی. جنګ تستر کښې د خلقو په وينا هغه دعا اوکړه چې اې خدايه! زه تا ته ستا قسم درکوم او سوال کوم چې د کفارو لاسونه زمونږ په لاس کښې راکړې او ما د خپل نبي ﷺ سره يوځای کړه. دی شهيد شو او مسلمانان کامياب شو.

يو صحابي حممهؓ د اصبهان په جنګ کښې دعا وغوښته. اې الله! حممه دعویٰ کوي چې ستا ملاقات يې خوښ دی که دی رشتونی دی نو رشتيا يې ثابت کړې. او که دروغژن وي نو وبال په هغه کړې. شهادت يې اوغوښتو او ورته ملاؤ شو.

په جنګ بدرکښې عتبه بن ربيعه د حضرت عبيده بن الحارثؓ په خپه باندې ګذار اوکړو او زخمي شو. عتبه خو حضرت حمزةؓ او حضرت عليؓ قتل کړو او حضرت عبيده يې د حضورکريم ﷺ خواته راوړو. رسول الله ﷺ ورله خپه اوترله او د مخ نه يې ورله دوړې وڅنډلې. حضرت عبيدةؓ عرض اوکه يا رسول الله ﷺ آيا زه شهيد نه يم نو رسول الله ﷺ اووې: بېشکه ته شهيد يې او زه ددې ګواه يم او چې وفات شو نو حضورکريم ﷺ يې خپله قبر ته کوز شو.

د صحابؤو د شهادت شوق او جذبه تاسو اوکته. د پښتنو زلمو شوق او جذبه د هغې جذبې پيروي او نقل دی اوکله خو نقل هم خدائ پاك ته دومره خوښ شي چې د اصل برابر شي. د موسی عليه السلام او د فرعون د ساحرانو چې کله مقابله وه نو موسٰی عليه السلام خپله ملا ترلې وه. ساحرانو هم خپلې ملا ګانې اوترلې. الله تعالیٰ ته د دوئ دا نقل خوښ شو او د هغوی د هدايت فيصله يې اوکړه. او چې کله موسٰی عليه السلام مقابله اوګټله او ساحران مغلوب شول او پوه شول چې حقيقت څه دی نو ټولو چغې کړې: "اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰی" (طٰهٰ :70) او ايمان يې راوړو.

د پښتنو دا جذبه به مونږ هم دغسې حساب کړو. لکه څنګه چې مخکښې تېر شو. رسول الله ﷺ درې پيرې دا الفاظ اووې: چې د خدائ په لاره کښې شهيد شم بيا ژوندی شم- اوګوره دا پښتون زلمی څنګه د رسول الله ﷺ د قول نقل کوي او وايي:

خاونده سل ځل ژوند راکړې
چې د وطن په مينه سل ځل مړ شمه

دغسې د حضرت عمرؓ د زړه ارمان چې- اې عمره! تا دپاره شهادت چرته دی او ددې زلمي د شهادت دا ارمان:

خدايه! په زړه مې ډېر ارمان دی
چې جهاد جوړ شي زه شهيد وربانديې شمه

او د عبدالله بن جحشؓ د دعا په شان چې کافر مې قابوکړی او پوزه غوږونه رانه پرې کړي. دا زلمی پښتون ګوره څه وايي:

ټکرې ټکرې مې مورله یوسی
که زه شهید یم چې اونه کړي فریادونه

په خپل وطن مې د خدائ مرکړي
چې د جانان توره لنګی مې کفن شینه

په شهیدانو کښې چې شمار شم
د وطن خاورې ته څواني لوګی کومه

په وطن جنګ دی ځان شهید که
تاریخ به ستا په ننګ ناموس فخرکوینه

جنډې مې سرې په قبرکېږدئ
په شهادت د خپل وطن جنت له ځمه

چې د وطن په ننګ شهید شم
زما جامې په وینو سرې چې کفن شینه

خاونده سل ځله ژوند راکړې
چې د وطن په مینه سل ځله مړ شمه

خبر مې کله کله اخله
تورو ټوپکو ته مې مخ دی خیر د وینه

خپلې جامې زما کفن شه
په شهادت به د جنت کوم سیلونه

مورې لنډۍ توره مې راکړه
په وطن جنګ دی زه خپل ځان شهیدوومه

ته په سنګر کښې ځان شهید که
زه به خپل شال ستا په زیارت وغوړمه

پښتنې پېغلې د زلمونه کمې نه دي او خپلو زلمو ته د شهادت دپاره حوصله او ډاډ کیرنه ورکوي، چې د مرګ پرواه ونه کړي ځان شهید کړي خو چې برې بیا مومي.

ته ځان په شنو تورو ټوټې کړه
زه به جنډا ستا د مزار تر عمر یمه

اوکله ګیله کوي او وایي:

جانانه ولې شهید نه شوې
ماته همزولې په ګودر پېغور کوینه

د پښتنو معاشره کښې شهادت دومره لوی مقام او مرتبه ده چې خلق د شهید د کوروالو او اقرباؤ هم عزت کوي او چې څوك شهید نه شي نو ځان ورته ملامت ښکاري او نور خلق پرې هم ملامت وایي.

په دښمن ځان توټې توټې کړه / بيا به د سرو شونډو مرهم درباندې ږدمه
په شهادت د خفه نه يم / خفه په دې يم چې پردي مارغان د خورينه
په وطن ننګ لالي شهيد شو / د پټکي ولونه يې سپړم ژړا راځينه
ته په سنګر کښې ځان شهيد که / زه به خپل شال ستا په زيارت اوغوړومه
ته ځان په خپل وطن شهيد که / زه به تر عمره ستا مزار جاروکومه
ټوټې ټوټې په توره راشې / چې پرهارونه د ګنډم خوله درکومه
جانان په خپل وطن شهيد شو / په جنازه يې فرښتې ولاړې دينه
جانانه ولې شهيد نه شوې / ماته همزولې په ګودر پېغور کوينه
ځان د وطن په ننګ شهيد که / په تار د زلفو به کفن درله ګنډمه
ځان د وطن په ننګ شهيد که / چې پښتنې جونه د هروخت يادوينه
د شهيدانو مقبره ده / جونو راځې چې ورته اوکړو سلامونه
که په سرحد چرته شهيد شوې / د سر پړونې به بيرغ درباندې ږدمه
که د وطن په جنګ شهيد شوې / دکلي جونه به زيارت له دراځينه
که د وطن په ننګ شهيد شوې / دا به زما د پاره لويه تحفه وينه

لاس مې هله اوربل له راوړه
چې د دښمن په وينو سره راوړې لاسونه

پښتنې پېغلې صرف دا نه وايي چې جهاد له لاړ شه ځان شهيد کړه بلکې وايي چې داسې جنګ اوکه چې وطن په وينو سور کړې. د دښمن وينې و بيوه او خپل ځان هم په وينو سور ګلاب کړه. هله به دې پېغلې په اوربل کښې ږدي او زه به دې په سرو وينو لړلې توره ښکلووم اوکه د دښمن وينې دې لکه د رود ونه بيولې او لاسونه د دَ دښمن په وينو سره نه کړل نو چې اوربل له مې ګوتې رانه وړې. د پښتنو پېغلو دا جذبه د تعريف قابله ده او دا صرف جذبه نه ده بلکې د ايثار و قرباني اعلیٰ مثال دی.

په توره ځان خاشې خاشې کړه / زه به مرهم د سپينې خُلې درباندې ږدمه

پــه وينــو رنــګ تــوره دِ راوړه — چې په سورکو شونډويې پاکه درلـه کړمه
په وينواسور لکـه ګلاب شې — پښتنې پېغلې به د تور او ربل کښې ږدينه
تــر توريــالي مئــين ځــار شــم — چې د غليم پـه وينـو سـره کانـدې لاسـونه
ددې تېــرې تــورې د زار شــم — د دښــمن وينــې تويــوه لکــه رودونــه
لاس مــې هلــه اوربــل لــه راوړه — چې د دښـمن پـه وينـو سـره راوړې لاسـونه

بنګړي د لاسو به ټول کوز کړم
زه د بنګړو په ځای به توره شرنګومه

د صحابه کرامو بعضې بيبيانې خو داسې وې چې توره نيزه په لاس يې د کفارو سره جنګونه کول. لکه حضرت ام عمارهؓ، حضرت صفيهؓ بنت عبدالمطلب، ام سليمؓ او حضرت اسماؓ بنت يزيد بن سکن وغېره. ليکن اکثر داسې دې چې په جهاد کښې به يې د مسلمانانو مدد کولو- لکه او به راوړل د مريضانو او زخميانو تيمارداري او د مړو اوچتول.

حضرت ام سليمؓ وايي چې د انصارو بيبيانې به د رسول الله ﷺ سره په جهاد کښې شريکې وې او د غازيانو خدمت په يې کاوه. ام عطيه انصاريهؓ وايي چې ما د رسول الله ﷺ سره په اووه غزاګانو کښې شرکت کړی د مجاهدينو دکجاوۆ حفاظت به مې کولو، روټۍ به مې تياورله او د زخميانو بيمارانو خيال به مې ساته. ليلی غفاريهؓ وايي چې د رسول الله ﷺ سره به غزا ته تلم او د زخميانو خدمت به مې کاوه. په جنګ احد کښې حضرت عائشهؓ بنت ابوبکرؓ او ام سليمؓ دواړو پيانسی اوچتې کړې مشکونه په شاه زخميانو ته اوبه ورکولې. حضرت عمرؓ ځادرونه تقسيمول يو ښائسته ځادر بچ شو چا وې دا ام کلثوم بنت عليؓ ته ورکړه چې تا سره ده. وې نا! د انصارو ام سليمؓ ددې زياته حقداره ده چې د احد په جنګ کښې خلقو له اوبه ورکولې.

په آخر کښې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې د ښځو په جهاد کښې د شرکت نه ممانعت راغی، چې کله عذره بنت قضاعهؓ په جهاد کښې د شرکت اجازت اوغستو نو رسول الله ﷺ ورته ووې: که ماسره دا يره نه وي چې دا به بيا سنت جوړ شي نو ما به اجازت

درکړي وو. ته کینه مه خه. د ښځو یوه نمائنده رسول الله ﷺ ته راغله وې په سرو جهاد فرض دی چې کامیاب شي ثواب او دولت ورته ملاؤ شي چې شهید شي د خدائ پر نیز ژوندی وی رزق ورکېدی شي- زمونږ دپاره څه دي؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل: د خپل خاوند اطاعت او د هغه پېژندل د جهاد د ثواب برابر دی. یوې بلې ښځې چې د جهاد اجازت اوغستو نو ورته اووئیلې شو چې ستا جهاد نېك حج دی.
د صحابه وو د بیبیانو په شان پښتنې مېرمنې هم په جهاد کښې د شرکت ارمان لري خو نه خو اسلام دا اجازت ورکوي او نه د پښتنو معاشره، خو هغوی بیا هم د خپل خواهش اظهار کوي او وایي:

جګړې ته ما درسره بوځه
چې دې په جنګ کښې زه کومکي ولاړه یمه
ګورې چې وار دې خطا نه شي
د وارخطا په ځای دې زه ولاړه یمه

او چې خپله جنګ ته لاړه نه شي نو بیا د غازیانو او میدان جنګ خیر غواړي او وایي:

خاونده خیر کړې خیر را پېښ کړې
د تورو جنګ کښې مې جانان ګېر دی مئینه
دښمنه هېڅ به یې اونه کړې
اشنا اغوستی د زمري د شا پوستونه

او خپلو تپو کښې میدان جنګ یادوي او وایي:

یار مې د تورو جنګ کښې ګېر دی
دا نامردي ده چې زه کور کښې ناسته یمه

بنګړي د لاسو به تول کوز کړم — زه د بنګړو په ځای به تور شرنګومه
په سنګر بیا تکونه اوشل — زلمی به مري موزیان به بیا کور ته راځینه
توره په لاس تو پك په غاړه — زه به دا دواړه کوکی جنګ کښې درکومه
خُله مې تر هغه زلمی زار کړي — چې له مور چې په ولیانو لتوینه

جنګ ته شين ډېرې يار ورګډ شو
چې تــوره او باســې ګــډېږه
چې جنګ ته ځې خلګې مې واخله
تــوره وهــه مــخ تــه مــې ګــوره
جانان مې ترې شو په جنګ کښې
صبا به جنګ په سپين ميدان وي

د هلکــانو نــه يــې واغســتل ملکونــه
مــا پــه همزولــو پــورې ډېــر خنــدلي دينــه
چې تکــی نــه شــې د هجــران پــه ميدانونــه
کــه د غلــيم ســر دِ خطــا کــړو ګرمــه يمــه
د سپينې خُلې شربت سنګر لره وروړمه
ځوانان بــه ســپينې ســينې ږدي پــه کنداغونــه

آشنا يا غبرګ ټوپک راواخله
چې ته ګذار کړې زه ګولۍ در اچومه

د صحابه وو پــه وخــت کښــې د آســونو او اوښــانو ســورلۍ وې او د تــورو او غشــو جنګونــه وو. صحابه وو بــه جنګ کولو او بيبيانو بــه ورسره پــه دې ځيزونوکښــې مدد کولو، لکه چې اُم عطيه انصاريةؓ وايي: مــا د رسول الله ﷺ سره پــه اووه غزواتوکښــې شرکت کړی. مــا بــه ورستو د مجاهدينو دکجاوو حفاظت کولو، هغوی له بــه مې روټۍ تيارولــه. د زخميانو او بيمارانو علاج او تيمارداري بــه مې کولــه.

حشرج بن زياد د خپلې نيا نه روايت کوي چې مونږ پــه غزوه حنين کښــې د رسول الله ﷺ سره وو او چې هغوی څه تپوسونه اوکړل نو مونږ وې، چې دی غزا دپاره خو مونږ د وړې سپنسې خرڅې کړې او تيــاری موکړی دی. مونږ د خدائ پــه لاره کښــې د مدد دپاره راغلي يو. د زخميانو علاج بــه کوو. ستو بــه پرې ځښکو او غشي بــه راغونډوو.

پښتنې مېرمنې د صحابه وو د بيبيانو پــه شان ځان دپاره پــه جهاد کښــې د شرکت جواز ګوري او وايي: چې مــا درسره ميدان جنګ ته بوځه. کارتوس بــه درسره پــه ځولۍ کښــې ګرځوم چې تــه ګذار کړې زه بــه ګولۍ در اچوم. غــم مــه کوه کــه کارتوس خلاص شو خپل لونګين بــه ګانړه کړم د زلمو صفت کوي او حوصله افزايي کوي د ميدان جنګ نقشه پــه ښومره خائسته انداز پيش کوي او وايي:

جانانه هلته دې خدائ مل شه
چې د ټوپکو خُلونه اوخېژي دودونه
جانانه هلته دې خدای مل شه
چې شنې لوخړې د پتيانو د خُلې ځينه

آشنا يا غبرګ ټوپک راواخله / چې ته ګذار کړې زه ګولۍ در اچومه
بوړې دې ډك په اوږه کېده / دښمنان ډېر دي چې ډاډه درسره ځمه
په اديره راشه لوهاره / د زلمو مات شو د ټوپکو کنداغونه
تر دې بوړې ټوپك د زار شم / په غاړه ستا دې کړه زه درسره ځمه
د تورو جنګ وو ما به کړی وو / د تقدير جنګ دی وار خطا ولاړه يمه
دښمن په سرو ګولو کښې پټ کړه / که کارتوس خلاص شو لونګين به ګانړه کړمه
زه به دِ سر سلامت غواړم / که سرې ګولۍ لکه باران اوري مئينه
زنړي غزا ته ځي روان شول / پېغلې مخکښې دي ميګزين ورسره وړينه
چې جنګ ته ځې ما بوځه ياره / تشې توقې به دِ په جنګ کښې ټولومه
توره د ځوان سره ښائېږي / دا نامردان ځله ښيوه په توره کړينه
ټوپك د ټينګ ونيسه ياره / چې په ټولګي کښې شرمنده نه شې مئينه
ټوپك د يار په غاړه خوند کړي / لکه چې خوند کړي په ډولۍ زرين شالونه
جانان ويشتلی په ګولۍ دی / د تورې څوکه لګوي کور ته راځينه
سټاد لنډې ټوپك له رويه / زه په همزولو باندې ډېر فخر کومه
ما د جنګريز ميدان ته بوځه / چې کارتوسان در ته ځولۍ کښې ګرځومه
زما هغه زلمی آشنا دی / چې د برچې څوکه يې د ورايه پرق وهينه
جنګ په بمبل رېږه ورګډ شه / توره وهه هلکان تل په بيرته ځينه
جنګ ته جوړې تر بورونه خوند کړي / چې يو زخمي شي بل اوبه ورڅښوينه
ځوانان په تورو سره ګډ شو / موزيان په تورو کښې ولاړ تندي وهينه

توره به کړې بری به راوړې
که بری نه وي ځوانان تل په توره مرینه

توره کول او بری کول دادي چې د دښمن سره په داسې نرتوب او زړورتوب جنګ وکړې چې د تورې وارونه په خپل مخ او سینه واخلي او دښمن ته ماتې وکړي. د صحابه وو تاریخ ددې نه ډك دی. مونږ به ترې صرف یو څو مثالونه واخلو چې مشت نمونه خروار جوړ شي.

په جنګ اُحد کښې د خالد بن ولیدؓ د شا د طرف نه د حملې په وجه مسلمانان ګډوډ شول. رسول الله ﷺ سره یو لس انصار او حضرت طلحه بن عبیدالله پاتې شو او د کفارو حمله پرې راغله. رسول الله ﷺ طلحهؓ ته وې چې ته به هر حالت کښې ماسره یې انصار یو یو وړاندې کېدو او شهید کېدو چې رسول الله ﷺ او طلحه دواړه پاتې شو، طلحه د رسول الله ﷺ مخې ته اودرېدو او دَ هغوی یې د هر غشي او نیزې تورې ګذار یې په خپل ځان اغستو. رسول الله ﷺ غرته اوختو او د اصحابو سره یوځای شو. چا رښتیا وئیلې دي:

جان دے دےکے خریدار بنے ئیں انصار
عشق زارِ نبوی مِصرکا بازار نهیں

حضرت عبدالرحمٰن بن عوف وايي چې د بدر جنګ کښې مې دوه ښاشومان یو خوا بلخوا ولاړ وو. دا معاذ بن عمرو بن جموح او معاذ بن عفرا وو. تپوس یې وکړو چې کاکا! ابوجهل کم یو دی او چې ما ورته ښنګه اوښودو دواړو پرې ورمنده کړه او داسې ګذارونه یې پرې وکړل چې ابوجهل یې د آس نه را اوغورزاوه. عکرمه بن ابوجهل د معاذ بن عمرو لاس کټ که چې صرف څرمن سره زنګیده. هغه په لاس باندې خپه کېښوده څرمن یې اوشلوله او لاس یې اوغورزاوه.

قتاده بن نعمانؓ وايي چې جنګ احد کښې رسول الله ﷺ ماله یوه لینده راکړه. زه د رسول الله ﷺ مخکښې ولاړووم او غشي مې ویشتل او د دښمن غشي مې په خپل سر او مخ اغستل چې رسول الله ﷺ بچ وي. یو غشي سره زما د سترګې کاتې

زما په لاس کښې پریوت او ما رسول الله ﷺ ته یوړو. هغوی ډېر خفه شو په سترګو کښې اوښکې راغلې. ما دپاره او زما سترګې دپاره یې دعا وکړه چې اوس د هغې نظر د بلې سترګې نه تېز دی.

حضرت سلمه بن اکوعؓ وایي چې په مدینه کښې ما او د رسول الله ﷺ غلام رباحؓ د حضورکریم ﷺ اوښان د څر دپاره بوتلو. زه د طلحه بن عبیداللهؓ په آس سور ووم. عبدالرحمٰن بن عینیه د شپې ساربان مړکړو او اوښان یې بوتلل. رباح مې د طلحه په آس باندې رسول الله ﷺ ته اطلاع دپاره ولېږلو او زه په دوئ پسې ور پسې شوم په غشو مې ویشتل. دوی اوښان پرېښودل د خپو او خکلو په تکل کښې شو. عینیه بن بدر فزاري هم د دوی مدد له راغی خو څه فائده یې ونه کړه. زه لا ناست ووم چې د حضورکریم ﷺ سواره راښکاره شول.

د قادسیه په جنګ کښې ابي محجن ثقفیؓ د سپه سالار حضرت سعدؓ په کور کښې قید وو. شعرونه یې اوویې، چې خلق نیزې اخلي جنګ ته ځي او زه بندیوان یم. بیړی مې پاسیدو ته نه پرېږدي او د جنګ دروازې راباندې بندې دي. ابومحجن د سعدؓ بي بي ته پیغام اورساوو. که ما خلاص کړی چې جنګ کښې شامل شم. که مړ شوم نو قیصه ختمه شوه که ژوندی ووم دا مې وعده ده چې واپس به ځان ته بیړی واچوم. هغې خلاص کړو وسله یې ورکړه. ده په جنګ کښې داسې تابړتوړ حملې وکړې چې مسلمانانو ته فتح حاصله شوه. ماښام چې سعدؓ خپل کور کښې خبره کوله، چې حملې یې د ابومحجن پشان وې، خو هغه خو قید وو. کور واله ورته ټوله قیصه وکړه. ابو محجن یې راوستو او آزاد یې کړو.

په جنګ یمامه کښې حضرت عمار بن یاسرؓ په یوګټ ولاړ وو او چغې وهلې. اې مسلمانانو! د جنت نه چرته تښتی. اې مسلمانانو! د جنت نه چرته تښتی. حضرت ابن عمرؓ وایي چې غوږ یې شلیدلی زنګیده.

حضرت برا بن مالکؓ وایي چې د مسلیمه کذاب په جنګ کښې یوه لویه بلا سړی ماته مخامخ شو چې حمار یمامه به ورته وئیلی شو او یو پړقیدونکې توره ورسره وه ما پرې ګذار وکړو خو لکه چې د تورې څوکه ورسیده او دی پړمخ را پریوتو. ما ور منډه

کړې توره مې ترې واغسته او په هغې مې دوه ټوټې کړو.

مسليمه سره د ملګرو په يو باغ کښې پناه واغسته. براء بن مالك وې ما په ډال باندې کينوی ډال په نيزو اوچت کړی او ما د ديوال نه دننه ورګوذار کړی. هغوی هم هغسې اوکړل. براء بن مالك د هغوی سره تر هغې اوجنګېدو چې د باغ دروازه يې کهلاؤکړه نور فوج هم دننه شو او د مسليمه خاتمه يې وکړه.

څنګه چې د صحابه کرامو د جهاد فلسفه ده چې فتح يا شهادت هم دغه فلسفه د پښتون ده، چې برې به راوړي او يا به سر پرېږدي.

توره به کړې برې به راوړې
که برې نه وي ځوانان تل په توره مرينه

پښتون زلمې وايي چې توره زما د پلار نيکه جامه ده. زه زمرې يم ګيدړ نه شم جوړيدی. د پښتون دپاره دا ډېر لوی پېغور دی چې پښتون نه يې څکه خو وايي:

که د دښمن نه په شټ راغلم
بيا مې پښتون د تيراه مه بوله مئينه

دا د پښتون دومره لوئ څيز دی چې دی يې په نورو خلقو کښې هم ليدل غواړي. لطيفه ده چې د تهانه سوات ډاکټر منورخان صاحب په انګليند کښې تعليم کولو د يو انګريز سره جګړه راغله. انګريز يې چې يو دوه سوکونه اوواهه نوکور ته وتښتېدو. منور خان ورته بهر اودرېدو او وايي چې که د پښتون بچی يې نو بهر راوزه.

ښکاره ده چې غزاله زلمې ځي او جنګونه هغوی کوي او د پښتنو پېغلو د طرفه ورته ډاډګيرنه حوصله افزائي او شاباشی ملاوېږي چې ته پښتون يې برې به ضرور راوړې او چې برې راوړی نو زه به دادا انعامونه درکوم خوشحالي به کوم.

ته په ميدان کښې برې وکړه
زه به دې توره په محفل کښې ښکلوم

او دا ورسره هم يره وي چې چرته په شا رانه شي يا په شا باندې زخمونه رانه شي چې د نامردی نښه ده، نو وايي:

جانانه ښه ده چې زخمي شوې
زه به دا خپله غاړه هسکه ګرځومه

او چې کله غوږ شي چې زخمي يې راوړو نو دوی سره ويره شي چې زخمونه يې چرته په شا نه وي.

غرږ شو په کټ يې جانان راوړو
زړه مې پرې ښه شو چې په شا يې نه وو زخمونه

او چې کله د مورچې نه بريالی راشي نو فخر پرې کوي او وايي:

جانان په جنګ کښې توره وکړه
ماته همزولي په تندي سلام کوينه

زمری پيدا زمری به لوی شم زمری به مړ زمری به خاورو لره ځمه
خلق راځي چې ورلـه ورشو چې د پښتون په سينه اوګورو زخمونه
تـوره د هغـه زلمـی کـار دی چې د غيرت پـه اوږو مور لمبولے وينه
تـوره زمـا د پـلار جامـه ده د پـلار جامـه پـه مـال دولـت نـه ورکومه

❖❖❖

چې توره نه کړې نور به څه کړې چـې دې شـودې د پښـتنې رودلـي دينـه
چې توره نه کړې نور به څه کړې ګيډۍ ګيډۍ څنړې تـر تـا لانـدې کومـه
د زنـې سـر بـه درنـه زارکـړم کـه پـه دښمن باندې مور بوره کړې مئينه
توره مې يار په جنګ کښې وکړه ځکه يې د سر لاندې کوم سپين مړوندونه
تـوره بـه کـړې بـری بـه راوړې کـه بـری نـه وي ځوانـان تـل پـه تـوره مرينه
تـه د دښـمن سـرونه راوړه زه بـه در جار کړم توري سترګې شنه خالونه
جانان پـه جنګ کښې توره وکړه ماتـه همزولـې پـه تنـدي سـلام کوينـه
جانان پـه جنګ کښې توره وکړه ځکـه همزولـې راتـه کوښـې سـمه وينـه
طالبـه شـا بـه تـوره وکـړه چـې د همزولـو پـه ټولګي سـرداره يمه
کـه بريالے لـه مـورچې راغلې د لارې ګـرد بـه دِ پـه زلفـو اوڅنډمه

که د په جنګ کښې بری راوړو زه به په لپو لپو زیری ورکومه
که د دښمن مخ ته دِ مخ کړو د سپینې خلې سورې به زه درپسې وړمه
یار مې په جنګ کښې بری راوړو زه ورته مخکښې سلامي ولاړه یمه
یار مې په جنګ کښې توره وکړه زه په همزولو کښې نن هسکه غړې ځمه
که د دښمن ته شکست ورکړو تاله انعام به د سرو شونډو درکومه
که د په جنګ کښې بری راوړو دا مې وعده ده خله به زیري درکومه
هلته به غږ دربانډې وکړم چې د مصری توري داوینم وارونه
هلك به ولې توره نه کړي ترنیمایي مورچله زه ورسره ځمه

تکړې تکړې په کټ کښې راشې
د بې ننګۍ آواز د رامه شه مئینه

د صحابه کرامو او پښتنو په نز د میدان جنګ نه تښته او دښمن ته شا کول ډېره لویه بې غیرتي او نامردي ده. مرګ ورته قبول دی خو تښته او په خټ کېدل یې قبول نه دي. اوکه چرته داسې شوي چې د څه ډيرې لویې مجبورۍ د وجې شاته شوی نو بیا ټول عمر به افسوس کوي، بلکې د خلقو د خندا هم شي او ځان ملامته ګڼړي.

د سلمه بن هشام بن مغیره د بي بي نه تپوس وشو چې خاوند دې رسول الله ﷺ ته او مانځه ته نه راځي. وې چې کورکښې ناست دی راوتی نه شي چې راوځي خلق وايي بهګوړا دی یعنې د جهاد نه تښتېدلی دی دا د غزوه موته قیصه ده.

د حضرت ابوهریرهؓ د خپل د تره ځوی سره په څه خبره بحث شو. هغه ورته وې ته هغه نه یې چې د جهاد نه تښتېدلی وې. ابوهریرهؓ وايي چې بیا ماسره جواب نه وو.

حضرت عبدالله بن عمرؓ وايي چې په یو سریه کښې مونږ سحر سحر شکست وخوړو او حیران شو چې اوس څه وکړو. مدینې ته د شپې تیاره کښې راغلو او مشوره دا وشوه چې رسول الله ﷺ ته به خپل ځان پېش کړو. که د توبې څه صورت شو ښه

ورنه وطن به پرېږدو او د خلقو نه مو ځان پټ ساتلو. رسول الله ﷺ سره ملاؤ شو چې زمونږ نه دغسې غلطي شوې ده نو رسول الله ﷺ وې چې نه بلکې تاسو ما طرف ته رجوع کړې ده او زه ستاسو جماعت سره يم. مونږ د رسول الله ﷺ لاسونه ښکل کړل او ورته مو وې چې مونږ خو د مدينې د پرېښودو اراده کړې وه.
قاري معاذؓ د بنی نجارنه وو. په يو غزا کښې شاته شوی وو، چې کله به يې دا آيت شريف ولوستو نو په ژړا به شو. ترجمه: "چا چې د جنګ په ورځ شا کړه چې پينترا بدله کړي يا خپل جماعت ته نزدې شي، پس دا تښتېدو والا د خدائ په غضب کښې دی او ځای جهنم دی چې بد ځای دی"
حضرت عمرؓ به ورته وې معاذه! مه ژاړه زه ستاسو مرجع يم. حضرت سعد بن عبيد په جنګ کښې شاته راغلی وو. حضرت عمرؓ ورته وې چې که شام ته ځې هلته جنګ شروع دی. کافران په زور کښې دي. شايد چې ته د شاته راتلو خپل داغ ځان نه لرې کړې. وې نه زه به هم هغه ځای ته ځم او هغه دښمنانو سره به جنګ کوم، کوم ځای چې مې شا کړې ده. چنانچه قادسيه ته لاړ او شهيد شو.
حضرت ابولبابهؓ مشهور صحابي دی. څوك وايي چې په غزوه بنو قريظه کښې ترې يوه غلطي شوې وه او څوك وايي د جنګ تبوك نه پاتې شوی وو. هغه د مسجد نبوي په يوه ستنه پورې ځان وتړلو، چې ترڅو مې توبه قبوله شوې نه وي ترلی به يم. تر هغې چې رسول الله ﷺ مې پرانزي. رسول الله ﷺ وې چې که ماله راغلے وی مابه د الله نه ده دپاره استغفار غوښتی وی. ده خپله معامله خدائ ته حواله کړې ده چې څو يې توبه قبوله نه وي زه يې څنګه خلاص کړم. څو ورځې داسې بندي وو. د قضايې حاجت دپاره به ښځې يا لور خلاص کړو. نه خوراك، نه څښاك انتهايي کمزوری شو. حضور کريم ﷺ د ام سلمهؓ په کور کښې وو، چې د تهجد په وخت کښې يې توبه قبوله شوه. صحابه ؤو بشارت ورکړو او خلاصول يې غوښتل خو ده وې چې رسول الله ﷺ به مې خلاصوي. هغوی چې مانځه ته راغلل دی يې خلاص کړو.
مسجد نبوي کښې دی ستنې ته اسطوانه ابي لبابه يا اسطوانه التوبه وايي. په رياض الجنة کښې دې سره دوه رکعت نفل ډېر فضيلت لري.

تاسو وکتل چې صحابه کرام ته د جنګ نه تښتېدل او دښمن ته شا کول څومره بدکار ښکاري چې د شرمه پټ ګرځي مخ نه ښکاره کوي. رسول کريم ﷺ ته ځان حواله کوي چې څه راسره کوي او ددی داغ د وينځلو دپاره او توبه وښکلو دپاره ځان په ستنه پورې تړي. بلکې ځان د وطن نه د ورکولو سوچ کوي.

د صحابه کرامو په شان پښتانه هم د جنګ نه تېښته او دښمن ته شا کول ډېر بد او معيوب ګڼړي. پښتانه زلمي خو پخپله په ميدان جنګ کښې بر سر پيکار وي او عملي طور د يوبل نه د وړاندې کېدو کوشش کوي او د ډېرو پېغلو د ډاډ ګيرونو او پېغورنو په جواب کښې وايي:

تورہ به کړم پاتې به نه کړم
که اشاره د خپل جانان و ماته وينه

د زلمو نه زياتې پښتنې پېغلې په دې فکر کښې وي چې سړي مو نامردي ونه کړي په شا نشي او د جنګ نه تېښته ونه کړي. په ټوپك ويشتلی ښه يې خو چې د بې ننګي آواز د رانه شي.

په تور ټوپك ويشتلی راشې
د بې ننګی آواز د رامه شه مئينه

که په بل وطن يې هم، مړ ښه يې خو چې په شانه شې.

په هندوستان دې ځلی جوړ شه
د بی ننګی آواز د رامه شه مئينه

که دښمن ته دی شاکړه نو چې نه وطن ته راشې نه کورته- ښه داده چې قبرستان تـه لاړ شې دلته ماته د همزولو پېغورونه مه جوړوه.

که دې دښمن ته ميدان پرېښود
کور دې ځای نشته بل وطن ته ځه مئينه

خپلـه لاليـه بـې ننګـي لـه دِ سـاتينه   په خپل وطن کښې شهيد نه شوې
دبـې ننګـی نـه دې زه ځـه خبرومـه   پـه شـملکی د شـوم غلطـه

توره به نه کړې نور به څه کړې   چې د شوده د پښتنې رودولي دینه
توره به نه کړې نور به څه کړې   چې سپین مړوند د زه تر سر لاندې کومه
ټکرې ټکرې په کټ کښې راشې   د بې ننګۍ آواز د رامه شه مئینه
جانان جنګ کښې په شا نه شې   چې د همزولو مې رانه شي پېغورونه
چې ته په جنګ کښې په شا راغلې   کور دې ځای نشته قبرستان ته ځه مئینه
چې د بې ننګو یارانه کړي   آخر به خوار شي که باچا د جهان وینه
د تورې داغ به دَ خدائ روغ کړي   د تهمت داغ به دِ تر مرګه پورې وینه
د ټوپك ډز رابانـدې وکړه   خو چې رانه کړې د بې پتو پېغورونه
د مړوند خوب مې پرې حرام دی   چې په میدان کښې له دښمن تېښته کوینه
د نامردې احوال د راغی   که په ډلی یې پسې ښکته ځه مئینه
زړګیه داغ به درله درکړم   که د بې ننګ یار د بیا اوکړه پوښتنه
که په میوند کښې شهید نه شوې   ګرانه لالیه بې ننګي له دِ ساتینه
که د په جنګ کښې میدان پرېښود   کور د ځای نشته درنه مخ به اړومه
که د دښمن ته میدان پرېښود   کور د ځای نشته بل وطن ته ځه مئینه
ما وې په ننګ به یار پکار شي   بې ننګه یار په وخت د ننګ اوتښتېدنه
یار مې د تورو جنګ کښې ګیر دی   دا نامردي ده چې زه کور کښې ناسته یمه

د پښتنو غیر قامونو سره جنګونه:

د پښتنو د غیر قامونو سره د جنګ لوئ تاریخ دی، چې دلته یې د تفصیل ځای نشته مونږ ورته صرف اشاره کوو. د مغلو سره د یوسفزو لوئ جنګونه شوي د مغلو ډېر جرنیلان د یوسفزو په مقبروکښې پراته دي او مغل د دښمن یو استعاره وه، لکه چې وایي:

یوسفزئی وه مغله نه وه
ځکه یې ځویه شهزاده راوړی وونه

او بیا خوشحال خان ختك او د مغلو جګړې خو د هغه د دیوان حصه ده.

د افغـان پـه نـوم مـې وتړلـه تـوره
ننګیالی د زمانې خوشحال ختك یم

پـس ددې نـه دی دا عـزم
د خوشـحال د خـاطر جـزم
یـا نیـولی مـخ مکـې تـه
یـا مغلـو سـره رزم

او وصیت یې وکړو چې داسې ځای مې ښخ کړی چې د مغلو د اسونوګرد هم رابانديې نه راځي. اوکوم ځوی یې چې مغلو سره ملاو، وی چې که قابو موکړو نو نیم مې سرته او نیم خپو ته اوسوزوي.

د سکانو پر لنډه بادشاهي کښې پښتانه د سید احمد شهید ملګری وو چې تر آخر وجنګېدل. ارباب بهرام خان د سکانو جرنیل هري سنګهـ نلوه د برج هري سنګهـ په مقام قتل کړو. برج هري سنګهـ د اسلامیه کالج خوا کښې قبلې طرف ته ځای دی چې نن سبا ورته بورډ وايي. د اسلامیه کالج انګریز پرنسپل به په برج هري سنګهـ کښې د کالج په بنګله کښې اوسیدو اوس هم شته.

د کړه مار په سر لوګی شول
پښتنو واچول سکانو ته لاسونه

حضرت سید احمد او مولانا اسماعیل بالا کوټ هزاره کښې د سکانو سره جنګ کښې شهیدان شول. مزارات یې هم بالا کوټ کښې دي.

د هندوانو سره د ډېرو معرکونه علاوه پښتنو د کشمیر په جنګ (۱۹۴۷) کښې پوره پـوره حصـه اغسـتې وه. د ۱۹۶۵ او ۱۹۷۱ پـه جنګونـوکښـې پښـتانه باقاعـده د پاکستاني فوځ حصه وه. خو هندو ته د پښتون غصه کمه شوې نه ده.

پښتون په سر د دنیا شته دی
هندو به څنګ په کشمیر نور وکړي ظلمونه

هندو ظالمه ځان تيار که
د پښتنو زلمي به غواړي جوابونه

هندو د پښتون په نظرکښې څه دی. دا لطيفه واوره. په مردان کښې د يو سړي د کوچوان سره څه جګړه راغله. کوچوان يې څو څپېړې وواهه او سړی روان شو. کوچوان ته چا اووې چې هندو ووهلې هغه وې ښه دا هندو وو. ورمندې کړې او ښه يې اوډباو.

پښتون په سر د دنيا شته دی
هندو به څنګ په کمشير نور وکړي ظلمونه

د پاني پت قيصې د يادکړه	ظالمه تانه جوړ هير شوي تاريخونه
د هندوګي په غلامی کښې	دا دکشمير عالم ژړا فريادکوينه
نن د هندو ظالم د لاسه	د اسلام خوينديې المدد نعرې وهينه
هندو ظالمه ځان تيارکا	د پښتنو زلمی به غواړي جوابونه

پښتنې پېغلې خوشحالېږي
چې زلميان کاندې د انګريز سره جنګونه

انګريزانو په هندوستان بشمول پښتونخوا باندې په سوونوکلونو حکومت کړی. او حکومت هم داسې چې په تمام دنيا د تاج برطانيه حکومت وو. چې نمر پکښې نه پريواته. هندوستان خو مکمل فتح شو خو پښتنو سرَ ښکته نه کړو او تر اخره وجنګېدل. په دې وطن کښې د انګريزانو د ټولونه زيات جنګونه د پښتنو سره شوي دي او چې کله کامياب نه شول، نو بيا يې ددې وجوهات معلومولو دپاره او دخپل خفت پټولو دپاره بې شماره کتابونه وليکل، چې دومره لوئ حکومت د اسبابو سره مالامال يو موټی خلق ولې نه شي قابوکولی. نن سبا هم د دوی ليکل شوي کتابونه د معلوماتو غټه ذريعه ده. د پښتنو د طرفه څه داسې معلومات نشته. دا کتابونه اکثر انګريز فوجي افسرانو ليکلي. پښتانه د انګريز د وينو تږي دښمنان وو او انګريز د

پښتنو د ويني. په داسې حالت کښې چې يو دښمن د بل دښمن باره کښې ليکل کوي نو د هغې د غير جانبدارى به څه معيار وي، خو سره ددې پښتنو داسې د بهادرى او زړورتيا او حېران کن کارونه کړي، چې انګريز يې په ليکلو باندې مجبوره وو.

اول بـه د انګريزانـو سره د جنګونـو بـاره کښـې د پښـتنو نقطـه نظـر اوګورو چې دوي ورته په کوم نظر ګوري. د ټولونه اول د فرنګي حکومت چلينج کوي او وايي:

مسلمه پاسه ځان تيار که
ستا په وطن کښې فرنګی حکم کوينه

بيا غيرت ور اچوي چې د انګريز لاره اونيسه مخکښې تلوته يې مه پرېږده.

چرته لندن او چرته چترال
بې ننګي زور شوه فرنګی چترال ته ځينه

د امبيلې پـه کنډاو بـاندې نهـه سـوه انګريزي فـوج مړ شو. نو هندوستاني سپاهيانو پرې قتل ګړه نوم کېښود.

ددې جنګ حال داسې بيانوي:

د امبيلې په کنډاو ګي کښې
ګورا پراته سستې پټې ببر سرونه
د امبيلې په کامبيلو کښې
ګيدړ ماړه شو د ګوروا‌ؤ په لړمونونه

چونکه دا جنګ د سيدو بابا چې په باباجي مشـهور وو د سر پرستی لاندې شوی وو چې سواتيان بونيری او مهمند پکښې شريك شوو. نو بابا جي تـه دعاګانې کوي او صفت يې کوي:

د خدائ رحمت په بابا جي شه
چې يې فرنګ په کلکته اولګاونه
بابا د تورې دې لوګی شم
ستا د همت تورې کفار ورك کړي دينه

او په عالمي جنګ دوم کښې پښتانه خپله مرسته د انګريز خلاف د جرمني سره ښايي

جرمنه بس که صلح وکړه
ډيرې د کونډې کړي ښيرې درته کوينه

پښتني پېغلې خوشحالېږي چې ځلميان کاندي د انګريز سره جنګونه
د سنګر خواته شي غازيانو د فرنګي ګولې وروېږي په شکورونو
د فرنګي بچي قيمه شه چې يو آشنا د بل آشنا جدا کوينه
که د فرنګ چورنګ چورنګ کړې د قام د ننګ نه چې په ځنګ نه شي مئينه
د چمني خان طاقت ځرګند شو ځکه انګلينډ کښې فرنګيان ژړا کوينه
د امبيلې ګيدړ ښاربه شو خوراك يې څه دی دَ ګورو لړمونونه
تاسو په ښکته نظر وکړئ فرنګي خوار شو د کلمو پټکي تړينه
په ملاکنډ يې توپې چل کړې ترڼنګ مالا پوري يې ونوستل ګلونه
باباجي بل زوی دې وشه د کلکتې پورې د خپل کړ وطنونه
بابا د تورې دې لوګی شم تا د غماز په سر کښې جوړ کړ پرهرونه
بابا د تورې نه دې زار شم زه د وطن شپې ستا په توره تېرومه
د خدای رحمت په بابا جي شه چې يې فرنګ په کلکته اولګاونه
بس که په دغه فيصله کړی وطن تر واخلې انګريز وشړې مئينه

د پښتنو او د انګريز د جنګونو واقعات:

يو طرف برټش ايمپائر وو چې په تمام دنيا يې حکومت کولو چې نمر پکښې نه پريوتو. فوج دولت ذرائع او نوې جديد اسلحه بې حسابه وه. او بل خوا ته يو موټی پښتانه بې سرو سامانه، زنګنی تورې، بوړی او پيتی توپك وو. نه ورسره اسونه نه خچرې نه راشن نه ميس نه د کومك څه اميد نه د چهاونيانو پناه ګاهونه، خو د مضبوط ايمان او د وطن په مينه مالامال وو. شهادت يې ارمان وو. سر ورکول ورته آسان خو سر ښکته کول ورته ګران وو.

دا واقعات د انګريزانو فوجي افسرانو د ليکلي شوي کتابونونه اغستې شوي دي. په

دې کښې د چا پښتون يا هندوستاني مسلمان څه مداخلت او حصه نشته. دا د پښتنو د بهادرۍ او زړورتيا شاهکار دی.

چمبرلين وايي: چې په 1859-60 کښې لس دولس وزير په غرکښې مورچې نيولې د پوره فوجي کمپنۍ مقابله يې کوله. او چې کارتوس ورسره ختم شو نوکاڼو ته يې لاس کړو. د وزيرو په لاس کښې کاڼي د خطرناك ميزائل نه کم نه وو. ډير سپايان زخمي شول او دوی تورې په لاس مونږ پسې راکوز شول په نورو ډېرو موقعو دوی توره په لاس په رنړا ورځ په فوج حملې وکړې.

د ۱۸۶۳ء په جنګ کښې د امبيلې په کنډاؤ باندې نهه سوه سپايان مړ شول چې د کنډاؤ نوم قتل ګړه کېښود.

چمبرلين (N.B.Chamber lain) ليکي: چې دا زړور جنګجو قبائل چې لاس په لاس جنګېږي اوس د دهوکه بازۍ او سياست نه کار اخلی.

هغه ليکي: چې په ۱۸۹۱ء کښې په دويم ميرانزی جنګ کښې پښتنو خپل څاروي څر دپاره روان کړي د فوج خواته راغلل زمونږ فوجيانو سره يې ګپې لګولې خاندل يې او ناڅاپه يې د بډونه چاقوان را اوښکل او په فوجيانو يې شروع وکړه او د لسو نه زيات فوجيان يې مړکړل. سکانو ددې ويرې نه ډز نه کاوه چې چرته غوا ونه لګي.

چمبرلين ليکي: چې په ۱۸۹۴ء کښې د محسودو په جنګ کښې برټش فوج ډېر بد بد اووهلی شو. دښمن دا دومره منظمه حمله په احتياط خاموشۍ په صحيح ټائم او دومره په تيزۍ وکړه چې سړی حيرانېږي د جنګ ماهران پوهېږي چې باقاعده ريګولر فوج داسې کار نه شي کولی نو د غير منظم غير تربيت يافته کسانو ته به څومره ګران وو. دوی خپل آخري شپږ سوه ګز د غر اوکاڼو سفر په درې منټه کښې اوواهه.

د انګريز د خپلې ناکامۍ ژړا او توجيه:

هرکله چې سره د دومره لوئ حکومت او فوج انګريزانو کاميابی بيانه مونده، نو په برطانيه کښې هم سوالونه اوچت شو، چې دا ولې، نو د هندوستان انګريزي افسرانو د چال بازۍ او حيله بازۍ نه کار واخست. د چمرکنډ په جنګ کښې يې څو ملکان په

دې راضي کړل چې مونږ به تاسو سره لاړ شو يوکوټه به اوسيزو چې مونږ د دښمن مرکز اوسيزولو او جنګ به ختم کړو. د ملکانو په سر پرستی او حفاظت کښې څو انګريزان لاړل او د څاروو د جنګي يو څپر يې اوسيزلو او برطانې ته يې اطلاع او فوټوګان ولېږل چې د مجاهدينو مرکز مو اوسيزولو.

هم دې طريقې باندې کپتان نيول د خپل د ناکاميابۍ خفت پټولو دپاره او د فوج دپاره د جواز لټولو په غرض د پښتنوکمزورتيا ګانې د هغوی مضبوطيا ګانې حساب کړې او خپله ژړا يې وکړه.

کپتان نيول (H.L-NEVILL) خپل کتاب (۱۹۱۲ء) کښې ليکي: چې د پښتنو سره د سرحدي جنګ څه خاص خصوصيات دي، چې د نورو جنګونونه مختلف دی. ۱) شب خون د دوی د جنګ يو عامه حربه ده. ۲) په واپسی کښې د فوج په آخري حصه باندې حملې د سخت مصيبت باعث وي. ۳) قبائلو دا ثابته کړې چې د نپولين فارمولې مطابق اخلاقي اقدار جذبه او همت د مادي اسبابو او تعداد نه زيات زورآور دی. ۴) مونږ وکتل چې قبائلو سره د يورپ جوړه شوې نوې جديد وسله موجود ده ۳۰۳ ټوپك خو هرچا سره وو دا وسله د مسقط، ايران په لار افغانستان ته او بيا قبائلو ته را رسي. د تاج برطانيه د دومره لوئ حکومت او طاقت سره دا وسله قبائلو ته د رسيدونه نه شي بندولی. څه وسله يې د فوج نه پټه کړې. ۵) د قبائلو جنګ د ګوريلا جنګ خصوصيات لري. نه د دوی کانوائے شته نه سپلائی لائن نه ټرانسپورټ چې حفاظت يې وکړي د هر مجاهد راشن د هغه په شا دی. په منټونو کښې تتربتر شي او په منټونوکښې راغونډ شي او هم دا د دوی طاقت دی. ۶) د نوې وسلې سره دوي د لرې نه په فوځ ډزې کوي او د لاس په لاس جنګ نه ځان ساتي. ۷) د فوځ نوې وسيله د ډيفنس دپاره ډيره ښه ده او مونږ ته ضرورت د حملې د وسلې دی. په دې وجه قبائل برې کوی. ۸) ترڅو چې پښتانه د ملا د اثر نه لاندې دي او د انګريزانو جنګ کښې خپل باهمی اختلافات هيروي تر هغې به دا جنګ ډېرګران او د ډېر خرچو والا وي.

پښتونخوا د انګريز جهنم :

دې کښې شک نشته چې انګريزانو په هندوستان بشمول پښتونخوا باندې په سوونو کاله حکومت وکړو. خو په هندوستان کښې چې د دوی کوم رعب داب او دبدبه وه او په کوم ټمبش عشرت او آرام کښې وسېدل. دغسې رعب داب او آرام ورته په پښتونخوا کښې يو ورځ هم نصيب نه شو. بلکې همېشه په دې ويره کښې وو چې کله هم د خپل خان نه بلکې د خپل ورور عزيز د بدل اغستو دپاره په ما حمله کولې شي او وخت په وخت دا سلسله هم دغسې روانه وه. انګريزانو د عجب خان آفريدي د کور تالاشي واخسته نو عجب خان په دې وجه چې زما دکور پرده دې ماته کړه په بدل کښې دکوهاټ چهاونی د مېنځ نه د انګريزکماندنټ لور "مولی ايلي" اغوا کړه. پښتون چپړاسې خپل بد زبان کنځل مار افسر په دفترکښې بند کړو او داسې يې وغرباؤ چې د بوسو سخی ترې جوړکه.

او دا لاندې واقعات خو د انګريزانو د خپل لاس ليکلي شوي ثبوتونه دي، خو افسوس په دې خبره دی چې انګريز خو د قانون په جامه کښې د خپل مړي بدله هم واخسته او د هغه نوم او احوال يې د تاريخ په پاڼو کښې خوندي هم کړل. خو د هغه غازي او مجاهد نه نوم شته نه نشان چا چې دا انګريز وژلی وو. که پخوانو پښتنو څه نه وو کړي نو نن د لويو ادارو پروفېسرانو دانشورانو او سکالرانو هم څه توجه ورنه کړه.

دا خو صرف يو مشت نمونه خروار دی، چې نور به څومره داسې واقعات شوي وي.

په ۱۸۵۳ء کښې فريډرک ميکسن د يو جنوني مسلمان د لاسه قتل شو. د پېښور ډي سي کرنل ميکسن د خپلې بنګلې په برآمده کښې مړ کړی شو. په ۱۸۶۳ء کښې په پېښور کښې ليونهتل (Leowenthal) خپل سکهـ څوکيدار پخپله برآمده کښې ويشتو. په ۱۸۹۱ء کښې د محکمه تعميرات يو افسر کيلی (Kelly) سره د يو سوار او څلور سپاهيانو په دره ګومل کښې دکواليری کوتل په خوا کښې محسودو قتل کړل.

په ۱۸۹۶ء کښې يو ځوان افسر چې آس يې د ريل ډبې ته خېژاوه يو غازي په چاقو اوواهه. په دې وجه چې زما ورور يې په جنګ کښې وژلی وو. په مېچنی کښې يې ميجر ميکډونلډ په بد مرګ مړکړو. يو غازي دوه انګريز افسران هغه وخت مړکړل

چې سحر د شبقدر قلانه بهروتل.
لفټننټ کرنل کرامت الله خان کمانډنټ ساوتهـ وزيرستان مليشياء په داستان پارينه کښې ليکي: چې په دسمبر ۱۹۰۴ء کښې پولټيکل ايجنټ کپتان بورلک يو محسود سپاهي په خپله برآمده کښې مړکړو. په فروري ۱۹۰۵ء کښې مانبام کمانډنټ لفټننټ کرنل هارمين يو محسود سپاهي په وانا آفيسر زميس کښې وويشتو. په جنوري ۱۹۱۴ء کښې په يو فنکشن کښې د خټك ډانس په دوران يو بيټني سپاهي کپتان ټيلر وويشتو، په اپريل ۱۹۱۴ء کښې په ټانك کښې ميجر ډاډ خپل سابقه اردلی اوويشتو ورسره کپتان بورن اوګاونډی لفټننټ هيکي هم وويشتو. په ۱۹۱۴ء کښې محسودو د سورکئ پوسټ محاصره وکړه کمانډر ميجر هيوز په کښې مړ شو.
د مغل کوټ نه د يو ميل په فاصله کپتان برن مرډرك، کپتان ټرپل لفټننټ ليز او لفټننټ ميکرائی هلاك شو. د مغل کوټ نه ۳۲۰ ټو پکمار روان شو. فورټ سنډيمن ته صرف ۹ ورسيدل دا ګرانه شوه چې لارکښې څوك مړ شول او څوك وتښتېدل.

پېښور د شهيدانو په وينو سمسور دی:

پښتنو که انفرادي طور انګريزان وژلي، نو د خپل ځان، خپل کور د بې عزتی په بدل کښې او يا د خپل ورور عزيز د مرګ په بدل کښې کړی دی. خو انګريزانو چې ښه سوچ سمجهـ او باقاعده منصوبه بندي سره د پښتنو کومه تباهي کړې ده، او په کومه بې دردی بې رحمی او بې عزتی سره دا غازيان او مجاهدين وژلي دي. د انسان غوني زيګ شي او وينښته يې اودرېږي چې دومره ظلم هم څوك کولی شي.
د انګريز د خپل خولې بيان دی چې ډېر يې پهانسي کړل چې زيات پکښې علماؤ وو د پېښور پريډی ګراونډ دی، څه کسان يې په ګولو ويشتلو دپاره ترلي دي، څوك يې د توپونو په خُلې پورې ترلي دي.
اووه اته زره فوجيان او د خواوشا کليوال چاپېره تماشې دپاره ولاړ دي. د فوجيانو دپاره تماشا کتل لازم دي. توپ خلاصېږي چاپېره تماش ګير لاسونه پړقوي او د مجاهد بدن بوټی او وينې آسمان ته بره ځي او بيا يوه يوه بوټی راغورزېږي، دا څوك دي دا

هغه کس دی چې په خپل دين او وطن يې ننګ کړی دی.

به جرم عشق تو ام می کشند و غوغا ئے است
تو نيز بر سر بام آ که خوش تماشائے است

ترجمه: ستا د عشق په جرم باندې مې وژني لويه غوغا ده. ته هم بره راشه اوګوره ښائسته تماشا ده.

دا غازيان او مجاهدين خاورې وو او تورو خاورو سره خاورې شو. کم ازکم دومره حق خو د دوی په ما باندې شته چې د دوي نوم احوال اته پته معلومه کړم او د تاريخ په پاڼروکښې خوندي کړم.

که پښور ته دګلونو ښار وئيلی شي نو زه به دا اووايم چې دا ګلونه هم هغه ګلونه دي، چې ددې شهيدانو په وينو سېراب شوي دي. قلندر مومند څه ښائسته شعرونه وئيلی دی:

زما وينه د هر ګل په رګ کښې زغلي
په چمن باندې احسان زما د وينو

که ګلشن زما په وينو تازه کېږي
هر ازغې دې هم زما په زړه کښې مات شي

د پښور وطن جنت دی
پښور خو پښور دی کنه

د ۱۸۵۷ء د آزادی په جنګ کښې د پښور مقامي فوج نه په ډېر چل او دهوکه وسله واخستې شوه. تقريباً درې سوه کسان سره د صوبيدار ميجر د فوج نه وتښتېدل. شپږ شلې کسان سره د صوبيدار ميجر اونيولو شو. صوبيدار يې د پښور په پريډې ګراوند کښې د اووه اته زره سپايانو او د خواشا کلو د خلقو په مخ کښې پهانسي کړو د پښور په دغه ګراوند کښې شل کسان پهانسي شو. ۴۵۹ په ګولو چاند ماري شو او د فوج د مونټېنئر (Moun tinair) ۴۱ فوجيان په توپو والوزولی شو.

❖❖❖

دویمه حصه

همزولے، پیغلې، زلمے

د پېغلو زړونو ته سلام دی
چې د جانان دپاره مور او پلار پرېږدینه

همزولو، زلمو، پېغلو په ټپوکښې یو بل اکثر په یار، اشنا، جانان، لالي او لیلٰی باندې مخاطب کړي دي. د خاوند په نوم خطاب کمتر راغلی او چرته چې راغلي نو د هغې اشاره خدائ طرف ته ده.

خاونده دا به دِ رضا وه
همزولے گل شوے زه کلی ولاړه یمه
خاونده بیا ته پسرلی کړې
چې هلکان او جونه برغ گلوته ځینه
خاونده ما بیماره مه کړې
جانان بیمار کړې چې پوښتنې له ورځمه

په پښتون معاشره کښې د ښځې یا جینئ خاوند مونږ ته ښه لګي او قابل قبول دی خو د ښځې یا جینی یار یا آشنا مونږ ته ښه نه لګي او معیوب راته ښکاري. حالانکه دا حقیقت دی چې خاوند د ښځې یار، اشنا، جانان او لالی دی. او ښځه د خاوند لیلٰی ده. اصل کښې کوم دوه کسان چې د یو بل سره محبت لري د یو بل یاران، اشنایان، لالیان او جانانان دي، په دې وجه بعض وخت داسې خطاب ښځو ته هم شوی دی.

زمکې سلام به درته وکړم
چې خاورې نه کړې د جانان شینکي خالونه
د یار په حسن جواري شوه
زه جوارگر د جانان سرې شونډې گټمه
د یار په غیږ کښې مې حلال کړې
چې تورې زلفې د یار سرې په وینو شینه
د یارانې لائق یې نه یم
د یارَ دَ در دَ غلامانو غلام یمه

د جانان زلفې ښاماران دي
زه يې خوړلے يم علاج يې نه راځينه

دې کښې شك نشته چې دَ واده نه اول د هلك جينۍ يو بل ته خطاب د يار، جانان، اشنا لالي او ليلىٰ په نوم مستعمل دي او دا يو حقيقت مسلمه دی، خوکه تاسو اوګوری نو د واده نه پس هم دا مخاطبت ښکارېږي اوکورودانې مېرمنې يې د خاوندانو دپاره استعمالوي. ددې ټپونه ښکاره معلومېږي چې دا د واده نه پس د وخت خبرې دي.

د پېغلـو زړونـو تـه سـلام دی | چې د جانـان دپاره مـور او پـلار پرېږدينـه
ولـې دلګيـر ولاړ يـې يـاره | دلګيـره زه يـم چـې د پـلار دکـوره ځمـه
کـه تـور اوربـل مـې ميراتيـږي | پـه وطـن جنـګ دی جانـان نـه منع کومـه
نـن پـه جـاموکښـې نـه ځـائيږم | يار مې ځي جنګ له زه يې توره سپينه وومه
مبـارکي راکـړی عالمـه | د تهمتونـو سـره يـار قبولـه کړمـه
يـو مـې ايمـان يـو مـې زبـان دی | يو مې جانان دی ځان به خاورې ايرې کړمه
شـال د شـړی مسـاوي نـه وي | جانـان زمـا مسـاوی نـه دی مـړه دِ شـمه
کـه تـه نيست مند يې زما يار يې | دَ دولتمنـد پـه سـر بـه خـاورې واړومـه

پښتنې مېرمنې د خاوند نوم نه اخلي، بلکې د مشر زوئ يا لور په نوم ورتـه خطاب کوي چې د فلانـي پـلار او سړی د خپل ښځې نوم پبلك کيدل ډېر معيوب کنړي. حالانکه د اسلام پـه رو سره دا معيوبـه نـه ده. د حضـورکـريم ﷺ د بيبيـانو او لـونړو نومونـه هرچاتـه ښکاره دي او دهغسـې د صحابه ؤ د بيبيانو پـه قـرآن کـريم کښـې هـم بعضې نومونه راغلي دي.

د زلمو او پېغلو د يو بل سره د تعلق دوه شکلونه يا دوه دورونه دي. يو دور د واده نـه مخکښې اوبل د واده نه پس.

د واده نه مخکښې څه نه څه تعلق ضرور وي ورنه جان پيچان، پېژندګلو او د يو بل د خويونو نه ضرور خبر وي. وجه يې داده چې ډېرو خاندانونوکښې د ترونو ځامن لونړه په يوکورکښې اوسيږي او لوئيږي. دويم د ماماګانو او تروريانو ځامنو لونړو سره د

رشته داري په وجه ډېر نږدې تعلق او تګ راتګ وي. د غيرو هلکانو او جينکو د يوبل سره د ملاويدو موقعې سېوا د غم ښادی نه ډيری کمی وی.

خو بيا سکولونوکالجونو او يونيورسټيانو دغه مواقع سېوا کړی او نن سبا خو موبائيلونو هغه د مېنځ ديوالونه اوغورزول. دا دور په دې شان که يو طرف د ښځې او خاوند د انتخاب موقع په لاس ورکوي نو بل طرف ته يې د غلط ناجائز تعلقاتو او غلط انتخاب د لارونه ټول بندونه او زنځيرونه هم لرې کړل. څنګه چې دا دور د هلك جينی د امتحان او ازمائش دور وو هغه ازمائش او امتحان نور هم زيات شو.

د واده نه پس د قرار او سکون دور دی. د نکاح په برکت دواړو ته د مذهب او شريعت په رو سره هغه خدائي سرټفيکيټ ملاؤ شي چې کوم کارونه به ګناه او عيب شماريدل هم هغه اوس نيکي او ثواب حسابيږي. الله تعالیٰ فرمايي: ﴿هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ﴾ "دوئ يعني ښځې ستاسو جامه ده او تاسو د دوئ جامه يئ" جامه په بدن پورې لګيدلي وي. دا فرق يې هم ظاهر نه که چې بدن کوم دی او جامه کومه ده.

لباس د بنده پرده پټوي چا چې نکاح اوکړه نيم ايمان يې محفوظ کړو. دا د ښځو سړو دواړو دپاره ده. بهر غيروته دکتو نه محفوظ او په سکون شو.

باب: ۱

همزولي او همزولتيا

خدايه ته خپل همزولي راکړې
که نيستي راغله په خندا به يې تېروم

همزولتيا د الله تعالیٰ د نعمتونونه يو لوئ نعمت دی چې چاته حاصل وی. همزولي، ملګري، دوستان، هم عمر، هم عصر، همدم هغه هم معنی الفاظ دي چې ښکاري بدل، خو مطلب ترې يو تن دی، چې د يار اشنا، جانان او زوج په نوم هم يادېږي. د انسان ضمير د انس او الفت نه جوړوي، ځکه الله تعالیٰ د آدم عليه السلام د زړه د ساتلو دپاره حضرت حوا عليها السلام پيدا کړه. قرآن کريم هم د صاحب يعنې ملګري ذکرکوي او وايي ﴿ اِذۡ يَقُوۡلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحۡزَنۡ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ ﴾

هرکله چې اووې خپل ملګري ته خفه کېږه مه خدائ مونږ سره دی.

دا د جبل ثور واقع ده چې کله د هجرت په وخت کښې رسول الله ﷺ سره د حضرت ابوبکر صديقؓ په غار ثورکښې پټ وو اوکفار د دوی په تلاش کښې د غار ثور خُلې ته را ورسېدل، نو حضرت ابوبکر صديقؓ پرېشانه شو. هسې نه چې رسول الله ﷺ ته څه نقصان ورسي، نو رسول الله ﷺ ورته وې چې خفه کېږه مه خدائ مونږ سره دی. او ځکه عالمان وايي چې د حضرت ابوبکر صديقؓ په صحابيت باندې قرآن شاهد دی. د هغه صحابيت نه انکار د قرآن نه انکار دی.

په دين اسلام کښې د پېغمبر نه پس د ټولونه لويه مرتبه د صحابي ده. صحابي هغه دی چې د اسلام په حالت کښې د رسول الله په صحبت کښې پاتې شوی وي دا دومره لويه درجه ده چې اويا کروړه اولياء الله د يو ادنٰی صحابي برابر نه شي کيدی. د عبدالله ابن مبارك نه چا تپوس وکړو، چې په حضرت معاويهؓ او حضرت عمربن عبدالعزيز کښې د چا مرتبه اوچته ده. عمر بن عبدالعزيز هغه کس دی چې د زهد و تقویٰ او عدل و انصاف په وجه ورته عمر ثاني وئيلی شي خو صحابي نه دی، نو جواب يې ورکړو، چې عمر بن عبدالعزيز به هغه ګرد دکوم ځای راوړي چې د رسول الله ﷺ سره په جهاد کښې د حضرت معاويهؓ د اس په سپېږمو کښې تلی وو.

د حضرت بلال حبشيؓ د مرګ وخت چې نزدې شو نو ټبر يې ژړل او دی په خپله خوشحاليده او شعرونه يې ويل، چې محمد رسول الله او د هغه ملګرو سره به ملاقات کوم. حضرت سعد ابن ابي وقاصؓ د حضرت سلمانؓ عيادت ته لاړ. حضرت سلمانؓ په ژړا شو. حضرت سعدؓ ورته وې ولې ژاړې؟ ته خو به خپلو ملګرو سره ملاو کېږې. د حضور عليه السلام سره به دې په حوض کوثر باندې ملاقات کېږي. رسول الله ﷺ ستانه خوشحاله تلی دی.

هغه دوست او ملګري ډېر خوږ وي چې ستا سره په سکول، کالج، يونيورسټۍ يا مکتب کښې په يو کلاس کښې پاتې شوي وي- يا ستا د هاسټل يا کمرې ملګري وي. د هم سبق او رومېټ نه بل خوږ نوم نشته او يا په يو دفتر يا اداره کښې يوځائے پاتې وي. دهغسې د يو استاد شاګردان د يو پير مريدان دکلي او د چم ګاونډ حال دی. د دوی نه د جدا کېدو په وجه د بنيادم په ژوند باندې اثرات وي. انسان هغه ماحول او هغه ياران دوستان غواړي او چې هغه نه وي، دی دلګير وي. ډاکټر شېر بهادر د خېبر ميډيکل کالج پښور د پيتهالوجي چېرمېن چې کله رټائر شو نو حيات آباد کښې يې کور په کرايه واخست. د کالج او يونيورسټي کېمپس ماحول او ټول ياران دوستان پاتې شو: دی دومره پرېشانه شو او اثر پرې وشو چې خپل کور به ترې خطا شو. اسلاميه کالج سره جوخت کينال ټاون کښې خپل کور جوړ کړو او لا پورې مکمل نه وه چې شفټ شو ورته. زوړ ماحول او زاړه ياران ملاو شو. سړی ټهيک ټهاک شو. پروفېسر مغنی صاحب مهاجر وو د سائيکالوجي چېرمېن وو. د رټائرمنټ نه پس يې دلته د پاتې کېدو اراده وه. خو د بال بچ نه مجبوره شو کراچۍ ته لاړ. ياران يې دلته ووکراچۍ ورته پردۍ وه. غريب په کال کښې دننه وفات شو. د جيالوجي ډيپارټمنټ سپرنډنټ د رټائرمنټ نه پس حيات آباد ته شفټ شو. د حال احوال تپوس مې ترې وکړو. وې چې د خوی ملګري او ياران يونيورسټي کېمپس کښې پاتې شو. حيات آباد کښې خفه دی. خبرې بند کړې خبرې نه کوي خاموش ناست وي.

دا انسان دی هغه مرغان او ځاروي هم چې د خپل سيل او ملګرو نه جدا شي نو خفه وي. فرياد کوي رمبارې وهي.

زمونږ یو دوه ملګري امریکې ته د تعلیم په عرض په سکالرشپ باندې لاړل. امریکه کښې یې زړه اونه لګېدو د خپل ماحول او یارانو یادونه پرې دومره غلبه شو، چې د واپس راتلو مطالبه یې وکړه. واپس راتګ د پروګرام د مشر دپاره هم بدنامي وه. هغوی کوشش وکړو چې دوی بلې یونیورستې او بل ځای ته بدل کړي خو چې واپس لاړ نه شي. په یوکس باندې خو دومره خفګان راغی چې مری او پړسیدې د خفګانه هسپتال کښې داخل شو او آخرکار یې ځان پېښور ته را اورساوو. دوه ورځې پس د پروګرام مشر د امریکې نه پېښور ته راغی نو په ایرپورټ کښې یې وې چې اول د هغه تپوس له هسپتال ته لاړ شو، خلقو ورته وې چې هغه خو پېښور ته د را رسېدو سره ټهیك ټهاك شو. خپل کورکښې ښه خوشحاله په آرام ناست دی. هغه بل کس ته هغوی ډېرې بهانې وکړې او د پاتې کېدو ترغیبونه یې ورکړل، چې آخر ورته هغه اووې چې هله به مې واپس لېږې چې لېونی شم جامې او باسم بربنډ په سړکونو منډې اووهم، چې واپس راغی د وطن باد پرې اولګېده او خپل زاړه یاران یې په نظر راغلل نو زړه یې په قرار شو. ربنتیا دي چې شاعرانو هسې نه دي وئیلي:

اے ذوق کسی ہمدم دیرینہ کا ملنا
بہتر ہے ملاقات مسیحا و خضر سے

جو بادہ کش تھے پرانے وہ اٹھتے جاتے ہیں
کہیں سے آب بقائے دوام لا ساقی

حافظ الپوري چې د خپلو همزولو، هم عصرو ملګرو دوستانو کوم ذکر کړی او په هغوی پسې یې کومه ژړا کړې ده. شاید چې بل چا داسې کړې وي. د هغوی خوبیانې بیانوي ارمان پسې کوي او ژاړي چې دا زما دوستان وو ایا دا زما ژړا په ځای نه ده او وایي:

زما یادېږي په ګفتار په کردار ښکلي یاران
جبین کشاده لب خندان په خوئ پسند لي یاران
د دیدن یافت یې په هیڅ وجه راته نه شي لیدے
مګر په خواب کښې ظهور وکه هغه تلي یاران

که روئے زمین پسې پره کرمه مونده کله شي
لکه شب قدر له ما غېب شو ډېر ښاغلي یاران
د نیاز ډیوې یې بلیدې په نور یې ملك روښان وو
تنها روان شو په اولس روئیدار منلي یاران
تا زیان اسونه یې زغلول زر یې پګړې تړلې
وګور ته کوز شو سر سر تور خپې ابله پائي یاران
لکه هلال یې د اختر هرڅوك دیدن ته لیوال
وینو تاراج کړه د مرګي خزان زپلي یاران
چې به د یار په تازګي تازه دګل په شان وو
هغه مرګ مړاوې کړه مانور نه دي مونډلي یاران
پائماله وه یې غر او سمه په دبدب په شوکت
بې دمه پرېواته په ځای د خاورو ځلي یاران
په بورجلونو یې نورګرځي سپور له شناخت د غوړو
له استاني یې بېرته ځي محروم رټلي یاران

حافظ وایي چې کله مې دا یاران ژوندي وو او مجلسونه ګرم وو نو زما د عېش او عشرت او عزت دور وو. هره وینا مې لعل او ملغلرې وه. دښمن مې خوار وو او د تنزل لرې لرې پورې څه نښه نه وه. په هر چمن کښې زما چغار وو. ساقي جام په لاس ولاړ د مطرب نغمې وې او چاپېره سره ګلونه وو. ګوره چې دا بیان په کوم خوند او ترنګ کښې کوي:

چې مېشته مې د مهرویو په دیرے وه
وظیفه مې د اقبال د ثمرے وه
د عشرت مے مې نوشل د بخت له جامه
عجب صافه مې سینه له خطرے وه
د عزت په کرسي ناست په ناز طرب وم
تازګي مې په هر حال د بشرے وه

هـر گفتـار مـې قـدرناك لكـه سـر زر وه
د پـدول خبـره بـې ارزه ايـرے وه
زه د وصـل لـه نعمـه بهـره منـد ووم
طائفـه د حسـودانو بـې بهـرے وه
پـه حجلـه د بخت كښې ناسـت لـه بختـورو
د نيسـتى نقطـه مـې دور لـه دائـرے وه
دسـت خـالي بـه كـم راتلـل زمـا زيـارت لـه
د نيـازمنو ځلمـو ځلـه د منجـرے وه
سـاقي جـام پـه لاس ولاړ مطـرب نغمـې كـه
چـاپېره حلقـه دگلـو پـه څيـرے وه

هركله چې د حافظ خواږه دوستان او ملگري د مرگي په تاخت تاراج شو د خاورې لاندې شو. په كورونو او ځايونو د ناآشنا خلقو قبضې شوې، حجرې د ميردين جمات شوے- مجلسونه سپور سپېره پاتې شول چې حافظ د هغوى په بورجلونو راشي نه ورته څوك هركلى واي نه يې قدر مداركوي او نه ورته گوري. حافظ چې دې حال ته گوري او بيا د هغه يارانو قبرونو او مقبرو ته گوري نو زړه يې تق چوي او د خپل زړه براس او لمبې په خپلو شعرونوكښې وباسي.

زه چـې تللـي يـادوم زړه مـې نړېـږي
پـه گوگـل كښـې مـې د غـم چـرې غړېـږي
چـې پـرې زه نياز يـدم هغـه خلـق نشـته
پـه نـور چـا مـې نـه زړه ډاډ دى نـه سړېږي
د بېـل بېـل اشـنا ببلتـون مـې زړه غلبېـل كـړو
ميرتـون مـې ځكـر خـوري تـن مـې كړېـږي

د اشـنا د ببلتانـه هسـې لمبـې دي
كـه د صـبر سـيند پـرې سـم كـړم نـه سړېږي

پــه اور ســره او ســپینه درنــګ لــره ســره شــي
زمـــا زړه بېلتانــــه ســــوی نــــه ســــرېږي
د بـــې نیـــازو مجلـــس قـــبض دلتنګـــي ده
د نشـــاط بســـاط نیـــازمنو تـــه غـــوړېږي
تېـــر ســـاعت را یـــادوي شـــناخت د مهرویـــو
کـــه حـــافظ نـــه کـــړي ژړا زړه یـــې ژړېـــږي
حافظ ډېر دلګیره او خفه شي نوګیله یې پیدا شي او وایي:

بـــاز پـــه جالـــه کښـــې چـــا نـــه ده پېژنـــدلی
قـــدر نشـــته د حـــافظ پـــه الپـــوري کښـــې
ورك شـو لـه مـا دوه ګـنج امکـان یـې د یافـت نشـته
یـــو د ځـــواني وار بـــل د مهرویـــو مجلـــس ناســـته
حافظ لکه د ماشومانو ضد کوي. هغه یاران او هغه مجلسونه غواړي هغه ملاوېږي نه- درد یې دومره سېوا دی که زویرګی نه کړي او چپ چاپ کیني نو د هډوکو مغز یې سوزي اوکه وایي نو ژبه یې سوزي. آخرکار درد دننهٔ ساتلی نه شي، خُله اوسپړي او ګویا شي- یو یو څیز یادوي او ژاړي.
چـــې خـــوږ تـــې حلـــق وه د خلقـــو پـــه خـــوږو خبـــرو
هغه خلے ګونګے شوے تے ګفت اوریدے ولی نه شی
مهـــری شـــاخونه میـــوه دار وو چنړیـــده پـــرې طوطیـــان
د شـنو طوطیـانو پـه چنړشـاخ شـنړیده ولـی نـه شـی
اشـــناً تـــه رســـي د اشـــنا خبـــرکـــه ډېـــر لـــرې وي
یـــار مـــې نـــزدې اَســـیر خبـــر رســـیدی ولـــی نـــه شـــی
مرګ خو یوځل په سرې تېر شي بېلتون مرګ دی مدام
د دوه مئینـــوګـــور تـــه هـــم کوزیـــده ولـــی نـــه شـــی

پـه انـدك تـاؤ داوركـړه تيلـي تيرګـركـه سـمه
ځيګـر سـوزېږي د حـافظ سـميدي ولـي نـه شـي

حافظ په دې غم او اندوه كښې ډوب سر په زنګون ايښې ناست دی، چې تېر ساعت د يارانو هغه مجلسونه او د عېش و طرب هغه نظارې يې په خيالاتو كښې تېرې شي او دی ارمان وكړي چې كاش كه د هغه ياران بيا چرته راشي، خو اے كاش كه داسې وشي.

اوګـي طوطيـان بـه د وصـال پـه قنـد مـاړه راشـي
كـه د مجلـس زېـب و زينـت يـاران زاړه راشـي
نـه بـه اوبـه د فـراق اوچـې شـي زمـا د سـترګو
نـه بـه د يـار پـه در د يـار اوبـه خـواړه راشـي
ودان بـه نـه كـا خـراب شـوے ملـك زمـا د خـاطر
كـه د ملكونـو حكيمـان لـوئ او واړه راشـي
خطـا بـه نـه شي لـه هدفـه پـه تـدبير د بنـده
چـې د تقـدير غشـي پـه ميـان دكهـواړه راشـي
زهـر خـواړه لـه زر راغـواړي لـه عـراق ترياق
هلـه يـې څـه كـه چـې پـه دم ختلـي مـړه راشـي

❖❖❖

دمـاغ زمـا بـه معطـر نـه شي بـې لـه بويـه د دوسـت
كـه زرشـتر د چـين ختـن پـه مشـك لنبلـي راشـي
ميـدان كوتـاه شـه سـاعت تنـګ د صـحت طمـع نشـته
ترياق بـه څنګـه لـه عـراق تـر مـارخوړلي راشـي

رحمان بابا عوامي او عالمګير شاعر دی او په كلام كښې يې دا عوامي او عالمګيري شان او رنګ څرګند دی. هغه د افرادو په ځای همېشه پوره انسانيت ته مخاطب دی بيا هم د خپل يارانو او دوستانو د بېلتون په وجه دلګير او غمګين دی. د خپلو همزولو يارانو صفت كوي او په جدايي ژړا كوي. كه خلق مونږه بېل ويني خو مونږ يو يو بېل نه يو. اصل خو د يار وصل او ديدن ژوند دی. ورنه خو دوزخيان هم ژوندي

دي د خدائ نه مې دعا ده د خپل يار د ديدن نه بغير بل څه نه غوارم.

دا يار نه دی چې هجران له مانه بېل کړو
دغه روح له تنه شو جدا زما
يار له يار په لوئ لاس کله بېلېږي
چې لاس نه رسي يار څه کا اشنا څه کا
مکر بېل په تېره تېغ شي يار له ياره
گنړه ښاخ له خپل ښاخ سره درخت دی
چې يو يار له بله ياره جدا کېږي
ددې دهر د ستم ولی نه مرم
زه و يارکه په تن دوه په معنی يو يو
هزار خوني واړه شهر يو بغداد دی
که جوړه تلي څوك و قبروته درېغ
ژاړم دا چې يا به ته نه وی او يا زه
د پالنګ او د پېړی حاجت يې نشته
د يارانو نشستن د زړه په تخت دی
چې هنرګنړي ياري د زورورو
زه رحمان کوم بول په دا هنر
زه ژوندون د يار و وصل و ته وايم
ګنړه هر يو دوزخي په ژوند ژوندی دی
بې د يار د ښه ديدن د خدائ نه کړی
د رحمان په زړه کښې بله تمنا
زه رحمان بې له خپل يار هيڅ نه غوارم
هر چې ماله راوړي سلام د ستا

رحمان بابا د خپلو يارانو په جدايي کړه من دی. وايي د خپلو يارانو بغير مې نه په زمکه ځای شته نه په آسمان، سره ګلونه راته سور اور دي، که لاچي لونګ خورم خو

تر ستوني مې نه تېرېږي، بې له يارانو مې صبر نه کېږي ودان وطن راته وران ښکاري او دا حال يواځې زما نه دی د ټولو يارانو دی.

هسې بې له ياره زه يم په جهان کښې
چې مې نه شي ځای په زمکه په آسمان
سره ګلونه د چمن راته سور اور شي
چې قدم بې ياره کېږدم په بوستان کښې
واړه زهر شي زما تر ستوني دروغي
بې له ياره که همه لاچي لونګ خورم

په رحمان باندې بې يار صبر ګران دی
لکه زهر چې ديده دانسته نغر شي
چې بې ياره زه جهان وته نظر کړم
رحمان وايم چې ويران دی ودان نه دی
زه رحمان يواځې نه يم په دا کار کښې
همېشه د يار په يار پسې وای وای دی

بې د يارانو مې زړه په هېڅ دمه نه خوري، مرګ د هېڅا سره وار نه کوي ورنه ما به ځان د يار نه مخکښې کړی وی. د يار د جدايي خبر د تاخت او قتل نه کم نه دی، چې ياران جدا شو اوس ارمان راغی، زۀ خو لا د دوی د ملاقات په طمع ووم. خدايه هيڅ يوره به د نيمګړي شوی نه وی، که ياران سره نه بېلېدی.
خدايه! په ظاهر په باطن سپين پاك هغه ښکلی خلق څه شو د خلقو سره مې ختنا ختمه شوه. شپه او ورځ مې د هغه تللو ياد ژړوي، ارمان دی چې يو ځله خو بيا دې دنيا ته راغلی. تېر ساعت خو په بېرته نه راځي مګر يو اشنا چې په بل اشنا راشي دا لکه چې تېر ساعت يې بېرته راغی.

بيا يې وار په دا دنيا نشته رحمانه
په هرچا باندې چې تېر شي وار د عمر

د رحمٰــن د زړه دمــه پــه هېڅـا نــه شــي
مســافر غونــدې حېـران دی بــې مخلــص
مــرګ د هېڅــا ســره وار نــه کــا رحمانــه
یـار بـه ځـان تـر یـار ړومبـې کـا کـه یـې وار وي
کـــه زردار دی اشـــنایان د زردارانـــو
د رحمٰـــن د اشـــنایانو تکیـــه خـــدائ دی
خـدائ د یـار لـه هجـره هېڅـوك خبـر مـه کـړه
تاخـــت او قتـــل دا خبـــر درې واړه یـــو دي
هـېڅ پـوره بـه د نېمګـړی نـه شـي خدایـه!
کــه بېلتــون د دوه یــارانو وبلــه نــه شــوی
کــه خـدائ غـم د جـدایي ورتــه اسـان کـړ
و رحمـــان وتـــه آســـان دي نـــور غمونـــه
چـــې زمـــا د یـــار تـــرمېنځ جـــدایي کـــا
کـــانړي پریـــوتي پـــه خونـــه د بـــدانو
اشـنایي مـې پـه هـوس وه خـو چـې بېـل شـوم
دواړه لاس مـې وبلـه و مېنـل ارمـان راغـی
تېـر ساعت بـه د هېچا پـه لاس کښې نـه ووزي
مګـــر تللـــی اشـــنا بیـــا پـــه اشـــنا ورشـــي

❖❖❖

خدایــه! څــه شــو هغــه ښــکلي ښــکلي خلــق
پــه ظــاهر پــه بــاطن ســپین ســپېځلي خلــق
هــېڅ خنـدا مــې لــه دې خلقــو ســره نــه شــي
ژړوي مـــې هغـــه تللـــي تللـــي خلـــق

دريغه يو خل خو بيا په دنيا راغلی
له جهان په ارمان وتلي خلق

رحمان بابا د خپلې زمانې د يو واقعې ذکر کوي، چې ګل خان او جمال خان دوه همزولي ياران وو، چې د دښمن د لاسه سره د بال بچ په اورکښې اوسوزېدل. رحمان پخپله سخت خفه او دلګير دی، ځکه د هغوی د يارۍ د صداقت، جرات او اخلاص بيان په پرسوز او پردرد اندازکوي:

هيڅ تعريف مې پدا ژبه وايه نه شي
صد رحمت شه په ياري د ګل خان
تر دا هورته د ياري شرطونه څه دي
چې په اورکښې دواړه اوسوزي يکسان
چې په اورکښې يو دبل دپاره سوزي
ما ليدلي نه وو هسې مخلصان

د همزولتيا او ملګرتيا حقيقت او اهميت د آدم عليه السلام د زمانې نه ښکاره دی. د حضورکريم ﷺ د صحابه ؤ اوچته مرتبه عالم محدث يا مفسر نه دی بلکې صحابي دی يعني ملګری- شاعرانو خپل ملګري او ياران پاللي او يادکړي دي او د هغوی په جدايي ژړاګانې کړي دي- د ملګرتيا دا ذکر په انسانانو، مارغانو او ځارووکښې يو شان روان دی، صرف انسان بې دګويايي په وجه په فصاحت سره بيان کوي.

د انسانيت په وجه پښتون قام هم د اعلیٰ اقدارو حامل دی د يارانو يار د دوستانو خواخوږي او د اشنايانو اشنا دی. ياري پالل، لوظ او وعده پوره کول د يار دپاره سر ورکول ښه پېژني. د بېوفايي، بې لوظي او دهوکه بازي سخت خلاف دی. د يار په پت کښې سرو مال شيندل ورته آسان دي خو يار پرېښودل ورته ګران دي. ددې اقدارو اظهار پښتون پخپله په خپلو ټپو کښې کړی، چې د هغه د زړه دکومې نه د سوچه برملا بې باکه الفاظو په شکل کښې صادر شوي دي. دې ته زما او د بل د ثبوت ضرورت نشته.

وايي چې يارانو د يو بل نه ځارېږي او په پکار راځي د هغې نه مخکښې چې تورې خاورې شي خپل همزولی مې پکار دی خير دی که نيستي وي. خفه يم او رنګ مې

ځکه زیړ دی چې د همزولونه جدا یم. زه په خپلو همزولو فخر کوم د چم ګاونډ او کوډر همزولي چې را یاد کړم زړه مې له خفګانه چوي، روح مې دِ لاړ شي خیر دی خو یار مې دِ نه ځي زړه مې پرق چوي.

عالمه یو بل نه څاربږي
ما د مجلس یاران لیده چې خاورې شونه

مخلوقه یو بل نه څاربږئ
مرګ راپسې دی نیمه خوا به پاتې شونه

زما په ټول محفل سلام دی
دا مې کلام دی رب دِ ټول آباد ساتینه

همزولو تل کړي صحبتونه
په نري ګورکښې نه دریا شته نه ډولونه

زه ډېرو هېر کړم زما یاد دي
په زړه د ښاد وي زه به یې یاد زړه کښې ساتم

سترګې په کوم لوري کړې کړم
چې د مجلس یاران مې خاورې ایرې شونه

سترګې د چا په لور کړې کړم
زما د ناز عالم خو خاورې ایرې شونه

خدایه! ته خپل همزولي راکړې
که نیستي راغله په خندا به یې تېرومه

زما همزولي یار پکار دي
چې دواړه یو شان د غېږو جنګ کوونه

همزولتیا ښه خوږه مېوه ده
مور مې میره ده ما مېوې ته نه پرېږدینه

بس که په دغه ځای پرېږده
ابر رحمت دِ په کلهم یارانو وینه

❖❖❖

زه خو هغه مسته لیلیٰ یم
که رنګ مې زیړ دی له همزولو بېله یمه

نه څوك لرم نه به مې یاد کړي
د بنړ بلبله ووم له سیله جدا شومه

همزولي یار د چا مړ مه کړې
همزولي یار د زړګي ولې پریکوینه

سلام علیکم رخصت راکړه
که ژوند باقي وو بیا به اوکړو دیدنونه

سلام علیکم یاره لاړو
ورستې دیدن به د قیامت په ورځ کوونه

جانان جنګ نه په شا نه شي
چې د همزولو مې رانه شي پېغورونه

ستا د غلبېل قمیص دپاره
زه په همزولو باندې ډېر فخر کومه

که روح مې ځي په مخه یې ښه شه
یار مې دې نه ځي زړه مې پرق ورپسې چوینه

که اختر تېر شي بیا به راشي
یار به رانه شي چې د خاورو لاندې شینه

نقش د کربښې په سیند نه شي
وفـــا د دهـــر اشـــنایان کلـــه کوینـــه

یـا بـه یـاران تـول بـې وفـا وي
یابـه زمـا وي بـدبختي سـپېره بـه یمـه

خاونـده دا بـه دې رضـا وي
همزولـي ګـل شـوې زه کلـی ولاړه یمـه

د مازیګر ګودر چـې یـادکـړم
زړه مـې همزولـې جینکـی راځخـه وړینـه

ټینګـه وعـده راسـره وکـړه
زه بـه همزولـې سـتا دیـدن لـه راولمـه

د زړه د درد مـــې اوازکـــړو
د چـم ګاونـد همزولـي تـول پـه ژړا شـونه

رب د ښائست د رپوري اورکړي
پـه مـا د اورکـړل د همزولـو مجلسـونه

زما د څـه نصیب کـړو خدایـه!
زمـا همزولـي خوشـحالي کـړي زه غمونـه

پـه مـا بـه یـو خونـه ورانـېږي
پـه تـا بـه وران کـړم د همزولـو محفلونـه

باب : ۲

زلمے او زلميتوب

د ځوانئ لعل راځنې ورک دی
په ټپټه ملا وړپسې ګرځم نه يې مومه

د انسان ژوند په څلورو حصو يا دورونو مشتمل دی. ماشوموالی، هلکوانه، ځواني او پيري. په ماشوموالي کښې نه په څه پوهېږي نه څه کولی شي. ده سره يو حربه صرف داسې ده چې دی پرې هرکارکوي. هغه حربه ژړا ده. او مؤثره ده. په هلکوانه کښې ده باندې د شريعت احکام او پابندياني لاګونه وی، خو د نفس او شيطان پرې پوره پوره قبضه وي، ځکه د هغه افعال او حرکات بې اعتباره او ناپخته وي. د شر پهلويې د خېرنه زياته وي. پيري د عمر آخري حصه ده کله چې عمومي صحت او نور ټول قوتونه پستي طرف ته روان وي، د ناتواني، ضعيفي او رنځونو بهرمار وي. دی يو او غمونه بې شماره لکه چې متل دی:

کومه ونه چې زړه شي
د هرې بلا پرې شپه شي

عمر يې زوړ شي حرص يې ځوان شي. تجربه يې زياته شي مشاهده يې کمه شي. ګفتار يې زيات شي کردارکم شي. غصه يې زياته برداشت يې کم شي، خوراك يې کم شي نخرې يې زياتې شي. ياداشت يې کم شي ضد يې زيات شي. که هرڅه چې کوي خو د پيری علاج يې نه کېږي. دا هغه پيري ده چې رحمان بابا ترې هم فرياد کړی دی.

د پيـری عـلاج پـه ډانـګ پـه لـوړ نـه شـئ
دغـه کـار بـه پـه امسـا کـوې تـرکومـه
اې رحمانـــه پيـــري هســـې عـــاجزي ده
چې رستم وي زړه پرې سوی شي په پيری کښې

يو اردو والا ډېر ښه وئيلي دي:

جوجـا کـے نـه آئـے وه جـوانی ديکهـی
جـو آکـے نـه جـائے وه بڑهـا پـا ديکهـا

د انسان په ژوند کښې ځواني د عمر هغه حصه ده چې د انسان ټانسټ، طاقتونه، جوش و خروش، حوصلې او دېدبې، خيالات او افکار په نقطه عروج پاندې وي او انسان برملا دا آواز لګوي چې:

مزه شباب میں هے سر سے خون بهانے کا
لهو میں پهر یه روانی رهے، رهے نه رهے

هم دا وخت د انسان دپاره د امتحان او د ازمائش وي. په دې وخت کښې دی د بې شماره صلاحيتونو مالك وي چې دا صلاحيتونه دی د شر دپاره استعمالوي اوکه د خير دپاره. د ظهيرالدين بابر مغل بادشاه غوندې نعره وهي چې:

نوروزو نو بهار مئے و دلربا خوش است
بابر به عيش کوش که عالم دوبار نيست

اوکه د پېغمبرانو او نيکانو طريقه اختياروي:

در جوانی توبه کردن شيوهٔ پيغمبري است

هم دا د ځوانی وخت دی چې انسان د نشو او تماشو په لت کښې اخته شي د شرابو کبابو، ډمو او رنډيو په مجلسونو کښې ډوب شي او يا د تعليم او تعلم- درس و تدريس اموخته شي. د نيکانو بزرګانو د مجلس فرد او حصه جوړ شي، د ځوانی د وخت عادتونه د انسان جبلت وګرځي. که په پيري کښې پرېښودل غواړي هم يې نه شي پرېښودی.

گر هاتھ میں جنبش نهیں آنکھوں میں تو دم هے
رهنے دو ابهی ساغرو مینا میرے آگے
چھٹتی نهیں هے منه سے یه کافر لگی هوئی

مئينه او مئينېدل خو غير اختياري دی لکه چې وايي:

جو لگائے نه لگے اور بجهائے نه بنے

خو د مينې اسباب د ځوانی سره بهرپور اندازکښې موجود وي. په دې وجه په ځوانی کښې بنده سخت په کشمکش کښې وي. يو طرف ته ځواني او د مينې زور وي او بل طرف ته د معاشرې پابندیانې او تور ناموس ويره وي نتيجه يې دا شي:

هلك منين شي وطن پرېږدي
جينۍ مئينه شي مخ پټ کړي اوژاړينه

وعظ او نصيحت ور پاندې الټا اثرکوي. حالت يې هغه شي لکه چې وايي:

مرض بڑھتا گيا جوں جوں دوا کی

عاشـقي پـه مثـل اور نصـيحت بـاد دی
شـيخ اور مـې لا زيـاتېږي وايـه وايـه

بهرحال چې په ځواني کښې په زلمو او ځوانو جونو څه تېرېږي دا به تاسو په ټپوکښې د هغوی د خُلې نه پخپله واوری.

خلقه مصرعې مې مصرعې نه دي
د لـوغړن زړګـي وتلـي دي دودونـه

زلميتوب په هر چا راځي، تېرېږي او تېر شي. حافظ الپوري چې د خپلې ځوانې ذکر په کوم تفصيل سره کړی او په خپله ځواني پسې يې چې کومه ژړا کړې دا هم د هغه کمال دی. وايي چې د شمشاد د ونې په شان مې لوړه دنګه ځواني وه. روغ صحت وو په ملکونوګرځېدم دنيا راته فراخ وه. زما هر قول سکه مروجه وه هرچا منله. ځواني خو تل نه وي په پيري خفه نه يم خو بيماري او نيستي د لاده باده پريستم.

تـن مـې خـوار زبـون شـوله دردونـو لـه فريـاده
دريغـه پيـري خـم کـړی د ځـوانی سـمه شمشـاده
يو نعمت ځواني وه لوی نعمت تندرست وجود وو
دواړه يـې لمـا يـوړو څنګـه يـې اووتـم لـه يـاده
ملـک راتــه فـراخ وو ښـيدم پـه قـدر دانـو
پريسـتم پيـری لکـه مـرده لـه لاده بـاده
وخـت چـې د ځـوانی وو جيـد مهـر مـروج ووم
اوس مـې پـه پيـری کښـې رواج نشـته بـې کسـاده
رنـځ نيسـتي زهيـرکـړم پـه پيـری ناراضـه نـه يـم
تـل خـو تـازه نـه وي د ځـواني بهـار دل ښـاده

مور او پلار مې مړه شو. یاران همزولي مې لاړل د مخ مروت ځایونه مې ورك شو. که سپین ویښته په وسمه تورکړم خو ځواني او د عمر قوتونه به مې رانه شي. نیك خویه حلیم نیازمن یاران تول ګور ته کوز شو. د نا سازو اغیړلو، کړلیو سره مې ګذران ګران دی. د خاطر د جمعیت ځای مې پاتې نه شو. د ښائسته وو ښاغلیو یارانو بورجل ته ورتلے نه شم چې د لاس ننښې یې راته سور اور شي زړه مې چوي دا بې مهره پاتې زلمی به یې د قبرونونه زارکړم.

فهم فکر اوکړه مشفق مور او پلار د څه شو
هم یاران همزولي ځای د مهر مروتونه
راغله سپین ویښته په مخ حاضر د مرګ استاذي
خوښ مې له چانه دی استیزے دا حجتونه
سپین ویښته که تورکړم په وسمه سره څه سود دی
بیرته به رانه شي ځواني عمر قوتونه

❖❖❖

د نیازمنو منزل زیر زمین ساز شو
څه کړم زیست له دې ناسازو اغیړلیو
په نیت سم په اوے محکم حلیم نېك خویه
ګور ته کوز شو ګذران ګران دی له کړلیو
د خاطر د جمعیت ځاے چرته نشته
که پره کړم درست جهان کلی په کلیو
په بورجل د جمیل رویو ورتلے نه شم
راته اور شوه هره ننبه د ښاغلیو
که بې مهره زلمي ډېر دي په جهان کښې
تول مې زارکړې د مهرو زلمو تر څلیو

نه پوهېږم چې خپل شوم بد قسمت زه بې قدره کړم اوکه په دنیا کښې قدردان پاتې نه شو. حال مې خراب دی د خراب زړه د آبادولو معمار پاتې نه شو. هغه سرباز زلمی

چې په يوه ديدن به يې سر ښيندلو پاتې نه شو اوکه د پېغلو هغه حسن جمال لاړو. افسوس چې په هر ځای د ټپوسانو اوکارغانو جالې شوې د قجيربازونو د پيداوار اشيانې پاتې نه شوې.

يـا زه بې قـدره شـوم طالع کـړم نـه پـوهېږم پـه هـېڅ
يـا قــدردان ددې دنيــا پــه بــازار پــاتې نــه شــه
پـه خرابـی کښـې مـې گـذران شـه حـال و چاتـه وايـم
چـې مـې د زړه ښـهر ودان کـه معمـار پـاتې نـه شـو
چــې پــه يــوه ديــدن يــې سرشـنده سـر بــازو زلمــو
د هغــه جونــو جمــال حســن سـنگار پــاتې نــه شــو
پــه هــر ځــای جــالې د ټپوســو دکارغــانو ويــنم
د قجيــر بــاز پــه اشــيانه پيــداوار پــاتې نــه شــو

يواځې دا غم نه دی چې ځواني لاړه. غم خو دادی چې مونږ هم پاتې نه يو. مونږ په خپلو سترګو وينو او په غوږونو اورو چې د مرګ بګل غږېږي ځکه خو داغ وايي:

تــاب و تــوان و هــوش و خــرد داغ چــل دیــے
اب هم بهـی جـانے والـے ئیں سامان تـو هوگیـا

او بل شاعر وايي:

چراغ بجھتـے چلـے جـار هـے ئیں سلسـله وار
میں خودکو دیکھ رها هوں فسانه هوتـے هوئے

او حافظ الپوري خو هغه ژړا کړې چې تابه هم وژړوي. وايي چې دا زمکه اسمان نمر سپوږمی به وي او مونږ به نه يو. ځای په ځای به د زلمو او جونو ټولګي وي سرې منګلې سرې شونډې سور پېزوان په پوزه ناويانې به په خپلوکالو نازکوي خو مونږ به نه يو. د مهريانو نيازمنو يارانو مجلسونه به جوړ وي او مستان به د عيش عشرت په مستي نشه وي خو مونږ به نه يو. او بيا وايي: چې آخر به يو ورځ داسې راشي دا هرڅه به هم لاړ شي چې نه به امير پاتې شي او نه فقير او نه به زوړ پاتې شي نه ځوان

ښه به دا زمکه آسمان وي مونږ به نه يو
نمر سپوږمی به درخشان وي مونږ به نه يو
ځای په ځای به وي تولګي د زلمو جونو
ښائسته به پرې جهان وي مونږ به نه يو
په زيور به ناوې جونه ناز خيوه کا
خانمان به پرې روښان وي مونږ به نه يو
په حنا منګلې سرې شونډې په پاڼو
په سوندر به سور پيزوان وي مونږ به نه يو
لور په لور به وي سبزې مرغزارونه
سپين رودونه به روان وي مونږ به نه يو
بلبلان به پرې هوس ناري چغار کا
د چمن ګل به خندان وي مونږ به نه يو
مجلسونه به جوړېږي د نيازمنو
مهربانه به ياران وي مونږ به نه يو
د عشرت بازار به تود وي په مستانو
فراموش به سود و زيان وي مونږ به نه يو

❖❖❖

خود به نېمګړی د هرچانه دا جهان پاتې شي
نه به په دې دنيا کښې تاج د يو سلطان پاتې شي
نه به فلك نه به ملك نه به عالم وي مدام
نه به امير نه به فقير نه به زوړ ځوان پاتې شي

د رحمان بابا د عوامي او عالمګيري حېثيت له کبله د هغه کلام عالمانه، عارفانه او نصيحت اموز دی. يواځې د ځوانی د دور د تېرېدو او د پيری د ناکردو ذکر يې نه دی کړی، بلکې ورسره يې حقيقتونه هم بيان کړي او بيا يې زمونږه رهنمايي هم کړېده، چې په ځواني کښې څه کول پکار دي او په پيری کښې څنګه وخت تېرول پکار دي.

هغه وايي دا ته چې څه اورې او يا وينې دا ځواني ده. د ځواني کارونه په پيرۍ کښې نه شي کېدی که د ځوانۍ کارونه په پيرۍ کښې کول غواړې، دا داسې مثال دی لکه چې د عاشورې په ورځ اخترکړې او يا په خزان کښې د باغ سيرکړې. مړ به اخر ژوندی شي خو په دنيا کښې دا نشته چې بوډا بيا ځوان شي.
که د عمر زيات سل کاله شي نو د ځوانۍ نه پس به زوړ يې. اوکه ته غواړې چې هم مې د عمر زيات شي او هم مې د ځواني وي، نو زړه جمع کړه دا خو نشته. په ځوانۍ کښې خو شير او بد دماغ يې. په پيرۍ کښې بيا شغال او ناتوان شې. د ځوانۍ عمر د مازيګر نمر دی. دوام يې نشته هاں هغه سړی همېشه زلمی دی چې زړه يې د الله تعالیٰ د عشق او محبت نه ډک وي.

په پيرۍ کښې د ځوانيه چارې نه شي
ته په ورځ د عاشورې به څه اخترکړې
دا ځواني ده چې څه اورې يا څه وينې
نه ليدی نه اوريدی شې په پيرۍ کښې
مړ لا ښه دی پس له مرګه بيا ژوندی شي
نشته دا چې څوك زلمی شي په پيرۍ کښې
په پيرۍ کښې د ځواني خيال دی هسې
لکه څوك چې د باغ سيرکه په خزان کښې
که يې زنه د ځوانۍ په وخت کښې سيب وي
هغه سيب يې په پيرۍ کښې بيا حنظل شي
د ځوانۍ عمر د تېرکړو په غفلت کښې
په پيرۍ کښې به څه زيرمه د محشرکړې

❖❖❖

که ځواني له خدائ غواړې ځوان به ومرې
اوکه پس له ځوانۍ پايي خو به زوړ يې

کـه دې سـل کالـه شـي عمـر خـو بـه تېـر شـي
دغــه پســه بــه بيــا څــه کــړې راتــه وايــه
کــه پــه دا د زړه ښــه کېــږي دا خــو نشــته
چــې بــه هــم تــر ډېــر ژوي هــم بــه ځــوان يــې
کــه د عمــر و رفــتن تــه څــوك نظــر کــه
دا بـــه وايـــي چـــې آفتـــاب د مـــازيګر دی

❖❖❖

پــه ځــواني کښــې بــد دماغ بــد ګمان يــې
چــې پيــري در بانــدې راشــي بيــا نــاتوان يــې
د ځـــواني پـــه وخـــت کښـــې شـــير وې
د پيـــرى پـــه وخـــت شـــغال شـــې
هــر چــې حــب د عاشــقى لــري پــه زړه کښــې
کــه پــه قطــع صدســاله وي هــم زلمــى دی

ځواني يو مشترکه لفظ دی چې د نر او ښځې دواړو دپاره استعمالېږي. لکه ځوان هلك، ځوانه جينۍ. اګرچې د دوی ځان له خپل بېل شناخت هم شته. لکه ځوان هلك ته زلمی او ځوانې جينۍ ته پېغله وايي. د ځواني عمر د مينې محبت او ذوق شوق وخت وي ورسره ناتجربه کاري او ناپوهتيا وي. پـه خپلـه ځواني باندې مغـروره وي. ښائست وي زور وي شور وي او د وينې جوش وي. دا يې په وهم وګمان کښې هم نـه راځي چې يو ورځ بـه دا هېڅ نـه وي. مخ بـه مې تـورکودی دګنجو ډك وي. سترګې تاريکې، غاښ بـه کنډاس وي. سر بـه مې يـو خوا ريږدي بـل خوا بـه درومي. بې حالـه بې مجاله، ناتوان بـه د لاده باده پريوتی يم.

په ځواني کښې د هوا پـه نيلي سور وی د خيالاتو پـه اسمانونوکښې ګرځي هم ګيلې کړي هم دهرکې کړي. د خپل سوچ او فکر نـه مخکښې د عمل پـه ميدان کښې روان وي. عمل اول کوي سوچ ورستوکوي. د شېخ چلي منصوبې وي او زلميتوب وي. ذمه واريانې نـه وي. پښو تـه يې د بال بچ او د امورخانه داري بيړى نـه وي پرتې. ازاد

منش چې چرته يې شپه شوه نور هېڅ غم نه لري سيوا د خپلو ويښتو جاموا سنګارنه دا د ځواني عمر دی، چې په تېرېدو يې بيا ټول عمر غم ژاړي.

چې زلميتوب په زړه راياد کړم — په سپينه ږيره مې سېلاب د اوښکو ځينه
چې پېغلتوب په زړه راياد شي — په ګنجي مخ مې اوښکې غټې غټې ځينه
ځوانانو يو تربل ځار ېږئ — ما د محفل ياران ليدل چې خاورې شونه
خاونده مرګ د ځوانی راکړې — چې خپل پردي مې د ځوانی ارمان کوينه
خاونده مرګ د ځوانی راکړې — چې جنازه مې د ارمانه سره ځينه
لال د ځواني راځني ورك دے — په ټيټه ملا ور پسې ګرځم نه يې مومه
ملك الموت ساه مې مه اخله — يومې ځواني ده بل مې ډېر دي ارمانونه.
ولې د بد راسره وکړو — زه په ځوانانوکښې په تا مئيندمه
بېلتون مه راځه لا ځوان يم — که زوړ مې وينې دا د يار د غمه يمه
په ياري زوړ سړی ځوانېږي — زه د بې ننګ په ياري ځوانه زړه شومه
که د ځوانی دوران مې تېر شي — دومره به پاتې شي چې تا پرې زورومه
که مې رباب وهل ايزده وی — مابه د خپلې ځوانی وير پکښې کوونه
وار د ځوانی مې نيمه خواه شو — يار بې وفا شو ارماني وګورته ځمه
پرون د دور د ځوانی وو — نن په خورو لاسو دعا درته کومه
په چړچوبی کښې مه پټيږه — زلمی ښاغلي اديرو خوړلي دينه
ټول به د خپله ياره زارکړم — سره اننګي لوړه ځواني شونډې لعلونه
ځواني مې ستا په انتظار ده — ځکه مې حسن ته رخصت نه ورکوينه
ځوانئ مې ستا مينې برباد کړه — زه لا تراوسه ستا په خيال کښې نه راځمه
چاته مې بد رسولي نه دي — په ما دي خپلې ځوانی اور اولګونه
چې د ځوانی دوران مې تېر شي — جانانه ستا که باچايي وي څه به يې کړمه
څه رنګ زما ځواني برباد شوه — ستا د برباد شي دا شنکي شنکي خالونه

ځنګ دې ځواني ده لکه لښته   چې د انکار په مېنځ کښې ږدي سکاره به شینه
دګاڼي سر په کاڼي ولې   د زلمو سر یې په دکن اولګونه
د ماشومتوب ژوندونه راشه   د زلمیتوب آواز مې دار ته خېژوینه
زلمو چړو له موټی ورکړل   سبا غزا ده ملنګدری له به ورځینه
سپرلې راغلې نوبهار دی   د زلمو وار دی زاړه نه کوي سیلونه
سپرلې همېش مدام ځواني وې   چې په رنړا د ځوارلسمې ګرځېدمه
سپینې سپوږمۍ ته ځکه ګورم   دې ته پراته دي ښه ځوانان جګ اورمېږونه
آخر به وژاړې مئینه   مدام به نه وي ستا ځواني زما سوالونه
په ما موسم د ځوانۍ تېر شو   اوس په پیری کښې په ځان څه کرم محلونه
خاونده عفوه راته وکړی   چې زه زلمی ووم په خپل ځان نه پوهیدمه
چې وړوکے ووم بادشاه ووم   اوس چې زلمے شوم غلام د خلقو شومه
ستا زلمیتوب د مرګه تېر شه   در پسې لاړې پښتنې سرتور سرونه
کبر غرور په ځوانۍ مه کړه   ځوانۍ د ژمي مازیګر دی تېر به شینه
مرګے خو ښه دی پرده پوښ دی   بده نیستي ده چې ځوانان رسوا کوینه
دا هندوستان ته شاه زلمي ځي   دا ډوډۍ غرپ تر پهندۍ لاړ شي بیا راځینه

❖❖❖

باب: ۳

پېغله او پېغلتوب

پېغلتوب نیمه بادشاهي ده
ورک ناوې توب شه چې دوه نیمې ورځې وینه

پېغلتوب د جینۍ د عمر هغه حصه ده چې ښائست، د بدن ساخت، مختلف قوتونه او د خیال پرواز یې انتها ته ورسي. د ډېر ناز لکه د چار ساله بیانړی د نوکو په سرکرځي. هېڅوك خپل برابر نه ګڼړي. سېوا د نسوانیت نه یې نور ټول حالات د ځلمیتوب په شان وي. د پېغلتوب نه اول آزاده ګرځي، نه پرده وي نه د شریعت څه پابندیانې وي او نه د معاشرې د نوم ناموس څه یره وي.

زه چې ورړه ووم ناپوهي وه
د سپینې خُلې له قدر څه خبره وومه

چې پېغله شي نو دا ټولې پابندیانې لاګو شي. یو طرف ته دا پابندیانې او قدغنونه وي او بل طرف ته د ښائست شغلې لکه چې د مقناطیس کارکوي- ورسره د پېغلتوب زور او د خیالونو او رومانونو طوفانونه وي په داسې حال کښې په سر باندې د شریعت او معاشرې د پابندیانو او قدغنونو بلوری منګی ټینګول چې درې ورې نه شي او بل طرف ته په زړه کښې د مینې د خیالونو او رومانونو سیلابونو ته بند اچول ډېر ګران کار دی، ځکه خو وایي:

چې زمکه هغه سوزي، چې اور پرې بلېږي.

دا ټپوس د پېغلونه اوکه- ښه خبره داده چې پېغلو دا هرڅه په خپله وئیلي دي د پېغلو باره کښې اکثر ټپې-د پېغلو وئیلې شوي دي، چونکه پېغلو د خپل ځان مور پلار او خاندان د ننګ و ناموس د شیشې منګی د ماتیدونه بچ ساتلی وي او د خپلې مینې د خیالونو او رومانونو سیلابونه یې هم په حدودو کښې ساتلې وي. په دې وجه د پېغلو پاکدامني او همت ته سلام دی. ځان له دوی پاکې او منزه نه دي، بلکې د کومو څیزونو چې د دوی سره تعلق دی، هغه هم پاك او پاکیزه وي. بلکې دارو دی ځکه خو وایي:

د ګـودر هـر بـوټـی دارو دی پـرې لګيـدلي دي د پېغلـو پلونـه
د ګـودر هـر بـوټـی تـازه دی هـر مـازيګر پـرې جـونې سترګې لګوينـه

پروفېسر محمد نواز طائر صېب خپله مقاله کښې د پروفېسر پرېشان خټك صېب قول نقل کوي، چې يورپ کښې په يو کانفرس کښې رانه يو کس تپوس وکړو چې د خپلې ژبې يو سوچه شعر راته اووايه. پرېشان خټك صېب وايي، چې ما ورته دا ټپه اووې:

د ګودر هر بوټی دارو دی
پرې لګيدلي دي د پېغلو پلونه

هغه کس چې کله د ټپې په معنٰی او مطلب پوه شو نو حق حېران شو او وې فرمايل چې "هغه ځېړی ګټی توز غرونه او دا دومره پاك سوچه نازك خيالات" ما ورته وې چې د رنړو سپينو خوړو اوبو چينې اکثر د غرونو د سرنه رابهېږي. که د پېغلو دا وينا واورې نو يقين به مو راشي چې زليخې د مصر خو هغه امتحان پاس نه کړی شو ولې دې پېغلو پاس کړو.

پېغلتـوب ورځــې د روژې دي د نـاوې تـوب اختـر تـه شـپې سبا کوينـه
روژه د صــبر مــې نيـولې ديـار ديـدن تـه د عمرونـو تـږې يمـه

ښکه چې پېغلتوب لو يه بادشاهي ده، خو دا پېغلتوب ځواني او ښائست ددې دپاره وي چې واده اوشي. که واده ونه شي نو بيا نتيجه يې مايوسي، خفګان او غم وي. او پېغلې پخپله هم دا احساس لري ځکه وايي:

خاونــده دا بــه دِ رضــا وه همزولـې ګـل شـوې زه کلـی ولاړه يمـه
ځـواني مـې سـتا پـه انتظـار ده ځکـه مـې حسـن تـه رخصـت نـه ورکوينـه
چې د ځوانی دوران مې تېر شي جانانـه ستا کـه بادشـاهي وي څـه بـه يې کړمـه
وار مـې د تـورو زلفـو تېـر شـو اوس مـې پـه سـپينو زلفـو نـه نښـلي بازونـه

د پېغلتوب وخت د خپل د ژوند د ملګري د خوښولو او د خپل کور د آبادولو وخت هم دی، خو افسوس دی چې بعضې پېغلې او زلمي په دې انتخاب کښې خطا شي او د ټول عمر غم په سر واخلي او يا رشته ماته کړي او خبره قتل مقاتلې ته اورسوي. پخوا به دا د رشتې تلاش د هلك او جينۍ مور پلار او خوينلو کولو، نو هغوی به د

هلك جينۍ د ښائست، قابليت او کردار نه علاوه د خاندان بيك گراونډ، تېر عمر، مالي او مذهبي حثيت ته هم کتل او پوره پوره معلومات به يې حاصلول چې د غلطيدو او دهوکې امکان به پکښې ډېرکم وو. او رشته به کاميابه وه.

نن سبا هلك جينۍ خپله انتخاب کوي خو د دوی نظر صرف په ښائست ناز نخرو او اداګانو باندې وي او چونکه دواړه په ځوانۍ کښې وي د عملي او حقيقي ژوند ذمه واريانې پرې نه وي. نو د خيالونو په يو ښائسته رنګداره دنيا کښې اوسېږي او آينده هم د دهغې ښائسته خيالي دنيا طمع لري خو تاسو ته پته ده عملي ژوند ډير سخت او ګران دی په هغې کښې د سختی زغملو او د قرباني ورکولو ضرورت وي. په دې وجه داسي لوميرج چې د خيال په دنيا آباد وي، ډېر زر وران شي ځکه نن سبا د رشتې ماتيدو طلاقونو او د قتلونو زور دی.

په دې لړکښې يوبله ضروري خبره هم ده چې کله هلك وايي چې هم دې جينۍ سره به واده کوم ګنې ځان وژنم يا جينۍ او پلار يې وژنم. حالانکه بل طرف د واده نه انکاري وي لوکله دهغنې مطالبه د جينۍ وي، حالانکه دا مطالبه بې ځايه او غلطه ده. ځکه چې هر يوکس خپل مور پلار پيدا کړي وي، بيا يې په خوارو سختو لوبې کړي وي خرڅې او تعليمونه پرې کړي وي، د بل کس څه حق دی چې دا به خامخواه زما وي. دا ټول د ځوانۍ زور او د مړې ګيډې جوش اُبال وي، چې ډېر زر لکه د ځګ کيني نو بيا پته ولګي چې ټول سړی او ټولې ښځې يو شان دي. هغه فطرتي ضرورت د هرچا پوره کېږي.

بعضې پېغلې د ځوانۍ جوش داسې په مخه واخلي، چې سيوا د خپل يارنه ورته نور هېڅ نه ښکاري او متيزه لاړه شي او خپل ژوند د خپله لاسه جهنم جوړ کړي. د پښتو په رواج کښې د داسې جوړې قتل پښتو ده. نو دا د مرګ يره يې تمام عمر په سر سوره وي. د مور، پلار، خاندان، ناموس دړې وړې کړي، چې چاته د مخ ښکاره کولو پاتې نه شي. او په متيزه باندې د مور پلارکور ته تګ او د نور خاندان کره تګ تر عمره بند شي. هغه مور پلار چې د اولاد دپاره د هغوی مخ ته کتل د حج ثواب لري. د ملاقات نه محرومه شي په ژوند کښې د ښځې خاوند خامخوا اختلاف او جګړه راځي، نو

بسطه د مور پلار او رونړو په داد بالدې د خاوند مقابله کوي، نو د دې ژوند اوس سو فیصد د خاوند په رحم وکرم بالدې شي، چې څه هم ورسره کوي منع کولو والا څوک نه وي، بال بچ ترې تپوس کوي، مورې زمونږ ماماګان چرته دي، زمونږ نیا نیکه یعنې ستا مور پلار چرته دي، وایه چې دا به ورته څه وایې، که حقیقت نه وایې نو هم هغه نه پټیږي- بال بچ ته یې پته ولګي نو هغوی د ټول عمر دپاره سرکوزي او سترګې ټیټې او احساس کمتري پکښې پیدا شي، چې ښه مونږ د متیزې اولاد یو. مطلب دا چې یواځې ځان نه خپل اولاد هم تباه کړي.

هوښیارې پېغلې په حقیقت پوه وي او برملا دا اعلان کوي چې:

په متیزتوب درسره نه ځم
په پاکه مینه درسره یم ځو چې وینه
مرګ ته مې سپینه سینه ډال دی
د متیزتوب نامه په ځان کله پرېږدمه
خدائ دِ بې ننګه اولاد ورک کړي
چې ننګ ناموس د مور او پلار خرابوینه
زما اختیار د مور او پلار دی
زه به رضا یاره دَ مور او پلار کوومه

پېغلتوب نیمه بادشاهي ده
ورك ناوې توب شه چې دوه نیمې ورځې وینه
چې پېلغتوب په زړه را یاد شي
په ګونجې مخ مې اوښکې غټې غټې ځینه
پېغلتوب ورځې د روژې دي
د ناوې توب اختر ته شپې سبا کوینه
خاونده پېغله مې وفات کړې
چې څه موده مې یار په خوب دیدن کوینه
زه دې په خپل کورکښې زړه کړم
د پېغلتوب باغ مې خزان لوټ کړو مئینه
دا پېغلتوب مې د خدائ دود کړي
راپسې مري نري ځوانان کاږه بریتونه
دنیا په هغه کس جنت وي
چې چته پېغله یې په مینه مسته وینه
ستا پېغلتوب د اور پسې شي
په سر د مړه شو ښه ځوانان جګ اورمېږونه

وار به دې تېر د پېغلتوب شي ځله د زړکي په شان ږدي لنډ قدمونه
د پېغلو زړونو ته سلام دی چې د جانان د پاره مور او پلار پرېږدينه
د پېغلو زړونه فولادي دي يو يار يې مړ وي بل ته سترګې توروينه
د پېغلو کور نه غلطېږي پاس په کوټه يې کشمالي کرلي وينه
د پېغلو هغه زلمي خوښ دي چې کارتوسان يې په کمه ټومبلي وينه
د پېغلې هغه تږی خوښ دی چې مازيګر شي دګودر په لوري ځينه
د خربوزې غونډې پخه شوم لاليه زر مې شوکوه ګيدړ مې خورينه
ماله د حسن زکوٰة راکړه په شل کليزو پېغلو اوړي زکاتونه
ما درته وې چې پېغله وکړه پېغله ګنې دی بند په بند مزه کوينه
پېغله چې نوې پېغلتوب کړي لکه چار ساله اس د نوکو په سر ځينه
چرې مې غم ليدلی نه وو لکه د پېغلې په پرده کښې لوئيدمه
نن د هغې پېغلې واده دی چې له اوربله يې بوراګان ګلونه وړينه

افسوس افسوس ارمان دی
په پاکه مينه چې غلط ګمان کوينه

چاسره د مينې او محبت کولو درې وجوهات وي. کمال جمال او نوال يا خو هغه دومره قابل زيرک او د خپل فن دومره ماهر وي چې ثاني يې نه وي يا دومره ښائسته وي چې د چندنړو لښته وي. او يا يې په تا باندې دومره احسانات وي دومره څه يې درسره کړي او دومره څه يې درکړي وي چې ته د هغې د بار لاندې ټيټ روان يې، نوکه اوګورې نو الله تعالیٰ دَ دِ درې وارو ډېر زيات حقدار دی. چې بل څوک د انسان سره نه شي کولی څومره چې الله تعالیٰ کړي دي اوکوي يې. خو اکثر انسان د الله تعالیٰ په محبت کښې دومره لوغړن او مجنون نه وي لکه څومره چې د بل انسان په محبت کښې لېونی او ديوانه وي. يو وجه خو يې داده چې د الله تعالیٰ ذات پټ دی او د انسان د وهم وګمان نه هم ډېر ورا لورای دی، نه يې ليدلی شی نه ورسره لاس لګولی شی او نه غېږ ورکولی شی- بزرګان د خدائ خوشحاله لري زمونږ هر مشکل يې آسان

کړي دي. هغوی وايي چې محبت دوه قسمه دي. یو محبت طبعي دی او یو محبت عقلي دی. محبت طبعي ستا په اختیار کښې نه دی. "یه خود لگتی هے لگائی نهیں جاتی" دا هغه محبت دی کوم چې عام انسانانو ته لګي. عقلي محبت هغه دی چې انسان بې د الله تعالیٰ سره د هغه د فضل وکرم او بې شماره احساناتو په وجه کوي او انسان د طبعي محبت نه بلکې د عقلي محبت مکلف دی.

پېغلو ته سلام دی، چې د الله تعالیٰ د محبت حق هم ادا کوي:

مینه د یو الله په کار ده
دا نورې مینې لباسي پاتې به شینه

او د پاکې مینې پاسداري هم کوي:

چې څوك په مینه کښې صادق وي
زما د وي په هغه خلقو سلامونه

پېغلې سخته ګیله کوي چې پاکه مینه کول خو نه ګناه ده او نه غلطه ده. دا خلق په مینه کولو ما ولې ګرمه وي او مینې ته مې نه پرېږدي.

په حسن هرڅوك شیدا کېږي
دا عالم ولې ما په مینه ګرمه وینه
مینه کول څه غلا خو نه ده
خدایه دا ستا بندیان مې ولې نه پرېږدینه

لکه د اشرافو نه بې لوظي کوم نه یار بدلوم، د حیا نه د یار سترګو ته کتی نه شم.

دا د اشرافو عادت نه دی
چې بې لوظي به د اشنا سره کوینه
د حیا غټې کتلے نه شم
د یار په څنګ کښې بې دیدنه پاتې شمه

مینه د یو الله پکار ده   دا نورې مینې لباسي پاتې به شینه
افسوس افسوس ارمان ارمان دی   په پاکه مینه چې غلط ګمان کوینه

چې څوك په مينه کښې صادق وي — زما دې وي په هغه خلقو سلامونه
څوك چې په مينه کښې صادق وي — هغه لائق وي محبوبه په لاش ورځينه
جانان که خس دې ماله بس دی — زما توبه ده د پرديو ديدنونه
په متيزتوب درسره نه ځم — په پاکه مينه درسره يم څو چې وينه
په حسن هرڅوك شيدا کېږي — دا عالم ولې ما په مينه ګرمه وينه
مينه کول څه ګناه نه ده — د دنياګۍ عالم مې ولې نه پرېږدينه
مينه کول څه غلا خو نه ده — خدايه! دا ستا بنديان مې ولې نه پرېږدينه
د خپل جانان په مينه پايم — د محبت کفن په غاړه ګرځومه
دا د اشرافو جونو کار دی — د پردېسي اشنا په پټ کښې ناسته وينه
دا د اشرافو عادت نه دی — چې بې لوظي به د اشنا سره کوينه
دا د ناپوهه سړي کار دی — چې نوي يار کړي زوړله ورکړي رخصتونه
د حيا غټ کتلې نه شم — د يار په څنګ کښې بې ديدنه پاتې شمه
سترګو ته يې غټ کتلې نه شم — ماله حيا د يار د سترګونه راځينه
يار خو مې ته يې بل به نه کړم — که بل مې يار که په ايمان د خواره شمه
يا به زما نصيب خراب وي — يا به دا ټولې يارانې دغسې وينه
که ياري کړم مخ مې توريږي — که ياري نه کړم ارمان ژنه ناسته يمه
ياري د نه کړم ډارېږم — د لرې لرې تماشې به دې کومه
زما اختيار د مور او پلار دی — زه به رضا ياره د مور او پلار کومه

پېغلتوب ورځې د روژې دي
د ناوې توب اختر ته شپې سبا کوینه

پېغلتوب د عفت او پاکدامنی زمانه ده. د منهیاتو او مکروهاتونه به ځان لکه د روژه دار پشان بچ ساتی. یو یار پوره دی د ډمې په شان سل یاران او اشنایان ساتل نه دي پکار.

یو مې مولا یو مې جانان دی
ډمه خو نه یم چې به سل یاران ساتم

او هغه تعلق هم د سترګو د کتو او د زړه د مینې سره لاس لګول یا لاس اچول خو د کم اصل رذیلانو کار دی. د چا لاس ځان ته نه پرېږدي- ځان لکه د پوزې رانغاړي، لکه څنګه چې بنیادم د غنونه جامې رانغاړي.

ماله لاس مه راوړه بدیږي — زه مسافر اشنا په خدای سپارلې یمه
ځان د پوزې په شان رانغاړم — یاران ټګان دي حاجتونه سرکوینه
یو مې مولا یو مې جانان دی — ډمه خونه یم چې به ډېر یاران ساتمه
مینه د زړه کاته د سترګو — لاس لګول د رذیلانو خلقو وینه
مینه د زړه لیدل د سترګو — لاس اچول به دَ کم اصلو خلقو وینه
یار مې روژه کښې خولګۍ غواړي — مخلوقه غورکا دَ دین ستنې ړنګوینه
یوه روژه بله غرمه ده — جانان جواب را ولېږه چې رادې شینه
پېغلتوب ورځې د روژې دي — د ناوې توب اختر ته شپې سبا کوینه
یو وفادار اشنا مې بس دی — سل بېوفا که اشنایان شي څه یې کړمه
لاس به دِ ځان وته پرې نه ږدم — د مسافر اشنا په پت ولاړه یمه
روژه د صبر مې نیولې — د یار دیدن ته د عمرونو تږې یمه

فرق د اصیل کم اصل وکړه
چې یار اصیل وي ترې قربان کړه دولتونه

د خپل ژوند د ملګري د خوښولو دپاره څه ښکلی با مقصده هدایات ورکوي، چې د اصیل ذات سیال سره واده کوه که سرومال په شیندی او د زړه غوښوې پرې خورې نو ځای لري تابه نه سپکوي نه به دې شرموي او نه به د پرېږدي.

اول تپوس د اصل او د ذات کوه- ورنه هم به اوکړېږی هم به اوشرمېږي او هم به سپکه شي- د بې پت شهزاده نه تور مصلی او شاخېل ښه دی خو چې پت ساتي او ستا په رضا وي.

فرق د اصیل کم اصل وکړه   چې یار اصیل وي ترې قربان کړه دولتونه
که یاري کړې اصیل یار ګوره   له خپله شرمه به ستا ډېر عزت کوینه
نیکي اصیل سره پکار ده   څوک چې کم اصل سره کړي بده به شینه
یاري د سیال سره مزه که   کم اصل یار په یاري بل وشرموینه
اصیل زاده نه وي هلکه   اصیل زاده په مئین سرومال شیندینه
اصیله ووم کم اصلو یوړم   کم اصل داسې مې ساتي لکه مغله
بیا به د زړه قطرې درنه کړم   کم اصل یار زه د اونه پېژندمه
تبې راواخله مخ مې تورکه   ما دکم اصل یاري کړه وشرمېدمه
زما په مخ باندې راتوکړه   که دکم اصل یار مې بیا وکړه پوښتنه
ما چې دا ستا یاري کوله   کم اصله نه ووم چې مې ځان اصیلونه
نه به ډېران کښې ګلاب وشي   نه به کم اصل د اصیل د یاري شینه
وخت د اصلي ګلانو تېر شو   اوس کاغذي ګلان په چغو خرڅومه
ورکه د سپکو یارانه شه   درنه یې نه کړم له بنړې سپکه کړمه
بیعه د باز پرې رانه لاړه   اشنا ګونګټ وخوت تاوان راباندې شونه
کم اصل یار د بنګو بوټی   د بنګو لښته په تش ګواخ کښې ماته شینه
نیکي د هېچا نه هېرېږي   هېره د هغو شي چې په ذات کم ذات وینه

يارانو پرې مې ږدی چې مړه شم
مئينـدم د ذات مـې نـه کړلـه پوښتنه

پرېږده چې غم پـه مـا انبار وي
چـې زه يـاري د بېوفـا سـره کومـه

کـه څوك د ښـكلي وفـا غـواړي
اصېل د يارکړي چې تر مرګه يې ساتينه

چـا راتـه وې يـار دِ شـاخېل دی
ماتـه خـان خېل دِ چـې زمـا پـه رضا څینـه

چې پت ساتې مصلی يارکړه
بې پتـه يارکـه شـهزاده وي ورك دې شينه

پـه دې خبـره فيصـله ده
څوك چې اصيل وي هر سړی خوشحالوينه

په غم کښې تانه کمه نه يم
که عقله نه يم چې به کلي خبرومه

الله تعالیٰ په تمامي مخلوقاتو کښې دا جبلی فطرت ايښی دی چې نر او ماده مينه کوي او يو بل ځان ته راکاږي. دا فطرت په انسانانو کښې هم دی. بل جبلی فطرت په انسان کښې دادی چې په ښائست باندې شيدا کېږي. ښائسته ګلونه د هر انسان خوښ وي د هغسې د انسان ښائست دی. دريم دا چې طبعي محبت غېر اختياري دی. ددې محرکاتو تقاضا داده چې زلمی او جونه به د يو بل سره محبت کوي او مينه محبت د زړه عمل دی چې پټ دی. په دې مينه او محبت نه شريعت پابندي لګولې او نه د پښتو رسم و رواج- خو د مينې خاصه داده چې هغه پټه نه پاتې کېږي.

هغـه تېـر شـو چـې مـې مينـه پـه غـلا غـلا کـړه
اوس پـه درسـت جهـان رسـوا ده پـه غـلا نـه ده

نـوم دې پـه خلـه اخسـتی نـه شـم
پټـې سـلګۍ دِ پـه ديـدن پسـې وهمـه

تـرا حيـا و مـرا آب ديـد شـد غمـاز
وګرنـه عاشـق و معشـوق راز دار انند

د مینې ښکاره کېده د ننګ و ناموس د شیشې د منګي ماتېدل دي. او په سپینه جامه تور داغونه لګېدل دي. ددې یرې نه د پېغلې زړه چوي او په ځان هر قسمه سختۍ تېروي- هم د ځان خفه وی هم دَ یار. خو چې مینه ښکاره نه شي.

په ما د ټـول عـالم خبـر کـړو
په تـا دِ یـو دادا خبـر شـو زړه دې چوینـه

په غم کښې تانه کمه نه یم
کم عقلـه نـه یم چې بـه کلی خبرومـه

په مـا دې کلي ګمانې کـړل
ناترسې مـه خوره د منګي لانـدې څرخونه

څنګ تـه مې مـه راځـه جانانـه
سبا بـه بـوی د لـونګین درځخـه ځینـه

دا د دنیـا پــه سـر ولاړه
جینــی ناپوهــه راتــه کـړي اشـارتونه

آخـر بـه مـا پـه دادا مـړه کـړې
کـم عقلــه یـاره چـې کـوې اشـارتونه

آخـر بـه مـا پـه لالا مـړه کـړې
چـې د ریبـار د ورځـې درې وارې راځینـه

پـه کوټـه وخېـژه نـارې کـړه
چـې د تـرلې او تربـور نـه کېـږې کورونـه

کـه ګرمـه یـم ناکـاره نـه یـم
د مـرور جانـان پوښـتنې لـه ورځمـه

نوم دې پـه خُلـه اخستـے نـه شم
پټـې سـلګی دِ پـه دیـدن پسـې وهمـه

ستا پـه راتلـو بـه څـه اونـه شي
مـا بـه پـه کـورکښې رونړه انـدې انـدې کړینه

دا ستا د دوه سترګو دپاره
د کور خبرې ورم د کلي تهمتونه

چې کله مینه ښکاره شي، نو د خلقو خلې پرانستے شي، ملامت او تهمتونه پرې شروع شي. د خلقو د نظر پر یوځي ځکه خو رحمان بابا هم وایي:

لـور پـه لـور یـې د تهمـت پـه غونـډو ویشـتم
ملامــت را بانــدې وایــي درســت جهــان

تمــامي جهــان لمــن راځخــه نغــاړي
سـپین ژړوکـی مـې اغوسـتی تـورکـودی شـوم

د تهمت تور مې په سپينه جامه ولګېدو دکور په خبرو او دکلي په تهمتونو رنګ شومه- اوس يې که په غټو اوښکو وينزم يا قسمونه خورم خو فائده نه کړي. د يار نه زار شم چې تهمتونه يې په خپل سر واغستل.

خاونـده ټولـه مـې تـرې زارکـړې — زمـا پـه سـر يـې دي اخسـتي تهمتونـه
خلــق د وايـــي تهمتونـــه — زه د جانـان پـه غېږکښې چا ليدلې يمـه
خلـق تهمـت رابانـدې وايـي — ما د تهمت په ډنډکښې ډېر لامبلې دينه
دا ســتا د دوه ســترګو دپـاره — دکـور خبـرې ورم دکلـي تهمتونـه
زه پـه تهمـت د جانـان رنـګ شـوم — جانـان مـې لاړو زه يـوائې پـاتې شـومه
ستا په تهمت کښې مې ځان رنګ کړو — اوس به يې په غټو اوښکو پاکومه
سـتا د تهمتـه نـه خلاصـېږم — کـه زه هرڅـومره چاتـه وخـورم قسـمونه
هرڅوك چې څه وايـي رښـتيا دي — زمـا پـه سـپينه جامـه پريواتـه داغونـه
خـدائ د بـې ننګـه اولاد ورك کـړي — چې ننګ ناموس د مور او پلار خرابوينه

چې د ملامتيا او تهمتونونه پس ورڅه د خپلې غلطۍ احساس وشي نو ځان ته بد رد وايي او بې ننګه يار ګرموي، چې د هغه د لاس اوشرميدم بهتره به دا يې چې په ګولو مې وولي چې تور راپورې شو نو اوس خو به هله پاکېږم چې ځان لکه د سرو زرو په انګار وسيزم او يا سره د جامو تنور ته ودانګم.

پرېږده چـې زه ذرې ذرې شـم — چـې پـه بـې ننګـه نازيـدم وشـرميدمه
بېوفـا يـار مـې تـن پليـت کـړو — لکـه د سـرو بـه ځـان انګـارکښـې پاکومـه
چې ملامتـه ځـان کښـې وينـم — په ځان مې سود شي د پنځه ډزي ګذارونه
څـو چـې د يـار اجـازت نـه وي — تـر هغـې خُلـه پـه خنـدا نـه بېرتـه کومـه
دا زه چې ټيټ زمکې تـه ګـورم — زه دې بې ننګو يارانې ټيټ سترګے کړمه
داغ مـې د سـپينو جامو نـه ځـي — کـه د جـامو سـره تنـور تـه ودانګمـه

مئینه یم منکره نه یم

که شینکی خال مې د چړو په څوکو ځینه

مئینتوب نه ګناه ده او نه غلا ده. بیا یه غلا متېزه ولې لاړه شم. مرګ ته مې سپینه سینه ډال دی. مرګ له غاړه غتی ورځم د جانان په ننګ کلکه ولاړه یم، چې کله عاشق شي او د یاري، تور د پورې شي بیا لاس ترې مه اخله ځان پرې مړه کړه خو شاته کېږه مه- که په چړو ونډې ونډې شې، هغه نامرد دی چې څوك شاته شي یا ترې لاس واخلي.

نوم نـاموس مینـه دواړه نـه شـيزه چــې مئـین وم قلنــدر بــه ګرځیدمــه
مئینــه یــم منکــره نــه یــمکه شنکی خال مې د چړو په څوکو ځینه
مرګ تـه مې سپینه سینه ډال ديد متیزتــوب نامــه پــه ځان کلـه پرېږدمـه
کوڅـه کښـې غلـی مـه تېرېږهجانانــه ټولــه دِ پــه ننــګ ولاړه یمــه
کـه تهمتونـه پـرې انبـار شـيڅـوك دِ لـه خپـل یـاره نـه اخلـي لاسـونه
په چا چې تـور د یاری پـور شيځان دِ پـرې مـرکـړي بیا دِ نـه توبـه کوینـه
چې پرې بدنام شې په شا مه ځهکـه پـه چـړو دِ څـوك ونـډې ونـډې کوینـه
چې پر عاشق شوی اوس ئې خپل کاکـه سـرومال دې پـه بـدل کښـې دواړه ځینـه
څوك چې د چا په تهمت رنګ شيهغـه نـامرد دی چـې پـرې سـر نـه ورکوینـه

جانانه دومره ظلم وکړه

چې پیښمانی کښې په ما وکړې ارمانونه

دې کښې شك نشته چې پښتون معاشره کښې سړی زورآور دی او ښځې کمزورې دي- په دې وجه ښځې اکثر مظلومې دي. هغوی سره دا احساس هم شته او د خپل احساساتو اظهار هم کوي. بعضې سړو هم د ښځو د مظلومۍ اظهار په خپلو تحریرونو او شعرونو کښې کړی. لکه ماته د خپل څلورم جماعت د پښتو دکتاب یو نظم اوس هم یاد دی چې د پښتنې ښځې فریاد په نوم پکښې وو. د هغه نظم څو شعرونه د ښځو حقیقي حالت ظاهروي او په هغوی باندې د ظلم خاکه راکاږي او د

هغوی د فریاد چغې پکښې اوریدی شي. راځی چې وې ګوری:

خاونـده چاتـه ورښـکاره څیـرې ګرېـوان کړمـه زه
چاتـه د خپـل مظلـومی قصـه بیـان کړمـه زه

د پښـتنو پـه ملـك کښـې داسـې رحمـدل چرتـه دی
چې ښځې نـرګنړي یـو شان داسې عـادل چرتـه دی
مـونږکـه یـوه ذره ګنـاه وکـړو جـوړيږي تـرې غـر
د سـړي غـر هـومره ګنـاه ګنـړي د ماشـي وزر
زه نـه پـوهیږم چې مـونږ ښځوکـوم تقصیرکړی دی
او نارینـه ؤکـوم عمـل داسـې قجیـرکـړی دی
مـونږ خـو پـه ښـه شـان سـړو سـره پـاللی دی پـت
قبلـوؤ مـونږ د خاونـد سـره هـر یـو مصـیبت
د پـلار او ورورنـه مـال و سـر قربـانوو پـه منـت
ځوی د ځیکر ټوټه ګنړوکه نه یې وي هیڅ لیاقت

بیا زمونږ سره زیاتی ولې کیږي. ددې زیاتي اظهار چې ښځو په کومه موثره او مدلله طریقه باندې په ټپوکښې کړی دی شاید چې په بل صنف کښې داسې موجود وي هم راباندې ظلم کوي وهي مې او ژړا ته مې هم نه پرېږدي.

د جانان دې ظلم ته ګوره
یو مې وهي بل مې ژړا ته نه پرېږدینه

ته چې په مخ څپېړې راکوې نو د اوښکو ډکې سترګې چاته واړوم- ستانه بغیر مې نور څوك دي.

تا چې په مخ څپېړه راکړه
د اوښکو ډکې سترګې چاته واړومه

ستا د زړه دپاره د پلار وهل او د مور خبرې تیرومه- بیګا مې د رونړو د وهلو تغمې په مخ ولاړې دي، ستا دپاره مې مور او پلار او شهزادګان رونړه پرېښودل خو په تا کښې

رحم را نه غی او نه دې وپېژندم مخ نه را اړوې پردی دې کړم، دومره دې محتاجه کړم
چې زارۍ درته کوم.

جانانــــه دومــــره ظلــم وکــړه چې پښېماني کښې په ما وکړې ارمانونه
د جانـــان دې ظلــم تــه ګــوره يـو مې وهـي بـل مې ژړا تـه نـه پرېږدينه
جانانــه دې څـولی تــه ګــوره چې مالـه جوړ نـه کړې د خلقو پېغورونه
جانانــه مــه راپــورې خانــده ډېـر يـم محتاجـه چـې زارۍ درتـه کومـه
جانانـــه ســـتا د زړه دپـــاره د پـلار وهــل د مــور خبــرې تېرومــه
جانانـــه ســـتا د زړه دپـــاره ما مور او پلار پرېښودې دې شهزادګان ورنړه
څنګــه د خــواره کړمــه يــاره چې همسايه مې د خولګی طمعه کوينه
حـلال حـلال تيکـه تيکـه شـوم جانــان مــې هغســې پــردی حسـابوينه
نــارې وهـم مـخ دې پـه څـت کـړو ظالمـــه يـــاره د يـــارې دِ وويســـتمه
د زړه قطـرې مــې درلــه درکــړې ناترســـه يـــاره زه د اونـــه پېژندمـــه
تــا چــې پــه مــخ څپېــړه راکــړه د اوښـکو ډکـې سـترګې چاتــه واړومـه
تــا چــې پــه مــخ څپېــړه راکــړه دَ دلاســې ســرې مــې نشـتـه وبـه مرمـه
زمــا پــه مــخ تغمــو تــه ګــوره د ســتا پــه ســر رونـړو بيګـاه وهلـې يمـه

ته چې بل وطن ته ځې ما په بې ننګو مه سپاره سپي به مې وخوري- زه به د صبر کفن کښې ځان دفن کړم. جانان دا وارې پخلا شه بيا مې توبه ده جنګ به درسره نه کړم. نه به درته کيلې کړم او نه به زړه بدووم.

د ډمامې اواز مې واورېدو په زړه سوری شی کوژدن د وکړه زه دې پرېښودم. څه ورکه شه په دولتمندو پسې ګرځه. زه به هم زړه صبر کړم ماته دې سپک وکتل زما ارمان به درشي.

تــا چــې رفـتن د بــل وطــن کــړو زه بــه د صـبر پــه کفــن کښــې دفــن شــمه
تاکــه زمــا پــه تهمــت ورك کــړی زه بــه خپــل عمــر پــه ژړا کښــې تېرومــه

ته چې اوس ځې په چا مې سپارې — که په بې ننګو مې سپارې سپې به مې خورینه

جانانه دا وارې پخلا شه — بیا مې توبه ده جنګ به نه درځه کومه

خفه په څه یې زما یاره — دلګیره زه یم چې له خپله کوره ځمه

زړګی به صبر کړم ظالمه — چې مخامخ دِ راته راکړل جوابونه

❖❖❖

چاته مې بد رسولي نه دي — زه خپل ښائست د هر سړي دشمنه کړمه

خاونده دا شرم مې پټ کړې — نور به د نمر ترختو نه کوم خوبونه

د جانان زړه مثال دکانړي — چې نه شرمېږي نه خپل داغ لرې کوینه

د ښځې مرګ ته حاجت نشته — بله پرې وکړه دا یې مرګ دی مړه به شینه

نن چې په سپکو سترګو ګورې — د مرګه پس به زما درشې ارمانونه

یو چې د بل په تهمت رنګ شي — هغه بې ننګه دی چې په څنګ ورسره ځینه

ځه دولتمندو پسې ګرځه — زه غریبي ستا د سیالی ویستلی یمه

د ډمامې آواز دې راغی — په زړه سوری شې یاره اودې کړه کوږدنه

زما لالی په زړه ظالم دی — نه به ګیله کړم نه به زړه ترې ډدومه

ما د شمشاد لښته ګڼړلې — د میرې زوزه دا غزو دِ ډکه کړمه

یاري دِ پټه پاتې مه شه — رب د رسوا که چې تاوان دربانديې شمه

❖❖❖

باب: ۴

سپین ږیري او سپین سرېې

زړې زړې کونډې شوې ناوې
زاره تبرونه لټوي ګوري مړونه

چې د کومې ښځې خاوند مړ شي- هغې ته کونډه وایي. د خاوند د مرګ نه پس په هغې د غمونو غر را پرېوځي- د کور مالي حالت او د بال بچ سنبالول، د معاشرې د څپېړو جواب- نه سترګې تورولی شي نه سر څنړه کولی شي، نه ښائسته جامې اغوستی شي ورته خلق وایي مېړه غوارې، په هندو رسم و رواج کښې خو به یې ددې غم د خاوند سره یوشان ځان ژوندي وسیزلو چې ستي ورته وئیلی شي. څوك ورسره واده کول نه غواړي اوکه هغه پخپله د واده خواهش کوي نو خلق هغې ته بد وایي. دا پښتنوکښې هم ډېره مشهوره ده چې:

بـه راه راسـت بـرو اګـر چـه دور اسـت
زن بیـوه مکـن اګرچـه حـور اسـت

په ښځه لاره ځه اګرکه لرې وي. کونډه مه کوه اګرکه حوره وي.

حالانکـه شـریعت د کونـډې پـه واده څـه پابنـدي نـه ده لګولې. د رسـول الله ﷺ ټـولې بیبیانې کونډې وې، سېوا د حضرت عائشهؓ نه. البته پېغلې ته په کونډه باندې فوقیت ورکوي، ځکه چې کونډه نه خپل مخکښې خاوند هېرولی شي او نه د خپل مخکښې بال بچ نه اوزګاره وي. د کونډې سره واده اکثر په مجبورې وي چې د خپل رور یا نزدې رشته دارکونډه ورته پاتې شي.

ګونډه که د زلمو نه وي خوښه نو د پېغلو د زړه سر هم نه وي. په کونډه باندې اکثر اعتراضات هم د پېغلو راځي.

ډول د پېغلـې سـره ښـائي — کونـډه دِ نـه کـوي پـه تیـر دور ډولونـه
خال مـې د کونـډې پـه مـخ ولیـد — پېغلې لـه ښایي چـې پنځـه کیـدي خالونـه
مـا درتـه وې چـې کونـډه مـه کـړه — کونډه د بوسـو بوسـاړه غوبـل یـې خورینـه

کونډه د پېغلې برابر چرته کیدی شي ځکه خو رحمان بابا ډېر پخوا وئیلي وو:

لږ تفاوت نه دی د رندی د زاهدی
چرته زلمی جونه چرته کونډې یتیمان

بوتله کونډه درنه ښه یم — تا د رب واخلي زه دِ ځان له پاتې شمه
کونډې کونتون د اوبو یوړو — ځوی د د ښځې شاګردي کړي تا پرېږدینه
کونډې په هر محلت کښې ډېرې — دګل ستار سره راڼی کونتون کوینه
طلاق هغې ښځې له ورکړه — چې ستا خبرې له جواب پیدا کوینه
دکونډې ځوي ته مې ورکړې — جائیداد یې ډېر دی ما به نه خفه کوینه
د موزیګي نه کونډه ښه یم — توره څرخه به ګرځوم ځان به ساتمه
نورې ښېرې به درته نه کړم — خدائ دِ په سرو جامو کښې کونډه که مئینه

پېغلې کونډو ته په ښه نظر نه ګوري ځکه چې د مړونو په تلاش کښې دوی د هغوی مقابل وي، خو ددې نه علاوه د پېغلو د مړونو باره کښې نورې هم ګیلې دي، چې زما په برخه کښې ماته دا ملاؤ شو، په دې خپله برخه باندې یو قسم د ناراضګی اظهار کوي.لکه چې وایي:

زما په برخه کښې کونړا شو — د غوږ خبره وي جهان پرې خبرومه
زما په برخه کښې حافظ دی — لکه د مست سنډا یې نیولی ګرځومه
زما د څه نصیب کړ خدایه! — دا ابی غاړی یار د ماله لویونه
بوډا به هېڅ کله یار نه کړم — بوډا چې ځان سنبالوي سبا به وینه
زما په برخه د نادان کړو — زه چې نادان پوهه کوم زړه به یمه
مبارکي راکړئ عالمه! — نادانه زه نادان مې یار ورسیدنه
نصیبه څه درسره وکړم — زما په برخه د موزي اورسونه

چې پېغلتوب وو بادشاهي وه
چې اوس بوډۍ شوم د اولس د خندا شومه

چې زاړه شي نو ځوانان د خپل ځواني او پېغلې د خپل پېغلتوب ژړا کوي. د هغې په يادونو اوښکې تويوي. خو نه هغه ځواني بيرته راځي او نه هغه پېغلتوب. دا وار صرف يوځل دی بيا بيا نه وي. لکه چې وايي:

يو يو وار دی په هرچا باندې تېرېږي
همېشه به په چا نه وي دا وارونه

دا ځان له نه ژاړي بلکې نور اولس ورته هم وايي چې ستا وار تېر شوی. اوس په لنډه زنه خالونه مه ږده. د پېغلتوب بهار دِ تير شوی دی په سپينو زلفو بازونه نه ښيلی. ملا دکونتې ده.

چې پېغلتوب وو بادشاهي وه — چې اوس بوډۍ شوم د اولس د خندا شومه
ډول د ځوانۍ جينۍ خوند کا — زړه دِ نه ږدي په لنډې زنه خالونه
شهی زړه شوه وار يې تېر شو — له منګو پريوته کوزې را ډکوينه
وار مې د تورو زلفو تېر شو — اوس مې په سپينو زلفو نه ښيلي بازونه
يو خو مې مور او پلار خدائ مړه که — د دنياګی په سر يې خاورې ايرې کړمه
چې پېغلتوب په زړه را ياد شي — په ګنجې مخ مې اوښکې غټې غټې ځينه
زه دې په خپل کورکښې زړه کړم — د پېغلتوب باغ مې خزان لوټ کړو مئينه
زما په برخه کښې بوډۍ ده — ملا يې کوتې ده کټ کښې ځای نه راکوينه

زما د بنو جنګ يادېږي
ستا د قسم وي ياره دوه اوکه ودونه

د يو خاوند د يوې نه زياتې ښځو ته بنې وايي. د بنو يو بل سره مخالفت او جګړې مشهورې دي. په ښځه باندې د بنې غرږ د ټو پك ډز دی.

د ښځې مرګ ته حاجت نشته — بله پې وکړه دا يې مرګ دی مړه به شينه
د بنې غرږ را باندې وشو — د وړی لور سره د کټه پريوتمه

د دوو ښځو صلح هېڅ کله نه راځي او نه يې يوځای گذران کېږي.

گذران د برغو بنو نه شي
که ور په سر کړي بادشاهي زرين شالونه

ښځه د خپل خاوند په محبت کښې بل شريك نه مني. مشرقي ښځې عموماً او پښتنې ښځې خصوصاً د خپل خاوند نه بغير په بل چا نظر نه کوي. او د خاوند نه هم دغه توقع لري. ځکه بله ښن نه قبلوي. د يورپ او امريکې سړي که د نورو ښځو ښکارکوي نو ښځې يې هم د نورو سړو ښکارکوي. خو د حېرانتيا خبره داده چې اسلام د يوې نه د سېوا يعني څلورو ښځو اجازت ورکړی دی. زما په خيال د اسلام دا فيصله د طبيعت نه زياته په عقل مبنی ده. څنگه چې طلاق په اسلام کښې يو ناخوښ فعل دی، خو د مسئلې د هوارولو دپاره يې اجازت ورکړی دی. د يوې نه د سېوا ښځو اجازت هم د مسئلې د هوارولو دپاره دی. د عيش پرستی او شهوت رانی دپاره نه دی. په کينيډا کښې به اکثر جينکو سوال کولو چې په اسلام کښې د يوې نه سيوا ښځو اجازت ولی دی؟ جواب يې دا وو چې فرض که ته داسې بيماره شوې چې هوش و حواس دې په ځای پاتې نه شو- يا بدني طور داسې بيماري درته اولگيده چې د ښځې کردار ادا کولی نه شې. اوس دوه صورته دي. يو ستا د مذهب عيسائيت مطابق دادی چې خاوند تا طلاقه کړي او بله ښځه وکړي ځکه چې د عيسايي مذهب په قانون کښې څوك دوه ښځې نه شي ساتلی.

په دې حالت کښې به ستا ژوند تباه و برباد شي. ته ناجوړه، معذوره او خاوند درنه هم لاس واخست. بل څوك تاسره واده کول نه غواړي ځکه چې د واده دپاره فټ نه يې. او د بدحالی ژوند به تيروې. اسلام کښې چونکه د بلې ښځې اجازت شته. خاوند به بله ښځه وکړي د هغه کور به هم جوړ شي او تا به هم ساتي. علاج معالجه به دې کوي او د هرڅه د ذمه دار وي، نو ته به اولنی صورت خوښوې اوکه دا دويم. نو ښکاره ده چې هغې دويم صورت خوښاوو او دغه د اسلام خوبصورتي ده.

په پښتنوکښې اکثر دوېم واده د بعضې مجبورو د وجې نه شوي وي. د عيش پرستی دپاره به ډېرکم وي. ځکه چې د مساوات ساتلو احکام پوره کول ډېرگران دي،

خو د مړ وروړ ځوانه کونډه په نکاح اخستل مجبوري ده. اګرکه خپل واده دې هم وي.

ګـذران د برغـو بنـو نـه شـي — که ور په سرکړي بادشاهي زرین شالونه
د ښځې مـرګ تـه حاجت نشـته — بلـه پې وکړه دا يې مـرګ دی مړه به ښينه
د بنـې غـرو را بانـدې وشـو — ډ ورې لـور سـره دکتـه پريونـه
د بنـې غـرو را بانـدې وشـو — لکـه ډوډۍ پـه تنـاره خمسـوزه شـومه
د بنـې کـور د غنـو شـپول دی — پنـړے پـه پښـوکـه پـرې ډاډه ږده قدمونـه
زمـا د بنـو جنـګ يـادېږي — سـتا دِ قسـم وي يـاره دوه وکـړه ودونـه
مالـه يـوه ملالـه بـس ده — ځانګې چې برغې شي جوړېږي فسادونه
نـن مـې د بنـې خويـه مـړ دی — سـترګې مـې ژاړي زړه مـې دور غړوينـه
د توپـك ډز ورتـه اسـان دی — د بنـے غـړ ئـے ورانـه وي د زړه کورونـه
د زلمـو زړونـه فـولادي دي — يـوه يې کـور وي پـاس پـرې بلـه راولينـه
د سـرو مـال خطـره پکښې وي — چا چې دوه بنـے پـه يوکـور سـاتلي وينـه

په سپينه ږيره ليونى شوى

چې شين خالى رايادوي مړې لاسونه

د سپين ږيرو سړو او سپين سرو ښځو مثال داسې دی لکه د پانړې نه وتی غوز. هغه غوز د لوبی نه اووزي بيا يې څوك په څه کښې نه حسابوي. لکه عبدالحميد ماشوخېل بابا وايي:

سـپينې ږيـرې زمـا عشـق کوتـه رو پـئـی کـړه
هـېڅ يـې نـه قبلـوي ښـکلي پـه سـودا کښـې

او پېغلو له وربانديې هم خندا راځي:

په سپينه ږيره دومره مئينه
په تور پيکي مې لاس وهي خندا راځينه

پېغله سپين ږيري ته حواله کول ډېر بې ميل، بې جوړ او نامناسب واده دی. ددې ټپو

نه اندازه لګي چې د سپین ږیري سره واده د پیغلې مرګ دی. سپین ږیرو له خپله پکار دي چې د داسې واده نه اجتناب وکړي.

په سپینه ږیره لېونے شوے چې زغلوے د مستانه جونو سیلونه
په سپینه ږیره لېونے شوے چې شین خالی رایادوي مړې لاسونه
په سپینه ږیره ډېره مینه په تور پیکي مې لاس وهي خندا راځینه
سږته مې کینه راته ژاړه په تور اوربل باندې مې وهه لاسونه
دکوټې تیر را باندې پروت وی راباندې نه وي د بې ننګ سړي لاسونه
زما په برخه کښې بوډا شو بوډا زما په مخ کیاږي غور زوینه
هغه ساعت به لوی قیامت وي چې زوړ سړی په جینی واچوي لاسونه
بوډا به هیڅ کله یار نه کړم بوډا چې ځان سنبالوي سبابه وینه
چې ځلمیتوب وو خو ستا یار وم اوس چې بوډا شوم د جمات مسافر شومه
غابښ دکنډاو ږیره دِ سپینه په یارانه پسې ملنګ ګرځي مئینه
غابښ دکنډاو او ږیره سپینه د بنګړو شرنګ ته تر سبا کړي شوګیرونه
بیګاه د چا په غیږ کښې پورت وې د سپینې ږیرې د لونګو بوئ راځینه

خدایه! موذیانو کښې مرګ ګډ کړې
چې د غیرت لیونی جونې خلاصې شینه

دکفایت اردو لغت په لحاظ سره موذي عربي لفظ دی چې معنٰی ایذا او تکلیف ورکولو والا دی. دا لفظ عام دی او پښتوکښې د ډېرو څیزونو دپاره عام استعمالېږي خو ښځې یې خاص د هغه سړي دپاره استعمالوي چې هم ناکاره او هم بېکاره وي. د ښځو په نزد ددې لفظ ګیډه ډېره غټه ده. هر هغه ناکاره او بدخوئ چې د سړي او سړیتوب د خاصیتونو ضد وي. هغه په موذي او موزیګی کښې شامل دی. په موذي پورې هر قسم خندا کړې ده. چې بهر بړوا کورکښې سوبارې چلوي، د وړوکوډې دی، ټپوس دی، مړ خر یې په لته اوواهه. بیا د موذي د مرګ دعاګانې کوي، چې تبه دِ

پرې راشي. سل جوارګر خونیان آزاد که یو موذي مړکړه. خدایه! موذیانو کښې مړګ کړ
کړ نور مړه شو خو زما د برخې موذي پاتې دی او بیا د خدایه ګیله کوي چې زما په
برخه د موذي ورساوه. که د ریښمو پالنګونه راله او پیری خو د موذي د رنګ ته جوړه
نه یم. ماسخوتن شو خدایه! بیا به د موذي خواله ځمه. خدایه! د دلالانو بچي مړه کړې
چې دګلو لښتی په موذیانو زړه وی د موزیګی نه خوکونډه ښه یم.

زما په خیال باندې په دې موضوع دومره څه مواد دي، چې که تفصیل یې لیکې نو پوره
کتاب پرې لیکلی شي. بل دا چې اکثر ښځې سړو ته ډېر د قدر او عزت په نظر ګوري.
خو د موذی په غیبت کښې او هغه ته بد وئیلو کښې هغوی ټول حدونه پاس کړي دي. د
ښځو په نزد موذي دومره ناکاره او بیکاره مخلوق دی چې لغت د هغه د بیان نه قاصر دی.
او د هر سړي خپل ځان ته هم پام شي چې زه چرې په دغه موذیانو کښې خو نه یم.

چا راته وې موذیان تمام شو / زما د برخې موذي شته ما کړوینه
په کلی کنړې تبې ګډې / په خوار موذي دِ تبه راشي چې ومرینه
ښاغلے یوځله په ځای مري / موزیګی هر وخت په ځای بې ځاي مرینه
دا موزیګی د وړوکو دي / چې په څپېړه یې وهم دوړي ترځینه
موذي ټپوس ناسته د بازکړي / زه کم نصیبه په ټپوس غلطه شومه
زړه مې په داسې موذی بائیلو / نه یې دولت شته نه د خُله لباس ورځینه
موذی په مینه نه پوهېږي / په نس یې مورکه ترسبا کوي خوبونه
ګل مې د یار سره ښائېږي / مناسب نه دي چې موذیان یې بویوینه
د توریالانو خویندې ژاړي / د سپو موذیانو خویندې سترګې توروینه
د موذی دې تورې ته ګوره / بهر بړوا په کور څوباړي چلوینه
د موزیګي مړانه ګوره / چې د سپلمی په ملخ یې وکړ ګذارونه
د موزیګي مړانه ګوره / نن یې چرګوړی له لکی نیولی وونه
موزیګي بله توره وکړه / په ډیران مړ خر یې په لته اوواهنه
موذي په خپله تبه نه مري / سبا مې نیت دی چې ژوندی خښومه

قميص مې مينځ ګيډه چې بڅه دی
چيرکی خو ډيرې دي موذي به جوړوينه

د موذی د رنګ تـه جوړه نـه يـم
کـه دَ ريښـمو راتـه او پيـري کتونـه

د مـوزيګي د زورنــه يــم
د لاس بنګړي مـې خرڅـوي ژړا راځينـه

جدايي سـتا لـه لـورې راغلـه
موذي په ما منت کوي چې خوار دِ کړمه

د مـوزيګي شـليدلی کـټ
چـې زه دِ لنګـه ټينګـوم بـازو دِ ځينـه

سـل جـواګر خونيـان ازاد کـړی
يو موذی مړ کړی چې وطن ترې خالي شينه

زمـا خنـدا ور پـورې کيـږي
موذي ناری کړی چې مئين دربانديې يمه

په موزيګی مې پيرزو نـه شي
د خاوری خټ شي چې دعا درتـه کومـه

خدايه! موزيانو کښې مرګ ګډ کړې
چې د غيرت ليونۍ جونـه خلاصې شينه

خاونـده بيـا د ماسـختن کـړو
بيا به مې خوا کښې موزيګی کوي خوبونه

په خله مې مـچ پريښـی نـه دی
د موذی خان لاړی مې ښکته ترخُلې ځينه

د دلالانـو بچـي مـړکـړې
دګلـو لښـتې پـه موذيـانو زړوينـه

خاونـده بيـا د ماسـخوتن کـړو
دګلوَ لښتې د موزيـانوکـټ لـه ځينه

د بکيانړې دومره پانړې

دومره ګيلې مې ياره تانه شوي دينه

د پېغلې او زلمي د يوبل سره تعلق د محبت په بنياد وي، چې د دواړو يوبل خوښ وي د محبت او خوښوالي د احساس د وجې نه د يوبل نه توقعات ډېر زيات وي. د پېغلې دا توقع وي چې دده دپاره زه د ليلی نه کمه نه يم. او زما ښائست د چندنړ دګلو د لښتې نه کم نه دی نو پکار ده چې زما هره خبره او مطالبه بلا چون و چرا اومنلے شي. د زلمي دا خيال وي چې په دومره زلموکښې يې زه خوښ کړم. نو زه ضرور د ګلاب ګل او د چنار ونه يم. پکار ده چې زما هره خبرَه او مطالبه ومنلے شي. په داسې حالاتوکښې د ګيلو مانوګنجائش ډېر زيات شي. دا ګيلې هم کم تر د زلمو د طرفه وي، بلکې اکثر د پېغلو او مېرمنو د طرف نه وي لکه څنګه چې د ښځوګيلې يو عام

خوی او عادت دی او ګیلې څومره- بس یو سیلاب دی چې د هر چانه ګیله منه. د یارنه هم د ځان نه هم د جهان نه هم، د خدای نه هم د نصیب نه، هم د زړه نه هم د سترګو نه، هم د خپل محلت نه او هم د زیارتونونه.

جانانه دا زما ګیله ده کور دِ په کلي کښې دیدن دِ په کلونه
دا ما په خپله په ځان کړي ګیلې د خلقو نه کوم لېونۍ یمه
ستا به زمانه ګیله کېږي زه ګیله منه د تمام جهانه یمه
د خپله رب به مې ګیله شي چې د ځوانۍ عمر په غم کښې تېرومه
د خپل بخته ګیله راشي چې ستا د دره بې دیدنه کورته ځمه
سترګې به هرچا تورولې په دې دله محلت کښې زه په ګوته شومه
سوال ترې کوم نه مې قبلېږي یا ټګه زه یم یا ټګان دي زیارتونه

پښتو مې ستا په سرکوله- ته چې بې پښتو شوې په زړه د یوه په خُله دِ بله وې ته خپل معاش کړی زه دِ په رنځ اخته کړم. چې یاري د نه شوه کړی نو ولې دِ کوله. ته چې هرڅه کړې بې ګناه یې، زه ګناهګار یم.

پښتو مې ستا په سرکوله ته بې پښتو شوې زه پښتو ځله کومه
په زړه یوه په خُله یې بله په دو رنګې د جانان ډېره خفه یمه
تهٔ په قلاره خپل معاش کړې یاره انبار دِ کړه په ما باندې غمونه
ته چې زما د یاري نه وې زما وده زړګی دِ ولې ویښونه
ته چې هرڅه کړې بې ګناه یې زه د په یو اسویلي ورك له ملکه کړمه

زړه مې دګیلو ډك دی- څه اوکړم، که وایمه نو ژبه مې سوزي که چپ پاتې کېږم نو هډوکی مې سوزي.

ته مرور له ما په څه یې ګناه را اوښایه چې نور یې نه کومه
جانان مې بد راسره وکړه، عجیبه داده چې ګیله له ما کوینه
جانانه ته خو داسې نه وې د چا خبرې دې ضرور منلې دینه
جانانه دا زما ګیله ده کور دې په کلي کښې دیدن دِ په کالونه

جانانه داسې خو څوك نه كړي لكه د سوال قطره د اورته اونيومه

جانانه ولې بېوفا شوې چې بې ګناه دې ماله راكړه جوابونه

جانانه ولې دې پردې كړم تا وې تر مرګه به د زړه كښې ګرځومه

چاړه راواخله سر مې پرې كړه ګناه مې داده چې په تا مئينيدمه

چې مې باور وربانديې ډېر وو هغه جانان د زړه په سر راكړو داغونه

څه به دَ ښې ورځې خاوند شي چې بې ګناه په ما غريب كوي ظلمونه

دا ما په خپله په ځان كړي ګيلې د خلقو نه كوم لېونے يمه

دَ اسرې ځائے مې پاتې نه شو دګيلو ډك زړګى به قبرله وروړمه

د خپله بخته ګيله راشي چې ستا د دره بې ديدنه كورته ځمه

د خپله ربّ مې ګيله شي چې د ځوانۍ عمر په غم كښې تيرومه

ډېر ګيلې زما په زړه دي چې جدايي شوه اوس ګيلې چاته كومه

زړه مې د ستر ګو ګيله من شو چې ته ديدن كړې زه غمونه تيرومه

زما په تا لويه ګيله ده چې باغ ته لاړې دګل ست دِ نه كاونه

زما په زړه ډېرې ګيلې دي هله به يې وايم چې يار مخامخ شينه

زما د تانه ګيله نشته زه ګيله من د خپل زړګي كمبخته يمه

زما له خپل ياره ګيله شي نه يې آشنا كړم نه يې راكړه جوابونه

زما له هېچا ګيله نشته. زړګيه خوار شې تا د ژوند اوويستمه

زما ګيلې به له چا څه شي په نصيبه د خوارو خواري برخې وينه

زه له خوبانو ګيله نه كړم ګيله د ځان ده چې په دوى مئيندمه

زه له غمازه ګيله نه كړم ازغى دګل سره مدام اړه لرينه

ستا به زما نه ګيله كېږي زه ګيله مند د تمام جهانه يمه

شمع پتنګ نه ګيله وكړه چې ستا وزرو راته وران كړ سنګارونه

ښه شوه چې خپله د پوره كړ اوس دګيله له ما بې ځايه ده مئينه

ګوري زمانه خفه نه شي — زړه مې ګيلې درته لېږي زه سلامونه
ګيلې کومه غوږ پرې مه ږده — که ته پوهېږې دا د مينه زياتوينه
پتنګ د شمعې ګيله منه دی — زه ګيله منه د مرور اشنانه يمه
پټ به د زړه دردونه تيرکړم — بې درده يار ته به اونه وايم حالونه
پخوا د صدق ياراني وې — يار به د يار سترګو ته عمر تيرونه
پرېږده چې تور ښامار مې وخوري — په پاړوګر اشنا به ډېره نازيدمه
پرېږده چې خاورې په سر نولم — په بې وفا لباسي ولې غليدمه
پرېږده چې ښه پکښې ترقېږم — د مينې اور دې سوزوې پرې خوندکوينه
په پالنګ پاس ورسره ناسته — ګوره چې نه شي چرې تانه ګيله منه
په ځان د لوټې ګذار نه اخلې — په ما کوي د سپينو تورو ګذارونه
په خله د يوه په زړه دې بله — د سپلمې ګله تش په رنګ دِ تيروتمه
په زړه دِ څه دي راته وايه — خمارو سترګو د ګيلې راوړې دينه
په زړه مې بار د ګيلو جوړ شي — بيا تار په تار شي چې دِ سترګې اووينمه
په زړه مې بار د ګيلو پروت دی — هله به يې وايمه چې تور لحد ته ځمه
په زړه مې ځای د ګيلو نشته — هلته به يې وايم چې د سر په سنګل ږدمه
په ما دِ بد لالې ثبوت کړي — بې بدو زړه زمانه ځله بدوينه
په ما دِ وار د ځوانی تيرکړو — ستا دِ رانه شي د دکن نه مورانونه
تا وې زه ستا يم ته زما يې — اوس راته وايې ما نه اونغاړه لاسونه
توره بلا نه يم نور څه نه يم — په يار مې خاورې اړوي هېڅ نه کېږمه
ته به په سور پالنګ کښې خوب کړې — زه به ځيګه تيره د سر لاندې کومه
ته به د سرې ډولۍ خاوند شې — زما به اوښکې په مخ لارې جوړې کړينه
ته په قلاره خپل معاش کړې — ياره انبار د کړه په ما باندې غمونه
ته چې انګور وې اوس شراب شوې — زه دِ پوستکي د نارنج په شان کړمه

ته چې زما د یاری نه وې زما وده زړګی د ولې ویښوونه
ته چې هرڅه کړې بې ګناه یې زه دِ په یو اسویلي ورك له ملك کړمه
ته له جانان ګیلې مه کړه ظالم د زړه دی چې مدام د ژړوینه
ته رانه لاړې زه د پر ښوم کله ژړیږم کله هسې خفه شمه
له خپل قسمته مې ګیله ده نور یې ګلان کړه زه غنچه ولاړه یمه
مئین چې ته شوې ګرمه زه شوم بې غوره یاره په ګیلو دِ اوخوړمه
واوره د یار څخه مې واوره نن مې ګیله ده سبا جنګ له به درځمه

نورې ښېرې به درته نه کړم
غم د مېلمه شه چې ځواني د خاورې شینه

ښېرې هم د دعا یو قسم دی چې بد دعا ورته وایي. ښېرې د هغه مظلوم کار دی چې د بدل اخستو وس یې نه رسي. کمزوری ناتوان او بې اسرې وي. نو دې زر خدائ پاك ته متوجه او فریادي شي او ظالم زورآور او طاقتور وي خو ورسره متکبر هم وي. او د تکبر سره دی د خدائ سره مقابله کښې راشي نو ځکه د مظلوم ښېرې فوراً قبلېږي او د ښېرو غشی ډېر خطرناك وي. خطا نه ځي ځکه خو رحمان بابا وایي:

په هر چا چې د غضب لینده کړي کښه
خطا نه درومي ګذار د درویشانو
د آه غشی یې په زمکه کله لګي
کوم قامت چې کمان طور خمیده شي
درته وایم له آه یې پرهیز کړه
د هغو چې پوشاکونه پشمینه دي

د فارسي ژبې مشهور بزرګ شاعر حافظ شېرازي د رحمان بابا په شان بل مست ملنګ دی، چې د ښېرو د زوره خبر دی ځکه وایي:

تیــر آه مــا زگــردون بگــذرد جــان عزیــز
رحــم کــن بــر جــان خــود پرهیــزکــن از تیرمــا

زما د آه غشی د آسمان نه تېرېږي. په ځان رحم وکه زما د غشي نه ځان اوساته او یو بل د فارسي شعر دی. وايي چې د مظلوم د آه نه ویره اوکه. ځکه چې کله دعا اوکی نو د خدای د طرف نه ورته قبولیت استقبال ته راځي.

بتــرس از آه مظلومــان چــون هنگــامی دعــا کــردن
اجابــت از در حــق بهــر اســتقبال مــی آیــد

تاسو وکتل چې ښېرې څومره خطرناك څیز دی. خو اکثر ښځې تر بیا هم نه اوري. زما په خیال کښې وجه یې بله ده څنګه چې زړه ودردېږي نو د سترګونه اوښکې رواني شي- اوښکې د چا په اختیارکښې نه وي د هغه شان چې زړه ودرديږي او خفه شي نو آه تــرې وځېــژي. دا آه ښــېرې دي او د آه څــومره زور دی دا د حضــرت عزیزالحســن مجذوبؒ نه واوره.

دم بخــود هــے ضبط کــا مــا را هــوا مجبــور هــے
آه کــے نزدیــك ورنــه آســمان کیــا دور هــے

خوکمال دادی چې هم ورته ښېرې کوي او هم پرې خفه کېږي زړه یې خوږېږي.

پـه مرګ د نـه مري اشنا خوږ دی   بده نیستي ده پـه نیستی دِ بدرنګ شینه

کله خفه شي نو بیا خپل ځان ته ښېرې شروع کړي.

پـه تـورو سترګو مـې رنـده کـړې   چــې اشــنا نشــته زه یــې څلــه تورومــه
چــې محبــت راســره نــه کــړي   خدائ مې دِ مړه کړي چې د غمه خالي شمه

اوکله جانان ته ښېرې کوي خو هغه ښېرې هم د مینې او محبت نه ډکې دي.

پـه تبـه پریـوزې مـړ پـې مـه شـې   چــې د غرمــې غرمــې پوښــتنې لــه درځمــه
خــدائ دِ دَ بــام راګــذاره کــا   چــې رنګــه بنګــه دِ پــه ځــان راواړومــه

او چې کله د هغه ځوان ځوانی په لاس نه ورځي بیا د هغه ځوانۍ ته ښېرې کړي.

شوله وړوکی ځواني مرګ شې　　تر غټېدو مې زړګی نه کوي صبرونه

تنکے تنکے ځواني مرګ مړ شې　　زه دِ په تش دیدن پسې لېونۍ کرمه

او بیا په آخرکښې هېڅ هم ونه شي او په لاس هېڅ څه ورنه شي نو وايي:

چې زما نه شوې د بل مه شې　　د خاورو خټ شې چې د قبر ته درځمه

خدایه! ښېرې ورته دعا کړې　　کاسیره لور مې د زړه اخلي ازارونه

خلق دعا راته ښېرې شوې　　لړې ښېرې راته کوي که دعا شینه

دا په دکن دِ ځلے جوړ شه　　کاغذ دِ راشه چې بندي آزاده شمه

دا ما ته مورکړي ښېرې دي　　ځکه مې کړه په زیړي مازیګر ځینه

د رب د دره بېنوا شې　　زه دِ دَ دره بېنوا راغلے یمه

ډېرې ښېرې به درته نه کړم　　مرګ د مېلمه شه چې د خلاص له غمه شمه

رب خو د وار د ځوانی تیرکا　　چې کبرژن ځان ته د فکر شي مینه

زما د زړه غلبیل غلبیل کړو　　غندل غندل ځواني د خاورې شه مینه

زما د سترګې دوزخي شي　　که بې له تا مې چاته غټ کتلي وینه

سوی دِ یم سوی به ګرځم　　سوې ښېرې به د جینی پلارته کومه

شوله وړوکے ځواني مرګ شے　　تر غټېدو مې زړګی نه کوي صبرونه

ظالمه ظلم دې کنډېر شه　　چې د مظلوم زړګی په امن پاتې شینه

لاس د ټوټې ټوټې قیمه شه　　ظالمه ثا مې په مخ جوړ کړل نشانونه

نورې ښېرې به درته نه کړم　　غم د مېلمه شه چې ځواني د خاورې شینه

نورې ښېرې به درته نه کړم　　خدائ دِ په سرو جاموکښې کنده که مئینه

باران د کانړو یې په کور اوشه　　څوك چې په یار مطلب کوي بیا یې پریدینه

په تبه پریوزې مړ پرِ مه شې　　چې د غرمې غرمې پښتنې له درځمه

په ټوړو ټوك ټوك شې مړ مه شې　　چې پرهرونه د کندم خوله درکومه

په تورو سترګو مې رنده کړې
چې اشنا نشته زه يې خله تورومه

په خته ځې په خته ډوب شې
جواب د راشه چې له غمه خلاصه شمه

په خله به غر درته اونه کړم
په زړه کښې پټې به ښېرې درته كومه

په خله يوه په زړه دِ بله
مرګ د مېلمه شه چې د خلاص له غمه شمه

په سترګو روند شې راته ګوره
په تش كاته به دِ ځوك سر نه پرېكوينه

په شپږ مخي تو پک سورے شې
چې دې دننه زړه كښې جوړ شي پرهرونه

په ښكته ځې په ښكته مړ شې
چې كمپنی ويركړي ګورګان د لمبوينه

په كلمه دې ژبه بند شه
كه دې زما مينه په بل وكړه مئينه

په ما دِ وكړه په تا اوشه
واړه دِ مړه شه لوئ د وغواړه خيرونه

په مرګ دِ نه مری اشنا خوږ دی
بده نيستی ده په نيستی دِ بدرنګ شينه

تنكی ځوانی د اور پسې شه
په اور لمبه شې چې سيزې د خلقو زړونه

ته چې په ما پورې خندا كړې
خاوند دِ تاته په خپل كور در پېښه كړينه

ته د تو پكو خلوكښې ور شې
ياره په ما باندې دِ كړې دې ظلمونه

جانان ته به هم ښاد نه شې
چې مې دا خوږ زړګے ښېرې درته كوينه

جانانه خدای دې سزا دركړي
په مخ مې اوښكې مدام ستا د لاسه ځينه

جانانه خدای د ځواني مرګ كا
چې د سيالانو د سيالۍ د اوويستمه

جانانه غم نه خالي مه شې
ورځ دِ په خيال شپه دِ په غم كښې تيرومه

چې محبت راسره نه كړي
خدای مې دِ مړه كړي چې د غمه خالي شمه

څومره چې زړه زما خوږيږي
دومره ښېرې به د يار سترګو ته كومه

خالقه! ما په سترګو روند كړې
چې يار مې لاړ دَ نورو نه كړم ديدنونه

خدائ دې تر دغې لا بدتركه
چې د كم اصل بوټی ګل د بويونه

خدای دِ دَ بام را ګذاركړه
چې رنګه بنګه دِ په ځان راواړومه

خدای د زما په غېږكښې مړكړه
چې ته سلګی كړې زه د شونډې ښكلومه

❖❖❖

باب: ۵

هلکان او جونه

هلک مئین شي وطن پرېږدي
جینۍ مئینه شي مخ پټ کړي او ژاړینه

په مخکښې بابونوکښې مونږ د زلمو او پېغلو ذکر په تفصیل سره وکړو. بهر حال بعضې تپې د هلك جینۍ جونو او جینکو په نوم باندې دي. کیدی شي چې ددې نه مطلب هغه کسان وي، کوم چې زلمیتوب او پېغلتوب ته نه وي رسیدلي او دا هم کیدی شي چې بعضو د زلمي او پېغلې په ځای هلك او جینۍ لفظ استعمال کړی وي دا تپې مونږ په درې حصوکښې تقسیم کړي. یوه حصه هغه ده چې په یوه تپه کښې د هلك او جینۍ دواړو ذکر وي. بله حصه هغه ده چې پکښې د هلك د خصوصیاتو اوکړه وړه ذکر وي او آخري حصه هغه ده چې د جینۍ جینکو او جونو خصوصیات او تذکیر پکښې وي.

د هلك او جینۍ موازنه یې په ډېره ښکلې طریقه باندې کړې او حقیقتونه یې ښکاره کړي دي. هلك چې زلمی شي په پلار حکم کوي. جینۍ چې مسته شي خندا کړي. هلك لړم اوخوري ژاړي. جینۍ ښامار اوخوري خاندي. هلك مئین شي وطن پریدي جینۍ مخ پټ کړي او ژاړي. که هلك چنار دی جینۍ دګلو لښته ده. که هلك شهزاده دی خویندې یې بغدادي کونترې دي. که هلك غذاله ځي جینۍ ورسره میګزین وړي خپله وایي چې یار مې زیارت دی زه یې ملنګه یم. یار مې ښائسته دی زه زرکه یم. یار مې هندو زه مسلمانه. پخوا به ښځې تښتېدې اوس سړي تښتي.

هلك چې تور شي لونګین شي
جینۍ چې توره شي بنګړي د خرڅوینه

جینۍ چې مسته شي خندا کړي	هلك زلمی شي نو په پلار حکم کوینه
جینۍ چې غټه شي کلچه شي	هلك چې غټ شي پونګړی دِ پړسوینه
د هلك تورو ښرو غوځ کړم	د جینۍ تور اوربل د غره لیونی کړمه
د هلك رنګ د شهزاده دی	ځکه یې خویندې بغدادي کونترې دینه

د هلکانو مینې زور شوي
جینکو واچول د صبر تعویذونه

د هلکانو مینې زور شوي
د پېغلو سپین شولو په کور کښې تور سرونه

زنړکي لرم خوړلی ژاړي
لیلی ښامار خوړلې ده خندا کوینه

زنړی غزاته ځي روان شول
پېغلې یې مخکې دي میګزین ورسره وړینه

سر مې خوږېږي جوړه نه یم
په ما مئین ځوانانو وکړل خیراتونه

عالمه داسې زمانه شوه
پخوا به ښځې تښتېدې اوس یې مړونه

که د زلمونه پوره نه شوه
ګرانه وطنه جینکې به دکټینه

مور ورته خال په وینو کښېښود
خور یې هم توره باټ کوي ورسره ځینه

وړوکې ورور یې دلاسه کړه
چې درته وواېي د شرینې خور حالونه

هلك مئین شي وطن پرېږدي
جینی مئینه شي مخ پټ کړي اوژاړینه

هلکه ځان ته غره مه شې
که ته چنار یې زه د ګلو لښته یمه

هلکه څنګه راته ګوري
تا په دې زیړګونه کښې څه لیدلي دینه

هلکه داسې راته ښکاري
لکه چیندخه چې په لوټه ناسته وینه

هلکه زما د یاري واوره
دا توري زلفې ښاماران اوبه دې خورینه

هلکه لرې رانه ګرځه
ستا په یاري کښې په انکار اوکړیدمه

هلکه مرې که پاتې کېږې
دا مې دستور دی نرې سترګې تورومه

یار مې د خوست زه د تیراه یم
خدایه خوست وران کړې چې جوړه تیراه ته ځونه

یار مې د لرې ښه ښکارېږي
زه یې هم زرکه د چمن ساتلې یمه

یار مې زیارت زه یې ملنګه
خورې ورې زلفې ورتلم په پریوتمه

یار مې هندو زه مسلمانه
د یار دپاره درمسال جاروکومه

باچایي تخت مې پکار نه دی
جانان د لوکړي زه به وړې تولومه

بېلتونه دا د څه سودا ده
چې ته زلمی جدا کوې ناداني جونه

د هلک دوه څیزه مزه که
سپینه خولګۍ بل د ټوپک کاږه غوږونه

د زلمو او پېغلو په ټپوکښې بختګي او دروندوالي دی او بعضې ټپې خو یې ډېر ژور مطلب لري. داسې ښکاري چې د هلك نه مطلب کم عمرکسان دي، چې د زلمو په شان پختګي پکښې نشته. بلکې د هلکواني خبرې دي، چې صرف د مئینتوب او یارانې، پورې محدود دي. د هلك په صفت کښې وايي:

د هلك تګ د دراني دی
لنډې قمیص عنبري څنړې خوروینه
د هلك دنګه غړی خوند کا
لکه نښتر چې د کنډاؤ په مېنځ کښې وینه

هم هغه د هلکواني خوئ د هلکواني خبرې او د یارانې ذکر لکه چې وايي:

سترګې د تورې راته ګورې
د کاکا لورې ما به ورك کړې له وطنه
که هرڅو مخ له مانه پټ کړې
په منګي باندې سره لاسونه پېژنمه

د هلکانو په شان غصه قهر او جذبات چې سوچ او فکر پکښې کم وي د جذباتو غلبه وي، لکه وايي:

مورې لنډی ټوپك را واخله
په ما مئینه جینۍ بل له ورکوینه

تمام خیالات یې د جینکو نه چاپېره ګرځي چې په مرګ ترې هم نه هېرېږي.

ما په ګودر د جونو ښخ کړی
ګندی ملاله په ما کېږدي قدمونه

په اوسني هلکانو پسې جینکۍ خاندي او مسخرې ور پورې کوي.

دا اوسني زلمي د څه دي
په جېب کښې کانړي شرنګوي چې پیسې دینه

دا اوسني داسې زلمي دي
په ساګو ډک شي په تيندك بارو له خينه

زه چې وړوکے وم بادشاه وم
اوس چې زلمی شوم غلام د خلقو شومه

زه سر سرتور پړے په غاړه
د نا ورکړې پښغلې مخې لـه ورخمه

سترګې د توري په چل ګورې
د ليلٰی خورې يې په کتو دِ عاشق شومه

سترګې دِ تورې راته ګورې
دکاکا لورې ما به ورك کړې لـه وطنه

سترګې مې ډېرې وليدلې
د جينی سترګې مې تمر سورے کوينه

سينه دې تخت ليچے بالښت دی
جينی کم عقلې رالېږې سخت جوابونه

شونډې د سرې لکه کجورې
د ظالم لورې لېونے درپسې يمه

ښائست دِ ډېر له حده تېر دی
د جنت حورې زه د روغ لېونی کړمه

عالمه تاسو ورته ګوری
جينی ښائسته ده که رب زه پرې مئين کړمه

عمر دَ سپي را باندې تير شو
که زه سړے وم ستا به نوم نه يادومه

کور د جنت ته پکښې حوره
زه ګناهګار ترې پاك الله بند کړی يمه

که په ليلٰی باندې چا مړکړم
دغه دستور دی مئين تل په مينه مرينه

خوك چې په سپين هلك مئين شي
پس د ماښامه دِ پنځه ډزی ګرځوينه

دا اوسني زلمي د څه دي
په جينکو پسې د پيازو غوټه وړينه

دا کمربند ټوپك مې راکړه
په ما مينه جينی بل خوك ودوينه

ښائسته هلك مخې له راغے
د چندنړ لښته تاووي غواړي کوژدنه

دګلو ونه شې هلکه
رب د زما په لوري راوله شاخونه

زما په زړه کښې ورته څه دي
جينی لالـه لاله کوي حيران يې کړمه

زنړکيه ستر شې ايماندار شې
د پلار روزي شې مونږ د تش ديدن کونه

زه به د سرومال تېر شم
که شاه ليلٰی زما د ژوند ملګرې شينه

زه چې د خپل ځانه ورك شم
ګناه مې نشته چې ليلٰی موندلی يمه

زه چې اول د خوبه پاسم دکلمې سره د سمه یادومه
که هرڅو مخ له مانه پټ کړې په منګې باندې سره لاسونه پېژنمه
ددې نه لا وړوکې ښه ووم د جینکو سره به یوځائې کرځیدمه
لیلی کوچې وه کوچ یې وکړو ما یې خالي بورجل ته اوکړه سلامونه
لیونی مره شوه کلی وران شو زه به په وران کلي کښې شپې چاته کومه
ما درته خور وئیلې نه وو دادا د ناست وو له اوربوزه یې شرمیدمه
ماته په سترګو کښې موسکی شه نامردې بیا د سرو لمبو ته اوونیومه
ما په ګودر د جونو ښخ کړې ګونډی ملاله په ما کېږدي قدمونه
ما د ګودر د غاړې ګل کړې چې جینکی اوبه په لپو راچوینه
ما د ګودر په غاړه ښخ کړې چې جینکی راباندې مات ټیکرې ږدینه
ما یې د وروړ د سترګو زار کړې کاږه پانړه یې خپلې خور ته تلې دینه
مخې له راغلې مخ دِ پټ کړو دکاکا لورې زه د پوندې پېژنمه
مریم زیړه خربوزه ده زه رضو ګل یې د پوټکو سره خورمه
مورې دَ مخه دې شرمیږم ماله کوژدن جاکړه اوکړه زوړ دې کړمه
مورې لنډی ټوپک را واخله په ما مئینه جینی بل له ورکوینه
مئین پرې یم منکر ترې نه یم که جلاتیان مې سر د تورو سره وړینه
نن د بې موره ځوی واده دی زمکه ژړیږي اسمان دړې غورزوینه
ورځه ورځه پکار مې نه یې دومره مئین درباندې نه یم چې مړ به شمه
ورشه په زوره ورته وایه هلك مئین دی خون به یې ستا په غاړه وینه
ورکوټی نه یې چې شرمېږې په ما نعرې که چې مئین درباندې یمه
وطن به ستا د لاسه پرېږدم د ظالم لورې نور خو مه کوه ظلمونه
ولې به زه ور پسې نه مرم چې مور ته شا کړې ماته شنه د خندا شینه
هلك په شنو خالو مئین دی جونې بدرنګه کړې چې نه وهې خالونه

هلــك د خپلــې چنغلــې دی | چاټوری مه خوره د منګې لاندې پیرونه
هلك مئين شو رنګ يې زيړ شو | موري زيړی تبه تږي چې جوړ به شينه
هلکــه روغ بــه ليونے شــې | کــه د بــونير مــازيګری د اوليدنــه
هلکه لوئ شې برخوردار شې | روزي د پـلار شـې زه د تـش ديـدن کومـه
هلکــه نــوره يــاري بــس کــړه | په رنګ و بنګ پيکي دِ اينبې دي لاسونه
يــا خدايــه! مــا د جــولا زوم کــړې | چې د پيتي کتوی کښې زه ځمځی وهمه
يــاري د نــر زلمــي مــزه کــا | نــران زلمــي پــه لښــکر مــاتې ګډوينــه
يــاري د تــور هلــك مــزه کــا | تور لونګين دی چې باچايان يې بويوينه
يــو پــه ورکــړې مئيـن مــه شــې | سبا بــه سره لاسونه بــل تــه درنــه وړينــه
يــو دې غريــب پيدا کــړم خدايــه! | بــل دې مئيـن پــه کبــرجن جينــی کړمــه
آ پخــوانی مينــه دې نشــته | لکــه چنچــړ بــه چنړيــدی پــه ديوالونــه
اســمان تــه لار د ختــو نشــته | زلمــی بــه خيــژي د ريښــمو پــه تالونــه
بــاد ســبا جانــان ويښ نــه کــړې | د ســحر خــوب پــه هلــك ډيــر غلبــه وينــه
بهــر تــه راشــه کــه بهــادر يــې | د ښځو مېنځ کښې غورځوې جوړه لاسونه
بيــا بــه دِ نــوم پــه خُلــې وانــه خلــم | بېګــاه دِ مــور لــه دروازې شــړلےیمــه
بيــا بــه د کلــي پــه مېنځ نــه ځــم | جينی د باز په څير غوټه کړي زړونه وړينه
د هلــك مــورې جنتــې شــې | هلك د لوی کــړ د لونګو بوئ تــږې ځينه
ځان مې په غټ درياب لاهوکړو | چــې مــې بــاور د زنانــه پــه خلــه کاونــه

د جينی درې شينه مزه کا

تنګې پائنڅې زرې پنړې واړه ګامونه

د جينی ذات هسې هم دکشش مرکز وي. دا کشش او ښائست پکښې الله تعالیٰ اينبی دی- بلکې باقي مخلوقاتوکښې هم اکثر ماده د نرنه ښائسته وي. د ماده په فطرت کښې شامله ده چې ځان سنبال او ښائسته اوساتي. د زيورکالو او جامو شوق

چې د ښځو ځومره وي د هغې په نسبت د سړو شوق په نشت برابر دی. که څوك چا سره ملاؤ شي نو سړي ته به دا پته هم نه وي چې سړې جامې يې اغوستې وي که شنې، ولې ښځې ته به د جامو د رنګ نه علاوه د جاموګلونه دګلونو زمکه او غاړې پيسکې ټول داسې يادوي لکه چې په کېمره فوټو واخلي. ښځو ته صنف نازك هسې نه واي. دا ددې نزاکتونو په نسبت.

ټپې د عام اولس د چم ګاونډ اوکورکلي پيداوار دی. په هغې کښې د جينۍ د ذات او کړه وړه ټول ذکر شته دي. جينۍ وړه لو يه، دنکه غاړه، سپينې ليچې، سره لاسونه، شنه خالونه، تورې زلفې، تور اوربل او تور پيکی عام خبرې دي. د سترګو تورولو شونډو سره کولو نه واخلې د نتکی چارګل او پېزوان پورې او د بنګړو اوکړونه واخلې تر سالو او قميص پورې بيان شته دی. دګودر مازيګر د منګو قطارونه د پېغلو جنګونه، لر او برګودر د جينکو د ژوند حصه ده. اختر شبقدر سپرلی او واده د جينکو عام موضوعات او د خوشحالۍ مواقع دي چې هغوی په ډېر شوق سره ذکرکړي دي.

جينۍ په خپل صورت ښائسته ده — زرګره ستا په کالو اور پورې کوينه
جينوتے ستا په مخه ښه شه — او په نا اشنا لاره دې بل شه مشالونه
جينۍ په تنګه کوڅه راغله — سالو يې نشته په منګل خله پټوينه
جينۍ جوړه منګي په سرکړل — د سينې مېنځ يې دکابل شمال وهينه
جينۍ په سر دې منګي ماته شه — چې د خړوب شي د سينې د باغ ګلونه
جينۍ د رب روئ منه راشه — چې په ما راشي مخ ته مه نيسه لاسونه
جينۍ کړه شوه ماته نه شوه — کله ماتېږي د چنړنړو شنه ښاخونه
جينۍ کړۀ شي نه ماتېږي — دکونډې لور ده مور غوړي ورکړي دينه
جينۍ لونده له ګودر راغله — لکه بلبله چې باران وهلي وينه
جينۍ واده ته خوشحالېږي — سبا به خوري د غم ډوډۍ ځلور ډانګونه
چرې به دوه کمڅی اونه کړم — په دوه کمڅوکښې جينکۍ متيزې ځينه
چې دَ ازاره يې ويره کېږي — خدايه! خفه مه کړې هغه ملالې جونه

چې ګډېدل کوي جينوټې
په تا دِ اوشي د مهرانو بارانونه

چې مسافر په کانړو ولې
جينۍ لمن به دې خداى نه زرغونوينه

د بخملې لوپټې لاندې
د جينۍ سرې شونډې ګلاب نيولى دينه

د بنارس جينکۍ ژاړي
دَ ليدې منت جينکۍ شني د خندا ځينه

د پسرلي لوونه ګډ شو
جينۍ په سرو منګلو ورېي ټولوينه

د پير بابا لارې دي سختې
د ګلو لختې جينۍ ستا دپاره ځمه

د پيشمني اوروته بل شو
جينۍ په سرو منګلو يار راويښوينه

د تورو زلفو يو تار راکړه
چې مسافر شوم جينۍ ملا به پرې ترمه

د جلاله اوبه خوږې دي
د کلي جونه ترې منګي راډکوينه

د جلاله ګودره وران شي
په جينکو دې سالنډۍ اولګاونه

د جلاله ګوډره وران شي
چې سرکانړي دي د منګو نه خلاصه شمه

د جينکو سرداره زه شوم
چې مې اشنا ځنګه په منډه اونيونه

د جينۍ خوئ د غرڅنۍ دى
غرڅه چې لارې کچ کوي وطن خارينه

د جينۍ خوئ د مرغابۍ دى
هر مازيګر دګودر غاړې له راځينه

د جينۍ درې ځيزه مزه کا
ارته کورته لويه سينه لنډ قدمونه

د جينۍ درې شينه مزه کا
تنکۍ پانځې زرې پنړې واړه ګامونه

د جينۍ درې لويشتې غړۍ ده
د ښار زنړۍ ده په پيسه خله ورکوينه

د جينۍ دې فېشن ته ګوره
چې سترګې تورې کړي لکۍ ورله پريدينه

د جينۍ سرو لاسونو اوسوم
خاونده وران کړې د نکريزو دکانونه

د جينۍ مخ پردى وطن دى
څوك چې پردي ملکونه خوري سر به په ږدينه

د جينۍ مړاوې سترګې
لکه ګلاب چې د دوه نيمو ورځو وينه

د زنې سر يې را په خله کړو
جينۍ کم عقله اماني غواړي خالونه

د غرمې خوب خو جينکۍ کړي
چې ګل ګوټۍ ځنړې تر سر لاندې کوينه

د غره په سر د جونو جنګ دی
د ملك لور په ټيکړو ويشتل کوينه

د غره په سر د جاله وکړه
لکه سره زرکه ړانګه بانګه به درځمه

د غره لمنه راته نيسه
زه جينکو سره غانټولو له درځمه

د ګل ګلاب غوټۍ دپاره
جونه سر توري د باغوان سلام کوينه

د ګودر غاړه پرې ښائسته ده
ځانګه دِ خدائ داسې مدام روغه لرينه

د ګودر غاړه ورته نيسه
د جينۍ خوئ د مرغابۍ دی رابه شينه

ګوتې مې وې په لاس مې نه کړې
د يار پر خويندو باندې راغلم تش لاسونه

ګودر ته ځم راپسې راشه
زه به د نورو جونو وروسته پاتې شمه

لړه په خيال مې پورې باسه
چې نازولی خال مې وران نه شي مئينه

ما درته نه وې شرميدم
د سرې نتکۍ سره پېزوان مزه کوينه

ماته په هغه سترګو ګوره
په کومو سترګو چې په تا مئيندمه

ما درته وې چې ښار ته مه ځه
په نرۍ ملا به دې ښارۍ مينه شينه

ماته يوه خبره اوکه
چې ليونئ در پسې نه ګرځم مئينه

ما وې د غمه به دې مړه شم
مړه خو ترې نه شوم قيامتي رنځوره شومه

مخ په لاسو کله پټېږي
بهانه مې داده دو دسته سلام کومه

مخ د پوارۍ ښځې ورك شه
د قلفئې سرېې په اوړو لړلی وينه

مرور مه ځه بيرته راشه
که ملامته ووم ناغه به درکومه

زمکه ګانړه کور د ليلام کړه
زما د مينې نوم هله اخله مئينه

مسافر ته شوې خواره زه شوم
زما په زړه ستا په بدن راغله غمونه

مُلا ته مه وايه ملا دی
مُلا په ترخ کښې سپيارې سترګې وهينه

منګي مې برغ په سر پراته دي
نامړده ولې مې چيړې لونده دِ کړمه

ميلې ته ځې جانانه لاړ شه
خو سره بنګړي چې درنه هير نه شي مئينه

نامرده ستاسو په کوڅو کښې
په ما ماتيږي شنکی لښتې په بارونه

نن په جامو کښې نه ځائيږم
يار مې ځي جنګ له زه يې توره سپينوومه

نن مې پستې پنډۍ خوږيږي
په خپل جانان پسې مې منډې کړې دينه

نن مې د لاس باهو شنږيږي
د مسافرو شپې نږدې دي رابه شينه

واده د چارې په ما وکړې
لکه تور سکور زه دوباره اوسوزيدمه

ورکه مېچن شه ورك يې نوم شه
چې ورته کينم نرۍ ملا مې ماتوينه

وطن خو تا رنګ کړو ملالے
چې سر لاسونه ګرځيدې په لوړ بامونه

ولې په ټپو راته رونډ شوې
شينکي خالونه مې د نيل وهلي دينه

د مسافرو کاغذ راغے
ملا يې لولي ليلٰی اوښکې تويوينه

ديدن مې ستا بانې مې نورې
لکه ګوجره چم په چم نارې وهمه

راشه په زلفو کښې مې پټ شه
چې دښمنان دِ په کتنه ستړې شينه

روژه د صبر مې نيولې
د يار ديدن ته د عمرونو تږې يمه

سپرليه ستا د برکته
د جينکو په سينه ځانګې زيړګلونه

سپوږمۍ ګرنك وهه راخېژه
يار مې د ګلو لوکوي ګوتې ريبينه

ستا د رباب اواز مې واوريد
ځکه په سور پالنګ کښې جګه کېناستمه

زما پرې هسې نوم بدنام دی
د جينی سرې شونډې پېزوان چيچلی دينه

زما جانان ګل د شتی دی
ناست په لښتی دی جينکی ورله راځينه

زما ښائست د حده تير دی
چې عاشقان راپسې مري خونړۍ شومه

سپوږمۍ تلوار کوه راخېژه
يار مې د ګلو لو له ځي ناوخته شونه

هندوستانی شه روپۍ راوړه
په کورنو روپو مې مور نه درکوينه

يار مې په پورې شا کښې لوکړی
کونتره نه يم چې پرې سوری کړم ځانګونه

يار مې د ګلو سره قوده ده
زه د ريښمو کلاوه پرې اولويدمه

يا مې د خپله لاسه مړه که
يا دا دی ستا په مخ کښې ځان په اوبو وړمه

يو مې هغې جينۍ نه مرګ شي   چې سترګې توري کړي لکۍ ورله پرېږدينه

اباسين بيا ولې ولې شو   جونې ټولګۍ ټولګۍ په سيل ورله ورځينه

اختر په ټوقو ټوقو راغی   ورکړې جونه د کالو په طمع وينه

اختر د چا د مور ميره دی   چې ټولې جونه ورته ځان سنبالوينه

آخر به وران شي پېښوره   د ننګرهار جونه ښېرې درته کوينه

اسمان په ستورو ښائسته ښکاري   لکه د پيغلې جينۍ غاړه په خالونه

آواز زما دی چې غرېږي   د جينکو په خله تبق اولګيدنه

آواز مې شته جوړې مې نشته   لکه کونتره بې جوړې نعرې وهمه

اوبو له ځم راپسې راشه   زه به د ټولو جونو ورستو پاتې شمه

اوبه مې وړې منګی مې رق شو   د ياراني قميص مې ټکې ټکې شونه

اوربل په توره نه رنګيږي   ناترسه ډمه يې په ګوتو رنګوينه

بابا کوچې ته مې واده کړه   د اوښ په شا به مې کابل ته خيژوينه

بانړه د مړه دي ښکته ګورې   لکه چې مور دِ نوره کورکښې بندوينه

باهو په لاس ګوته په ګوته   زرګره ټوله د ياري ته جوړه کړمه

بنګړي په لاس که اوګډيږه   ګډه به ته شې خوند به ماله راکوينه

بنګړي د شرنګ کوي نياز بينې   لاس په قلاره خوځوه رسوا د کړمه

بوتله ورك شه مخ د ورك شه   دا کاغذي وجود مې تاته خاورې کنه

بېګاه کور نه وې بد نصيبه   لکه د ګورې بورۍ نيځه ناسته وومه

ليلی په جونو کښې ښکاره ده   تور يې پيکی لنډې ځنړې شنه خالونه

منګی د پاس په سر دوه ځای شه   چې د سينې په باغ دِ راشي سيلابونه

منګيه ټول درنه لوګی شم   ليلیٰ په لار دی د سينې سرته اوړينه

سرك جاروکړی ګل پرکيږدي   زما اشنا سره ډمکی سرتوره ځينه

ښائسته مغله ايرانی يې   د بدخشان زلمی سلام درته کوينه

عالمه برګو درکښې شور دی | د جونو جنګ دی په منګو ويشتل کوينه
که څوک ايني سوزي که زړونه | زه به د برګ لستوڼي کړم اشارتونه
که د پېرې راته په شمار کړې | زه غلچکې د پېرو څوکې پرېکومه
که د يارګوتې مې په لاس وی | ما به تر تولو جونو پورته وړه لاسونه

څله مې توره توره بولې
زه توره نه يم مور په ناز بللې يمه

د واده دپاره د جينۍ يو صفت دادی چې ښائسته د وي د ښائست معيار د بېلو قومونو او علاقو خپل خپل جدا دی. د افريقې تور به سپين مخې دکوم ځای نه راوړي. د چين، جاپان، کوريا خلق به لوړې دنګی اوږدې پوزې کوم ځای پيدا کوي. هم په هغه خپلوکښې به ښائسته ګوري.

پښتانه عموماً سپين رنګ زيات خوښوي خو په ښائست کښې ځان له رنګ اهم نه دی، بلکې د بدن د اندامونو او د هغوی د ساخت مناسبت او زاويو هم په ښائست کښې خپل کردار دی. د ورځو د زاويو او د سترګو د بڼړو اوږدوالی اوکوږوالی د شاعرانو خاص موضوعات وي. بعضې کسان خو وايي:

هلك چې تور شي لونګين شي
جينۍ چې توره شي بنګړي د خرڅوينه

خو جينۍ دا چرته مني. هغه خو وايي چې مور ورته د نياز او مينې توره توره وايي. زه غنم رنګه يم ځوانان راپسې رنځوران دي. زه توره يم خو زړه مې بادشاه دی شهزادګان نه قبلوم. سپينه به څه کړې چې عقل فکر يې د جولا وي. رنګ يې دګل وی خو خوئ د پياز وي. په تورو غرونو خو اولياء ناسته کوي

که توره يم تا به مئين کړم | دومره تاثير په برګو سترګوکښې لرمه
نه ګلابي يم نه بدرنګه | زه غنم رنګه يم ځوانان رنځورومه
څله مې توره توره بولې | زه توره نه يم مور په ناز بللې يمه
د جينۍ رنګ د درانې دی | که مرګی پرېښوه دکابل منړه به شينه

درنګه توره مصلى يم — زړه مې بادشاه دی شهزادګان نه قبلومه
درنګه سپينه پاغونده ده — په عقل فکر د جولا د ذات دَنه
رنګ دِ دګل خوئ د دَ پياز دی — زه کور دليله ستا په رنګ اوغليدمه
يار مې په زيړو مئينيږي — اوس به د زمکې خوب کوم چې زيړه شمه
په تورو بد مه وايه خلقه — په تورو غرونو اولياء ناسته کوينه

❖❖❖ ❖❖❖

که په شپو باران وريږي — مسته پائنځې اوچتوي يارله ورځينه
باران وريږي غولی ډنډ شو — جينی پائنځې پورته کوي يارله ورځينه
نری نری باران وريږي — جينی پائنځې اوچتوي يار پسې ځينه

زه چې وړه ووم ناپوهي وه
د سپينې خلې له قدره څه خبروومه

جينی چې وړه وي، ناپوهه نادانه وي مور يې تربيت کوي. پېغلتوب او واده ته يې جوړوي، چې د بل کور د سنبالولو قابله شي. د لور يو عمل داسې نه دی چې مور ته به يې پته نه وي. د لور د ښه والي او بدوالي مور ذمه واره ده. ها دا ښله خبره ده چې د ميره مور پر ې ډېره پرواه نه وي.

کمکی جينی ګوره چې مونځ کړي — قبول يې مه کړې تور پيکی په خاورو ږدينه
کمکی جينی په ياری پوه شوه — لکه لړم په ديوالو خُله لګوينه
وړې جينی ياري د خوند کا — پېغله شرمېږي وړه غېږه له راځينه
وړه يې ورکړم روغ نه شوم — زما ازار دې د رېبار په غاړه وينه
جينی وړه د واده نه ده — مور يې نيزې ته خيژوي چې دنګه شينه
جينی وړوکې ده نادانه — مور يې بې ايمانه پېغلتوب ته جوړوينه
زه چې وړه ووم ناپوهي وه — د سپينې خلې له قدر څه خبروومه
باران رو رو پرې وريږه — وړې وړې جينکی غره ته تلي دينه

شال د شړی مساوي نه دی
جانان زما مساوي نه دی مړه دِ شمه

د پښتنو په رواج کښې دا ډېره ضروري او اهمه خبره ده. چې د واده دپاره د هلك جينۍ حالت کښې دِ جوړ، ميل او مناسبت وي. بې جوړې، بې ميله او نا مناسبه دِ نه وي او په دې په سختۍ سره عمل هم کوي. شريعت هم ددې څيز ډېر خيال ساتلی دی. مطلب دا چې نکاح د داسې سړي سره ونه شي چې د جينۍ د درجې، مرتبې او شان برابر نه وي چې ورستو ترې مسائل پيدا کېږي. دا برابري عموماً په نسب، مسلمانی، ديندارۍ، مال او په پيشه کښې کتلی شي. عوام د سيدانو، برابر نه دي. هلك ځان له مسلمان شو مور پلار نيکه يې کافران دي، نو د هغې جينۍ برابر نه دی چې مور پلار نيکه يې ټول مسلمانان دي.

هلك لچه لفنګ، چرسي، شرابي، بې دينه وي د ديندارې جينۍ برابر نه دی. ضروري نه ده چې عالم يا بزرګ دې وي. مال دومره پکار دی چې مفلس ملنګ نه وي بلکې ګذاره يې کېږي. مهر ورکوي او نان نفقه ورکولی شي. پېشه کښې برابري داده چې د غټ خان پښتون لور خور جولا يا نايي وغېره ته ورکول نه دي پکار. د برابرۍ مطلب دا نه دی چې نکاح يې نه کېږي، بلکې صرف جوړ او برابري يې نشته. د بې جوړ او نا مناسب واده نه پېغلو هم سر ټکولی او ژړا يې کړې ده.

زمکې ته ټيټ شه خاورې واخله
ثاني مې نه وي ياره خدائ درکړې يمه

کړی بنګړو سره جوړېږي
موذی دِ ماسره جوړ نه شي مړ دِ شينه

کارغه د زرکې لائق نه دی
که د نصيب په تخته ليك وي وران دِ شينه

شال د شړی مساوي نه دی
جانان زما مساوي نه دی مړه دِ شمه

شکر اوباسه چې خدای ستا کړم
مابه د داسې خيټا درته نه کاتنه

ياري د زور خبره نه ده
جانان ته وايه چې خُله سمه خوزوينه

خاورې راواخله موټی وخوره
خوښه مې نه ده پاك الله درکړې يمه

په نصيبَ مې دا پرته وه
ما خو د داسې خلقو درته نه کاتنه

شــاه د مـــوذي لائقـــه نـــه ده خدای ورلـه ورکړه مسخرې پورې کوینـه
کــه زمــا برخـــه خـــواره نـــه وي چرتـه مـوذي چرتـه زمـا سـپین مروندونـه

یار مې ټپوس ناسته د باز کړي
خبر ترې نه وومه په ټپوس مئینه شومه

د واده نـه مخکښې خو بس خواره یادونـه وي، پروازونـه وي او د خیالاتو یـوه رنګینـه دنیا آباده وي. د واده نه پس حقیقي ژوند او د دنیا حقیقت ځرګند شي. په دغـه وخت کښې بعضې اوقات وئیلی شي چې دهوکـه شـومه. پوهـه نـه شـوم تباه شـومه برباد شومه. داسې حالت په زلمي باندې شازو نادر راځي د هغې وجه داده چې سړی د خپل اختیار مالك وي. د مالي او معاشي ضروریاتو پـه حوالـه د ښځې محتاج نـه وي. رنګ او ښائست څه دومره لویـه مسئله نـه ده. باقي ټولې ښځې یوشان وي. بـل د ښځې پـه طبیعت کښې عـاجزي او تابعداري زیاتـه وي. هاں د هغـه چا دپاره ضرور مسئله وي چې ښځه یې قلندره، تهانیداره یا بدچلنده وي، ځکه خو وایي چې پـه دنیا کښې نیکه پاکدامنه ښځه لوی نعمت دی.

د ښځو دپاره د دهوکه کیدو او تیروتو مواقع زیاتې وي او احساس یې هم زیات وي ځکه چې د هرڅه دپاره د خاوند محتاجه وي او د هغـه پـه بهروسـه وي، چې د دواړو د یوبل سره مناسبت او تعاون وي نو ښځه خوشحال وي، وایي:

چا راته وې یار دې شاخېل دی
ماته خان خېل دی چې زما په رضا ځینه

خوکلـه خبره ددې نـه اُلټا وي. سړی سخت غصـه ناك قهرندوکی کوکاري وي، چې د مالکې پـه کم زیات باندې هم پلیټ د ښځې پـه مخ ولي. کله چرسي بنګي جوارګر وي او نشه یي وي چې د دنیا ټك نـه کوي، اوکلـه داسې مرجوښا، نامرد، خور بي بي، ابئ غاړی جینوزك وي، نو ښځه ضرور ګیله کوي چې دهوکه شوم پوهه نه شوم.

اشارتونه راته مه کوه
زه د په نېغو بریتو ډېره تیروتمه

ما چې دا ستا ياري کوله
ما وې چې خوئ به دِ دَ رنګ په شان وینه

ناله څوکوندِه بنه ووم چې ځرخه مې ګرځولی.

عالـمـه راشـی مـخ راتـوورکـړی
د بادشـاه لـور ووم پـه جـولا مئیندمـه

مـا د چـنـدنړ لښـتـه ګـنړلـې
د میـرې زوزه دَ اغـزو دِ ډکـه کړمـه

مـا د یـار اتو یـاري کـړې
دا تـور زاغـان دِ راتـه نـه وهـې ځانګونـه

مـا پـرې ګـمـان د ناریـنـه ؤکـړو
هلك د خور پـه وار پیدا دی ډوبه یې کړمه

یار مې کوچی ووکوچ یې وکړو
زه دِ شـم خـواره پـه کـوچـي مئیندمـه

بې وفـا یـار راسـره نـه وی
راسره پروت وی تـور میلو بـر غوړونـه

پـه قسـمونو یـې دهوکـه کـړم
پـه غـاړه یـې پـټ وو د کفـارو زنارونـه

له ورایه ګوره دیدن اوکه
خواله مې مه راځه اشنا بدنام به شینه

مئینه او مئینتل خو د زړه کار او فعل دی او د چا په اختیارکښې نه دي. اګرچې مینه په زړه کښې وي او زړه پټ دی، نو تر د هغې څه مسئله نشته ولې مینه په زړه کښې پټه ساتل داسې دی لکه د اور بڅرې او مالوچ چې یوځائے ساتي. نه پاتې کېږي غرغنده کوي، لکه دا فارسي شاعر چې وایي:

تـرا حیـا و مـرا آب دیـد شـد غمـاز
وګـر نـه عاشـق و معشـوق راز دار اننـد

د پښتو په معاشره کښې مینه پالل د پل صراط تک دی چې د وېښته نه نرۍ او د تورې نه تیره دی. د پښتنو د معاشرې ټوله ډهانچه په دې ولاړه ده چې د سرو بیله دنیا او بیل ځلیونه دي او د ښځو بیل دي. خواه که ښادي وي اوکه غم. په دې وجه د هلك جینی یوځای کېدل سخت معیوب ګڼړي. صرف معیوب نه بلکې قابل سزا جرم دی. که دواړه یوځای شو نو د دواړو قتل روا ګڼړي. که د قتل نه بچ شي نو تور وربورې

کیدل د قتل نه زیاته سزا ده، ځکه خو دوه مئین دا چغې وهي:

ماته دَ لرې ګوره یاره — په نزدیکت کښې پیدا کېږي تهمتونه
له ورایه ګوره دیدن اوکه — خواله مې مه راځه اشنا بدنام به شینه
له نزدې نه درځم ډارېږم — د لرې لرې نندارې به دې کومه
که یاري کړم مخ مې تورېږي — که یاري نه کړم ارمان ژنه ناسته یمه
که یارانه کړمه شرمېږم — که یاري نه کړم ارماني به ګور ته ځمه
که یار لرې بې یاره مه شې — بې یاره جونه لاس تر زنې ناستې وینه
مخ مې نن ځکه درنه پټ کړو — بېګاه کوژدن شوم اوس حیا درنه کومه
د جینکو له خویه زار شم — چې لوظ وکړي بیا پرې کلکې وي مئینه
د جینکو نه کلکې نشته — چې په پردي وطن کښې عمر تیروینه
اشنا یاري دې کړې نه ده — ځکه دِ رق وهي دَ ویرې اندامونه
که پسې ځم خلق پوهېږي — که پسې نه ځم لیلیٰ کړي اشارتونه
که غیرتي یې ځان ځرګنده کړه — سبا مې سره ډولۍ کښې ستا په کوڅه وړینه
مسلماني به د لمبه شي — ډېر مې د زنې خال ته مه ګوره مئینه
نن مې د مینې یار واده کړی — زه ملاقات د عزرائیل سره کومه
نوم دِ زما په سرکښې سپك شو — بیرته به درند شي که دِ زه حلاله کړمه

❖❖❖

باب: ۶

ابۍ دادا او مینه

قربان قربان د دادا کوره
د ډکه شکوره به چاپېره ګرځېدمه

د مور پلار او خویندو رونړو نه زیات خواږه څه نشته. خو ددنیا روش داسې دی، چې دا ټول بېل بېل شي او چې جینۍ ته د خاوند کور کښې مثالي ماحول ملاؤ نه شي، نو مور پلار او خپل کور د هغې در و دیوار ورته ډېر یادېږي. او ور پسې ارمان کوي خو که مور یې خپله نه وي نو هغه د پلارکور دې دپاره کنډر شي، ځکه چې پلار یې هم بیا خیال نه ساتي. لکه چې وایي:

"چې مور میره شي نو پلار پلندر شي"

د بابا کور ورکوټی تخت دی	موذی کم بخت دی ما له تخته غورزوینه
قربان قربان د دادا کوره	د ډکه شکوره به چاپېره ګرځېدمه
زما ابۍ دادا ته وایه	خوشحاله نه یم د ناکامه ناسته یمه
چې مور او پلار یې شهزادګان وي	لونړ یې په سرکښې بغدادي کونترې وینه
ولې دلګیر ولاړ یې یاره	دلګیره زه یم چې د پلار د کوره ځمه
د چا چې خپله ابۍ نه وي	د دادا کور دِ په کنډر حسابوینه

وماته مه قهرېږه مورې
په تا تېرشوي په ما اوس راغله وارونه

مور ته لورګرانه هم وي او د یو صنف په وجه ورسره تعلق هم زیات وي. دکور په کار کښې دواړه شریك والې هم وي. لور د مورنه څه پټولی نه شي. د لور د عمل او رازونو ورته پته وي. لور هم مورته هره خبره کوي او خپله رازداره یې حسابوي. کله د مورګیلې هم کوي خو تعلق هېڅ کله نه پریکوي. البته د میرې مورنه همېشه ګیله منه وي او فریادکوي.

باور مې نه شي چې يار راشي
مور مې ورکړي دي رټلي جوابونه

بنګړو له شرنګ ورکه را اوځه
مور ته دِ وايه چې خشاك سنبالومه

بنګړو مې مور او ورور بيدار کړل
تيره راواخله زه يې واړه ماتومه

مورې منګی راکه ناوخت شو
ماته جينی په انتظار ولاړې دينه

چې مازيګر پرې ښائسته کيږي
هغې جينۍ له مور منګی نه ورکوينه

ملا مې نرۍ منګی مې غټ دی
مور مې د مړه شي چې په ما اوبه راوړينه

مسافر ته شوې خواره زه شوم
خواره دِ مور شه چې سفر ته دِ ليږينه

زلفې مې مه پريکوه مورې
په سر پريکړو ونو نه کيني بازونه

قميص مې شين ګلان پرې سره دي
مور مې ميره ده اوس په زور مې خرڅوينه

قميص مې لنډ اونيسه مورې
يار مې تيډی دی خوښوي لنډ قميصونه

مورې په چم کښې شومبلې غواړي
لور يې ميرکاټ په اشرفو ونښلاونه

منځې له دواړه خويندې راغلې
مشره ويشتل کړي کشره غشي ورکوينه

د پښتنو د رواج مطابق مور، پلار، خويندې، رونړه، ترونه، ترلې او د کاکا زامن په يو کور کښې اوسيږي. په يو ځائے د ځوانی عمر هم تيروي او اکثر يو بل سره يې ودونه هم وشي. ورنداريانې پکښې هم راشي، چې د خويندو ځائے ونيسي. د کاکا زامن ورته رونړه ښکاري. دا به ډير شاذو نادر وي چې اينګور دَ خواښې سخر نه خوشحاله وي. دا ډيره عجيبه ده چې خواښيانو ته زومان ګران وي خو اينګور ورته ښه نه لګي. حالانکه اينګور خو يې د زوے ښځه ده او زياته نزدې ده.

که ديدن غواړې زما ياره
مونږ دواړه خويندې په کوټه څرخې کوونه

بې وروره خور په کلي راغله
آوازکوي چې شپه به چا کره کومه

نن دَ نيمزالے غيږ کښې لور ده
لکه چې ستورې د سپوږمې په خوا کښې وينه

دا نازولې لور د چا ده
چې هر سبا توروي سترګې بدې خالونه

د پلار یې خر دکتې نه وو ‌ ‌ ‌ لور یې میرکاټ په اشرفو اولګاونه

د جونو پلاره سوداګر ‌ ‌ ‌ دکشري بیعه کوه راغلي یمه

د پښتنو پښتو ته ګوره ‌ ‌ ‌ چې لور او خور لکه څاروي بیعه کوینه

دکاکا زویه به ونه کړم ‌ ‌ ‌ چرې به ما ورته لالا وئیلي وینه

زما د وروره ښائسته نه یې ‌ ‌ ‌ وراندارې مه خوره د منګي لاندې پیرونه

سر مې نرې وکړه وراندارې ‌ ‌ ‌ غتې کمځې مې د یار ډډې خوږوینه

مسافر ته شوې ګرمه زه شوم ‌ ‌ ‌ خویندو دِ وخوړم په ډېرو منتونه

ناوې دِ تا دِ مبارك شي ‌ ‌ ‌ زما لاله د لاس غمي دي دِ تاشونه

اختر شبقدر مې رانغی ‌ ‌ ‌ خوابښې مې مړه ده سخر مې نه کوي دودونه

نور به د هره سوبه یوسم
یو دِ په مینه کښې شریک نه قبلومه

د محبت سره ناز او نخرې لازم ملزم دي اوکله خبره د نازنه زور او دهمکیانو ته لاړه شي، خو که ناز وي لوکه زور زبردستي وي محبت او خیرخواهي پکښې پټ وي. بد او تکلیف رسیده ورته هېڅ کله نه غواړي.

د مازیګر اوبو له مه ځه
ځوانان پیریان دي جینی وابه دِ رُوینه
د هندوستان و لورته مه . ځه
د هندوستان جونه لولئ بند به دِ کړینه

بالښت د خاورې سرته کېده ‌ ‌ ‌ بې ننګ ته نه ږدم سر د لاندې مړوندونه

نور به دِ هره سوبه یوسم ‌ ‌ ‌ یو دې په مینه کښې شریك نه قبلومه

و دې لیدم چې تس مې درکړو ‌ ‌ ‌ ته مې مئین کړې زه قراره کېناستمه

د اشنایي مې ورته اووې ‌ ‌ ‌ جینی دړی کانړی په ترخ کښې ګرځوینه

د جینی سپینې سپینې متې ‌ ‌ ‌ لکه د چرمهی نیول نه ورکوینه

یاره یاري دې رسوایي ده پـه سره منړه داوویشتم رسوا دِ کړمه
ولې بـه نـه ژاړم تـالا شـوم یو خو ښائسته وو بل زما پـه رضا وونه

که ته نیستمند یې زما یار یې
د دولتمند په سر به خاورې واړومه

د پښتنو مېرمنو عادت دی چې د خپل خاوندنه قربانېږي. که هغه نیستمند وي اوکه هرڅه وي. په بل چا نظر نه اچوي که دولتمند وي که بادشاه وي.

که ته نیستمند یې زما یار یې
د دولتمند په سر به خاورې واړومه
یو مې ایمان یو مې زبان دی
یو مې جانان دی ځان به خاورې ایرې کړمه

د هغه تلی ښکلوي ځان ورته حلالوي د مئینتوب نه منع کېږي.

مسافري خوړلی یاره
پیزار اوباسه چې تلی د ښکلومه
نن مې د یار د راتلو ورځ ده
د چرګ په ځای به ورته ځان حلالومه
مئینه یم منکره نه یم
که څوك مې سر د دیواله په پت کښې ږدیدنه

د پښتنو مېرمنو د خاوند سره محبت مثالي دی. بل په هر مصیبت او سخته کښې ورسره کلکه ولاړه وي.

صبرکوه خدای بـه مـې درکـړي پـه بې صبری معشوقې جا موندلي دینه
کـه پـه یـاري دِ قبلـولم زه بـه وینـزه سـتا د در ومـه مئینـه
کـه خدایٔ کـول جانانـه سـتا یم مئینـه مـه شـلوه تنـړی پـه زیارتونـه
مسـافري خـوړلی یـاره قربـان قربـان دې د ریمنـو جـامو شـمه

ډکـه ټـوپې نـرې دِ خـط دی	زه دِ مئینـه پـه ملالـو سـترګو یمـه
ستا پـه نیستئ مې پرواه نشته	نیسـتي وسـله ده هلکـان یـې ګرځوینـه
زمـا بـه هغـه سـړی یـار وي	چـې قراقـل لانـدې کـړه لاره سـاتینه
زمـا د پېغلـو پـه شـان یـاره	زه بـه لـه تانـه زړګـی څنګـه صبرومه
مبـارکي راکـړی عالمـه!	د تهتمونـو سـره یـار قبولـه کړمـه
د یـو زړګـي نـه بـل تـه لار وي	چې زما خوښ يې ستا به ولي بدي شمه

چاکره کونتر چې هم ښځه وي هم یاره
چاتـه لکـه سـروه د خنـدا ډکـه ولاړه

د زلمو ننګیالو، هلکانو، سپین ږیرو او موذیانو بیان اوشو. ورسره د پېغلو جونو جینکو، سپین سرو، کونډو او بنو ذکر هم اوشو. دا بـه ډېره بې مناسبه وي چې د کورودانو مېرمنو ذکر اونه شي. خو د هغـه ذکر چې غني خان بابا پـه کوم ښائسته انداز او طـرز کښـې کـړی دی. ډېر عجیبـه او خونـدور دی. هغـه چـې کومـه نقشـه راښکلې ده اوکوم حقیقت یې بیان کړی، نه بل چا کړی او نه به یې اوکړی شي. غني خان بابا چې کوم حقیقت بیان کړی، تـه یې پـه خپل ګیر چاپېره ماحول کښې شپه او ورځ وینې. غني خان بابا دا دعوت هم ورکوي، چې تـه خپل کوروداني تـه فکر اوکړه چې پـه کوم تولګي کښې فټ کېږي. قسمت دِ خپل دی.

چا سره نکاح د عمر بهرسو داده. اول ښه اوګوره تحقیق اوکه ځان مطمئن کا. چې او دِ کړه ترمرګه پورې راکاږه. نیکه پاکدامنه شریفه اصیله ښځه د خدای نعمت دی، چې د ښځې مثال د پختې دی. هم دغه شان ترې کار اخله که نېغول یې غوارې نو ماته به شي. د ښځې غټه مسئله داده، چې خله نه بندوي، ګوریږي جواب ورکوي.

یو بزرګ فرمایي: چې داسې حال کښې ورسره بحث مه کوه. بس دا خیال کوه چې د شیطان ښارو لګیا ده. غوږ پرې مه ږده. طلاق یې حل نه دی. تاکښې دومره لیاقت او همت هم نشته چې یو تن هینډل کړې. زما مطلب وهل ټکول نه دي.

چاله شراب ورکړي   چاله سرې ويني د جام
چاله خربانو دپاره   چاله ګل اندام
څوك په اديله باندې   پرې د ماچين واخلي
څوك په چوارې پسې   دنيا کاندي تمامه
چاله ښه څربه خوړه   بوجئ لکه دګړې
چاله يخه پخه شيخ   ړوکئے د ابو مړے
چاله د لولکے په شان   چسته او رنګينه
چاله دګونګټے په شان   توره او مهينه
چاله قته قتئ کوکارې   کړکه زړه چرګه
چاله غونډه منډه   مسته تکه سپينه ګرګه
چاله داسې ستغه   لکه اوچه بکيانه
چاله ډوبه مسته   لکه نوې دوك بيانه
چاکره صابره کور ودانه   دُرنه مېښه
چاکره سيمه کوترئ   په هر چا چې شوه پيښه
چاکره کونتره چې هم   ښځه وي هم ياره
چاله زړه خره بې خونده   بې نوره پواړه
چاته لکه سروه   د خندا ډکه ولاړه
چاله ښه ترسکونه   چاله ښه خوړه حلوا
يوله د نيمبو اچار   او بل له مربه
يوله خميره ډوډۍ   پړسمنه پسته نرمه
بل له د مسورو پيتي   ګرمه ګرمه ګرمه
ورکړه د قسمت دي   چاله ډيره چاله کمه
خداى دِ هغه درکړي   چې وي ستا په شونډو سمه

باب: ۷

پښتون او اغوستن

د مور او خور چې عزت نه کړي
هغه پښتون دِ پټکي نه پسروينه

د جامو (لباس) نه اصل کښې دوه مقصدونه دي. يو جسماني چې بدن د ګرمۍ يخنۍ د تکليف نه بچ شي. بل اخلاقي. د بدن هغه حصې چې د غيرو نظر پرې ونه لګي پټې شي. د اسلام نه بغير بل يو مذهب داسې نشته چې په بربنډ بدن يې اعتراض کړی دی. اسلام ورمبنی مذهب دی چې ستر پوشي يې د مذهب ضروري جزګرځولی دی. د سړي دپاره د نوم (ناف) نه واخلی ترکنډو پورې او ښځې دپاره د سر د ويښتو نه واخلې د ښپو د ګيټو پورې ستر دی. دا حصه د غير په مخکښې کهلاوول جائز نه دي، بلکې په تنهايي کښې هم بربنډول ناخوښه دی.

ستر پټول د انسان فطرت دی، چې د آدم او حوا عليهما السلام نه د جنت جامې کوزې شوې. نو د ونو په پاڼو يې ځان پټولو. وحشي ځنګلي او صحرايي قومونه صرف شرمګاه پټوي. وحي الٰهي بنياد مو ته د تهذيب او سليقې سبق راکوي.

﴿يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ قَدْ اَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُّوَارِيْ سَوْاٰتِكُمْ وَرِيْشًا ۭ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ﴾ [1]

اې دآدم اولاده! مونږ تاسو ته جامې را ولېږلې چې ستاسو ستر پټ کړي او د زينت سامان، او د پرهيزګارۍ جامه ښه ده.

کومو جامو ته چې بې اختياره د خلقو نظر اوګوتې اوچتېږي هغه اغوستل ټهيک نه دي. خواه د اميرانو زرقې برقې جامې وي اوکه د مولويانو نمائشي جبے او عَباګانے دي او يا د پيرانو شنې جامې او چغې وي. دلته به مونږ د پښتنو د هغه لباس ذکرکوو کوم چې اکثر د نمائش او فخر غرور دپاره استعمالېږي.

1- سورة اعراف، آيت: ۲۶.

پګړی دې ول په ول مزه که
لکه چې زلفې ول په ول مزه کوینه

د پښتنو نر ښځو عامه جامه قمیص پرتوګ دی. څادر هم تقریباً عام دی. خو د ښځو او سړو د څادرنو نوعیت بدل وي. کوم څیزونه چې سړو سره خاص دي هغه پټکی، لنګی، شمله او ټوپی یا خولی ده. پټکی یا پګړی ددې ټولو څیزونو مجموعه وي. پښتنوکښې د پټکي په سرولو او پټکي تړلو د هرې قبیلې او خیل خپل انداز او طرز دی. د وزیرستان پټکی، د مروت نه بدل دی. د پېښوري کله لونګی ځان له یو خپل شان دی. د قندهاري افغاني د پټکي خپل رنګ او انداز دی. مطلب مو دادی چې ټول پټکي یو شان نه دي.

خو په دې کښې هېڅ شك نشته چې پټکی او پګړی د عزت او فخر نشان دی. پښتون سل مړو ته تیار دی خو یو پټکی یا پګړی غورزېدو ته تیار نه دی. د چا پټکی یا پګړی کوزولونه بله غټه بې عزتي او سپکاوی نشته. پټکی د عزت او فخر هغه نشان دی چې پښتانه یې د قرآن کریم په شانته د قسم دپاره استعمالوي. لکه تر هغې به پټکی په سر نه کړم چې دا کار مې نه وي کړی یا دا بدل مې نه وي اخستی. دهغسې د چا پښوکښې خپل پټکی کېښودل د منت او ننواتې آخري حد دی چې خلق پرې مرګونه معاف کوي.

پټکی د سړي د شان او دبدبې یو علامت دی. د پټکي په سر دکېښودو د انداز نه پته لګي چې "چون من دیګری نیست" زما په شان بل څوك نشته. زه څوك یم.

پګړی به هلته کړه کېږدم چې په میدان باندې غماز وشرمومه
پټکی دکوږ په وربځو کېده زه د همزولو په قطارکښې ناسته یمه
چې ته پګړی په سرکړه کړې زه به چارګل په پوزه نېغ اودرومه
د بې غیرت آشنا د لاسه پټکی د سره تاووم له ملك ځمه

پټکی په سرول سنت مستحب دی. د حضورکریم ﷺ پټکی اووه ګزه سپین یا تور رنګ وو، چې شمله به یو لویشت د ولو په مېنځ کښې وه.

پټکې په مېنځ د وربځو کېده پردی وطن دی چې ډاډه درسره ځمه

جانانه تور پټکی پیدا که — په سر به ستا وي خوند به ماله راکوينه
پګړی دِ ول په ول مزه که — لکه چې زلفې ول په ول مزه کوينه
په تور پټکي د خاورې واوره — کړې شملې دې لېونی سپېلنی کړمه
په تور پټکي د لمبه اوشه — روغ جينی ووم لېونی دِ کړم مئينه
په وطن ننګ لالې شهيد شو — د پټکي ولونه يې سپړم ژړا راځينه
خدائ دې تحصيل پګړی پوره کړه — ته زړه ډاډه که سترګې اوچې که مئينه
خدايه! دا لوړ غرونه را ټيټ کړې — چې را معلوم شي د جانان د پګړي ولونه
خلق صفت د تور اوربل کا — د طالبانو پګړی اور اولګونه
د بې غيرت اشنا د لاسه — پټکې د سره تاووم له ملکه ځمه
د مور او خور چې عزت نکړي — هغه پښتون دِ پټکی نه پسروينه
زما د طمع ځای خالي شو — پټکی د سره تاوؤم له ملکه ځمه
که مې ستا پت ترسره نه کړو — زه به تاؤکړې پټکی نه پسرومه
ګل مې په لاس کښې درته راغلم — د پټکي ول د سستوه چې پکښې ږدمه
ما درته وې چې سوات ته مه ځه — په تور پټکي به دِ سواتی مينه شينه
اباسين بيا چپې چپې دی — هره چپه يې ورانوي د پګړي ولونه
تور د پټکی دی توره وريځ ده — دا ګل ګوتي ځنړې د مياشتې په کال وينه
تور دِ پټکی تورې دې وروځې — کور ته جاروزي مخ راواړوه مينه

زما جانان طوطي رنګ
آسماني رنګ دې لونګی چنار د ونه

لونګی د پټکي هغه حصه ده چې دکولې يا ټوپۍ نه ول په ول تاوېږي. د لونګو ډېر قسمونه دي، لکه پېښوری لونګی، مشهدی لونګی. ګوره د زاري او منت څه ښکلی منظر پېش کوي:

دا ته چې ځې آخر به لاړ شې
ځو به دِ زه د لونګی نيسم پلوونه

بېلتون ته منت کوي چې لږ صبر وکړه مه راځه، آشنا مې نوې لونګۍ په سر کړې ده.

بېلتونه دومره صبر وکړه
چې د جانان لونګۍ زاړه ګړي پلوونه

او یار ته وايي چې لونګۍ په ورېځو کړه کېده د چا پروا مه کوه.

لونګۍ کړه په ورېځو کېده
زه لکه میاشت کړه په بام ولاړه یمه

خدایـه! نـرې نـرې بـاران کـړې	چې شاولے واولے دَ لنګي محتاجه شینه
راځـه راځـه چـې سـره ځونـه	که غرمه سره شوه ستا لونګۍ به سوری کړونه
زما مرګے پـه خپـل وطـن کـړې	چې دِلالي لونګۍ کفن پـه غـاړه ورمـه
کولـه بـه زه درلـه چکـن کـړم	تـوره لنګـی بـه درلـه مـور وکـړي مئینـه
لـونګۍ د واخسـته روان شـوې	پـه زړه د نشـتـه د یـاري سـوي داغونـه
لـونګۍ پـه سـرکه بهـر راشـه	چې د لونګۍ ول کښې د کیږدم زیړ ګلونه
لـونګۍ د بیـا پـه سـرکـړه کـړه	تـر خپلـه کـوره بـه کـړه درسـره ځمـه
پـه مسـافر مـې زړه خـوږېږي	پـه مشـدی لـونګۍ چـې سرې ټولوینـه

د تا د جګې شملې جار شم
ټومبلی تا ده مسته زه پرې باندې یمه

واقعي چې جګه شمله د پښتون د فخر او امتیاز نښه ده. لکه چې وايي:

پـه یـو یونـټ کښـې د پښـتون دَ امتیـاز طـره ده
دا طرطـــره دا کرکـــره او دا اعـــلا شـــمله
نـوري شـملې ددې شـملې مخکښـې اودریـږي کلـه
دا د بیربـــل د دو پیـــازه د شاهنشـــاه شـــمله
شملې خو ډېرې دي خو داسې بت په کومه کښې دی
لیـدلی داسـې بـه چـا نـه وي سـر بـالا شـمله

شملې دوه وې يوه د پټکي د پاسه نيغه ولاړه وي او بله د ولو په مېنځ کښې زوړنده وي څکه خوګيله کوي چې سر د يو دی او شملې دوه دي. ما به خواره کړي.

ما به دِ تا کبر کړی خواره
چې سر د يو شملې دِ دوه پرې ايښي دينه

او په اخرکښې وايي: چې شمله خو د جګه لکه د ننګيالو او توريالو پر يښي ده. زۀ پرې دهوکه شوم. څه خبره ووم چې بې ننګه بې پت بېکاره يې.

په شملکۍ د شوم غلطه
د بې ننګۍ نه دِ زه څه خبره وومه

په کنډاؤ واوړيدې پنا شوې
پناه دِ مه شه د شملې سره پلوونه

خدائ د دَ لرې را روان کا
چې تماشا دِ دَ خورې شملې کومه

په شملکۍ دِ شوم غلطه
کور ته دِ لاړم مور د لنګ وهلی وونه

سر دِ دَ لرې رابښکاره کړ
چې ننداره دې دَ کږې شملې کوومه

پښتنو بيا خولۍ کږې کړې
په دښمنانو به بيا جوړ کړي ناتارونه

ټوپۍ يا خولۍ د پښتنو د لباس يوه حصه ده. ټوپۍ هغه ګول يو سپق کپړه ده چې د يو طرف نه بند وي او په سر فټ راځي. د ټوپو بې شماره قسمونه دي، چې مختلف قامونه يې استعمالوي. لکه ترکي ټوپۍ، د انډونېشين خپل ډيزائن، چترالي ټوپۍ يا پکول په تمامه دنيا کښې د پښتنو استعاره ده. د فوځيانو د ټوپو د ډيزائن څه حساب نشته. د ايران يو پوره شاهي خاندان دکج کلاه په نوم باندې تېر شوی دی.

پښتانه هم وايي چې خولۍ د مازيګر په ځای ايښې ده. کږه خولۍ د فخر غرور او تکبر نشاني ده.

ټوپۍ په سر دَ ادب نښه ده. سر تور خاصکر د مشرانو مخکښې بې ادبي ګڼړلی شي. مشر نواب دير دا حکم کړی وو، چې په رياست کښې به څوک سرتور نه ګرځي. د پښتنو په معاشرت کښې ټوپۍ هم د پټکي په شان عزت دارګڼړلی شي. په ديرکښې د خال په سوات کښې د چارباغ او په پېښورکښې قراقلي ټوپۍ مشهورې دي.

پښتنو بیا خولۍ کړې کړې
په دښمنانو به بیا جوړ کړي ناتارونه
ډکه ټوپۍ ملالـې سترګې
مور دِ کرکنړې په بازار کښې خرڅوینه
ډکه ټوپۍ نرې دِ خط دے
زه دې مینه په ملالو سترګو یمه
زما د لرې درته خیال دی
په کباړي ټوپۍ دې مه وهه لاسونه
ما به دا ستا خولۍ چکن کړي
د موره یو یې نظري به شې مئینه
ما خو د کور لیدلے نه دی
چکن ټوپۍ په دیوال کیده چې درځمه
ما خو د لرې نه سهي کړې
په قراقل ټوپۍ دِ مه وهه لاسونه
ما په ټوپۍ خوښ کړې یاره
اوس که پټکے په سر وهي خوښه د خپله
خدایه! وړوکے ککے لوئ کړې
چې مورله راوړي په ټوپۍ کښې زیړ ګلونه

سالو په سر منګی په ترخ کښې
د ګودر غاړې له راځي رنځور یې کړمه

سالو د جینکو هغه لوئ څادر دی چې د پردې دپاره استعمالیږي. سالو عموماً د سور رنګ وي او د نظر راکښو مرکز وي. وړومبی نظر په سالو لګي. کله غواړی چې دجینۍ د سر سالو شم اوکله غواړي چې سالو تر هوا یوسي چې زه یې دیدن وکړم او کله د سالو دپاره د ګودر نه ځان لوګی کوي.

ګودره ټول درنه لوګی شم
په سور سالو کښې مې یار ستاخواله راځینه

سپین مخ یې په سور سالو کښې ښکاري لکه سپوږمۍ په وریځ کښې، زما سالو دوه رنګه دی چاله اختر او چاله غم دی. څوك مئین کړي او څوك رنځور کړي، چې سالو نه وي په لاسونو مخ نه پټیږي.

په سور سالو په بام ولاړه
امبل په غاړه شوکوي د خلقو زړونه
په کنډاؤ سور سالو ښکاره شو
چا وئیل په تورو غرونو اور ولګیدنه

چې پښتور ته ځې جانانه
ماله پروني د سالو راوړه مئينه

چې د سالونه يې مخ بهر کړو
لکه سپوږمۍ د څوارلسمې ښکاره شينه

که خدائ مې ښه ساتي اوکه بده
راتول به نه کړم د سالو سره پلوځونه

د سور سالو خيرات به وکړم
که د سوډر د ملکه روغ راغلې مئينه

د مور ملوکې سرې د نوکې
په سور سالوکښې کرځيدې مئين دکړمه

راځه چې سور سالوکښې پټ شو
يابه مئين شو يا به توري خاورې شونه

راځه راځه چې سره ځونه
که غرمه سره شوه سالو شته سورې به يې کړونه

زما د وينو رنګ يې ورکړو
هر ځاى د يار د سالوکېږي صفتونه

سالو په سر منګى په ترخ کښې
دګودر غاړې له راځي رنځور يې کړمه

سالو مې پاس په پړي زوړ شو
پېزوان مې زنګ شو لالې توري خاورې شونه

سالو مې دوه رنګه په سر دى
په چائې اختر که چاله يې ورکړل ډېر غمونه

سالو يې سور دى مخ يې سپين دى
دا مې يقين دى چې به زر لېونې شمه

ما د جينۍ د سر سالوکړې
چې نرى باد يې ما سينې ته تولوينه

يوځلې بيا په دې لار راشه
چې دِ په سور سالوکښې وکړم ديدنونه

بخت دِ په سر دى زما ياره
سالو مې باد يوړو تا وکړل ديدنونه

بېګاه مې داسې خوب ليدلې
د سر سالو رانه سېلاب اغستې ونه

پاس په ګودر د پېغلو جنګ شو
د سور سالو مېرمنه ماتې ګډوينه

ټال مې بهانه مطلب مې ته يې
چې دَ سورکي سالو دِ وکړم ديدنونه

جانان زما د سر سالو دى
د سر سالو پېغلې په خپله زړوينه

جينۍ په تنکه کوڅه راغله
سالو يې نشته په منګل خُله پټوينه

چارې دِ څه وکړې زنړکيه
پټ په سالوکښې ورم د غاښو پرهرونه

لمبو د حسن د سوخته کړم
اوس مې په سور سالوکښې پټ کړه روغ به شمه

ليلى چې مخ سالوکښې پټ کړو
لکه سپوږمۍ چې په وريځ کښې پټه شينه

دا مخامخ په کوڅه راغله قجير پانړه يې تر سالو ختلې اونه
زما سالوکښې ګرمې کېږي په زړه ظالم اشنا مې کورته کشوينه

په سر مې سپينه لوپټه ده
ورستو اوړده ده د ياري تړي بندونه

لوپټه هغه وړوکې نرۍ څادر دی چې د سالو لاندې اچولی شي. لوپټه د پردې مقصد نه پوره کوي. دا صرف د سر او د سينې د پټولوکارکوي او په کور دننه استعمالېږي. په لوپټه کښې اکثر مخ او خله ښکاري چې په ټپوکښې يې صفت کېږي چې لوپټه دې سپينه ده او مخ د سور لکه ګلاب دی. بهرحال لوپټه هم يو د عزت نښه ده. لوپټه ور په سرکول عزت کول دي او لوپټه د سرکوزل بې عزتي ګڼرلی شي، لوپټې په سندروکښې ستائيلے شي.

په سر مې سپينه لوپټه ده ورستو اوږده ده دَه دَ ياري تړي بندونه
ستا لوپټه زما کفن شه چې تور لحد راباندې زړيږ ګلونه شينه
شونډې دِ داسې دواړه سرې دي لکه په سپينه لوپټه کښې سره ګلونه
ماله جالی لوپټه راوړه چې ستا واده وي جينکی به ټولومه
په سر دې سپينه لوپټه ده خوشې ميره ده پښې راوچتې کړه چې ځونه
د بخملي لوپټې لاندې د جينی سرو شونډو، ګلاب نيولي دينه
د فيرنګي په ډېر دولت کښې جينی د کاټو سر پيچك په سر تړينه

چائې پلو لیدلی نه وو
اوس د کابل په لوري ځي سر تور سرونه

پلو د څادر یا لوپټې کونې ته وایي. پلو د پردي په معنی کښې هم استعمالېږي. لکه د چا پلونه لیدل یعنې سخته پرده یا پلو د مخ لرې کول یعنې بې پردګي. د پاکدامنو پښغلو پلونه دومره پاك دي چې په کوم بوټي لګېدلې. هغې بوټي نه دارو جوړ شوی.

د ګودر هر بوټی دارو دی
پرې لګېدلي دي د پښغلو پلونه

د پلو او دیدن یو بل سره ډېر مناسبت دی. چې چرته پلو وي هلته دیدن نه وي.

پلوه ستانه مې زړه بد شو
مخ ته مې راغلے اومنه شول دیدنونه

څوك وايي دیدن د سر په بدله دی څوك وايي په لکهو روپی ارزان دی. خو پلو رانه باد یوړو وړیا یې ولیدمه. څوك وايي د پلو لاندې مې پټ که، څوك وايي مېلمنه ده پلو څان پسې راکاږي. څوك وايي ما د لارې ریک کړې چې جینکۍ مې د پلو سره راکاږي. بهر حال د پاکدامنو مېرمنو پلونه قدرمند دي.

پلـو پـه څـان پسـې راکـاږي / پروردګـاره! مېلمنـه بـه د چـا وینـه
پلـو مـې ډك دی د ګلونـو / سـر د راټیـټ کـه چـې ګلـزار ولګومـه
پـه مـا خـو دواړه چارې نـه شـي / چې یوګړی وړم بـل پلـو مخې تـه وړمـه
خدایه! ته ما د لارې ریک کړې / چـې جینکـۍ مـې د پلـوه سـره وړینـه
خدائ خو به تا د لارې ریک کړي / جونـه هوښیارې پلـو ترخ کښې ګرځوینه
د سـلارے نـوکر دې زه وی / چې تا په سرکړي ما یې ټول کړي پلونه
د ګـودر هـر بـوټی دارو دی / پـرې لګیـدلي دي د پښغلـو پلونـه
دیـدن پـه لکهـ روپـی ارزان دی / پلـو مـې بـاد واخسـت ویړیـا دِ اولیدمـه
دیـدن د سـر پـه بدلـه دی / بـاد مـې پلـو یـوړو ویړیـا د اولیدمـه
غلـے راځـه خواتـه مـې کینـه / د پلـو لانـدې بـه دې یـاره اوسـاتمه

لیلیٰ پلو له مخه واخست
مخ یې پلوکښې رانه پټ کړو
یاري د لوړې جینۍ خوند کا
باد دِ پلو له مخه یوسه
ته چې د سیندنه پورې وځې
چا یې پلو لیدلے نه وو
خال خو دِ ما وران کړی نه دی
خال په پلوکله ورانېږي
ما په پلوکښې تر ینه پټ کړی
ګل د ګلاب به شرمنده شي

دې سپینې خوله ته مې شوندان ور پیدنه
خدایه! سیلی کړې چې یې توله اووینمه
د پلو لاندې سرې غلے تیروینه
چې دې دَ دنګې غړی اوکړم دیدنونه
پلو دِ نیسه زه منړې درغوزومه
اوس د کابل په لوري ځي سر تور سرونه
تا چې پلو په مخ راسم کړو وران به وینه
د تا د غاښو پکښې ښکاري پرهرونه
خو ښېلتون پوهه وي پلونه لټوینه
که شاه لیلیٰ پلو له مخه لرې کړینه

دلاله فکر پکښې وکړه
چې شال شړۍ سره یوځای نه کړې مئینه

شال هم غټ څادر دی چې اکثر پشمینه وي او ډیر په ډول اوګلونو جوړ وي. کشمیري ریښمین شالونه ډیر د پخوانه مشهور دي. شال ښائسته وي د خلقو ځان ته پام کوي. په ډولۍ خو سور شال خوند کوي. کشمیر ته ځي ماله هم شال راوړه.

ټوپك د یار په غاړه خوند کړي
لکه چې خوند کړي په ډولۍ زرین شالونه

شال د شړۍ ضد دی. د دواړو پیوند نه لګي. بلکې دا یو ضرب المثل دی. او د نورو ځیزونو د فرق ظاهرولو دپاره هم استعمالېږي.

غمازه خوار شې مونږ دِ خوار کړو
شړۍ د لنګ شه چې شلوې پردي شالونه

د اوښو غاړې مې خولۍ شوې
د ایرانو ریښمو روغه

ما په بارکړي د بیلے د سر شالونه
زما جانانه ستا لائق دي سره شالونه

دلاله فکر پکښې وکړه
چې شال شړی سره یوځای نه کړې منینه

دونې سوري لاندې پروت ووم
لیلی په ما باندې سور شال اوغوړاونه

زما په سر توره چارړیه
ور به دې نه کړم د خانانو په شالونه

سبا سحر یخني مې کېږي
رابانده واچوه څادر دواړه لاسونه

که دیدن کړې تلوار را اوکړه
په مخ مې شال د بېلتانه اوغوړېدنه

اباسین بیا غاړې ته راغې
په سریې راوړل کشمیري ریښمن شالونه

پوزه الف سترګې دې "ل" دي
زلفې دې شال دي په سپین مخ وهي تالونه

په سفر ځې خدائ ته دِ سپارم
که ماته راوړې د کشمیر شنکي شالونه

ته یک د یار په غاړه خوند کړې
لکه چې خوند کړي په ډولۍ زرین شالونه

خاونده بیا د مازیګر کړو
شالِ په سر کړو پردې خوني ورانوینه

❖❖❖

ستا دَ ایلئ شان غړی ده
زما شړی ده ستا به چرته خوښه شینه

کچکول په لاس شړی مې لنګ دی
جامې مې رنګ دي یاره ستا په تهمتونو

ما د شاهانو یاري کړې
شړی مو لرې څنډ وهي دوړې راځینه

یوځلې غاړه غتې راشه
اوس خو مې تورې شړې لنګ کړی یار دِیمه

که چاوئيل چې جانان راغی
د سر ځادر به د بابا شکرانه کړمه

ځادر عموماً پښتانه استعمالوي. په نورو قامونوکښې د ځادر استعمال دومره عام نه دی. پښتنې ښځې پړونی او د پردې کپړې ته کله ځادر وايي. هسې د ځادر فائدې بې شماره دي. لکه توليه، جائے نماز، لنګ، احرام، تولائی، بړستن، فرش، بوری یا تهيله، چهترې، پرده، کمربند، پټکی، رسی، ځادر د پښتون جامه ده.

مخ يې په تور ځادرکښې پټ کړو	لکه سپوږمۍ چې په غبار دننه شينه
نرۍ نرۍ به درنه تاو شم	لکه تاؤ شوے سلاره له ناوې وينه
بنارسی شوے ډېرې ډېرې	زما دادا ترينه خر سوړی جوړوينه
که په سرحد چرته شهيد شوې	د سر پړونی به بيرغ دربانديې ږدمه
که چا وئيل چې جانان راغے	د سر ځادر به د بابا شکرانه کړمه
ما درته وې په ښکته مه ځه	په ښکته نشته په يوه ځادر خوبونه
د ملنګی جامه کښې راشه	زه به په سپين ځادر کښې خير درکومه
يا په اسمان کښې ستوري خوندکړي	يا چې په تور ځادر ګلونه خوندکوينه

رومال يا دستمال په تمامه دنيا کښې عام دی. نر ښځې يې يو شان استعمالوي. د رومالونو سائز او رنګونه بې شماره دي. د عرب ملکونو رومالونه په دنيا کښې مشهور او يو شناخت دي. د سعودي خپل رنګ او سټائل دی. د عراق شام اوکردو خپل خپل رومالونه دي. د سوټ سره د استعمالولو نمائشي رومالونه بېل دي.

دکابلي رومال دپاره	زه به ياري دَ درانو سره کومه
سر يې په سور رومال تړلے	خدايه! يار جوړ کړې ما نا جوړه کړې مئينه
جانان زما د مخ دستمال دی	چې دستمال ورک شي مخ مې ډک د خاورو شينه
ماښام مې يار سره نېټه ده	د لاس بنګړي مې په دستمال تړلي دينه
ښه ده د غم دستمال دِ راکړو	د فراق اوښکې به زه تل پرې پاکومه

صورت د سپين قميص د شين دى
لکه رامبېل چې شنې يې پاڼې سپين ګلونه

قميص د انسان اول ايجاد دى چې د څادر نه قميص ته راغے. او بيا ډېر پخوانى دى، چې د يوسف عليه السلام په قصه کښې يې قرآن ذکر کوي. چې قميص يې اوګورئ چې لمن د مخې نه شليدلې او که د شانه، او بيا کله چې يوسف عليه السلام رونړو ته خپل قميص ورکړو چې دا مې د پلار په مخ واچوئ بينا به شي. نو يعقوب عليه السلام ته د هغه قميص بوئ د مصر نه په کنعان کښې محسوس شو څکه خو شاعر وايي:

ز مصـــرش بـــوئ پيـــراهن شـــميدى
چـــراں د قعـــرکنعـــان خـــود نـــه ديـــدى

عبدالله ابن ابى ته حضورکريم ﷺ خپل قميص ورکړو څکه چې هغه حضرت عباس رضى الله تعالىٰ عنهما تـه قميص ورکړى وو. اوس هـم ډېر خلق د خپلو بزرګانو قميص يا نور څيزونه بطور تبرك ساتي. بچى خپل مور هم د قميص د بوئ نه پيژني. قميص د انسان د بدن په اکثر حصه خور وي او ښکاره وي. د قميص ښائسته والى د انسان په وجاهت او ښائست کښې اضافه راولي. څکه خو خلق د قميص د رنګ او ګلونو بيان کوي. د عربو قميص خو باقى ټوله جامه لاندې کړي وي، لکه چې ټوله جامه بس يو قميص وي.

قـميص مـې لنډ ونيسـه مـورې
پـردى وطـن دى بـوټى خُلـه رالګوينـه

قميص يې تور دى ګل پرې سوردى
د بنګړو شرنګ دى کټ کوټې ته خيژوينه

د چـاپے دار قـمـيص مېرمنـې
پـه لاره راشـه چـې چـاپے دِ اوشـمېرمه

ددې بکيـانې ګـل تـه ګـوره
داسې قـمـيص د بيګم جـان پـه غـاړه ونـه

ستا د غلبيـل قـميص لـه رويـه
زه پـه همزولـو بانـدې ډېـر فخـر کومـه

صورت د سپين قميص د شين دى
لکه رامبېل چې شنې يې پاڼې سپين ګلونه

قميص مې شين ګلان پرې سره دي
مور مې ميره ده اوس پـه زوره مې خرڅوينه

مـا بـل قـمـيص کړى زرغـون دى
د دارائـى قـمـيص مـې غـواړي ګـل ميخونـه

بيا به د تور نه کړم قميص زما د شلوکالو رنګ دِ وارونه

بيا به د تور نه کړمه قميصه په تر ړمئ کښې لکه خره ولاړه يمه

بيا به ډوريا قميص اونه کړم ډوريا کاسير دی برابر حجرې ته ځينه

تورې يې قميص توره يې برقه ده په سر يې توره لوپټه ده خوند کوينه

جانانه ستا په عاشقی کښې ځادر مې څرڅ کړواوس قميص بازار ته وړمه

پرون د مور په خوا کښې ناست وې نن به يې سپينه لمن کوم ځای باد وهينه

پرتوګ هم د پښتون ثقافت د جامو ضروري جز دی. چې فائدې يې ډېرې دي. پرتوګ نه خو د پتلون پشان تنګ ترش دی، چې کېناستل پاسېدل پکښې ګران وي او نه د لنګ په شان ارت بيرت دی، چې هرڅه پکښې په ډاګه وي. نه يې په باد سيلی کښې سنبالولی شي او نه په کارکولوکښې. پرتوګ يو داسې ستر پوشه جامه ده، چې که ته په هر اړخ غورز ېږې پرده به دې نه ماتېږي. د پرتوګ ذکرنه په پښتو اشعاروکښې ډېر شوی نه په ټپوکښې. زما په خيال کښې پرتوګ ډېره نازکه موضوع ده، چې د شرم و حيا او بې عزتی سره تعلق لري. پښتون دروند خوئ لري په دې وجه داسې نازکو مضوعاتو ته نزدې هم نه ورځي هسې نه چې بې ادبي ترې اوشي يا د چا د بې عزتی سبب جوړ شي. دلته به درته زه يو دلچسپه واقعه اووايم چې د برني خيالاتو تائيد کوي. پروفېسر معروف شاه روغاني زمونږ د هار ټيکلچر پروفېسر وو، چې په کومه ورځ يې فلوری کلچر (Flori Culture) شروع کولو په بورډ باندې يې يوه مصرعه اوليکله.

دکشمالو درکره بنړ دی ځکه د بوئ د پرتوغانې د غټې ځينه

چې د امتحان په پرچه کښې دا سوال راغی هلکانو د جواب سره دا مصرعه هم اوليکله.فضل رحيم خان کنډی ممتحن وو، چې شپږ فته لوړدنګ سخت پښتون وو. چا چې دا مصرعه د جواب سره ليکلې وه هغه يې ټول فېل کړل، چې ستاد چا د پرتوغانې د غوټې سره څه کار دی. دا سخته بې ادبي اوګستاخي ده.

زما پرتوګ د اوباسلو یا زما پرتوګ د په کهجوره واچوو. ددې نه زیات د بې عزتۍ الفاظ نشته اګرکه عملاً داسې شوي نه وي. د نن په شان پرتوګونه نه وو چې د بدن هره زاویه پکښې ښکاري. پرتوګه به پوره د یو تهان نه جوړېدو، ځکه خو سید رسول رسا هم وایي:

شـــین ګیـــډۍ پرتـــوګ چرتـــه
مـــــړه ده مـــــامونئ پخـــــوا
ګودرتـــه ځـــې مخـــې لـــه راغلـــی
ګیډۍ ګیډۍ پرتوګ دِ لار نه راکوینه
پرتـــوګ یـــې ســـوړې ســـوړې راوړه
چې هره سوړه یې ګنډم ژړا راځینـه

او غني خان بابا وایي:

خښتګ د پښتون شلیږي باچاخان ورتـه ګنډې وهي
ګاندهي لېونـے شوے دے سنډا تـه سرینډې وهي

ګرېوان به ځیرې تر لمن کړم
چې لیونی د یار د غم مشهورشمه

ګرېوان د قمیص هغه کهلاؤ حصه ده چې د سینې د پاسه راځي. د عشق او محبت سره ګرېوان خامخواه یادېږي. وجه یې داده چې عاشق ژاړي او اوښکې په ګرېوان پریوزي. بل دا چې زړه په سینه کښې وي اوګرېوان د سینې د پاسه وي. د عاشق زړه همېشه خفه او تنګ وي د زړه د آزادولو دپاره عاشق خپل ګرېوان کهلاول غواړي. خو صبر یې دومره نه کېږي چې تڼۍ کهلاؤکړي. نوګرېوان اوشلوي. یوکار دګرېوان دادی چې اوښکې پرې بهېږي لکه چې وایي:

پـه ګرېـوان یـې تـل د اوښـکو بـاران ووري
نــــه ورکېــــږي د رحمٰــــن د زړه غبـــــار

بل کار د ګرېوان دادی چې شلاوه شي يعنې څيرې کيدل لکه چې وايي:

زړه چې روغ وی ګرېوان کلـه څيـراوه شـي
لـــه ګرېـــوان معلـــومېږي د زړه چـــاك
دګرېـوان پـه چـاکول يـې څـه لارغـه وي
چې څيګر يې وروسبی چاك ترګرېبان شـي

ګرېوان په ګرمو اوښکو لوند او زيړ رنګ عاشق خپل دوه ګواهان حسابوي.

ګرېـوان لونـډ پـه ګرمـو اوښـکوګونـه زيـړه
د عاشـق پـه مينـه دوه ګواهـان عـدول شـته

څکه خو وايي:

پټــه مئينـــه پټـــه ژاړم
پټې به اوښکې په ګرېوان کښې تويومه
که مې جانان مخې له راغی
زه به دسپين قميص ګرېوان ورته شلومه
د لېونـــو ســـره بـــه زه څـــم
زما يې خوښ دي دا شليدلي ګرېوانونه
زه پـــه مئـــين ســـړي پـــوهېږم
سر يې ببر وی ګرېـوان څيـرې ګرڅوينـه
ستا دِ دا خپـل حسـن نصيب شي
زه بـه دا خپـل څيـرې ګرېـوان راټولومـه
سوال به د خدائ په درکښې وکړم
ګرېـوان شـليدلـې بـه ورڅـم پـه زيارتونـه
ظـاهر د خلقـو سـره خانـدم
پټې مې اوښکې په ګرېوان در پسې څينه
غـم د دلـدار پـه مـا انبـار شـو
څکـه ګرېـوان د غـم پـه اوښکو لمدومـه
کـه مـې جانـان مخـې لـه راغـی
زه به د سپين قميص ګرېوان ورته شلومه
ګرېـوان بـه څېـرې تـرلمن کـړم
چې لېونـې د يـار د غـم مشـهور شـمه
څېـرې ګرېـوان مخـې تـه راغـی
لېـونـې يـار مـې مـرور معلوميدنـه
ګرېوان مـې څېـرې سـر ببـر دی
سترګې مې سرې دي يار مې راکړل رخصتونه
مـادَ جلـئـې د سـرګـلاب کـر
چې پانړه پانړه يې ګرېوان تـه ولوئيږمـه
ميانـدې لـه هغـه زويـه زار شـه
چې د وطن په جنګ يې سره شي ګرېوانونه

بېګاه مې داسې خوب لیدلې
چې تر لمن مې ګرېوان شلېدلې ونه
ښېلتانه کړې راپسې کړي
په اوښکو لونده ګرېوان ګنډم له ملکه ځمه
ځېرې ګرېوان مه ګرځه یاره
خلق به وایي چې مئين به په چاوينه
چې په فریاد مې پرواه نه کړې
اوس به د مورته ګرېوان ښېو کښېږ اوشلومه

❖❖❖

دریمه حصه

راځئ چې وژاړو

خدایٔ ژړولی یمه ژاړم
پزیږده مخلوقه چې ځان مړ په ژړا کړمه

الله تعالیٰ په قرآن کریم کښې د ژړا فضیلت بیان کړی. ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ النَّبِيِّينَ مِن ذُرِّيَّةِ آدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَمِن ذُرِّيَّةِ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْرَائِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا ۚ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا ۩﴾ (سورة مریم : ۵۸)

ترجمه: دا هغه کسان دي د پیغمبرانو نه د آدم علیه السلام په اولاد کښې چې الله پر خپل انعام اوکه او د هغونه چې د نوح علیه السلام سره مو سواره کړل. او د ابراهیم علیه السلام د اولادنه او د اسرائیل نه او د هغونه چاته چې مو هدایت ورکړو او خوښ موکړل. او چې کله دوئ ته د رحمٰن آیتونه واورولی شي په سجده کښې پرېوځي او ژاړي.

حضرت مولانا محمد شفیعؒ خپل تفسیر معارف القرآن کښې وایي: چې منجمله د نور انبیاء کرام دا وصف په ټولوکښې مشترك دی چې د دوئ د عبدیت دا حال وو چې د رحمٰن د آیتونو په اوریدو به د ډیرې عاجزۍ او انکسارۍ د اظهار دپاره به په زمکه په سجده پرېوتل او ژړل به یې.

د قرآني آیتونو د تلاوت په وخت کښې ژړا محموده ده او د انبیاء کرام وصف دی.

تفسیر مظهري وایي: چې د تلاوت په وخت کښې ژړا مستحب ده. ژړا او خندا نه دَ چا خپل لاس کښې ده نه د بل په لاس کښې. دا دواړه د خدایٔ د طرفه دي چې اسباب یې پیدا کوي او اثر پکښې هم اچوي.

حدیث مبارك دی چې په دوه سترګو باندې د جهنم اور حرام دی یوه چې د خدایٔ د ویرې ژاړي، بل د اسلام او مسلمانانو د کفارونه د حفاظت دپاره ویښه وي. بل حدیث شریف کښې وایي چې د دوه قطرو نه بله ښه قطره نشته. یو دَ اوښکې قطره چې د خدایٔ د ویرې نه وي بله د وینې قطره چې د الله په لارکښې توې شي. رسول الله ﷺ فرمایي: چې د خدایٔ د یرې نه د مچ د سر هومره اوښکه د سترګې نه په مخ توې شي په دغه مخ د جهنم اور حرام دی.

رسول الله ﷺ چې به مونځ کولو نو دَ سینې مبارکې نه به یې د ژړا داسې آواز راتلو لکه د میچن غرار یا اور باندې د پخلي کټوی. حضور علیه السلام فرمایي: چې قرآن لولی نو ژاړی ورنه د ژړا صورت جوړکه. اے خلقو ژاړی که ژړا نه درځي د ژړا صورت جوړکړی. دوزخیان به دومره ژاړي چې په مخونوکښې به یې لارې جوړې شي اوښکې به یې ختم شي وینې به ترِ بهیږي او سترګې به یې زخمي شي. حضرت شریح بن عبیدؓ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوي، چې کوم مؤمن په مسافری کښې مري څوك ژړا والا یې نه وي نو زمکه آسمان پرې ژاړي.

حضرت بریدهؓ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: چې د آدم علیه السلام ژړا د هغه د تمام اولاد په مقابله کښې ډیره زیاته ده. اوکه اوښکې یې وزن کړی نو د اولاد نه به زیاتې شي. حضرت آدم علیه السلام او حضرت حوا علیها السلام درې سوه کاله دومره اوژړل چې لختي ترې روان شول.

حضرت یحیٰی علیه السلام کثیرالبکا وه. یعنې دومره یې ژړل چې د مخ نه غوښې لاړې. مور ورله دکپړې داسې څه جوړکړل چې اوښکې جذب کوي. او چې کله به هغه ډك شو نو نچوړ به یې کړل. په نچوړکولوکښې چې به دَ اوښکو اوبه د هغې په لاسونو بهیدې. نو یحیٰی علیه السلام به وې: الٰهي! دا زما اوښکې دي او دا زما مور ده او زه ستا بنده یم ته الرحم الرّحمین یې.

موسٰی علیه السلام په یوکانړي تیر شو چې ژړل یې. موسٰی علیه السلام وې ولې ژاړې؟ کانړي عرض وکړو. چې کله نه الله تعالیٰ وئیلي دي چې د جهنم خشاك به انسانان اوکانړي وي. ماسره ویره ده چرته هغه کانړوکښې زه نه یم. موسٰی علیه السلام الله پاك ته د کانړي حال اووې. الله پاك وې چې دَ ته مې د جهنم نه امن ورکړو موسٰی علیه السلام کانړي ته دا پیغام اورساوه. کانړی خوشحال شو چې کله موسٰی علیه السلام بیا په دغه لار تیریدلوکانړي بیا ژړل. موسٰی علیه السلام ورته وې چې تاته خو د جهنم نه امان ملاؤ شوی بیا ولې ژاړې. کانړي جواب ورکړو چې ژړا دومره ښه څیز دی نو بیا یې ولې پریږدم.

رحمن بابا هم د ډېرې ژړا قائل دی او وايي:

تعجب زما د ډېرو اوښکو مه کا

ما موندلی په دا بحر کښې ګوهر دی

اے رحمن چې عاشق شې

ځان دِ ژاړی کوك په کوك

په ژړا يې دمه کړم ګنې چوي

دی ودان دا پېښور په دا تيراه

وايي چې د اوښکو په اوبو مې زړه دمه دی بچ دی ګنې چوي. لکه څنګه چې پېښور د تيراه د بارانونو په اوبو (باړه) ودان دی. او حافظ الپوري خو وايي:

زه حافظ به په هائی هائی په زوره ژاړم

چې مې تخم د نيکی کرلی نه دی

حافظ شيرازي هم وايي چې ژاړه- ستا ژړا خوند کوي.

حافظا عشق و صابری تا چند

نالۀ عاشقان خوش است به نال

ترجمه: حافظ عشق او صبر ترکومه- د عاشقانو ژړا خوند کړي ژاړه.

چې د بنده ژړا د الله تعالیٰ خوښه ده. رسول الله ﷺ وايي: ژاړی د انبياء کرام وصف دی. بزرگان ژاړي. کانړي بوټي هم ژاړي ته ولې نه ژاړې

باب: ۱

ارمان ارمان دی

غم کښې پیدا په غم کښې لوی شوم

غم کښې به مړ شم غم به یوسم په پنډونه

زمونږ د بابا آدم علیه السلام په باره کښې رحمان بابا وایي: چې کله د بابا آدم علیه السلام دَ خاورې کالبوت جوړېده.

خاورې د آدم چې کړې خمیر فرشته گانو
درست یې په غمونو په دردونو ولاړه

چې خاورې سره یې غمونه او دردونه اغږلي شوي وي- نو خوشحالي به کوم ځای نه راځي. په دنیا کښې ډېر واقعات او څیزونه ستا د طبیعت خلاف راځي چې غم دی او ډېرکم ستا د طبیعت موافق راځي. چې تا ته پرې خوشحالي حاصلېږي. هغه بنده کامیاب دی چې د ناموافق او برخلاف حالاتو سره سمجهوته کولی شي او دا چل مونږ ته رحمان بابا ښایي، ځکه چې ځان له شاعر نه دی، بلکې مصلح هم دی.

که د غم د درست جهان له زړه چاپیر شي
دلگیر مه شه هسې وایه چې به هېر شي

په هر غم کښې خاموش اوسه اوکه نه وي
د بدخوا خاطر به ښاد دوست به آزار کړی

او تسلي ورکوي چې په غم مه خفه کېږه دا په هر چا راځي. وار مه خطا کوه زړه ټینگ کړی.

بې غمي په دنیا چرې ده رحمانه
یو بې غم د څوك را اوښایي کدام دی

غم پخپله راځي ستا نه تپوس نه کوي، رحمان بابا هغه مصلح دی چې د غم نه د خوشحالي جوړولو هنر ښایي.

ښادي غم غوندې اسانه مونده نه شي
سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دی

ښادي هر چرې د غم په اندازه وي
هسې غم ددې دنيا دی په انداز

ښادي هر چرې د غم په اندازه وي
د هغه به څه ښادي وي چې بې غم وي

د غم په راتلو ډېر غم مه کوه. په دنيا کښې غم او ښادي ورور او خور دي. دواړه څنګ په څنګ دي کله غم وي کله ښادي وي.

راحت بې زحمت نه دی چاموندلی
غم ښادي دی ددې دهر خور او ورور

په ښادي يې هېڅ ښاد مه شه که دانا يې
غم ښادي دي ددې دهر څنګ په څنګ

او بله اهمه خبره داده چې غم په چا راشي هغه ته يې د زور پته لګي. بل ته يې هغسې تاؤ تپ نه رسي.

يو دَبل په غم نه نرم وي نه ګرم
هم د هغه زده چې وريې شي په ځان

دا خو د رحمان بابا مصلحانه عالمانه او مدبرانه عالمګيري خبرې او حقيقتونه دي. د ټپو والا خو دکلي يو عام ساده بې تعليمه، بې تجربې زلمی يا پېغله ده چې صرف خپل ځان يا خپل مخاطب يې په نظرکښې دی، ځکه يې ټول خپل ځان ژړولی دی او خپل غم يې يادکړی دی،لکه:

د غم پالنګ د غم بستر دی — په غم ورخېژم د غم خوب پکښې کومه
د غم سيلی د غم ياران دي — د غم مابښام دی په ژړا يې تېرومه
د خوشحالی عمر مې تېر شو — نور به تېرېږي د غم شپې مياشتې کلونه
د غم پنجره د غم رباب دی — د غم سرود پرې غږوم ژړا راځينه

غم کښې پیدا په غم کښې لوی شوم غم کښې به مړ شم غم به یوسم په پنډونه
قلـم د غـم د سـیاهي ډک دی چې سرکړي ښکته خو د لیکي د غم بیتونه
دنیـا د غـم پـه ورځ پیـدا ده زه لېونی د خوشـحالی طمـع کومـه
غـم دِ راځـي زه پـرې خوشـحال یـم بې غمه خدای دی انسان تل په غم کښې وینه

د خياله کوږ په لاره مه ځه
ستا په شان ډېر د تورو خاورو لاندې شونه

قرآن کریم کښې راځي:

﴿ مِنۡهَا خَلَقۡنٰكُمۡ وَفِيۡهَا نُعِيۡدُكُمۡ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً اُخۡرٰى﴾ (طٰهٰ: ۵۵)

ددې خاورې جوړکړی یې مونږ تاسو او دی ته به مو واپس رسوو. او دوباره به مو ددې نه راوکاږو.

انسان د خاورې نه جوړ دی واپس به خاورې ته ځي. ددنیا مشغولتیا د خاورو لوبی دی. دغه حقیقت بنیادم ته خپله پته ولګي چې کله ددنیا نه روان شي. بیا ورته زر او خاورې یوشان شي او چې کله دَ خاورو سره یوشان خاورې شي بیا څه پته لګي چې شاه ووکه ګدا وو. غوندی یې اغوستی وو اوکه اطلس. ځکه خو رحمان بابا وایي:

خـاورې زر پـه سـرې واړه برابـر شـي
هغـه دم چـې لـه جهانـه پـه رخصـت شـي
هغـه دم چـې سـړی درومـي لـه دنیـا نـه
تـورې خـاورې سـیم و زر درې واړه یـو دي
هـر چـې خـاورو لـره ورشـي برابـر شـي
کـه غونـدی وي اغوسـتی یـا اطلـس

چـې یـې خـاورې شـي لـه خـاورو سـره ګـډې
تـرو د چـا زده چـې دکـوم نیکـه نمسـی دی

آخر به خاورې کېږي که ښائسته مخ وي که بد رنګ وي. په دنيا کښې يې خوراك او جامه ښائسته ووکه بې کاره. خاورې به يې يوشان وي. په مشك و عنبر لړلي شکر خواره ګورته سرتور سر پښې ابل روان دی. دَ خاورو ځلی پرې جوړ شي او دنيا هغسې آباد ده.

عاقبت به تورو خاورو لره درومي
خان به څو څندی په ګوته له تراب
دا رخسار چې دِ روښان تر آئينې دی
عاقبت به د لحد په خاورو خړ شي
څوك سر تور پښې ابل خاورو لره درومي
چا کاره دي په سر ايښي دستارونه
هزار حيف دی چې په خاوروکښې لاړه شي
په چوا او په چندنړ لړلي خلق
ژوندی کاندی ددنيا کاروبارونه
په مړو پريواته د خاورو انبارونه
ډيري خولی زما په ياد شکر خوری شوې
بيا زما په زمانه خاورې ايرې شوې

حقيقت يو دی. رحمان بابا په شاعرانه، دانشورانّه او مصلحانه اندازکښې وينا کړې او په ټپوکښې هم دغه حقيقت په متکلمانه او متخطابانه اندازکښې بيان شوي دي.

آخر به خاورې شي بدن
ډېر په غرور اوکبر مه ږده قدمونه
د ښلتانه ظالم له لاسه
په ژړا ژاړم په سر خاورې بادومه
د خياله کوږ په لارمه ځه
ستا په شان ډېر د تورو خاورو لاندې دينه
د هندوستان مسافر راغی
د تورو خاورو مسافرکله راځينه
زما صورت به څه ښادي کړي
چې زه ولاړ يم په تا خاورې اړوينه
زمکې ته تيټ شه نظر اوکړه
داسې به خاورې شي ستا سپين سپين مرونډونه

زمکې قسم به درلـه درکـړم چې خاورې نـه کـړې د اشنا سپين مرووندونـه
زه خـو لا ستا پـه طمع ناست ووم تـا بانـدې پريواتـه د خـاورو انبارونـه
کـه زمکـه اوړي خـو بـه واوړي را وابـه نـه وړي خـاوري شـوي بدنونـه
زمکـې قسـم بـه درلـه درکـړم چې خاورې نـه کـړې د جانـان د مخ خالونـه
خـاورې د يـار پـه سـر انبـار شـوې زه لېـونئ پـه دنيـا شـپې صـبا کوومـه
خـاورې راواخلـه هغـه ښـکل کـړه دې کښې پراتـه دي ښـکلي ښـکلي بشـرونه

ارمان به هله زما درشي
چې کټ مې واخلي تورو خاورو له مې وړينه

دا دنيا ارماني ده. ددنيا هرڅيز لره زوال دى او زوال ارمان دى. د انسان عمر دى اوکه ژوند، صحت دى که ښائست دى. ځواني ده که پهلواني، هرڅيز زوال پذير دى، چې ارمان ور پسې کېږي. دا ارمان او افسوس د ټولونه زيات حافظ الپوري کړى، چې وايي:

تېـر لکـه بريښـنا شـوې بـې بقـا عمـر ژوندونـه
بيرتـه بـه رانـه شـې پـه افسـوس پـه فريادونـه
بـرګ ميوه مـې تـوى شـو د پيـرى خزان لغـړکـړم
تېـر لکـه بريښـنا شـوې د ځـوانى اُردى بهشـته
سـپين مـې ريـش د سـرکـړه د پيـرى د ځلـے واورو
تېـر شـو يابسـتان د ځـوانى بيـا يـې راتلـه نشـته
لکـه شـل مارغـه چـې پريـوزى لـه پـروازه
د هـوا طاقـت مـى نشـته پـه پيـرى کښـى

هم دا ارمان او افسوس په ډېرو شاهانو او د شان شوکت په خاوندانو راغى.

پـاتې لـه شـاهانو محلونـه حـويلى شـوې
پـاتې لـه خوارانـو د وښـوکـوټې جـونګړې

ښې د خيال پګړې ګلګونه مخ سيمين غړې
خاورې د بيابان شو زلمي جونه بې ارزې
په ښه زينت په دبدبه يې وارکړو تير ددنيا
خالي لاس لاړه مفلسان د بېلتانه له تاخته
نه يې چا آواز اوريده نه يې پلو ليده شو
دا رنګ مستورې مرګ بې ستره کړې لغړې
په ډېر ادب به ورته خم قامت اولس ولاړ وو
اوس يې په ګورګرځي ګاوان د بېلتانه له تاخته
ډېر نامداران تللي څوك يې نوم په ژبه نه اخلي
ملك ورته فراخ وو اوس پر تنګ دي لحدونه

ددې ارمان اظهار عبدالرحمان بابا هم کړی دی او خلق يې په حقيقت پوهه کړي دي. که څوك پوهېږي.

اوس که لاس په بله مړم هيڅ سود نه کا
هغه چار چې مې د لاس شوه بيرون
چې بې وخت ارمان که په وخت اوده وی
د هغې عالمو ږيری د وکښو دي
خان سلطان ددې جهان
آخر درومي خوار حېران
بادشاهي تري پاتې کېږي
زړه يې چوي په ډېر ارمان
بل ارمان به له جهان يوړه نه شي
مګر مهر و محبت په دا دنيا
دريغه يو ځله خو بيا په جهان راغی
له جهان په ارمان وتلي خلق

ارمان په دوه قسمه دی. یا خو خپل ارمانونه یاده وي چې دده په زړه پاتې شي او د تکمیل یې هېڅ صورت نه وی. او یا دې بل ته وایي چې زما ارمان به درشي په ما پسې به بیا پیښماني وکړې که اوس مې قدر نه کوئ.

په زړه مې ټول شو ارمانونه پوره به نه شي زه به توري خاورې شمه
زه له دنیا په ارمان لاړم په آخرت به سره غواړو دیدنونه
اخري وخت دی یوځل راشه ستا دراتلو به ګور ته یوسم ارمانونه
ارمان ارمان دی خپله خدایه! ژوندون مې ټول بې ځایه تېر کړو مړ به شمه
ارمان به ډېر راپسې وکړې خو بیا که ټول دنیا چاڼ کړې نه به یمه
ارمان به وکړې زه به نه یم راشه په ژوند باندې مې وکړه دیدنونه
ارمان به هله زما درشي چې بند په بند مې پټکی ملا ته واچوینه
ارمان به هله زما درشي چې سور پالنګ مې درته خوشې پاتې شینه
ارمان به هله زما درشي چې کټ مې واخلي تورو خاورو له مې وړینه
ارمان به هله زما درشي چې مې په قبر مرغی جالې جوړوینه
نن راته سپك په سترګو ګورې د مرګ پس به زما درشي ارمانونه
جانانه ماسره پخلا شه بیا به جهان راپسې ګورې نه به یمه
شاه زمان لاړ ارمان یې یوړو زمانه پاتې شوه راڼې په ډیرانونه
چې مسافر شي بیا به راشي څوك چې د خاورو بندیوان شي نه راځینه
زما د زړه ارمان به سر شي که شهادت مې د جانان د لاس وینه
یوځل راشه په خندا شه دوران به تیر شي نیمه خوا به پاتې شونه
دا یو ارمان خو مې پوره کړه خیر دی که نور په پېټو یوسم ارمانونه

ارمان به وکړې وخت به تیر وي

تیر شوی وخت په بیرته بیا کله راځینه

وخت هم هغه دی کوم چې ستا په لاس کښې دی. دا ژوند دی او قدر یې پکار دی.

زنـدگی کـه څـوك پـوهیږي حضـور دَم دی
آئینـــده و رفتـــه کلـــه د چـــا یـــاد دی

تېر شوی وخت خو بس ارمان دی ستا په لاس نه راځي.

تېـر سـاعت پـه مثـال مـړي د لحـد دی
مـړ چـا نـه دی ژونـدی کـړی پـه ژړا
تـر ورخ تیـرې اوبـه بیرتـه نـه جـار وزي
نـه جـاروزي تیـر سـاعت پـه بیرتـه بیـا

چې بې وخت ارمان که په وخت اوده وي
د هغـه عـالمو ږیـري د وکښـو دي
چـې پـه وخـت د ځنکـدن وکـاږي ږیـره
تـرو نـن ولی هسـې رنـګ یـې بـې تـدبیره

چې تیر شوي وخت ته فکر وکړې نو داسې به درته ښکاري لکه نمر د مازیګر او یا لکه خوب.

ځه عجیبه غوندې ژوندون وو
د خوب لیده وولاړ شو تیر په اودوشونه

د تسلي تسکین مې نشته

خدایه! په چغو چغو چاته وژاړمه

په قرآن کریم کښې د ژړا د فضیلت ذکر دی. ژړا د پېغمبرانو علیهم السلام سنت دی. او د اولیاء الله عادت دی. ژړا توبه ده ندامت دی. ژړا د یو لفظ وئیلو نه بغیر د باطن او د زړه د درد بهرپور اظهار دی. ژړا داسې ژبه ده چې په دنیا کښې په هر ځای

کښې هرڅوك پرې پوهېږي. ژړا د شيرخوار ماشوم او ښځو پخه وسله ده. رحمان بابا د ژړا دَ خوبونه خبر دی بلکه خپله ټوله ګټه د ژړا د سبب ګڼي او وايي:

تعجـب زمـا د ډېـرو اوښـکو مـه کـا
مـا مونـدلی پـه دا بحـر کښـې ګـوهر دی
د وصـال مارغـه د اوښـکو دانـو راکـړو
لکـه لعـل و در پـه غـاړه د خوبـان يـم
همېشـه د خپلـو اوښـکو لـه سېلاب
سـرګـردان يـم تـر فلکـه و تـر آسيا زه
کـه قيـاس زمـا د ډېـرو اوښـکو وکـړی
هسـې ګـرځم لکـه خس پـاس پـه دريـا زه

ټپې کښې هم وايي چې ژاړه- دې کښې دِ فائده ده.

زړګيـه ډيـر ور پسـې ژاړه
ښائسته ياران دي بيا به تورې خاورې شينه

قلم به مات ګوتې به پرې کړم
کاغـذ ته تـا کـه جانـان ونـه ژړاونـه

زمـا د دواړو سـترګو تـوره
پـه زوره زوره ژړا تـا پسـې کومـه

لونـده د وچـو سـره سـوزي
زمـا ژړا زمکـه آسـمان پـه ژړا کـړينـه

پـه ژړا مـه راپسـې ژاړه
مـا پـه دعـا کښـې يـادوه مسـافر شـومه

خـدائ ژړولـے يمـه ژاړم
پريـږده مخلوقـه چې ځـان مـړ پـه ژړا کـړمـه

د مـازيګر ګـودره وران شـي
پـه خنـدا درشـم پـه ژړا درنـه راځمـه

د مـازيګر منګيـه مـات شـي
چـې شـامدام دِ پـه سـرو اوښـکو ډکومـه

زړه مې طوطي شي هوا وخوري
د يـار پـه خوشـو پنجـروکينـې وژاړينـه

ښه ملا تړلے يار مې ورك شو
چـې مـلا تړلـې ووينـم ژړا راځينـه

سـبا بـه کـانړي بـوټي ژاړي
چـې يـو اشـنا لـه بلـه غـواړي رخصـتونه

قلم د زړه په خون لګیا دی   د یار ناسازۍ پرې لیکم ژړا راځینه
قلم به مات ګوتې به پرې کړم   کاغذه تا که جانان ونه ژړاونه
کاغذه داسې وخت کښې ورشه   چې د ماښام ډوډۍ ته ناست په ژړا شینه
کاغذه ورشه ورته ژاړه   اشنا به تل مسافر نه وي رابه راشینه
یارانو راشئ سره ژاړو   پوره به نه شي د نابودې ارمانونه
د بېلتانه په جزیرو کښې   ناست په ایرو کښې ژړا تاپسې کومه
د مخ هډوکی مې تك تور شو   اوښکې د سترګو پرې راځي غوښې ترې وړینه
مسافري مې زړه نرې کړو   چې تش وطن رایادوم ژړا راځینه
د تسلۍ تسکین مې نشته   خدایه! په چغو چغو چاته وژاړمه

نن په شپېو شپېو وریږي
ګل مې یادیږي چې به کوم وطن کښې وینه

د یادونو خپله دنیا ده. کله سړي ته زاړه تلخ یادونه یادیږي. چې د هغې په یاد ورته تکلیف رسیږي، غمګین کیږي. نو وایي:

یاد ماضی عذاب ہے یا رب
چھین لے مجھ سے حافظہ میرا

اوکله ورته ښائسته خواږه یادونه رایادیږي، چې زړه ته په آسودګي او راحت رسیږي، نو دی وایي:

دِل ڈھونڈ تا ہے پھر وہی فرصت کے رات دن
بیھٹا ہوا تصور جانان کئے ہوئے

خو یادونه راځي او ځي مستقل چاسره پاتې نه وي. او په دې کښې دَ الله تعالیٰ بې شماره حکمتونه دي. ګني ژوند به مو په عذاب وي. د پاګل ستن به یوځای اودریږي یو یاد یا خیال یې په ذهن کښې کیني. نو دی پاګل شي. چاته جانان یادیږي چاته تیر شوي ساعتونه او چاته ځایونه.

که هیرووم دې نه هیرېږي / په زړه ورېږي ستا شپې شپې یادونه
که لاړم بیرته به رانشم / سپور سوال جواب به دې دکن کښې یادومه
دکندوالي سپینې کوټې شه / زما یادیږي دکږدو یخ شمالونه

چې کله کله راپه یاد شې / سر په بازو کړم او ښکې ښکته تویومه
چې نیمه شپه شي راپه یاد شې / زړه په فریاد شي بیا مې خوب ته نه پرېږدینه
خط رالېږه هیره مې نه کړې / څوك مې نور نشته عمر تاته تیرومه
خط مې لیکه ته راته یاد شوې / زړه مې راډك شو خط مې وران په اوښکو شونه
ربابه مات شې دړې وړې / را یادوې اشنا په لرې هیوادونه
زما د زړه په تخته لیکه / هیر به مې نه شي که مې خاورې شي هډونه
زه به دې څه څه هیرومه / په هریو شي دي ستا د لاسو نښانونه
ستا دِ قسم وي راته وایه / ستا هم یادیږم که دِ زه ډیر یادومه
عمر مې ټول په غم کښې تېر شو / یار مې هیر نه شو ارماني له دنیا ځمه
ته بې وفا شوې زه دِ هیر کړم / زه بې وفا نه یم چې تا به هیرومه
جارشم د هغه یاره جار شم / چې ځان یې هیروي ما هر وخت یادوینه
جانان دِ بد کړي زه به ښه کړم / بد به یې هیر شي زما ښه به یادونه
جانان د لارې نه هیرېږي / زه به د عمر جانان څنګه هیرومه
هره ګړۍ راته یادېږي / د خدائ دِ هیره شم چې تا به هیرومه
د استا به یاد یا به دِ هیر یم / زه چې قدم په قدم ږدم تا یادومه
سر مې د هغه یاره زار شه / چې ځان یې هیر دی ما هروخت یادوینه
زه ډیرو هیر کړم زما یاد دي / په زړه دې ښاد وي زه به یې یاد زړه کښې ساتمه
نن په شپو شپو ورېږي / ګل مې یادیږي چې په کوم وطن به وینه
زه به هغه ساعت هیر نه کړم / چې ستا ځواني وه ما کول درته سوالونه

❖❖❖

باب: ۲

د مرګ سلګۍ د لحد تیارې

مرګیه څو شپې صبر وکړه
یو مې ګواني ده بل مې ډېر دي ارمانونه

مرګ د انسان د دنیاوي ژوند آخر دی. مرګ په هر چا باندې خپل ځان په زور منلی دی. که خدای او رسولان مني اوکه نه یې مني. د مرګ وخت مقرر دی نه ورستوکیږي او نه مخکښې کیږي. هر ذي روح له مرګ شته. هېڅوك پاتې نه دي. شاهان دي که ولیان دي، نیکان دي که بدان دي. یو څیز هم د مرګ له تاخته بچ نه دی. مرګ هره شمله ښکته کوي هر تاج غورزوي او هر تخت ړنګوي. مرګ یو داسې حقیقت دی چې ډېر لوئ فلاسفران، دانشوران، عالمان او پهلوانان ترې انکار نه شي کولی. په تمامه دنیا د مرګ دبدبه، هیبت او وحشت پروت دی. باخبره ورسره د ملاقات په تدبیرونو او کوششونوکښې مصروف وي او غافلان بې خبره ناپوهه په اوده ګیر کړي.

د رحمان بابا غوندې کسان پخپله هم وینښ ناست دي او د مرګ تاخت باخت ته نظر کوي او ما او تاته هم نعرې وهي چې "جاګتے رهو" تابوت درته زین کړی آس ولاړ دی. لارګرانه او نا آشنا ده. مرګي ډېر پائمال کړه. اجل یې د ژوند مزي غوڅ کړو. خلے یې د مرګ په طماچو ماتې شوې. ستا وار دی اوس.

خپـــل تـــابوت درتـــه ولاړ زیـــن کـــړی آس دی
تـــه پـــه زیرمـــه د بـــل اس و د زیـــن مـــه شـــه
ددې لارې تلـــه څـــه هســـې آســـان نـــه دي
مشـــکلات دي پـــه هـــردم پـــه هرقـــدم
چـــې د مـــرګ و تاخـــت و باخـــت و تـــه نظـــرکـــړم
صـــورت ویـــنم د میـــړې پـــه څیـــر پامـــال
د قضـــا ســـپاهیانو هســـې لاس پـــه تاخـــت کـــړ
چـــې پائمـــال هـــزار خســـرو هـــزار شـــرین شـــو
پـــه ژونـــد ومـــره چـــې د مـــرګ لـــه غمـــه خـــلاص شـــې

آسان کار دِ کړو په ځان باندې ګران ولې
ځای لرې که ځان ژوندی په زمکه ښخ کړم
چې مې پس له مرګه ځای دی یو مغاك
عاقبت به د اجل په مقراض غوڅ شي
پیوسته به مدام نه وي تار د عمر
چې د مرګ په طماچه دې شي خُله ماته
ترو په ماته خُله به څه کوې ثنا
پس له مرګ چې بیا مري له لوږې تندې
ولې نن ساعت توبه د محشر نه کړې
چې د خوب او د خوراك مزه شي ورکه
نور له مرګ برابر شي هغه ژواك
په دنیا کښې که هرڅو وبله پیوند وي
پس له مرګ به یې درست صورت بند بند وي

حافظ دَ الپوري ځان له لګیا دی چغې وي چې خبردار شه. د اجل نهنګ دِ دَ صورت جهاز ماتوي. د مرګ وخت چاته معلوم نه دی. د سلېمان علیه السلام غوندې د انس و جن بادشاه ترې خلاص نه شو او نه د فریدون غوندې شاهنشاه- ډېر ښائسته او ښکلي ځوانان او جونه مرګ پائمال کړه. ډېر کارېه اورمیږونه او نري بریتونه د مرګ د لاس خزان ځپلي او مړاوي ګلونه شو. خوشحالېږه مه په دغه جرنده به هریو وریږي.

مرګ خزان دی رژوي سمسور ګلونه
د بېل بېلتون په زړه کښې خار زما دی
جهان دریاب صورت جهاز اجل نهنګ دی ګوره
نهنګ به یې مات که کوم زمان د بېلتانه له تاخته
نه یې چا اواز اوریده نه یې پلو لیده شو
دا رنګ مستورې مرګ بې ستره کړې لغړې
هغه وخت چې الله روح د چا اوباسي

هغه وخت چاته معلوم ښودلی نه دی
تیره لور د اجل شته دی غره مه شه
کوم زمان به پروت رودلے لکه وړے
شین زمری که چاته په زور زیر پائے د مور شي
مرگ ته یې زور ورك خوراك د کرمو د وینو دے
ښي لوړی ماڼری مرگی خرابې کړې حافظه
څو به ستا جونگړی وي د دنیا په مخ آباده
جدا جدا بندی تنها د مرگ ظالم د لاسه
په حال زبون د فریدون غوندې شاهان پراته دي
څوك به د مرگ له شومه خلاص شي په ساری جهان کښې
چې سلیمان د ثقلینو سالار پاتې نه شو

❖❖❖

حافظه وابه وری په غوږ زیری د غم د ښادی
چې د بادشاه استاذی ستا دَ روح په وړه راشي
چې په مرگ د دشمن زړه ښه کا نامرد دی
په دغه جرنده هرڅوك سره وریږي
خوشبوئي گلونه وو بې خاره کړه زر بې غشه
مرگی نابود کړه په خوبۍ زیور پسللی یاران
لکه هلال یې د اختر هرڅوك دیدن ته لیوال
وینو تاراج کړه د مرگي خزان ز پلی یاران
چې به د یار په تازگی تازه د گل په څیر وو
هغه مرگ مراوی کړه ما نور نه دي موندلي یاران

په مرگ به مرم پاتې به نه شم — گور ته به یوسم ستا د هجر پرهرونه
چې جانان مري ما یې کفن کړی — چې یو لحد کښې سره دواړه خاورې شونه

خدای دې زما په غېږکښې مړه کا
چې ته سلګۍ کړې زه به اوښکې تویومه

خدای مې دِ مرګ تر تا کړي وړاندې
چې سپینه خُله مې میراتي نه شي مئینه

د مرګ استاذي مې را رسي
جانانه راشه ارماني له دنیا ځمه

زما به مرګ ستا به واده وي
ستا به واده زما به کټ لحد ته ځینه

غمازه غبرګ ځامن دِ مړه شه
چې یو ښخېږي بل د مرګ سلګۍ وهینه

که دنیا مري اکبر دِ نه مري
یو خو ښه ځوان دی بل یې کړي خدمتونه

لا مې اجل نشته چې ومرم
د ځنکدن نه سختي زیاته تیرومه

مرګوټي داسې ځوانان یوړل
د ډېره خیاله به یې کاږه وړل اورمیږونه

مرګي خو شته خلاصے ترې نشته
زما سلګۍ د یاره ستا په غېږکښې وینه

مرګي کوڅه په کوڅه ګرځي
د ټوکیدلو بریتو جړې لټوینه

په ځنکدن مې ځان حضورکه
چې زه سلګۍ کړم سترګې تاته واړمه

ځنکدن د ژوند آخري وخت دی. کله چې انسان د دنیا نه ځي دا سخت وخت دی. حضور اکرم ﷺ فرمایي: چې دې وخت کښې په تندی باندې خوله په سترګوکښې اوښکې او وچې شونډې د نیکۍ علامت دی. حضرت معصب بن سعدؓ وایي چې د پلار سر زما په غېږکښې وو او د هغه ځنکدن وو. زما سترګوکښې اوښکې راغلې. هغه وې ولې ژاړې؟ ما وې ستا د مرتبې او دې تکلیفونو په وجه. وې مه ژاړه. خدای پاك به ماله کله سزا رانه کړي. حضرت سلیم بن بشرؓ وایي چې حضرت ابوهریرهؓ د ځنکدن په وخت کښې وژړل چې سفر اوږد دی او توشه کمه ده.

سفیان ثوريؒ د ځنکدن په وخت کښې وژړل. وې که دا راته معلومه شي چې خاتمه مې په توحید ده نو هېڅ پرواه مې نشته که ګناهونه هرڅومره دي. حضرت احمد بن حضرویهؒ نه د ځنکدن په وخت کښې چا تپوس وکړو. سترګوکښې یې اوښکې راغلې. وې د پنځه کم سلو کالونه دروازه وهم- اوس پرانستو والا ده چې د ښو به یې که د بدو- د خبرو

وخت راسره نشته. حضرت ابراهيم نخعي په ځنکدن کښې ژړل. وې ځکه ژاړمه چې د خداى استاذي د جنت خبر راوړي که د دوزخ.

پښتانه د ځنکدن د سختو او بې بسې نه خبر دي. زړونه يې د ارمانونو ډك دي. ځکه خو وايي:

سورة ياسين را باندې وايه	په ما خولې د ځنکدن راغلي دينه
په ځنکدن کښې مې لږ خکل که	چې تور لحد ته ارماني نه ځم مينه

په ځنکدن مې را حاضر شه	بيا تر قيامت پورې نشته ديدنونه
په ځنکدن مې را حاضر شه	ورستى ديدن دى زه يې تا سره کومه
په ځنکدن مې ځان حضور کړ	چې زه سلګى کړم سترګې تاته واړومه
په ځنکدن مې سر ته کينه	چې آساني مې په ورستو سلګو کښې شينه
په ځنکدن د حضور ناست يم	چې ته سلګى کړې ځه دې اوښکې وچومه
په ځنکدن کښې حضور نه شوې	د جنازې لاندې مې مه ځه مخ تورنه
زما له غمه ځنکدن دى	مخ را ښکاره کړه چې پخلا قبر له ځمه
قسم په خداى باور پرې وکړه	چې ځنکدن دى په ديدن پسې دِ مرمه

کفن مې ښه وګنډه مورې
د ځوانۍ ټول عمر به دې کښې تيرومه

وايي چې مرګ يو پل دى. چې يو دوست د بل سره ملاووي. يعنې د بنده د خدائ سره د ملاويدو سبب دى. چې هغه د دربارته د ملاقات دپاره ځي نو د ملاقات شرايط به پوره کړي. اول غسل دى چې پاك پاکيزه شي بيا د دربار دپاره يونيفارم دى چې هغې ته کفن وايي. د دنيا آلائشونه به دلته پريږدي. امام غزاليؒ چې وفات کيده نو غسل يې وکړو. کفن يې واغستو او بخاري شريف يې په سينه باندې لوستو چې ساه يې ورکړه، ځکه وئيلى شي چې "مات الغزالى و علىٰ صدره البخاري" زما خپل چا چې

خپل کفن ځان له پخپله په ژوند کښې ګنډلو. وې پته نشته چې بیا به یې راله څوك ځنګه ګندي. د همت خبره ده، مونږ خو پردي کفن هم نه شوکتی د مرګ نه پس دا اوله مرحله ده.

په آشنا سپین کفن غوړېږي — په ما وریږي د سکروتو بارانونه
دستار زما په سر کفن دی — ځکه غیرت باندې زه هر میدان ګټمه
ستا په بشر چې زه شیدا شوم — اوس به کفن تر ملا ترلی ګرځومه
ستاسو د چم نه نهٔ صبرېږم — د کفانه تو ته په جېب کښې ګرځومه
کفن به تول په وینو سورکړم — که مې د زړه د سوري پورته کړل لاسونه
کفن مې ښه اوګنده موري — د ځواني تول عمر به دې کښې تیرومه
که دیدن کړې تلوار راوکړه — په سپین کفن مې پټوي شنکي خالونه
که مې په قبر جانان راشي — کفن په غاړه به یې مخې له ورځمه
آشنا چې مري ما یې کفن کړئ — چې تور لحد کښې ترې چاپیره خاورې شمه

په جنازه مې تادي وکړئ
زه به ناآشنا وطن ته ځم ناوخته شونه

د یو مسلمان په بل باندې داحق دی چې د هغه جنازه وکړي. جنازه فرض کفایه ده. حاضر پوره دی د لرې ځایونو خامخوا راتګ او شاملیدل لازم نه دي. د اسلام اصول دي چې پر جنازه تادي کوه. چې کوم ځای مړ شي هم هلته ښخول پکار دي. خپل وطن ته وړل لازمي نه دي. د مرګ وخت او ځای چاته پته نشته سېوا د خدائ نه. د نېك مسلمان پته د هغه د جنازې د جمات نه لګي جنازې سره ذکر الله فائده رسوي.

ما د جانان تختې له بوځی — د زړه په وینو ورله غسل ورکوومه
په جنازه مې تادي وکړئ — زه به ناشنا وطن ته ځم ناوخته شونه
په جنازه مې حاضر نه شوې — اوس مې د سقاط ګړی مه نیسه لاسونه
خدائ دې په لوړو غروکښې مړکړه — چې جنازه دې په سروګلو وتړمه

د پاســـه دوه جنـــازې راغلـــې زمـــا د يـــار جنـــازه پېغلـــې جونـــه ورپسې
د غـــر پـــه ســـر دِ لنـــډي وخـــوره چـــې جنـــازه دې پـــه بـــروزو وتـــرمــــه

په خاورو ډک شي گورستانه
تاته راځي کږې پګړۍ تور اوربلونه

د مړو اديره په ډيرو نومونو يادېږي. لکه قبرستان، گورستان، شهر خموشان آبادئ يې ساعت په ساعت زياتېږي ترقيامت مستقل مسکن دی انتقال ترې بيا نشته. هر ځلی يو يادګار دی.

د ايـــرو ځلـــی مـــې وران نـــه کـــه ورو تيرشـــه
بـــاده زه هـــم د اشـــنا د مـــخ يادګـــارِ يـــم

لکـــه چـــې تـــه يـــې داســـې زه ووم
داســـې بـــه تـــه شـــې لکـــه زه چـــې ځنګـــه شـــومه

حافظ الپوري وايي:

نـــه د قضـــا دفـــع پـــه دارو پـــه صـــدقو شـــي
نـــه دَ گورســـتان ســـتون يـــو مـــړی پـــه ســـتانو دی

حضرت عثمانؓ به چرته په قبر راغی نو دومره به يې وژړل چې ډيره به يې لونده شوه. حضرت علي ابن ابي طالبؓ په مقبره راغی. وې اې د قبروالو! اې بلاوالو! اې وحشت والو! ستاسو مالونه تقسيم شو بچي مو يتيمان شو، ښځو مو خاوندان وکړل او خاوندانو مو ښځې وکړې. وايي ستاسو څه خبر دی او بيا يې اووې: که دوی ته اجازت وي نو وئيلی به يې وي، چې ښه توښه تقویٰ ده او وې ژړل. عمر بن عبدالعزيز مقبرې ته لاړ. وی دامې پلار دا مې د نيکه او دا د بنی اميه قبرونه دي. خواره واره شو. مصيبتونوکښې ګير شو د چينجو خوراك شو او په ژړا شو. چې داسې نيکان خلق ژاړي، اې بدعمله ته ولې نه ژاړې زړه دِ کاڼې دی.

پـه ګورستان کښې بـه نـارې کـړم
زه ارمـاني د سـپينې خُلـې راغلـی يمـه

پـه ګورستـان مـې سـلام وايــه
چې خاورې نـه کـړې دجانـان نـرې بريتونـه

پــه اديــره د مــړو راغلــم
وژلـی خـدای وو غـرېـبې ماتـه نـه کاونـه

پــه اديــره مــې سـلام وايــه
تورګـل رنګـين جانـان دِ نـه خـاورې کوينـه

چې ګورستان تـه مې ورکوزکړې
شونډې مې ښکلکا چې بيا نـه شي ديدنونه

دَ شــــهيدانو مقبــــرې دي
جونـو راځـي چـې ورتـه وکـړو سـلامونه

د هندوســـتان تلـــی بـــه راشـــي
دګورســـتان تلـــی نـــزدې دی نـــه راځينـــه

رخصـت چـې اخلـې غـاړه راکـړه
تـر قبرسـتان پـورې سـود بـه پـرې کومـه

پـــه اديـــره راشـــه زرګـــره
جنکـــی ژاړي پيزوانونــه خـاورې شـونه

پـــه اديـــره کښـــې يـــو تنـــور دی
خشاك يې نشته شاه زلمي پکښې سيزينه

پـــه خـــاورو ډك شـــي ګورســـتانه
تاتـه درځـي کـړې پکـړی تـور اوربلونـه

په تور لحد کښې بنديوان شوم
اوس خو دعا راپسې کړه چې خوشحال يمه

لحد په قبر کښې دننه هغه تنګ ځای دی کوم کښې چې مړی پروت وي. د قبر سوال جواب او نـور د بـرزخ مراحـل پـرې دلتـه تيرېږي. د قيامـت د ورځـې پـورې دا د مړي مسکن دی. قبر يا لحد د دوزخ دکندونه يوه کنده ده او يا د جنت د باغونونه يو باغيچه ده. پـه کـافر او ګناهګـار خو بـه دا وخت ډېر اوږد وي خو پـه مؤمن مسلمان بـه لکـه د مـازيګر قـدر وخت وي. د مور ګيـډه هم يو لحد وو. او مونږ هريو پکښې وخت تير کړی. خو هېڅ پرې پوهه شوي نه يو. خدای دکړي چې دا هم د هغسې يو حالت وي. بهر حال لحد د ژوند دپاره د عبرت او نصحيت اغستو يو داسې ځای دی چې مونږ تـه پـه خپله ښکاره شي چې دا مړی پـه دې لحد کښې بنديوان شو. دی پـه هېڅ شان ددې بندنه خلاصيدی نـه شي. دا هغـه کور دی چې دروازه يې نشته، تولائي بالبنت يې د خاورې دی. د پاسه خاورې د لاندې خاورې. دی به هم خاورې شي او د خاورو سره به يو ځای شي، ځکه خو رحمان بابا وايي:

هر چې ډکه یې د ګور په خاورو خُله شي
په هغه به وی حرامه نوره څکه
چې په زړه مې تور لحد شي د خپل خاك
بې مزه شي هم خوب او هم خوراك

حافظ الپوري د ګور بندیوان ته ډېر ژړلي دي چې سرتور سر ښکې ابله ښه معتبر ځوانان لحد ته کوز شول. ښائسته خُلې یې د خاورو ډکې شوي د بند خلاصیدی نه شي په دنیا کښې یې څوك نوم هم په ژبه نه اخلي.

آشنا مې کوزکه تور لحد ته زه خیرازه ګرځم
د مینې لافې مې دروغ شولې رښتیا به نه شي
له بله بنده بندیوان په سبب خلاص شي آخر
د ګور له سجنه د مسجون خلاصیده ولی نه شي
مرګ خو یوځل په سړي تیر شي بېلتون مرګ دی مدام
د دوه مئینو ګور ته هم کوزیده ولی نه شي
تازیان اسونه یې زغلول زرې پګړی تړلې
وګورته کوز شو سر سرتور ښکې ابله پلی یاران
صورت که ډیر عزیز ساتی مرګ به یې خوار که آخر
چې تر قیامت خاك اسیر بندی دَ ګور پاتې شي
کور د پُر په مال و زرکړو پرې مور نه شوې
د ګور خاورې به مړی که ستا چشمانی
ډېر نامداران تلي څوك یې نوم په ژبه ناخلي
ملك ورته فراخ وه اوس په تنګ شو لحدونه
په نیت سم په اوے محکم حلیم نیك خویه
ګور ته کوز شو ګذران ګران دی د کړلیو

زه پــــه دا مجــــازي دار ځلــــه نــــازېږم
زيــــر خــــاك تاريــــك بــــې دره دار زمــــا دی
د نيــك عمــل ارمــان بــه هالــه نيــك بنــده لــه ورشــي
چــې د لحــد پــه بيچــاونړو بانــدې حيــران پــاتې شــي

په ټپوکښې هم يا خو د خپل لحد د تيارو، سختو او ارمانونو ژړا کوي او يا د يار لحد ته دکوزيدو بنديدو او جدا کيدو ژړا کړې ده. د افسوس ارمانونو، ګيلو او ښيرو ډک زړونه يې ځان سره لحد ته کوز کړي دي.

لحد بـه ټـول پـه وينـو سـورکـړم / زه لــه دنيانــه ارمــاني راغلــی يمــه
لحـد لــه تــورو تيــارو تــوردی / زمــا ناکــام دی ورلــه قبــر جوړومــه
لحـد مــې پـس لــه مرګــه ګـوري / د زړه لمبــو بــه مــې کفــن ســيزلی وينــه
پـه تـور لحدکښـې بنديوان شوم / اوس خو دعا راپسې کړه چې خوشحال يمه
پـه تـور لحدکښې بـه څوك نـه وي / زه مشــغولا بــه د يــار غــم ســره کومــه
دا تــه چــې ځــې مــا د رب واخلـي / چې په يو ځای لحدکښې دواړه خاورې شونه
د تــور لحــد مخــې تــه راشــه / چــې تــور لحــد راباندې بــاغ ګلونــه شــينه
د تــور لحــد غــاړې لــه راشــه / د يــرې مــه مــره ســوال جــواب درتــه کومــه
ذرې ذرې ترينــــه اوس راغلــــم / پـه سپينو ليچو مې يار تور لحد ته کړونه
زمــا دګــور مــړی يــادېږي / مــا ګــورګتــی کــړی چــې قبرونــه لټومــه
ســتا د جفــا داغ مــې پــه زړه دی / پــه تـور لحـدکښـې بـه ښيرې درتــه کومــه
کــټ مــې دګــور پــه غــاړه کېــږدی / مبــارکي د نــوي کــور راکــړئ عالمــه
کــټ يــې دګــور پــه غــاړه کېــږدی / لږ مې ور پرېږدی چې يې ښکل کړم بيا د ځينه
کــه تــور لحــد تــه نــری لار وي / مــا بــه آشــنا لــه پيشــکشــي ورلــي ګلونــه
اشــنا پــه تــور لحــد بنــدي شــو / پــه مــا روښــانه جهــان تــوره تيــاره شــونه
پــــرون د دور د خــــانی وو / نــن دِ پــه دوه کســه لحــد تــه کوزونــه
جانانــه راشــه کــه مــې ګــورې / لحد ته يې کوز کړم اوس تختې راپسې ږدينه

چې مې د قبر حواله راشي
دیدن به نه وي راته پورته کړه لاسونه

حافظ الپوري په ښه زلمو او خوږو دوستانو پسې ارمان کوي او ژاړي چې څه د شان او دبدبې خاوندان وو چې په خوږو د حکمت په خبرو به یې خلق راغوند وو. هغه لحدونو ته کوز شو په بیابانونو یې د خاورو څلي یعنې قبرونه جوړ شول. زړه مې غواړي چې دا پاتې بې مهره ټول زلمي د هغوی قبرونو ته لوګي کړم.

پائمالـه وه یـې غـر او سـمه پـه دبـدب پـه شـوکت
بـې دمـه پریواتـه پـه ځای د خـاورو څلـې یـاران
چې جوړیـده پـه ښـه ټـولـې حلقـې د خلقـو مـدام
څلئ یې جوړ شـو پـه بیابـان د بېلتانـه لـه تاختـه
کـه بـې مهـره زلمـي ډېـر دي پـه جهـان کښـې
ټـول مـې زارکـړي د مهـرو زلمـو تـر څلیـو

حضورکریم ﷺ فرمایي: چې قبر د آخرت وړمبی منزل دی. که په دې کښې آساني وشوه نو ددې نه پس به هم آساني ئ اوکه په دې کښې سختي پیښه شوه نو پاتې منزلونه به هم سخت وي. قبرکښې نیك اعمال لکه مونځ، روژه، حج، جهاد، زکوٰة، صدقات د مړي نه چاپېره شي او د عذاب د فرشتو نه یې محفوظ ساتي. نو د عذاب فرشتې ورته وایي مبارك دِ شه خوشحاله اوسه. او د رحمت فرشتې ورته د جنت فرش خورکړي. قبر ورته وسیع کړي چې څو پورې یې نظر لګي او د رڼا دپاره ورته د جنت قندیل زوړند کړي. د ټولو نه اول دوه فرشتې تپوسونه وکړي. مسلمان بنده جواب ورکړي چې ګواهي ورکوم خدای یو دی محمد رسول الله ﷺ د خدای رسول او بنده دی. دی خلاص شو قبر یې وسیع او روښانه شي. کافر منافق نه چې تپوس وکړي نو وایي: "لاأدری" ماته پته نشته. نو لحد پرې دومره تنګ شي پښتۍ په یو بل کښې ننوځي او عذاب پرې شروع شي، چې مونږ یې داوریدو طاقت هم نه لرو. خدای د قبر د عذاب نه پناه راکړي. (اٰمین)

قبر ته راشم کش ونه کړې
ستا نه محروم را روان شم اوژاړمه

قبر سوړې که حال مې ګوره
په خمارو سترګو مې پر یوتل ګردونه

قبر مې جوړ په لویو غروکړې
چې د وطن شمال مې شناختې خوزوینه

قدر زما به درمعلوم شي
یاره کله چې زه توري خاورې شمه

په ژړا ژاړم سود مې نه شي
د یار په قبر به جونګړه جوړومه

چې مې د قبر خواله راشې
دیدن به نه وي راته پورته کړه لاسونه

خوشحالي مه کوه صورته
ستاپه شان ډیر له تورو خاورو لاندې شونه

دَ اسرې ځای مې پاتې نه شو
دګیلو ډك زړګے به قبر له وروړمه

د بدن غوښې مې ورستې شوې
راشه رشتیا دګور په غاړه اودریدمه

د سترګو تور مې ژړا سپین کړل
سپین به دیار په قبر ږدم چې خاورې شینه

د عاشقانو دا نصیب دی
چې له ارمانه زړګے ډك قبر له ځینه

زما به هله ارمان درشي
چې مې په قبر زوزان اوسپړې ګلونه

زما دقبر خواته راشه
چې دلحد تیارې رنړا راباندې شینه

❖❖❖

زما لیدل به درته یاد وي
ولې په ما به وي د خاورو انبارونه

سر دې د قبرنه راهسك کړه
زه دې د شناختې خواکښې غلې ناسته یمه

سورې مې ډیرې ورته وکړې
د خاورو زور وو وایې نه ورېدل غږونه

ښه په دنیا کښې معلومېږي
مرګ د هرچا قبر په تیږو پټوینه

قبر فراخ جانان ته جوړکړې
زه د اشنا سره جوړه قبر ته ځمه

که اوس زما پوښتنه نه کړې
بیا مې د قبر خواته مه کوه ویرونه

که اوس زما پوښتنه نه کړې
بیامې دګور په خوا رانه شې مختورنه

که زما قبر ته ته راغلې
په ګور دننه به مې زړه خوشحاله شینه

لالې په تورو خاورو پټ شو ديوې د اوښکو يې په قبر بلوومه
لالې جدا له نورو ښخ کړی چې هر سبا سپينه سينه پرې غوړومه
يا به مې خای د قبرنه وي يا به جانان سره جوړه لحد کښې يمه
ته چې زما په قبر راشې دعا کوه ستا د دعا ليوالـه يمه

قبر پرې ناست خازې پرې ماتې
زما زړګی يې د راتلو طمع کوينه

مړی او لحد په قبرکښې دننه پټ وی. بهر د خاورو څلی او خازې ښکاريږي. ځکه انسان دې ته اول متوجه کيږي، څنګه چې انسان حجر اسود ښکلوي چې د خدائ پاك ښئ لاس دی او د بزرګانو لاسونه او تندي ښکلوي او د خپلې مينې اظهارکوي. دهغسې قبر او خازې ښکلول د مينې د اظهار يو علامت دی، خو بيا د قبر خاوند ګيله کوي او وايي:

چې ژوندی ووم نو وشتلو مو په کانړو
اوس مې څله ښکلوي خازې د قبر

او افګار ملا کنډ خو غټه ګيله کړې او وايي:

په ژوند د ډير يم ژړولی نور مې څله چيړې
مه راغوړيږه مې د قبر د خازو په څوکو

او څوك د لحد نه نارې وهي ګيله کوي چې:

په ځنکدن چې مې رانه غلې
اوس مې د قبر خازې څله ښکلوينه

او چاته وايي:

په تالا باد د دنيا لګي
زما په شناختوکرکوړي نارې وهينه

او د چا نه خپل وطن او غرونه نه هیرېږي او د وطن د بادونو ارمان کوي اووايي:

قبـر مـې جـوړ پـه لويـو غـروکـړی
چـې د وطـن شـمال يـې شـناختې خوزوينـه

په يـار مـې ترخـې زرغـونې شـوې
زه يـې د ژونـد هيلـه لـرم چـې رابـه شـينه

اشـنا بـه سـر راپورتـه نـه کـړې
کـه پـه خـازه پـوري ولاړه وچـه شـمه

پـرون لا دا وخـت ژونـدے وے
نـن دې خازو بانـدې مارغـان ناسـته کوينـه

پـه تـا لا بـاد د دنيـا لګـي
زمـا پـه شـناختوکرکـوړي نـارې وهينـه

د پسرلي پـه مياشـت د مـرګ شـه
شـناخته دګـل شـه چـې عـالم يـې بويوينـه

شـناخته مـې جـوړه کـړی د زرو
چـې د مئيـن پـه مينـه زه شـهيده شـومه

❖❖❖

باب : ۳

مامونۍ مړه شوه

د شیرعالم پښتو پوره شوه
مامونۍ سرو وینو کښې لتې ټکوینه

د مامونۍ نوم مې په ورمبی ځل د سیدرسول رسا په کتاب "د بیدیا ګلونه" کښې د نوې لیلیٰ د عنوان لاندې ولیدو.

نـوے لـیلا راغللـه، نـوے مجنـون پاڅیـدو
نـوے زمانـه شـوله، نـوي ادبونـه دی
شین ګیـدے پرتـوګ چرتـه؟ مـړه ده مـامونۍ پخـوا
اوس نـوے لیلٰـی سـتایه، نـوی مجلسـونه دي

چونکه رسا صاحب د نوې لیلیٰ کردار او اداګانې په نوي مزاحیه طرز باندې پیش کړي، چې هر پخوانی څیز ورته بد ښکاري او مامومۍ یې د یو پخوانی یادګار په شان یو خوږ زوړ دروند کردار ښودلے او ورپسې یې ارمان کړی دی، خو ورستو راته پته اولګیده چې دا خو د پښتنو د رواج یو ډېره لویه دلخراش واقعه ده. چې د هغې ارمان او افسوس تر اوسه د پښتنو په زړونوکښې ژوندی دی او یاد یې اوس هم ډېر خلق ژړوي. که مامونۍ بې قصوره نه وي او مرګ یې بې ګناه مرګ نه وي نو دومره اثر به پکښې چرته وو.

شیرعالم د سید محمد ملا ځوی وو د ناوګۍ باجوړ په خوا کښې اوسیدو. د خپل کلي د یو جینۍ عجبې نوم سره یې واده وکړو. اولاد یې نه وو. د خپل تره خیر محمد لور مامونۍ سره یې واده اوکړو. چې د پلار یوه لور وه. د مامونۍ نه یې یوه لور خوبانه پیدا شوه.

عجبې د بنی په راتلو خفه وه چې د خوبانی په پیدائش پرې سم اوربل شو. دبنې آواز هسې هم ډېر سخت دی. د ټوپک ډز دی.

د بنې غږ راباندې اوشو
لکه ډوډۍ په تناره خمسوزه شومه

عجبې په خله يې هېڅ نه وي خو په زړه کښې يې د مامونۍ نه د خلاصيدو منصوبې جوړولې. د موقع په انتظار کښې وه. چې خپله منصوبه سرته اورسوي.

په زړه کښې يې شته دی وخت ته ګوری
د مامونۍ د حيا جرړې پريکوينه

د شيرعالم په کلي کښې وړوکی شان دکان وو. روزګار يې پرې روان وو او وخت په آرام تيريدو. شيرعالم د دکان سامان راوړو دپاره شبقدر سکهو ډيری ته لاړ. او عجبې او مامونۍ په کورکښې وې. پيدل تګ راتګ وو درې څلور ورځې به لګيدې. عجبې له هغه موقع په لاس ورغله شيرعالم نه وو. او مامونۍ د هغې نه کشره د عجبې د حکم نه لاندې وه. يوه شپه د ماسختن نه پس چا آواز اوکړو چې د دکان ور راته خلاص کړی زما څه سودا پکار ده. عجبې او پېژندو چې سيداجان هلك دی. زر يې چابي مامونۍ له ورکړه چې ورشه ور ورته خلاص که زه درپسې يم. او په زړه کښې يې اراده وکړه چې زما د منصوبې پورا کولو موقع داده.

مامونۍ نه وه خبرداره
عجبې ايښې دي د غم پړي دامونه

مامونۍ چې څنګه د دکان ور خلاص کړو. او سيداجان دکان ته راننوتلو او لا څه خبره يې نه وه کړې چې عجبی را اورسيده او د رارسيدو سره يې چغې سورې جوړې کړې چې مامونۍ مې په دې توره شپه کښې د سيداجان سره اونيوله او چم ګاونډ يې راخبر کړو. يوه هنګامه جوړه شوه د عجبې خبره خلقو ته رښتيا ښکاريده چې د بل کور سړی سيدا جان هم موجود دی. توره شپه هم ده او د دکان ور هم کهولاؤ دی. د مامونۍ خبرې ته چا هډو غوږ نه کېښودو. سيداجان د ويرې نه ښپې وويستلې او د موقعې ګواه بس يوه عجبې وه.

مامونۍ ځان په ژړا مړکه او ددې ناساپي تندر هېڅ په چل نه پوهيده بس دا وه او يوه ژړا وه. خوب يې ختم شو او د خفګانه يې زړه چودلو. چې کله شير عالم د شبقدر نه

واپس راغی، نو د ماموئې په ژړا او حالت باندې ډیر حیران وو، چې د ماموئې نه به یې تپوس وکړو چې څه چل دی نو د شرم او حیا نه به د هغې د خولې غږ نه ختو او د سترګو نه به ئې غټې غټې اوښکې روانې وې.

ماموئې سر په زنګون ایښی
د شرمه سترګې چاته نه پورته کوینه

آخر شیرعالم د عجبې نه تپوس وکړو، چې دا په ماموئې باندې څه چل دی چې هر وخت ژاړي او خفه وي. عجبې خو دا وخت د خدائ غوښتو په خپل بل کړي اور ورته د تیل اچولو موقع ملاؤ شوه. څان یې په ژړا کړو او د مکاری اوښکې یې په مخ راتوې کړې. او د شیرعالم همدردی حاصلولو او د ماموئې نه د بدظنه کولو بیان یې شروع کړو. سړیه! خبره د کولو نه ده خوکه مرګ ګران دی خو د مړي ناکام دی. او به یې وایم. ماموئې دګانړي مار لور خو ستا په شرم اور پوری کړی دی. په تمام کلي کښې بله خبره نشته بس د سیداجان او ماموئې د عشق چرچې دي. زمونږ عزت اوشرم و حیا خو یې په سیند ویوړل. چاته د سترګو ښودو قابل پاتې نه شو. ستا پټکی یې په خاوروکښې اولاړو او په شرمونو یې اوشرمولو. هغه بله شپه تیر ماسختن مې ستا په دکان کښې د سیداجان سره نیولې ده. تمامي کلی پرې خبر دی.
په شیرعالم سور اور بل شو او په سترګو یې تیاره شوه، خو هغه د ماموئې په چال چلن هیڅ کله بدګمانه نه وو او نه هغې ددې نه مخکښې چرته غلط قدم اخستی وو. شیرعالم د ماموئې نه ددې خبرې تپوس وکړو. او ورته یې وې:

زما د غر په شان نوم وو
ماموئې ستا په سر بنړه شو باد یې وړینه

د ماموئې په مخ د اوښکو سیلاب روان وو نور یې هیڅ ونه وئیلی شو صرف دا یې اووې:

ماموئې اووې شیرعالم
زه ګرمه نه یم په الله کړم څوګندونه

ماموئې سره ددې وینا نه بغیر دخپل برأت او پاکي بله ذریعه هم نه وه د موقع ګواه خو صرف یوه عجبی وه. او هغه د ټولې منصوبې ماسټرمائند وه اوکلی خو بس د عجبې

په خبره يقين کړى وو. مامونۍ به بل څه کول. مامونۍ ته خو دا ښه پته وه او يقين وو چې زه بې قصوره بې ګناه يم. او هغه بس يو خدائ ته پته وه، نو مامونۍ خپل ځان لکه د حضرت عائشهؓ ابى په شان خداى ته اوسپاره.

دهغسې يو بهتان تور او تهمت په حضرت عائشهؓ ابى باندې اولګيده کله چې رسول الله ﷺ په سنه 6 هجري کښې د غزوه بنى المصطلق نه واپس راتلو. دې ته قصه افك هم وايي. د بهتان لګولو مشر عبدالله بن ابي منافق وو. خو څه ساده مسلمانانو پرې هم يقين وکړو. او يو مياشت دا شرمناکه پروپيګنډه اوچليده چې د رسول الله ﷺ او د مسلمانانو د سخت تکليف او اذيت باعث وو.

رسول الله ﷺ آخر حضرت عائشېؓ ته اووې: چې که ته بري يې نو الله تعالىٰ به دى ضرور بَرى کړى اوکه څه غلطي درنه شوى وى نو توبه اوباسه او استغفار اوکه خدائ پاك توبه قبلونکى دى. حضرت عائشېؓ اول خپل پلار ته او بيا خپل مور بي بي ته اووې چې ددې خبرې تاسو جواب ورکړى. خو هغوى معذرت وکړو چې مونږ په دې کښې څه وئيلى شو، نو پخپله ګويانه شوه او وې فرمايل: "بخدا ماته معلومه شوې ده چې تا دا خبره واوريده او اوريدى دى تردې چې ستا په زړه کښې کيناستى او تا يې يو قسم تصديق وکړو. که زه وايم چې ددې نه برى يم. څنګه چې خداى ته پته ده چې په رښتيا برى يم نو ته به زما تصديق نه کوې اوکه زه د داسې يوکار اعتراف وکم چې د هغې نه زما بري کيدل الله ته پته ده، نو ته به يې اومنې. والله چې اوس خو زه خپل او ستا د معاملې بل مثال نه وينم سيوا د هغې نه چې د يوسف عليه السلام پلار يعقوب عليه السلام دخپلو زامنو د غلطى خبرې د اوريدونه پس کړى وو چې زه به صبر جميل کوم او د الله تعالىٰ نه په دې معامله کښې مدد غواړم کوم چې تاسو بيان کړې ده"

دلته مونږ د مامونۍ موازنه يا مقابله د حضرت عائشېؓ سره کول نه غواړو او نه دا سوال پيدا کيدى شي. صرف دا چې کله يو بنده په خپل زړه کښې بې ګناه او بې قصوره وي او بل طرف ته د پراپيګنډې او دروغو زور وي چې دى پکښې څه نه شي کولى نو خپله معامله الله تعالىٰ ته پريږدي. مامونۍ هم هغه وکړل.

د شریعت په روسره خو عجبې له پکار وو چې د خپل دعوې په حق کښې یې څلور ګواهان پیش کړی وی او که ګواهان یې نه شو پیش کولی نو ورله د اتیا دُرو سزا ته تینګېدل وو. خو دلته معامله بل شان وه نه شریعت وو او نه تفتیش او نه تحقیق وو بس یوه چغه او پروپیګنډه وه. او پښتو وه او د پښتو رواج دا وو او دادی چې هلك او جینۍ یوځای تور شي نو د دواړو قتل د رواج مطابق روا دی. او په قاتل باندې هېڅ جرم نشته بلکې شاباشي دی چې پښتو یې پوره کړه ځکه خو شیرعالم ورته وایي:

زما د غر په شان نوم وو
مامونۍ ستا په سر بنړه شو باد ورېنه
شیرعالم وئیلی مامونۍ ته
په ځای دِ نه کړه راسره کړي لوظونه

او بیا د ټول خاندان او قام د ناموس خبره ده، زه پښتون قام سپکه ولی نه شم.

د ټول پښتون نوم به خراب شي
دا به رواج شي مامونۍ که تا پرېږدمه
شیرعالم اووئیل ناکام دی
پښتون لوی قام دی ورته تا لوګے کومه

د مامونۍ سره مینه او محبت په خپل ځای خو اوس خبره دې حد ته رسیدلې ده چې یا به پښتو ترسره کوي او یا به لکه د دَله دوس په شان باقي عمر تیروي. چې چاته به هم په غړیدلو سترګو نه شي کتی. عزت خو پرېږده د سرو د صف نه به هم اوځي او لکه د سپو په شان به وخت تیروي. او دا د مامونۍ د لاسه. د شیرعالم غصه د جنون حدته ورسیده ذهن یې ماؤوف شو او چړې ته یې لاس کړو.

د شیرعالم صبر تمام شو
چړې ته یې لاس کړو مامونۍ حلالوینه

مامونۍ یې د لاسه اونیوله او زمکې ته یې را اوغوزوله او چاړه په لاس ورته په سینه دَ پاسه کیناستو.

ماموئ غټ غټ ورته ګوري

چې شیرعالم ورته چاړه په مری ږدینه

په دې وخت کښې به فرشتو هم ساه راښکلي وي چې خدایه دا څه کېږي. چې یو بې قصوره او بې ګناه بنیادم په ګناه کښې حلالېږي. خو هغه اوشو چې څه پکار نه وو.

په ماموئ چاړه راښکه

د وینې شرق یې د کوټې دیوال وهینه

ماموئ مړه شوه وینه یې تو یه شوه او پښتو پوره شوه

د شیرعالم پښتو پوره شوه

ماموئ سرو وینو کښې لتی ټکوینه

لکه د حسین ابن منصور حلاج په شان د هر بې ګناه مرګ خپل اثرات وي. د ماموئ وینه په مخه بهیده نه اودریده نوکندې یې ورته جوړې کړې.

د ماموئ سره وینه راغله

کندې د غم ورته په لار کښې جوړوینه

د مجرم وینه د جرم د ویرې نه زړه ته راغونډه شي او رنګ یې زیړ شي د چا چې په خپله بې ګناهي یقین وي. د قتل په وخت کښې هم د هغه حالت برابر وي. د وینې رفتار په خپل معمول باندې وي، ځکه یې وینه ډېره وي او په زور سره وي. حجاج بن یوسف یو عالم قتل کړو چې دهغه وینه نه اودریده، وجه یې د هغه عالم پوخ یقین وو په خدائ باندې.

د ماموئ هم دا خیال نه وو چې شیرعالم به زما نه دومره بدظنه شي چې مرګ ته به خبره ورسي، هرکله چې ورته چا دا خبره اوکړه نو ماموئ په خندا شوه.

ماموئ شنه شوه په خندا شوه

د کاکا خوئ دې ما به نه حلاله وینه

بهر حال که د ماموئ هېڅکله ګمان نه وو خو هغه کار اوشو. ماموئ مړه شوه.

د شیرعالم وعده پورا شوه

د ماموئ ډولۍ یې پورته کړه دننه

چې شپه تیره شوه سحر دَ ماموڼۍ د مرګ خبر د ځنګل د اور پشان خور شو. اول یې مور راغله چې مخ سر یې وهلو.

ورځ شوه څرګنده شپه تېره لاړه

مور یې ولاړه ماموڼۍ ته مخ وهینه

بیا یې همزولې راغلې چې څوك د حقیقت نه خبر وي او څوك د پراپیګنډې په سحر کښې ګیرې وي.

د ماموڼۍ همزولې راغلې

څوك ورته ژاړي څوك پرې وايي تهمتونه

د بې ګناه مرګ وو د یوې پېغلې ځواني توی شوه خاورې ایرې شوه او هغه بې قصوري.

د ماموڼۍ د مرګ اواز شو

جینکو پرېښودې قلفې په تنورونه

د ماموڼۍ د مرګ اواز شو

په بنړ کښې ونې تا ویدی ویر یې کاونه

څوك وايي چې سیدا جان د شیرعالم د تماکوکڅوړې پسې راغلی وو چې ماموڼۍ ورته ورکړې وه.

مولی دورك که شیرعالمه

د تماکو په پاڼه چا کړې مرګونه

عجبې په یو ناکاره مرض پریوته او د خپل مرګ یقین ورته راغی نو شیرعالم ته یې راز فاش کړو. او اصل خبره یې ښکاره کړه اوس څه کیدی شو د ماموڼۍ د بې ګناهۍ ثبوت محکم شو او د خلقو افسوس او همدردي نوره زیاته شوه.

د عجبې بي بي رنګ تور شو

کور ورته اور شو مرګ په ځان پیرزو کوینه

د عجبې عمر په عذاب شو

زړه یې خراب شو چاته نه وايي حالونه

د ماموني مرګ د پښتنو د رواج يو بې ګناه مرګ وو. دا رواج سراسر د شريعت خلاف دی. شريعت دااجازت هېڅکله نه ورکوي چې ته پخپله هم مدعي شې هم ګواه او هم قاضي. او هلك جينی قتل کړه په تا هېڅ جرم نشته. ددې رواج دکبله دا شوي چې يو تن خپله لور خور يا ښځه بې ګناه قتل کړي او تور يې په دښمن پورې کړي. چې د هغه قتل ورته روا شي. دا رواج ختميدل پکار دي دې کښې نه څلور ګواهان شته او نه بل څه- بس د يو تن په چاتور پورې کول هرڅه هرڅه دي.

❖❖❖

ماخذونه

1- Among the wild tribes and the Afghan fron tier 1914 by Capt. Pennell. T.L. Seeley, Services and co, Ltd. London.

2- Compiagns on the North West Frontier 1912 by Captn Nevill, H.L D.S.O. John Murry London.

3- Sitana, Amountain Compaign on the border of Afghanistan, 1863 by Colonel Adye John C.B Royal Artilary London. Richard Bent ley New Burlington Street.

4- North West Frontier- People and events (1839-1947) 1967. By Arthur Swinson. Published by Hutchison of London, London.

5- The Indian Frontier War. 1897. An account of the Muhmand and Tirah expeditions by Leonel James published by William Heinemann London

6- The Pathans (550 B.C to A.D1957)Author Olaf CaroePublished 1983 Publisher Oxford university press Original from the university of California

7- With the Afghans, by Claud Field, Published by Marshal Brothers, Ltd. Keswiek House, Pater noster Row. Ec London.

8- Indian Frontier warfare 1898 by Young husband, e.j.

۹- اصلاحي خطبات جلد ۱، ۲، ۳ حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني، مرتبه پروفېسر ډاکټر محمد نعمان- اداره نشرو اشاعت علوم الاسلامیه، محله جنګي پشاور.

۱۰- اصلاحي اور تبلیغي بیانات جلد اول دوم۲۰۲۱ء مولانا محمد اشرف سلیمانی،

مرتبه پروفېسر ډاکټر محمد سراج سواتي- الاحمد پرنټرز پشاور.
۱۱- حیاة الصحابه جلد اول، دوم، سوم حضرت جی مولانا محمد یوسف کاندهلوی- ناشر محمد عبدالرحیم تاجرکتب- اردو بازار لاهور.
۱۲- دیوان عبدالرحمٰن ۱۹۷۶ء زیب آرټ پبلشرز، محله جنګي، قصه خواني پشاور.
۱۳- رحمان بابا نمبر- امیل جولائی- دسمبر ۲۰۱۴ء چیف ایډیټر شهاب عزیز ارمان پښتو ادبي ټولنه ریکي سیمه پېښور، قلم پښتو ادبي جرګه، ملازي پېښور.
۱۴- رحمان بابا تاریخي، علمي او ادبي جائزه ۲۰۱۲ء مصنف دوست محمد خان کامل مومند، مترجم یوسف جذاب، دی پرنټ میں پرنټرز پشاور ناشر ډاریکټر آف کلچر حکومت خیبر پختونخواه.
۱۵- سیرت النبی جلد اول تا هفتم، تالیف حضرت سید سلیمان ندوی مطبع معارف دارالمصنفین اعظم ګڑ انڈیا.
16- تحریك شیخ الهند- انګریزي سرکارکې زبان میں ریشمی خطوط سازش کیس اورکون کیا تها- مرتبه مولانا سیدمحمد میاں- مکتبه رشیدیه. ۳۲- شاه عالم مارکېټ لاهور.
17- داستان پارینه ۱۹۵۹ء مرتبه کرامت الله خان لفټننټ کرنل کمانډنټ منظور عام برقي پریس پشاور.
18- سرګذشت مجاهدین- مرتبه غلام رسول مهر.
19- سیرت سید احمد شهید- مرتبه حضرت ابوالحسن علي ندوي- سعید ایچ، ایم کمپنی، ادب منزل، پاکستان چوک کراچي.
20- نقش حیات، خود نوشت حضرت مولانا حسین احمد مدنيؒ- مکتبه رشیدیه ساهیوال.
21- فولکلور او د پښتنو فولکلور ۲۰۱۹ء لیکونکی پروفېسر نورالامین یوسفزئ- اعراف پپلشرز- ندیم ټرېډ سنټر پېښور.
22- روهي سندرې (ټپې) ۲۰۱۳ء، مرتبه پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهین، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي.

23- خصوصي مقاله د ټپې پېژندګلو ۱۹۸۳ء، مرتبه پروفېسر محمد نواز طائر پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي.
24- ديوان حافظ الپوري ۱۹۸۳ء مرتب ابوحسين چنداخوري- اسلام بُک سټور مينګوره سوات.
25- عوامي قيصې ۱۹۸۲ء مؤلف حاجي پردول خان خټک، په تعاون وفاقي وزارت تعليم، پښتو اکيډيمي پېښور يونيورسټي.

❖❖❖

مصنفین کی دیگر کتابیں

✦ احسن القصص ---- منظوم (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
✦ پینځه بناء د اسلام۔ منظوم (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
✦ لطیفې (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
✦ خوندناکې لطیفې او عبرتناکې قیصې (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
✦ سوانح مولانا محمد اشرف سلیمانیؒ (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، شیر حسن، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
✦ کلیات (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
✦ اصلاحی اور تبلیغی بیانات (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
✦ مکتوباتِ اشرف (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی، شیر حسن، پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
✦ رونا (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
✦ کلمات وملفوظات (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
✦ رحمان بابا د خپل کلام په رڼا کښې	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
✦ زه عبدالرحمٰن یم	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
✦ ملفوظات رحمٰن بابا	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
✦ دَ کلام رحمان پټې خزانې پټ ارخونه	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
✦ مشاہیر علماء وفضلاء کی تقاریر	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی

Al-ahmad
Enterprises
0345-9292470